بسم الله الرحمن الرحيم

# امام ابوحنيفه رحمة الله عليه

# او

# نبوي کورنۍ

ليکوال:
محمد شفق خواتي
ژباړن:
اجرالدين اقبال

مخخوړ:
د کتاب نوم: امام ابوحنيفه رحمة الله عليه او نبوي کورنۍ
**د امام ابوحنيفه پيژندنې لړۍ (۱)**
ليکوال: دوکتور محمد شفق خواتي
ژباړن: اجرالدين اقبال
د چاپ وار او کال: لومړی -۱۳۹۲ ل- پسرلی
د چاپ وار او کال: دويم ۱۳۹۹ ل- ژمی
شمېره: ۳۰۰۰ ټوکه
وېبپاڼه: www.andyal.com

# لړلیک


**لړلیک** ........................................ ٤

**د ژباړن خبرې** ........................................ ۹

**تقريظ** ........................................ ۱۰

**سریزه** ........................................ ۱۱

**د څېړنې مخينه** ........................................ ۱٤

**د څېړنې محدوديتونه** ........................................ ۱٤

**د څېړنې کړنلار** ........................................ ۱٦

**د څېړنې چوکاټ** ........................................ ۱٦

**لومړی څپرکی:** ........................................ ۱۸

**نظري چوکاټ او د مفاهیمو شننه** ........................................ ۱۹

۱. د اهلبيتو مفهوم او مصداقونه ........................................ ۱۹
۲. د اهلبيتو مرجعيت ........................................ ۲۳
۳. د تشيع مفهوم او ډولونه يې ........................................ ۲٤
۱-۳. عقيدتي تشيع ........................................ ۲٦
۲-۳. سياسي تشيع ........................................ ۲۸
۳-۳ معتزلي تشيع ........................................ ۳۰
٤-۳. محب (مينوال) تشيع ........................................ ۳۱

**د اهل بیتو په اړه د مسلمانانو لیدلوری او دریځ** ........................................ ۳۲

**غلو: اهل بيتو ته د الهي او انساني ور هاخوا چارو ورمنسوبول.** ........................................ ۳۲

۱. د امام ابوحنيفه ژوندليک ........................................ ۳٤
۲. د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ليکنې ........................................ ۳٦
۳. د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د وخت سياسي حالات ........................................ ۳۷
٤. د امام ابوحنيفه د پېر انديز او فرهنگي شرايط ........................................ ۳۷

**د اهلبيتو له ښوونځي سره** ........................................ ٤۱

**د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د کلامي اندنو پرتلنه ........................................ ٤١**

۱. د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د کلامي اندو را نقلوونکي ........................................ ٤٢
۱-۱. حنفي کلامي او عدلپال ښوونځی ........................................ ٤٣
۱-۲. حنفي "اهل سنت او جماعت" ښوونځی ........................................ ٤٤
۲. الله تعالی پېژندنه ........................................ ٥٠
۲-۱. د الله تعالی ذاتي صفات ........................................ ٥٠
۲. ۲ د الله تعالی خبري صفات ........................................ ٥١
۲-۳ په سترگو د الله تعالی لیدل کېدل ........................................ ٥٢
۳. د ایمان څرگندونه ........................................ ٥٣
٤. د ارجاء څرگندونه ........................................ ٥٤
٥. د کړنو څرگندونه ........................................ ٥٥
٦. د قرآن پنځېدنه او الهي کلام ........................................ ٥٨
۷. د دیني پوهېدنې اړینه کچه ........................................ ٦٠
۸. په ظالم مشر پسې راپاڅېدل ........................................ ٦٠
۹. شفاعت ........................................ ٦٢
* ټولونه ........................................ ٦٢

**څلورم څپرکی ........................................ ٦٥**

**د اهلبیتو له ښوونځي سره ........................................ ٦٥**

**د امام ابوحنیفه د فقهي ښوونځي پرتلنه ........................................ ٦٥**

۱. اهل رای او اهل حدیث ........................................ ٦٥
۲. د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د استنباط سرچینې ........................................ ٦٧
۲-۱. کتاب ........................................ ٦٧
الف( عام او خاص ........................................ ٦٨
ب( مطلق او مقید ........................................ ٦٨
ج( د ځینو ظواهرو ځانگړول ........................................ ٦٨
د) فریضه او واجب ........................................ ٦٨
۲-۲. سنت ........................................ ٦٩
۲-۳. د اصحابو کرامو اقوال ........................................ ۷۲
۲-٤. د اصحابو کرامو کړه وړه ........................................ ۷۳

۲-۵. د تابعینو آراء ........................................................ ۷۳
۲-۶ اجماع ........................................................ ۷۳
۲-۷. رای او قیاس ........................................................ ۷٤
الف) د قیاس تعریف ........................................................ ۷٤
ب) د رای تعریف ........................................................ ۷۵
ج) د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په فقه کې د رای او قیاس کارونه ........................................................ ۷۸
د) حضرت امام ابوحنیفه او د قیاس د قواعدو کارونه ........................................................ ۷۹
۲-۸. استحسان ........................................................ ۸۱
۳. په فقه کې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ټولیز دریځونه ........................................................ ۸۲
٤. د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د فقهې تطور-ډول ډول والی ........................................................ ۸٤
* راټولونه ........................................................ ۸۵

**د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له لیدلوري ........................................................ ۸۸**

**د اهلبیتو مقام ........................................................ ۸۸**

۱. د امامت مساله او د امام ابوحنیفه سیاسي نظریه ........................................................ ۸۸
۱-۱. د راشده خلفاوو د غوراوي اوډون ........................................................ ۸۸
۲-۱. د مشرۍ او خلافت وړ وګړي ........................................................ ۹۳
۳_۱. د امام یا خلیفه د ټاکلو لار ........................................................ ۹۵
۲. له امام محمد باقر رحمة الله علیه سره د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه اړیکې ........................................................ ۹۶
۳. د امام صادق رحمة الله علیه او امام ابوحنیفه رحمة الله علیه اړیکې ........................................................ ۹۷
٤. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه او علویان ........................................................ ۱۰۲
٤-۱ له امویانو او عباسیانو سره یې مخالفت او له علویانو سره یې ملګرتوب: ........................................................ ۱۰۲
٤-۲. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه او زید بن علي رحمة الله علیه ........................................................ ۱۰٤
٤-۳. له نفس زکیه او ابراهیم بن عبدالله سره د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه اړیکې ........................................................ ۱۰۶
۵. د اهلبیتو پر روایاتو د امام ابوحنیفه ډاډ ........................................................ ۱۱۲
۶. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د اهلبیتو فضایل رانقلول ........................................................ ۱۱٤
۷. د اهلبیتو علمي مرجعیت منل ........................................................ ۱۱۷
۸. په شیعي سرچینو کې له اهلبیتو د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه روایتونه ........................................................ ۱۱۹
۹. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه او د امام حسین (رض) ویر ........................................................ ۱۲۰
۱۰. له صادقینو سره د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه مناظرې ........................................................ ۱۲۱
۱۱. د اهلبیتو مرجعیت که د اصحابو؟ ........................................................ ۱۳۲

**شپږم څپرکی ........................................................................ ۱۳۶**

**له شیعیانو سره د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه اړیکې .................................. ۱۳۶**

**له شیعیانو سره د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه اړیکې .................................. ۱۳۷**

۱. هغه روایتونه، چې اړیکې ترینګلې ښیي ........................................ ۱۳۷

۲. هغه روایتونه، چې دوستانه اړیکې ښیي ........................................ ۱۴۱

**اووم څپرکی ........................................................................ ۱۴۷**

**د اهلبیتو او تشیع په باب د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه او حنفیانو د لیدلوریو پرتلنه .... ۱۴۷**

۱. د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په لارویانو کې څو لاسي ........................ ۱۴۷

۱-۱. ماتریدي حنفیان ........................................................ ۱۴۸

۱-۲. دولس امامي حنفیان .................................................... ۱۴۹

۱-۲-۱. مولانا جلال الدین بلخي (۶۰۴-۶۷۲ س) ...................................... ۱۵۰

۱-۲-۲. شیخ فریدالدین عطار نیشابوري (۵۰۷ س مړ) ................................ ۱۶۰

۱-۲-۳. حکیم سنایي غزنوي (۴۷۳-۵۴۵ س) .......................................... ۱۶۱

۱-۲-۴. ملاحسین واعظ کاشفي (۹۱۰ س مړ) ......................................... ۱۶۲

۱-۲-۵. خواجه محمد پارسا (۸۲۲ س مړ) ............................................ ۱۶۵

۱-۲-۶. فضل الله بن روزبهان خنجي (۹۲۷ س مړ) ................................... ۱۶۵

۱-۲-۷. عبدالرحمن جامي (۸۱۷-۸۹۸ س) ............................................ ۱۶۶

۱-۲-۸. ابوالمؤیدخوارزمي(۴۸۴-۵۶س) ............................................... ۱۶۸

۱-۲-۹. حافظ حسین کربلایي تبریزي (۹۹۳ س مړ) .................................... ۱۶۹

۱-۲-۱۰. قاضي عمده ساوه یي حنفي (۵۶۷ س مړ) ..................................... ۱۶۹

۱-۲-۱۱. عبدالوسع باخزري ......................................................... ۱۷۰

۱-۲-۱۲. حنفي قندوزي (۱۲۲۰-۱۲۹۴ س) ............................................ ۱۷۰

۱-۲-۱۳. عفیف الدین طائفي حنفي (۱۲۰۷ س) ........................................ ۱۷۱

۱-۲-۱۴. قادربخش بن حسن علي حنفي (۱۲۷۳-۱۳۳۷ س) ................................ ۱۷۱

۱-۲-۱۵. مولوي عبدالعزیز بن شاه ولی الله دهلوي (۱۱۵۹-۱۲۳۹) ........................ ۱۷۱

۱-۲-۱۶. شیخ علي انور بن علي اکبر علوي حنفي (۱۲۶۹-۱۳۲۴) ........................ ۱۷۱

۱-۲-۱۷. محمد معین بن محمد التتوي الحنفي (۱۱۶۱ م) ................................ ۱۷۱

۱-۲-۱۸. محمود بن عثمان حنفي رومي (۸۷۸-۹۳۸) ..................................... ۱۷۱

۱-۲-۱۹. خواجه علي غزنوي حنفي (۵۵۱ م) ............................................ ۱۷۲

۲۰-۲-۱. خواجه محمود حدادي حنفي ........................ ۱۷۲
۳-۱. سلفي حنفيان ........................ ۱۷۲

**۲. د اهلبيتو له ښوونځي د ځينو حنفيانو د لرېوالي لاملونه ........................ ۱۷۵**

۲-۱. د کلامي او عدلپالو حنفيانو څوړ ........................ ۱۷۷
۲-۲. په حنفيانو کې د صحيح بخاري نفوذ ........................ ۱۷۸
۲-۳. د عثمانيانو او صفويانو سياسي شخړې ........................ ۱۸۶
۲-٤. په ځينو حنفيانو کې د سلفيت نفوذ ........................ ۱۹۲

**راټولونه ........................ ۱۹٦**

**او روستۍ پايله ........................ ۱۹٦**

۱. د علامه سيد جمال الدين افغاني رحمة الله عليه ليدلوری ........................ ۲۰۳
۲. د ارواښاد شلتوت فتوا: جعفري مذهب خپلولای شئ ........................ ۲۰۳
۳. د شلتوت رحمة الله عليه پر فتوا تقريظات ........................ ۲۰٤
۳-۳. عبدالرحمن نجار د قاهرې د جومات مدير: ........................ ۲۰۵
٤. د امام خميني تقريبي فتواوې او ليدلوري ........................ ۲۰۵
۵. د علامه سيد شرف الدين موسوي ليدلوری (۱۲۹۰-۱۳۷۷س) ........................ ۲۰٦
٦. آيت الله سيد محمد حسين بروجردي ........................ ۲۰۹
۷. په عمان کې د اسلامي هېوادونو د غونډې بيانيه ........................ ۲۰۹
۸. د ډاکټر يوسف قرضاوي (د اسلامي نړۍ د علماوو د ټولنې رئيس) فتوا ........................ ۲۱۲

**د تکفير د خپراوي په نټه/ انکار کې د سترو مشرانو ويناوې ........................ ۲۲۳**

د اشاعره وو او نورو متکلمانو وينا ........................ ۲۲۳

**د حنفي مذهبو فقهاوو نظر ........................ ۲۲۵**

**د مالکي مذهبو فقهاوو ويناوې ........................ ۲۲٦**

**د شافعي مذهبو فقهاوو نظر ........................ ۲۲۸**

**د صحيح مسلم په شرح کې د نووي ويناوې ........................ ۲۲۸**

**د حنبليانو څرگندونې ........................ ۲۲۹**

**د زيديه او خپلواکو مشرانو ويناوې ........................ ۲۳۱**

**کتابښود ........................ ۲۳۵**

# د ژباړن خبرې

د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په اړه دا څېړنېزه لیکنه په نوې دود شوې، چې را ته ناویل شوي مطالب یې رانغاړلي دي؛ نوځکه هغوی چې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په لاروی د خلکو اندیزې سمونې پیلوي، ددې ژباړې لوستل ورته خورا اړین دي، چې د امام پر را ښوولیو لارو چارو پوه شي.

امام په اسلامي نړۍ کې د اسلام پوهنې په هکله یو باب پرانستی، چې د اوسني کهول لپاره پوهېدنه ور ته لازمه ده، داچې د هېواد په اساسي قانون کې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه مذهب او هم د امام جعفر صادق رحمة الله علیه مذهب رسمي دي؛ نو په دې کتاب کې د دواړو امامانو رحمة الله علیه د لارویانو د خپلمنځي تفاهم لا پیاوړتیا ته بنسټیز مسایل شنل شوي او په اندیز او عملي ډول یې لارویان د هر ډول دسیسو پر وړاندې یو موټی کوي.

هیله ده، هېواد مو د اسلامي نظام په سیوري کې اسلامي امت ته د اسلامي یو والي یوه همېشنۍ بېلګه پاتې شي.

د یادونې وړ ده، چې کتاب د نړیوالو څېړنیزو اسټنډرډونو په کچو لیکل شوی او هم رفرنس او مأخذ لیکنه یې د نړیوالو څېړنیزو اسټنډرډونو په کچو ده؛ نو پوهنتوني زدکړیالان، چې د زده کړو په پای د مونوګراف یا تیزس لیکل ورپرغاړه وي، چې کړنلار یې ګټنه کولای شي.

د ویلو ده، دا ژباړه په عرفاني ادبیاتو کې د خوشحال پوهنې په هکله د هغو زده کړیالانو ستونزه هواروي چې دخوشحال بابا د دې بیت د تفسیر په لټه کې دي:

**د امام جعفر تلمیذ و**

**واړه کار د ده لذیذ و**

اجرالدین اقبال

۱۳۹۲ل/ثور/اتمه

## د آیت الله شیخ محمد آصف محسني کندهاري
## تقريظ

بسم الله الرحمن الرحیم

د گران څېړونکي؛ ښاغلي محمد شفق خواتي د "جايگاه اهلبيت از ديدگاه امام ابوحنيفه" کتاب مې ولوست. کتاب په موضوع پورې اړوند غوره مطالب، له بېلابېلو سرچينو، په رښتين نيت او له تعصب او غلّو لرې راوړي او وړ ده، ځوان څېړونکي ته مبارکي ووايم، چې دا کړنلار يې د روښانې علمي، څېړنيزې او پلټنيزې گاندې ښکارندوی ده.

ددې کتاب اغېز زموږ په پېر –د اسلامي اخوت پېر- کې ډېری هغو مسلمانانو ته خورا گټور دی، چې خپل عقلونه يې له افراط، تفريط او له جاهلانه او پټو سترگو تعصبانو بچ ساتلي دي.

په هر ځای کې د "اسلامي رورولۍ" د پلي کېدو په هيله او په دې انساني او اسلامي لار کې د ليکوال او د هم اندو يې د بري په تمه. [1]

کابل

د خاتم النبيين علميه حوزه

محمد آصف محسني

۲۶/۸/۱۳۸۷

---

[1]. کوم ټکي مې، چې د کتاب د ځينو موضوعاتو په اړه تر سترگو کېدل، مؤلف ته مې ويلي.

## سريزه

د څېړنې موضوع، دحضرت امام ابوحنيفه رحمة الله عليه له ليدلوري داهلبيتو مقام او ديني مرجعيت يې دی. طبيعي ده، چې د اهلبيتو د مقام او ديني مرجعيت په باب د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه پر نظرياتو سربېره، به د اهلبيتو له هغو وګړيو سره يې د اړيکو د څرنګوالي راوړل هم له موضوع وتلې خبره نه وي، چې د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه همپېري ول؛ نوځکه تر پورته موضوع لاندې، بايد د اهلبيتو د ديني مرجعيت (علمي، سياسي، مانيز، باطني او فضايل مرجعيت او هم حب و بغض)، د تشيع مفهوم او ډولونه يې (چې د اهلبيتو له مرجعيت سره متناظر دی) هم وڅېړل شي. همداراز د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه کلامي اندې او فقهي مذهب هم بايد د اهلبيتو له ښوونځي سره پرتله شي.

په موضوع پورې اړوند نور اړخونه، د تشيع په باب د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ليدلوری او له خپلو همپېرو شيعيانو سره يې د اړيکو څرنګوالی دی.

همداراز د اهلبيتو د مقام او مرجعيت په باب د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه پر ليدلوري د پوهېدو په موخه، په دې باب د حنفيانو د ليدلوريو څېړنه او د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه له ليدلوري سره يې د ليدلوريو د همغږۍ دکچې ارزونه هم اړينه برېښي. پر دې سربېره د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د همپېريو ددې ټولو موضوعاتو څېړنه به د اهلبيتو او د دوی د ديني مرجعيت (د اهلبيتوسياسي، علمي او مانيز مرجعيت) په باب د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ليدلوری څرګند کړي او تر څنګ به يې د اهلبيتو په اړه د حنفيانــو د ليد او د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د ليد د همغږۍ ځومره والی هم روښانه شي.

د پورته موضوع په پامنيوي، ددې څېړنې آريزه پوښتنـه دا ده:

"د اهلبيتو او ديني مرجعيـت په باب يې د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ليدلوری څه دی او اهلبيتو ته پر کوم مقام قايل دی؟"

دا پوښتنه په لاندې فرعي پوښتنو ويشلای شو:

۱. ایا امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د کلام او فقهې په ډګرونو کې د اهلبیتو پر دیني مرجعیت ګروهن و؟
۲. ایا امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د اهلبیتو سیاسي مرجعیت مانه؟
۳. د اهلبیتو د فضایلو او ورسره د مینې او دوستۍ په باب یې څه نظر دی؟
٤. له صادقینو (امام باقر او امام صادق) سره یې اړیکې څنګه وې؟
۵. له خپلو همپېرو علویانو او شیعي پاڅونونو سره یې اړیکې څنګه وې؟
٦. د تشیع په باب یې لیدلوری او له خپلو همپېرو شیعیانو سره یې اړیکې څنګه وې؟
۷. ایا اهلبیتو او تشیع ته د حنفیانو لید هماغه د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه لید دی که توپیر لري؟ که توپیر لري؛ نو ددې توپیر او د لید د بدلېدو لاملونه څه یې دي؟

که څه د"اهلبیتو" د مفهوم او مصادیقو په باب په شیعه او اهلسنتو کې د نظر یووالی نشته؛ خو په دې څېړنه کې مو مفروض دا دی، چې د اهلبیتو نوراني مصادیق"پنجتن پاک" (اهل کساء) او د امام حسین له ځوځاته نهه تنه امامان دي. موږ به په لومړي څپرکي کې دې وپینې ته یوه ځغلنده کتنه وکړو.[۱]

په دې څېړنه کې مواصلي فرضیه داده: اهلبیتوته د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د دریځ له لامله لږ تر لږه په"سیاسي او مینوال شیعه" کې یې رانغاړلای شو، که څه له علمي پلوه یې په یو ډول د اهلبیتو پر مرجعیت باور درلود. "

د اسلامي مذاهبو د پیوستون د اړتیا او اهمیت غوښتنه ده، چې تر شوني بریده، د نورو مذاهبو مشرانو او لارویانو ته د یوه مذهب د لاروي له کینې ډک او منفي لید باید د ځینې حقایو په څرګندولو تصحیح او سم شي. په دې ترڅ کې شیعیانو ته د حنفیانو د لید سمونه او همداراز امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ته د شیعیانو د لید سمونه له خورا ارزښته برخمنه ده. په تېره په اهلسنتو کې درېیمه برخه مسلمانان په فقه کې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه لارویان دي. پر دې سربېره د ډېری حنفیانو کلامي مذهب"ماتریدي" او"طحاویه" دی او ددې دواړو کلامي ښوونځیو بنسټګر (ابومنصور

---

[۱] [ژباړن: خوشال بابا وایي:
د خوشال خټک دې حشر له هغوی شي
چې دوستدارد پنجتن پاک چهارده معصوم وي.]

او ابوجعفر طحاوي) مدعي دي، چې د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د كلامي اندو لاارويان او شارحان يې دي؛ نو د"امامي تشيع او حنفي مذهب" ترمنځ پيوستون به د ډېرى مسلمانانو ترمنځ پيوستون وي.

نه حنفيانو د اهلبيتو په باب د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ليدلورى درک کړى او نه يې د ده سياسي او علمي کړنلارې ښه پېژندلي او نه، په ځينو شيعي سرچينو کې اهلبيتو ته د امام ليد سم څرگند شوى دى. په واقع کې د اهلبيتو په باب د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه دريځ ته له دوو گوټو کتلاى شو: يو په شيعيانوکې خپور نظر، چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په خپل علمي ژوند کې تل له اهلبيتو سره په تقابل کې و. بل له اهلبيتو سره د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه هغه دوستانه اړيکوته له سره کتنه وشي، چې په شيعي او سني سرچينو کې راغلي دي. دا چې کلونه کلونه؛ بلکې پېړۍ دي، چې له لومړي گوټه اهلبيتو ته د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه دريځ ته کتل کېږي؛ نو دا څېړنه په دې هڅه کې ده، ان که يو ځل هم وي، له يوه بل گوټه دې نندارې ته وگوري او له دوړو وهلو حقايقو پرده اوچته کړي. هيله ده، چې د پورته موضوع په باب د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه دريځ ته بيا کتنه ددې دوو سترو مذاهبو په نږدېدو کې مرسته وکړي.

د څه په رڼا کې چې وويـل شـول، ددې څېـړنې لومړنۍ موخې دادي:

الف) اهلبيتو ته د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د دريځ په باب د حنفيانو او شيعيانو د ليدلوري شننه او سمونه.

ب) د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه، حنفيانو او تشيع ترمنځ ځينې گډو ټکيو ته اشاره.

د څېړنې روستۍ موخې دادي:

الف) د مذاهبو د مشرانو پر وړاندې د اهلبيتو د مقام او د دوى د مرجعيت پېژندگلوي.

ب) داهلبيتوپه چورليز د اسلامي مذاهبو، په تېره د حنفيانو او تشيع ترمنځ له پيوستون سره مرسته. (د اهلبيتو په باب د امامي تشيع او حنفي- ماتريدي دوو مذاهبو ترمنځ پر گډو ټکيو په ټينگار سره)

## د څېړنې مخینه

تر هغه چې ددې کتاب لیکوال خبر دی، په دې باب لا تر اوسه ارزښتمن او خپلواک کار شوی نه دی، ان روستۍ سرچینې، چې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د اندو په باب لیکل شوې، زموږ د څېړنې موضوع ته یې خورا لږ پام کړی؛ نو په دې باب څېړنه مو لومړی خپلواک گـام دي.

په مشخصه توگه اهلبیتو ته د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د لید لوري په باب د شیعه وو په پخوانیو سرچینو کې څه خپاره واره مطالب لیدای شو. بې له ځینو تاریخي او د مناقبو له کتابونو، په شیعي او سني سرچینو کې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه او صادقینو او د دوی د زدکړیالانو ترمنځ ځینې مناظرې را نقل شوې او نور داسې څه پکې نشته، چې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په لیدلوري کې د اهلبیتو مقام را وښیي.

په پخوانیو لیکوالانو کې، "موفق مکي خوارزمي" او "ابن بزازي" د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له لیدلوري د اهلبیتو مناقب را نقل کړي او له صادقینو او علویانو سره یې د ده پر اړیکو رڼا اچولې ده.

په معاصرینو کې "امام محمد ابوزهره" تر څه بریده زموږ موضوع ته د "الامام ابوحنیفه حیاته وعصره، آرائه وفقه" او د "الامام صادق حیاته و عصره آرائه و فقهه" په کتابونو کې اشاره ورته شوې ده؛ خو لیکنې یې بسیانه، او د هماغو سرچینو له مخې دي، چې و مو ویل.

د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د کلامي او فقهي اندو په باب تر اوسه تر ټولو غوره څېړنه "دکتر احمد پاکتچي" د "دائرة المعارف بزرگ اسلامي" په ابوحنیفه مدخل کې کړې موږ هم په خپله څېړنه کې له زیارونو یې گټنه کړې ده.

## د څېړنې محدودیتونه

پر دې سربېره چې په دې باب نه پخوا چا کار کړی و او هم په اړه یې سرچینو ته لاسرسی نه و؛ نو نور هغه محدودیتونه، چې په دې څېړنه کې ورسره مخ شو، دا دي:

۱. د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د وګړې-شخصيت او ژوند په باب روايتونه، په بشپړه توګه يو له بل سره په ټکر کې دي. په دې باب له دوو افراطي او تفريطي روايتونو سره مخ شو: د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ځينې لارويان يې په حق کې غلو کوي او تر انبياوو پر پورته مقام يې ورکېنوي. بلخوا د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه مخالفان، چې ډېری يې اهل حديث دي، د کفر او زندقه تر بريده يې ور رسوي او له دينه يې بهر او مرتد ګڼي. د وينا له مخې يې، امام ابوحنيفه رحمة الله عليه څو ځل کفر ته ورنږدې شوی او بيا يې توبه کړې او په پای کې هډو د دين ورکېدوته يې ملا تړلې وه!
د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه واقعي وګړه او څېره او بالتبع د اهلبيتو پر وړاندې يې دريځ او اړيکې هم د افراط او تفريط تر دوړو لاندې پټې دي او په دې باب واقعياتو ته د ور رسېدو په موخه يوه تپه تياره او نرۍ لار لرو. د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه له څېرې د افراط او تفريط د دوړو لرې کول او د ناپوهو دوستانو د دوستۍ او د بې عقلو د دښمنيو د دوړو پاکول څه اسان چار نه دی.
۲. د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه کلامي او فقهي اندې د ځينو لارويانو لخوا بدلې شوې او هر يو د خپلې زمانې د شرايطو له مخې بدلونونه پکې را وستي دي؛ نو په کلام او فقه کې يې د اندو حقايقو ته د رسېدو په موخه او د اهلبيتو له ښوونځي سره يې د تړاو د پرتلنې لپاره، موږ د امام له اړول شويو نظرياتو سره مخ يو، چې ددې رنګونو او دوړو لرې کول خورا ستونزمن چار دی.
۳. په شيعي سرچينو کې هم د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه روايتونه ډول ډول او کله په ټکر کې دي. د قياس په وينه کې ځينې شيعي روايي سرچينې، د اهلبيتو د امامانو پر وړاندې د امام څېره منفوره او منفي انځوروي؛ خو نور روايتونه وايي، چې له اهلبيتو او شيعيانو سره يې خورا نږدې او دوستانه اړيکې درلودې. ددې روايتونو دسموالي تشخيص يو مضبوط رجالي چار او د متونو کره کتنه غواړي.

## د څېړنې کړنلار

په دې څېړنه کې مو له توصیفي او شننېزې-تاریخي کړنلارې ګټنه کړې ده. تر شوني بریده کوښښ شوی، چې له تاریخي متونو، ژوندلیکونو، مناقبو او شیعي او سني روایي سرچینو، د نظریاتو، اندو او اهلبیتوته د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د دریځ توصیف را وړاندې کړو. په هغو ځایونو کې، چې روایتونه ډول ډول او سره په ټکر کې دي؛ نو تر شوني بریده هڅه شوې، چې د ځینو روایتونو په تاریخي، سندي او منځپانګېزې شننې، څه نا څه د امام لیدلوری روښانه شي. که څه کله یو له بل سره د روایتونو له ټکر او ډول ډولتوب سره مخېدو، چې دې چار څېړنې ته ډېر اړین ولیده. د اطلاعاتو د را ټولونې په باب هم، د کتابتون پر کړنلار سربېره (چې ددې څېړنې د اطلاعاتو د را ټولونې اصل کړنلار وه) باید له ځینو شیعي او سني مشرانو سره د نېغ په نېغ خبرو اترو کړنلار هم ورزیاته شي. په تېره د ځینو حنفي صوفیانو له مشرانو سره خبرو اترو، د څېړنې د ډېرو فرضیاتو د تایید لپاره خورا مرسته وکړه.

## د څېړنې چوکاټ

دا لیکنه د اوو څپرکیو په چوکاټ کې را وړاندې کېږي:

په لومړي څپرکي کې، ځینې بنسټیز مفاهیم؛ لکه اهلبیت، دیني مرجعیت یې، تشیع او ډولونو ته لنډه اشاره کېږي، چې اهلبیتو ته د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د لیدلوري لپاره یو نظري چوکاټ چمتو شي.

په دویم څپرکي کې په لنډو د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د ژوند شرح را وړو او همداراز د پېر پر فکري او سیاسي شرایطو یې هم رڼا اچوو، چې د اندو په جوړونه کې یې اغېزمن وو.

په دریم څپرکي کې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه کلامي اندې څېړو، چې د اهلبیتو له ښوونځي سره یې د اندو پرتلنه روښانه شي.

په څلورم څپرکي کې مو د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه فقهي سرچينې او کړنلار يې روښانه اوځغلنده مو د اهلبيتو له ښوونځي سره پرتله کړې ده.
په پينځـم څپرکي کې د اهلبيتو پـه باب د امام ابـوحنيفه رحمة الله عليه ليدلورى او له صادقينو او علويانو سره يې اړيکې څېړو.
په شپږم څپرکي کې د تشيع په باب د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ليدلورى او له خپلو همپېرو شيعيانو او د صادقينو له زدکړيالانو سره يې پر اړيکو رڼا اچوو.
په روستي څپرکي کې د اهلبيتو او تشيع په باب د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه او حنفيانو ليدلوري پرتله کوو.

"و ما توفيقى الا بالله العلى العظيم"

شفق خواتي

## لومړی څپرکی:

# نظري چوکاټ
# او
# د مفاهیمو شننه

## نظري چوکاټ او د مفاهيمو شننه

امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د اهلسنتو له څلورگونو فقهي مذاهبو څنې د يوه يې مشر دی، چې هم خپلواک فقهي مذهب لري او هم په خپل بريد کې د ځانگړي کلامي او بېل ښوونځي خاوند و. سره له دې چې په ځينو شيعي او سني سرچينو کې د شيعي لېوالتياوو درلودونکی گڼل شوی دی. دا ټکی بايد روښانه شي، چې شيعه چا ته ويل کېږي او که د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه شيعي لېواليتاوې جوتې شي؛ نو منځپانگه به يې څه وي.

د"شيعه" اصطلاح له اهلبيتو سره کوټلی تړاو لري او دا چې د اهلبيتو پر ديني مرجعيت باور او ترې پر لاروی التزام دی؛ نو په کار ده، د "اهلبيت"، "د اهلبيتو د مرجعيت"، "تشيع"او"د اهلبيتو د مقام په اړه پر بېلا بېلو ليدلوريو" رڼا واچول شي، چې له دې لارې د اهلبيتو او د ديني مرجعيت په اړه يې او همدااراز تشيع ته د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه دلېوالتيا او نه لېوالتيا په اړه د ورمندون –قضاوت شونتيا ته هم لار چمتو شي. د پورتنيو مفاهيمو ("اهلبيت"، "مرجعيت يې"، "تشيع" او"د اهلبيتو د مقام په اړه بېلابېل ليدلوري" او همدااراز د شيعه مانا، مفهوم او ډولونه يې) په مشخصېدو به، اهلبيتو ته له بېلابېلو ليدلوريو او هم له ډول ډول تشيع سره اشنا شو، چې ددې اطلاعاتو ټولگه د ستر نظري چوکاټ په نامه، د اهلبيتو په اړه د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د ليدلوري په باب په پام کې ونيوای شو. په دې مانا، چې د پورتنيو مفاهيمو په روښانېدو قضاوت کړای شو، چې اهلبيتو ته د امام ابوحنيفه ليدلوری او کړچار، کوم ليدلوري او کړچار ته ورنږدې دی او دا لېوالتياوې په کوم چوکاټ کې د رامخته کـونې وړ دي او امام ابوحنيفـه د تشيع په کوم ډول کې ځايېـــږي.

### ۱. د اهلبيتو مفهوم او مصداقونه

"اهلبيت" په لغت کې"کورمېشتيو" ته وايي. په "مجمع البحرين" او د راغب په مفرداتو کې راغلي: ((د هر چا اهلبيت کورنۍ يې ده، چې په کور کې يې اوسېږي.))[۱] او

---

[۱]. راغب اصفهاني، الفردات فی غريب القرآن، ۹۷-۹۶ مخونه (تر "اهل" لاندې)؛ فخرالدين طريحي، مجمع البحرين، ۱۲۸ مخ (تر "اهل" لاندې).

همداراز راغب او ابن منظور ویلي، چې: ((که د اهلبیتــو اصطلاح په مطلقه بڼه راشــي، مراد ترې د اسلام د پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم کورنۍ ده.))[1]

د"اهلبیت" ټکی دوه ځل په قرآن کریم کې کارېدلی دی: (هود/۷۳) ((قَالُواْ أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ اللّهِ رَحْمَتُ اللّهِ وَبَرَكَاتُهُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ (پرښتو) وویل: ((آیــا د الله تعالی پر کار تعجب کوې؟ دا د الله تعالی لورنه او برکتونه مو پر کورنۍ دي؛))

او په بل ځای کې د پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د کورنۍ په اړه: (احزاب/۳۳) ((إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً بېشکه الله تعالی یوازې غواړي له تاسې ((اهل البیت =نبوي کورنۍ)) چټلي اوګنــاه لرې او بشپړ موسپېڅلي کړي.)) دا په "تطهیر" آیت مشهور دی.

د مسلمانانو په اصطلاح کې "اهلبیت" د یوې اصطلاح او عَلَم په نامه له همدې آیته اخستل شوی دی. دا چې د پیغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم اهلبیت څوک دي؛ په دې اړه د مفسرینــو او اسلامي علماوو ترمنځ د نظر اختلاف دی. په ټـول کې، په دې اړه د څلورو غټو لیدلوریو نامې اخستــای شو:

۱. د پیغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم اهلبیت دا دي: امیرالمؤمنین علي بن ابیطالب، حضرت فاطمة الزهرا، حسن، حسین او د پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم مېرمنې. د اهلسنتو ډېری علماوو دا نظریه منلې ده.[2]

۲. د پیغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم ټول خپلوان، چې پکې مېرمنې، زامن، عترت، ټبر یې، ټول بني هاشم او بني عبدالمطلب یې اهلبیت دي. دا د ځینو اهلسنتو علماوو نظر دی.[3]

۳. د تطهـیر په آیت کې له اهلبیتو مراد یوازې د پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم مېـرمنې دي. دا د بخاري، ابن ابي حاتـم، ابن عساکر او ابن مردویه نظر دی.[4]

---

[1]. راغب اصفهاني، هماغه؛ ابن منظور، لسان العرب، لومړی ټوک، ۲۵۳ مخ، (تر "اهل" لاندې)

[2]. محمد بن جریر طبري، جامع البیان عن تاویل آی القرآن، ۵/۱۲؛ فخرالدین رازي، کبیر تفسیر، ۲۱۰/۱۳؛ عبدالرحمن بن احمد ثعالبي، الجواهر الحسان فی تفسیر القرآن، ۳٤٦/٤؛ ابو سعید بیضاوي، انوار التنزیل و اسرار تاویل، ۲٤۵/۲.

[3]. ابوالحسن اشعري، مقالات الاسلامیین، نهم مخ؛ محمد بن احمد قرطبي، الجامع لاحکام القرآن، ۱۸۳/۱٤.

[4]. محمد بن علي شوکاني، فتح القدیر، ۲۷/٤.

٤. د ټولو شیعه مفسرانو او ډېری اهلسنت مفسرانو له لیدلوري، د تطهیر په آیت کې دپېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم له اهلبیتو مراد یوازې حضرت علي کرم الله وجهه، فاطمة الزهرا، حسن او حسین دي او د تطهیر په آیت کې د اهلبیت ټکی د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم مېرمنې نه رانغاړي. پر دې سربېره شیعي مفسران؛ له پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم څخه د تطهیر د آیت د شان نزول په باب په متواترو رانقل شویو روایتونو استناد کوي، چې د امام حسین له څوځاته نهه تنه هم، چې له دولس ګونو امامانو څنې دي، د اهلبیتو مصادیق ګڼي.[1]

د اهلسنتو د هغو امامانو او سترو علماوو څنې د ترمذي، ابن جریر طبري، ابن منذر او حاکم نیشابوري نامې اخستای شو، چې د ام المؤمنین ام سلمه د حدیث په استناد د تطهیر آیت په پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم، حضرت علي کرم الله وجهه، فاطمة الزهرا، حسن او حسین پورې ځانګړی ګڼي.[2]

هغه اهلسنت مفسران، چې د شیعه وو لیدلوری او له شیعه وو سره دتطهیر د آیت په اړه د اهلسنتو همغمږی نظر نه مني، د تطهیر د آیت د سیاق په معیار ایښوولو سره او دا چې په اړوند آیت کې د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم مېرمنې هم راغلي؛ د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم مېرمنې هم د اهلبیت په ټکي کې رانغاړي؛ خو شیعي مفسران ګروهن دي، چې د قرآن کریم په ډېری آیتونو کې او له دې د تطهیر په آیت کې "سیاق" چارساز نه دی. دوی د لاندې دلایلو له مخې، د تطهیر آیت په "اهل کساء" یا"خمسه ی طیبه"، پورې ځانګړی ګڼي چې د امام حسین له څوځاته نهه تنه امامان هم رانغاړي.

---

[1]. ابوجعفر محمد بن حسن طوسي، التبیان فی تفسیر القرآن، اتم ټوک، ۳۳۹-۳۴۰ مخونه؛ ابوعلي فضل بن حسن طبرسي، مجمع البیان فی تفسیرالقرآن، ۵۵۸/۸ اوعلامه محمدحسین طباطبایي، المیزان فی تفسیر القرآن، ۳۰۹/۱٦-۳۱۳.

[2]. محمد بن علي شوکاني، هماغه، ٥٦٨ مخ. البته په دې اړه نور لیدلوري هم شته، چې پاموړ نه دي؛ لکه له اهلبیتو مراد یوازې پېغمبر اکرم (ص) یا کعبه او نور دي. (علامه محمد حسین طباطبایي، المیزان فی تفسیر القرآن، ۳۱۰/۱٦؛ ابن حجر عسقلاني، الصواعق المحرقه، ۱۴۳ مخ؛ ابوعلي فضل بن حسن طبرسي، مجمع البیان فی تفسیر القرآن، ۵۵۱/۸؛ سید جعفر مرتضی عاملي، اهلبیت فی آیة التطهیر، ۲۱ مخ)

۱. په تطهیر آیت کې د مذکرو ضمایرو کارېدل؛ ۲. په یوه آیت یاد آیتونو په ټولګه کې د څو موضوعګانو د ویلو لپاره د قرآن کریم کړنلار؛ ۳. د شیعه وو او اهلسنتو په سرچینو کې د متواترو او صحیحو روایتونو شتون، چې آیت د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم مېرمنې نه رانغاړي؛ ٤. د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم په ویناوو او کړنو کې ددې ټکي د مصداقونو ټاکنه. دوی د تطهیر آیت د یوې مهمې او بنسټیزې مسالې (عصمت، پاکلمنتوب او ورپسې د اهلبیتو د دیني مرجعیت) ښوونکی ګڼي.

دا چې د تطهیر آیت د"څو تنو آل عبا" په اړه دی، په دې هکله دومره روایتې او حدیثي سرچینې دي، چې هړو شک ته څه ځای نه پرېږدي. [ایراني عالم] آیت الله مرعشي نجفي په "شرح احقاق الحق تصریحات" کې په دې اړه د اهلسنتو تر اویاوو ډېرې سرچینې راټولې کړي او په دې هکله شیعي سرچینې تردې هم ډېرې دي.[1]

په خواشینۍ په دې اړه د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه لیدلوری مشخص نه دی او سرچینې هم چوپ دي، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه څوک د اهلبیتو مصادیق ګڼلي دي. په هر حال، په دې څېړنه کې مو د اهلبیتو له مانا او مصداقونو مفروض، دویمه نظریه ده؛ نو پر دې بنسټ، په دې باب وینه - بحث نه کوو؛ ځکه د څېړنې له آریزې موضوع مو لرې کوي.[2]

البته دا په دې مانا نه ده، چې دویمه نظریه پر امام ابوحنیفه ور وتړو؛ بلکې په دویمه مانا د امام ابوحنیفه په لیدلوریو کې د اهلبیتو د مقام په څېړنې پسې یو؛ نه د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د مېرمنو یا د ټولو بني عبدالمطلب یا د اهلبیتو د مصداقونو په اړه یې نور لیدلوري.

---

[1]. شهاب الدین مرعشي نجفي، ملحقات احقاق الحق، ۲/۵۰۲-۵٤۷ او ۹/۲-۹۱.

[2]. ددې موضوع پر هغو تفسیرونو سربېره، چې پورته یې نوم واخستل شول، مینوال کولای شي، چې ځانګړیو سرچینو؛ لکه علامه سید مرتضی عسکري، آیه تطهیر در کتب دو مکتب، د محمد جواد کرمي ژباړه؛ سید جعفر مرتضی عاملي، اهلبیت فی آیة التطهیر؛ سید علي موحد ابطحي، آیة التطهیر فی احادیث الفریقین؛ الشیخ محمد هادي معرفت، اهلبیت و القرآن الکریم؛ الشیخ محمد مهدي الآصفي، آیة التطهیر؛ محمد کاظم محمد جواد، اهلبیت قیادة ربانیه؛ شهاب الدین اشراقي او محمد موحدي فاضل، اهلبیت یا چهره های درخشان در آیه تطهیر ته مراجعه وکړي.

## ۲. د اهلبیتو مرجعیت

د اهلبیتو مرجعیت د تشیع په معرفتي نظام (ښاندیز غونډال) کې د رامخته کولو وړ دی. د شیعه وو له نظره د اهلبیتو ټکی ځانګړی مفهوم لري او ددې ټکي له عرفي کارونې سره توپیر لري؛ ځکه په عرف کې د پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم مېرمنې هم په اهلبیتو کې دي؛ خو د اسلامي ګروهو او ښوونو په جوړښت او غونډال کې اهلبیت ځانګړې مانا او مفهوم لري. د تطهیر د آیت ټولیز مفهوم او پکې د کارول شویو ټکیو په رڼا کې او همداراز د نورو ډېرو شواهدو او لاسوندونو (؛ لکه په دې آیت پورې اړوند او مفسر آیتونه او د تطهیر آیت د شان نزول په اړه متواتر روایتونه)[۱] دې ټکي ته ور رسو، چې لومړی: اهلبیت باید ځانګړي وګړي وي؛ دویم: اهلبیت د سپینلمنۍ یا "عصمت" او "لدني علم" د ځانګړنو خاوندان دي؛ نوځکه د اسلامي ټولنې مشري او دیني مرجعیت یې حق او ور پر غاړه دی.

نوځکه، د شیعه وو له نظره دې د ټولو اسلامي ښوونو په برخو؛ فقه، شریعت، کلام، عقاید او اخلاقو کې د اهلبیتو لاروي وشي او د اسلامي ټولنې واکمني، سیاسي او ټولنیزه مشري یې هم حق او دنده ده؛ ځکه اهلبیت د رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم بشپړ ځایناستي دي؛ نو پر دې بنسټ د قرآن مفسرین، د اسلامي احکامو د ویلو چارواکي او د دیني احکامو پلي کوونکي دي او بې له نبوته د پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم له ټولو چارو برخمن دي او په څېر یې معصوم، له ګناه، سهوې او تېروتنې خوندي دي او د دوی کړنې او ویناوې د پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم دکړنو او ویناوو په څېر راته حجت او د سنتو برخه شمېرل کېږي.

---

[۱]. لکه د اطاعت آیت (نساء/۵۹)، د ولایت آیت (مائده/۵۵)، د امامت آیت (بقره/۱۲٤)، د تبلیغ آیت (مائده/٦٧)، د دین د بشپړېدو او د نعمت د اتمامېدو آیت (مائده/۳)، د انذار آیت (شعراء/۲۱٤) د ثقلین حدیث، د غدیر حدیث، د منزلت حدیث، د سفینه حدیث، د کساء حدیث، د دولس ګونو امامانو حدیثونه او نور.

ژباړن: په دې اړه د لبناني عالم علي کوراني، "بشاره النبی بالائمه الاثنی عشر، فی خطب حجه الوداع" کتاب وګوئ چې په فارسي او پښتو هم ژباړل شوی دی.

### ۳. د تشيع مفهوم او ډولونه يې

په حقيقت کې د اهلبيتو د مقام او د ديني مرجعيت په اړه يې مخکې ويل شوې ليدلورې د"تشيع" مفهوم رامنځ ته کړی دی؛ خو ناهېرېدونکی ټکی دا دی چې پخپله"تشيع" يو تشکيکي مفهوم دی او د مسلمانانو بېلابېلې ډلې رانغاړي. په بله وينا: هغوی چې د اسلام د تاريخ له پيله تر اوسه شيعه پېژندل شوي او تشيع ته، لېوالتيا ور منسوب شوې، په دې مانا نه ده، چې ټول به د اهلبيتو او د دوی د ديني مرجعيت په اړه يو ليدلوری ولري او ټول به د اهلبيتو په اړه هغه نظر ولري، چې مخکې مو ووايه.

نوځکه"د امام ابوحنيفه له ليدلوري د اهلبيتو ديني مرجعيت" وينې ته تر ننووتو له مخه، بايد په لنډو د اهلبيتو د مرجعيت په اړه د بېلابېلو ليدلوريو او همداراز د تشيع بېلابېلو ډولونو ته اشاره وکړو.

د دوديزې ډلبندۍ پر بنسټ، مسلمانان په دوو ټوليزو ډلو وېشلای شو: لومړۍ ډله هغه وګړي دي، چې اهلبيت د امامت او مرجعيت لپاره د رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم له لوري د الله تعالی په حکم د نص (جلي يا خفي) پر شتون ګروهن دي او د عام "تشيع" په نامه پېژندل کېږي. دا ډله په نورو پېرونو کې په درېيو غټو ډلو؛ اماميه، اسماعيليه او زيديه وېشل کېږي.

دويمه ډله هغه مسلمانان دي، چې د رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم له لوري د چا پر امامت د نص پر شتون ګروهن نه دي، چې د عام اهلسنتو په نامه پېژندل کېږي.

خو له دې مانا په يوه پــراخ ډلبندۍ په تېـره د صدر اسلام مسلمانان (لومړۍ هجري پېړۍ او د دويمې هجرې پېړۍ لومړۍ نيمـايي)، د اهلبيتو په اړه په دريځ کې په بېلابېلو ډلو وېشلای شو. په دی کې ځينې نه يوازې اهلبيتو ته پر مرجعيت او د نورو مسلمانانو پر وړاندې پر هېڅ امتياز قايل ورته نه دي؛ بلکې د اهلبيتو پر مرجعيت ګروهن يې د رافضي، غالي، شيعه، نوښتګر، بدعتګر او.... په نامه شړلي او په تاوتريخوالي ورسره چلېدلې؛ خو هغه کسان، چې يوازې امام علي کرم الله وجهه ته تر مخکې خلفاوو پر افضليت او يا يې يوازې امام علي کرم الله وجهه ته پر حضرت عثمان (رض) غوراوی ورکاوه او يا يې د اهلبيتو د فضايلو په اړه روايتونه رانقلول او له اهلبيتو سره يې مينه څرګندوله او په ځانګړې مانا يې د اهلبيتو په ديني مرجعيت باور هم نه درلود، شيعه يې

ورته ویل او د همدې لېوالتیا له لامله سختې نیوکې پرې کېدې او په دښمنۍ یې ورسره چلن کاوه. [1]

په اموي ګوندونو کې یې د اهلبیتو له سیاسي مخالفانو؛ نورې ډلې هم؛ لکه خوارج، د بغداد، بصرې او واسط اهل حدیث هم په دې لړ کې راځي. په دوی کې د بغداد اهل حدیث له بېخه د امام علي امامت نه مني او ابومعین، ابوخیثمه او احمد بن حنبل، امام علي کرم الله وجهه له امامت او خلافته اخوا کاوه او د ده ولایت یې فتنه ګڼله. [2] البته روسته امام احمد بن حنبل خپل اړخ بدل کړ او د عمر په پای کې یې د څلورم خلیفه په نامه د امام علي کرم الله وجهه خلافت ومانه او د اهلسنتو د مذهب په تعدیل او د تربیع د ګروهې په دودولو کې یې مهمه ونډه درلوده. [3] په واقع کې امام احمد بن حبنل ړومبی تن دی، چې په اهلسنتوکې یې پر تربیع ګروهه (د څلورم خلیفه په نامه د امام علي کرم الله وجهه منل) ښه دود کړه.

د دې ډلې په بل سر کې او د لومړۍ لېوالتیا پر وړاندې، غالیان دي. غالیانو د شناختي ــ ښاندېزې ستونزې، یا د عاطفي او اروایي ستونزو او یا د شخصي انګېزو او موخو او یا د سرسري لیدلوري له لامله، اهلبیت له انساني مقامه اوچت وګڼل او پر الوهي، ربوبي او یا د نبوت پر مقام ورته قایل شول. البته غلات بېلابېلې ډلې او لېوالتیاوې لري: ځینې غلات د اهلبیتو د امامانو پر نبوت قایل دي، ځینې پر تناسخ او ځینې هم اهلبیتو ته ذاتي او "مطلق علم غیب" جوتوي. [4]

شیعه (امامیه=اثنا عشریه) ګروهن دي، چې غلات یوازې وګړیو ته پر الوهیت قایلېدو یا هغو ته د نبوت په ادعا، چې پېغمبران نه دي، له اسلامي ډلو وځي او له بېخه مسلمانان ورته ویلای نه شو؛ دا خو لا پرېږده، چې شیعه یا اهلسنت یې وګڼو. د شیعه

---

[1]. اخستنه: رسول جعفریان، تاریخ تشیع در ایران ۲۲/۱

[2]. ناشي اکبر، مسائل الامامة، ٦٦-٦٥ مخونه؛ رسول جعفریان، هماغه.

[3]. د ډېرو معلوماتو لپاره وګورئ: رسول جعفریان، مقالات تاریخ، دفتر ششم، ۲۵۷ مخ؛ هماغه، فصلنامه هفت آسمان، دویم کال، ۵ګڼه (۱۳۷۵ پسرلی)

[4]. پام مو وي، چې غالیان یوازې د اهلبیتو د شان په اړه نه دي؛ بلکې په اهلسنتو کې هم بېلابېلې غالي ډلې شته او ان ځینې د غلاتو لومړنۍ جرړې په اهلسنتو پورې په اړوندو ډلو پورې ګڼي (د لا معلوماتو لپاره وګورئ: عبدالواحد انصاري، مذاهب ابتدعتها السیاسة فی الاسلام؛ نعمت الله صفري فروشاني، غالیان، کاوشي در جریانها و برآیندها، ۱۵۰-۵۳ مخونه)

علماوو، فقهاوو او مشرانو د غلاتو په رد کې په لسګونو کتابونه کښلي، چې دا پخپله د غلاتو پر وړاندې د شیعه وو د حساسیت ښکاروندوی دی. [1] له غلاتو سره یې د شیعه وو توند چلن د امامانو په لارښوونه وو او د شیعه وو امامانو پخپله هر یو، په خپل پېر کې له غالیانو سره سخته مبارزه کړې او له ځانه یې لرې کړي او د اهلبیتو له امامانو د غالیانو په رټنه کې خورا روایتونه رانقل شوي دي. [2] سره له دې د شیعه وو مخالفین تشیع او غلو یو شان ګڼي او پر تشیع ډول ډول تورونه لګوي. د غلو بهیر د اهلبیتو د امامانو او د امامانو د لارویانو د څېرو په تتولو او ړنګونه او هم د ظالمانو پر ضد د دوی د پاڅونونو په ټګني کولو کې ونډه درلوده. [3]

اهلبیتو ته په دې دوو لېوالتیاوو کې یوه منځنۍ ډله هم شته، چې له "غلو" یې ډډه کړې او اهلبیتو ته پر الوهي او له انساني چارو په ورهاخوا چارو ګروهن نه دي او اهلبیت په مسلمانانو کې د دیني معارفو په اړه د ځانګړي مقام خاوندان بولي؛ خو همدا منځنۍ ډله په لږ شانته بېلابېلې لېوالیتاوې لري، چې ځینې یې په لومړنۍ دودیزه ډلبندۍ کې شونې ده، له یوه اړخه اهلسنت او له بل اړخه شیعه وګڼل شي. دا لېوالیتاوې پر لومړۍ او دویمه هجري پېړۍ، په تېره د کوفې په ښار کې (چې د امام علي کرم الله وجهه پلازمېنه او د امام ابوحنیفه ټاټوبی هم دی،( ښه څرګندې دي، که څه د اسلام د تاریخ په روستیو پېرونو کې ان زموږ په پېر کې، ددې ټولو لېوالیتاوو استازي شته. د دې څېرکي په دوام کې به په لنډو دې لېوالتیاوو او په حقیقت کې د تشیع پر ډولونو رڼا واچوو.

## ۱-۳. عقیدتي تشیع

لومړی ډول تشیع په دیني چارو او په دیني معارفو پورې په اړوند چارو کې، د اهلبیتو له امامانو په دقیقه لاروۍ ګروهن وو. په دې لېوالتیا کې شیعه په ټولو فقهي، کلامي او

---

[1]. هماغه، ۱۷۱-۱٦۹ مخونه.

[2]. علامه مجلسي، بحارالانوار، ۲۵ ټوک، باب نفی الغلو فی النبی (ص) و الائمه. د شیعه وو په رجالي کتابونو کې؛ لکه رجال کشي، رجال نجاشي، معجم رجال الحدیث د آیت الله العظمی خویي لیکنه او.... هم د غلاتو تر نامې لاندې په اړه یې، د اهلبیتو د امامانو روایتونه راغلي دي.

[3]. په دې اړه د ډېرو معلوماتولپاره وګورئ: نعمت الله صفري فروشاني، مخکنی، ۳۲۷-۳۰۹ مخونه.

اخلاقي چارو کې د اهلبیتو له امامانو لاروي کوي او د دوی کړنې او ویناوې، د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د کړنو او ویناوو په څېر حجت گڼي؛ البته شونې وه، چې دې چلن د لومړۍ هجري پېړۍ تر پایه، چې پکې فقهي او اندیزې- فکري چارې د اسلامي ټولنې د ورځې مسله شوې وه، په بشپړه توگه ځان ښوولی نه وي، که څه مخینه یې د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وخت ته رسي او په هماغه پېر کې هم وگړي د علي کرم الله وجهه د شیعه په نامه، د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم په تعابیرو کې راغلي دي. دوی د حضرت علي کرم الله وجهه پر امامت گروهن وو دې مقام ته یې د الله تعالی او رسول الله له لوري ټاکل شوی گاڼه. [1]

د ابوجعفر اسکافي (چې په درېیمه هجري پېړۍ کې د معتزله وو له مخورو وگړو- شخصیتونو څخه دی) د وینا له مخې، خزیمة بن ثابت له حضرت علي کرم الله وجهه سره تر بیعت روسته ویل: ((موږ هغه وټاکه، چې د الله تعالی استازي راته ټاکلی و.))[2]

حضرت ابن عباس (رض)، د حضرت عمر (رض) د دې خبرې پر وړاندې، چې ویل یې: "قریشو په دې دلیل د علي له ټاکنې ډډه وکړه، چې ښه یې نه ایسېدل، چې خلافت او نبوت دواړه په یوه کورنۍ کې وي"، وویل: هغه څه یې ښه نه ایسېدل، چې الله تعالی را نازل کړي وو. [3]

حضرت ابوذر، حضرت عمار یاسر، حضرت مالک اشتر نخعي (رضی الله عنهم) او ډېری نورو د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د خبرو په استناد د حضرت علي کرم الله وجهه له الهي امامت او مرجعیته دفاع کوله او دا یې د انبیاوو د پوهو او علومو وارث گاڼه. [4]

---

[1]. هماغه.

[2]. ابوجعفر اسکافي، المعیار والموازنه، ۵۱ مخ.

[3]. فضل بن شاذان، الایضاح، ۸۸ مخ.

[4]. ابن سعد، طبقات الکبری، ابن عبدالبر په الاستیعاب کې او طبرسي په احتجاج کې او نورو د پېغمبر اکرم د هغو اصحابو کرامو نومونه راوړي، چې د پېغمبراکرم (ص) تر وفات روسته یې د امام علي کرم الله وجهه له خلافته دفاع کوله او د دوی دریځ یې شرح کړی ده، چې ځینې یې دا دي: ۱. حضرت حذیفة بن الیمان، ۲. حضرت ابوایوب انصاري، ۳. حضرت سهل بن حنیف، ٤. حضرت عثمان بن حنیف، ۵. حضرت خذیمه بن ثابت، ٦. البرئة بن غریب الانصاري، ۷. حضرت ابي بن کعب، ۸. حضرت ابوذر بن جندب غفاري، ۹. حضرت عمار یاسر، ۱۰. حضرت مقداد بن عمرو، ۱۱. حضرت سلمان فارسي، ۱۲. حضرت زبیر بن عوام،

دا لېوالیتا د امام باقر او امام صادق پر مهال د فرهنګي لارو چارو د شتون له لامله د یو کوټلي فرهنګي یون په نامه ښه را څرګنده شوه. په دې لېوالتیا کې، چې ځینو د"روحي تشیع" نامه پرې ورکېښوه[1]، امام پکې له مانیز- معنوي او اندیز پلوه ځانګړی ځای درلود. رسالت یې د ټولنې پر سمبالنې سربېره د دین تفسیر او تبیین هم دی او دا دنده یې د الله تعالی له استازي صلی الله علیه و آله وسلم سره د ځانګړې اړیکې له لامله ده. ددې لېوالتیا لارویان د وصایت، امامت او ولایت او نه د خلافت په نامه، له خپل امام سره چلېږي. البته شونې ده، چې په دې ځای کې هم بېلابېلې ګروهې وې او امام ته یې لید له دې ګوټ سره توپیر ولري.[2]

## ۲-۳. سیاسي تشیع

پر ګروهېزې تشیع سربېره، چې په واقع کې پوره د اهلبیتو لاروی وه، په مسلمانانو کې یوه بله لېوالتیا هم وه، چې د"سیاسي تشیع" نامه پرې ور ایښووای شو. سیاسي تشیع ته لېوال شیعه ګان هغوی دي، چې خلافت ته د علوي کورنۍ پر غــوراوي او حقانیت ګروهن وو او په ځانګړي توګه یې حضرت علي کرم الله وجهه تر حضرت عثمان (رض)غوره ګاڼه. د کوفې تشیع غالباً له دې ډلې وو. په لومړیو پېړیو کې، هغوی چې حضرت علي کرم الله وجهه تر حضرت عثمان (رض) غوره ګاڼه، د عثمانیانو [هغوی چې حضرت عثمان (رض) یې تر حضرت علي کرم الله وجهه غوره ګاڼه] لخوا "شیعه" ورته ویل کېدل؛ نو پردې بنسټ [د اسلام د تاریخ] په لومړیو پېــړیوکې د تشیع مفهوم همــدا تشیع و، چې اوس دود ده. څه ته چې اوس شیعه ویل کېږي، د عثمانیــانو په زړه اصطلاح په "رفض" تعبیرېده.[3]

۱۳. حضرت خالد بن سعید، ١٤. حضرت عبدالله بن عباس او ډېرى نور. وګورئ: محمد بن سعد، طبقات الکبری، ۲٤٦/۳-٤٨٤، ٧٥/٤-٤٩٨ او ۱٥/٦؛ ابن عبدالبر، الاستیعاب فی معرفة الاصحاب ٦٥/١، ۲٦۲/۲، ٤۲٤، ۳۳٤، ٥١٠ او درېیم اوڅلورم ټوکونه؛ احمدبن علي طبرسي، الاحتجاج ٨٩/١-١١٨؛ ابوجعفر اسکافي، المعیار والموازنه، ٥١ مخ.

[1]. عبدالله فیاض، تاریخ الامامیة و اسلافهم من الشیعة، ٤٤ مخ.

[2]. اخستنه له: رسول جعفریان، تاریخ تشیع در ایران ٣٠/١.

[3]. اخستنه له: رسول جعفریان، تاریخ تشیع در ایران، لومړی ټوک، ٣٠ مخ.

په هغه پېر کې"شیعه" د"متشیع" په مانا هغه څوک و، چې د خلفاوو د مقام په پرتله کولو کې یې ډېرې اعتبار او اعتنا امیرالمؤمنین علي کرم الله وجهه ته درلوده، حال دا رافضي هغه ته ویل کېده، چې د شیخینو له خلافته یې انکار کړی وي او د الله تعالی له لوري د حضرت علي کرم الله وجهه پرخلافت په یو منصوص چار گروهن وي. [1]

ابوبکر محمد بن محمد خلال (پر ۳۱۱ س مړ) د هغې ورځې د کوفې او واسط ښار مېشتي شیعه گڼي؛ څکه د خلفاوو ترتیب – اوډون یې داسې مانه: حضرت ابوبکر (رض)، حضرت عمر (رض)، حضرت علي کرم الله وجهه او بیا حضرت عثمان (رض). [2]

له امام احمد بن حنبل نقل شوي، چې د کوفې وگړي، بې له دوو تنو؛ طلحة بن مصر او عبدالله بن ادریس، نور ټول حضرت علي کرم الله وجهه پر حضرت عثمان (رض)ړومبی گڼي. [3]

ذهبي هم ددې ډول تشیع په باب لیکي: ((کوفیان..... له حضرت عثمان (رض) څخه مخ اړوونکي دي او له حضرت علي سره مینه لري. مخکېني یې شیعه او د علي کرم الله وجهه یاران وو. موږ اهلسنت د څلورگونو خلفاوو مینوال یو او د عراق یوه ډله شیعه گان هم حضرت علي کرم الله وجهه، پر حضرت عثمان (رض) لومړی گڼي او هغوی یې ښه نه ایسي، چې له حضرت علي سره جنگېدلي دي. دا خفیفه تشیع ده.)) [4]

ناشي اکبر هم په"مسائل الامامه" کې راوړي دي: ((وکیع بن جراح (پر ۱۰۷ س مړ) او د عبدالله بن ادریس شافعي (پر ۲۰٤ س مړ) اصحاب او عبدالله بن نعیم (نمیر کوفي) او ابونعیم الفضل بن دکین (پر ۲۱۹ س مړ) او د کوفې ډېرې مخور اهل حدیث گروهن دي، چې تر پېغمبر اکرم روسته غوره وگړي حضرت ابوبکر (رض) حضرت عمر (رض) بیا حضرت علي کرم الله وجهه او وروسې حضرت عثمان (رض) دي. [5]

---

[1]. هماغه، ۲۲-۲۳ مخونه.

[2]. ابوبکر خلال، السنة ۳۹٤/۱-۳۹۵؛ رسول جعفریان، هماغه.

[3]. ابوبکر خلال، هماغه، ۳۹۵ مخ؛ رسول جعفریان، هماغه.

[4]. محمد بن احمد ذهبي، میزان الاعتدال ۳۵۲/۳.

[5]. ناشي اکبر، مسائل الامامه، ٦٦ مخ؛ رسول جعفریان، هماغه، ۲۲ مخ.

دا ډول لېوالتیا سره له دې، چې شیعي لېوالتیاوې لري، د اهلبیتو فضایل رانقلوي، امویان او عباسیان یې ښه نه ایسي، د شیعه وو په یوې ډلې؛ لکه امامي، زیدي او اسماعیلي کې نه راځي او عموما د"سیاسي تشیع"[1]، "عراقي تشیع"[2]، "خفیفه تشیع"[3]او د اهلبیتو د سیاسي پلویانو[4] په نامه یاد شوي، چې د هغې ورځې د کوفیانو ډېرى وګړي له همدې ډلې ول.

### ۳-۳ معتزلي تشیع

د اسلامي نړۍ د ډېرى مخورو وګړو په اړه د "معتزلي شیعي" څرګندنه- اصطلاح کارېدلې ده. دا وګړي له بېخه د معتزله وو په کلامي ښوونځي پورې ور تړلي دي؛ خو په دوى کې یو ډول شیعي لېوالتیا لامل شوى، چې"معتزلي تشیع" ونومول شي. په مشخصه توګه دوى به د اهلبیتو فضایل رانقول، حضرت علي کرم الله وجهه یې پر حضرت عثمان (رض) غوره ګاڼه او د دوى د ځینو د ګروهې له مخې حضرت علي کرم الله وجهه پر حضرت ابوبکر (رض) او حضرت عمر (رض) غوره و او ځینو معتزلیانو د علویان په پاڅونونو؛ لکه د محمد نفس زکیه او د رور ابراهیم بن عبدالله په پاڅونونو کې یې ګډون کړى و او له زیدیانو سره د اړیکو له لامله د شیعي لېوالتیاوو خاوندان ګڼل شوي دي. پر دې سربېره، ډېرى [متاخرو] معتزله وو بې له لړکیو یې حضرت علي کرم الله وجهه پخپلو جګړو کې پر حقه ګڼلى او ورسره جګړه مارانو ته یې بې لارې ویلي او له هغوى هم بېزاره دي، چې له علي سره له جګړې یې توبه کړې نه وې.))[5]

ابو جعفر سکافي (د المعیار و الموازنه لیکوال) او ابن ابي الحدید معتزلي شافعي (د نهج البلاغې شارح) ددې لېوالتیا تر ټولو غوره بېلګې دي، چې د مخکې دلیلونو له مخې، "معتزلي شیعه" ورته ویل کېږي. که څه دا لېوالتیا په خپله سیاسي تشیع او محب

---

[1]. عبدالله فیاض، تاریخ الامامیه و اسلافهم من الشیعه، ٤٣ مخ.

[2]. رسول جعفریان، هماغه.

[3]. ذهبي، هماغه سرچینه، ۵۵۲ مخ.

[4]. سید محمد حسین جعفري، تشیع در مسیر تاریخ، د آیت الله محمد آیت الهي ژباړه، ۱۵۲ مخ.

[5]. نشوان بن سعید حمیري، الحور العین، ۲۰۵ مخ؛ رسول جعفریان، هماغه، ۳۱ مخ.

تشیع ته راکوزېدل دي؛ خو په خپله د"معتزلي تشیع" نامه رایښي، چې د اسلام د تاریخ په روستیو پېړونو کې سیاسي شیعیان او محب شیعیان ډېری له معتزلي شیعه وو ځنې ول، چې ډېری دا وګړي په کلام کې معتزلي او په فقه کې د امام ابوحنیفه لارویان ول.

## ۳-٤. محب (مینوال) تشیع

بل ډول تشیع د اهلبیتو دوستي او د دوی د فضایلو رانقلول دي. ددې لېوالتیا خاوندان یوازې په دې دلیل، چې له اهلبیتو سره مینه لري او ډېر ځل د تفضیل او نورو یې هېڅ زمینه و نه لري؛ خو په عین حال کې د عثماني مذهبو له لوري د شیعي لېوالتیاوو په درلودو تورن شي. ښايي تر ټولو ستره لېوالتیا د محمد بن ادریس شافعي (۱۵۰-۲۰٤ س) وي. له امام شافعي رحمة الله علیه ځینې اشعار رانقل شوي، چې پکې ددې لېوالتیا د شتون تاییدونکي دي او ددې لېوالتیاوو له لامله نه یوازې په تشیع؛ بلکې په رفض هم تورن شوی دی.[1]

ذهبي د داود بن عوف په باب وايي: ((دا شیعه دی او ډېری څه یې چې رانقل کړي، د اهلبیتو فضایل دي.))[2]

همداراز د محمد بن جریر بن یزید طبري (۲۲۵-۳۱۰ س) په باب وايي: ((امام ابوجعفر، د روښانه، څرګندو او ډاډمنو لیکنو خاوند دی، په عین حال کې، پکې آرامه تشیع او د [اهلبیتو دوستي] لیدل کېږي، چې زیان نه رسوي.))[3]

په معجم الادباء کې راغلي دي: ((د یوې وینا له مخې، دا (طبري) د خلکو له وېرې د شپې ښخ شو؛ ځکه په تشیع تورن و.))[4]

ابن حجرله ابن عدی څخه په نقل، د سالم بن ابي حفصه عجلي (۱٤۰س مړ) په باب لیکلي دي: ((دا ډېری احادیث لري او ډېری څه یې چې رانقل کړي، د اهلبیتو فضایل دي.))[5]

---

[1]. رسول جعفریان، هماغه، ۲۸ مخ.

[2]. ذهبي، هماغه سرچینه۱۸/۲؛ رسول جعفریان، هماغه سرچینه.

[3]. ذهبي، هماغه سرچینه؛ رسول جعفریان، هماغه سرچینه.

[4]. یاقوت بغدادي، معجم الادباء ۲٤۲/۵؛ رسول جعفریان، هماغه سرچینه.

[5]. ابن حجر عسقلاني، تهذیب التهذیب ٤۳٤/۳؛ رسول جعفریان، هماغه سرچینه.

د محمد بن جرير بن رستم طبري په باب ویل شوي: ((دا رافضي دی او ځينې کتابونه لري، چې "الرواة عن اهل البيت" يې يو دی.))[1]

همداراز ابوالحسن علي بن عمر دارقطني (۳۰٦-۳۸۵ س) د شاعرانو د شعري ټولګو د راټولولو په پار، په شيعه توب تورن دی[2] حال دا، د شافعي مذهب پر بنسټ يې فتوا ورکوله.))[3]

بيا دا لېواليتاوې پر پينځمه پېړۍ او تر دې روسته خپرې شوې، ان په حنبليانو کې، چې په درېيمه او څلورمه پېړيو کې خورا سخت متعصب عثمانيان وو، داسې وګړي راښکاره شول، چې له اهلبيتو سره يې مينه څرګندوله. دا مينه په يوه نه يو ډول، تشيع ته ورتله او په اوږد مهال کې د تشيع خپرېدو ته يوه لاره چاره وه.[4]

## د اهل بيتو په اړه د مسلمانانو ليدلورى او دريځ

**غلو:** اهل بيتو ته د الهي او انساني ور هاخوا چارو ورمنسوبول.

**اسماعيلي تشيع:** ځينې اسماعليان اهل بيتو ته په غلو قايل دي.

**امامي تشيع:** د اهل بيتو پر علمي، سياسي او مانيز مرجعيت ګروهن دي.

**زيدي تشيع:** د اهل بيتو پر سياسي مرجعيت ګروهه (له امامي تشيع سره د بنسټيز توپير له مخې)

**امام ابوحنيفه رحمة الله عليه:** د راشدينو خلفاوو د خلافت پر منلو سربېره د اهل بيتو پر علمي او مانيزې غوراوي ګروهه.

**سياسي تشيع يا معتزلي تشيع:** د اهل بيتو پر سياسي مرجعيت ګروهېدل.

**مينوال تشيع او د تصوف ډلې:** د اهل بيتو پر مانيز مرجعيت ګروهېدل او مينه درلودل ورسره فرض ګڼي.

[1]. رسول جعفريان، هماغه سرچينه، ۲۹ مخ.

[2]. ابن حجر عسقلاني، لسان الميزان ۲٤۹/٦؛ رسول جعفريان، هماغه سرچينه.

[3]. محمد حسين سليمان اعلمي حائري، دائرة المعارف ۹/۸.

[4]. رسول جعفريان، هماغه سرچينه.

**د اهل سنتو مشهورې ډلې:** اهل بيت د نورو مسلمانانو په پرتله له علمي او مانيز پلوه نسبي امتياز لري.
**نصب:** له اهل بيتو سره دښمني.

## دویم څپرکی

# د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه
# ژوند او پېر

### ۱. د امام ابوحنیفه ژوندلیک

امام ابوحنیفه رحمة الله علیه نعمان بن ثابت بن مرزبان زوطي پر ۸۰ سپوږمیزکال په کوفه کې وزیږېد. [1]مرزبان زوطي د امام ابوحنیفه نیکه د کابل اوسېدونکی و. د روایتونو له مخې، زوطي څه موده د بني تمیم او څه موده د بني قفل مملوک و. [2] خو ځینو له"اسماعیل بن حماد" (د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له لمسي) رانقل کړي: موږ کله هم مملوک او مریان نه وو. [3] او همداراز له دې او نورو یې رانقل کړي، چې"ثابت" د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه پلار ماشوم و، چې حضرت علي بن ابیطالب کرم الله وجهه ته ورغی او حضرت د او ځوځات ته یې دعا وکړه. [4] په بل روایت کې راغلي، چې ثابت بن المرزبان هماغه سړی دی، چې د نوروز پر ورځ یې حضرت علي ابیطالب کرم الله وجهه ته فالوده (یاحلوا) ډالۍ کړه او امیرالمؤمنین په ټوکه ورته وویل: ((نیرزنا کل یوم= هره ورځ راته نوروز ونیسئ)). [5]

---

[1]. خطیب بغدادي، د بغداد تاریخ، ۳۳۰/۱۳.

[2]. هماغه سرچینه، ۳۲٤ مخ.

[3]. هماغه سرچینه، ۳۲٦ مخ.

[4]. هماغه سرچینه؛ ابن حجر حیثمي، الخیرات الحسان فی مناقب الامام الاعظم ابي حنیفه النعمان، ۱۹ مخ.

[5]. خطیب بغدا دي، هماغه سرچینه.

ثابت د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه پلار، د ټوکرانو- رختونو سوداګرو او امام هم په پیل کې پر سوداګرۍ بوخت و[1] او د خطیب بغدادي د وینا له مخې، امام د کلام او فقهې پر علم تر بوختېدوله مخه پر بزازۍ بوخت و او هټۍ یې د کوفې په عمرو بن حریث بازار کې وه.[2] مورخینو رانقل کړي، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په ځوانۍ کې له (کوفي شاعر) حماد بن عجرد سره راشه درشه درلوده.[3]

امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ړومبی د کلام علم ته ورمخه کړه او له بېلابېلو ډلو سره یې مجادلې او مناظرې وکړې او د کوفې په جومات کې یې ځانګړې کړۍ رامنځ ته کړه.

د ابن بزازي د نقل له مخې، امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د کلامي مباحثو د مناظرې لپاره دوه ویشت ځل بصرې ته تلی راغلی[4]؛ خو لا ډېر وخت تېر شوی نه و، چې د کلام له علمه یې فقهې ته ورمخه کړه او د"حماد بن ابي سلیمان" (۱۲۰ س مړ) له فقهي کړۍ سره یو ځای شو.[5] "حماد بن ابي سلیمان" د امام ابوحنیفه له خورا مهمو او ګټورو ښوونکیو څخه شمېرل کېږي او مناقب لیکونکیو کښلي، چې ابوحنیفه اتلس کاله له "حماد بن ابي سلیمان" زده کړه وکړه.[6]

امام ابوحنیفه پر ۱۲۰ سپوږمیز کال د"حماد بن ابي سلیمان" تر مړینې روسته، د زده کړې پر کرسۍ یې کېناست او د حماد غوره او ستر زدکړیال په نامه په کوفه کې د فتوا مرجع شو. ډېرې وګړي د فقهې د زده کړې لپاره ورنه راټول شول؛ خو هغه ستر زدکړیالان یې، چې د امام د افکارو په خپرولو او تدوین کې خورا ونډه درلوده، دا دي:

محمد بن حسین شیباني (۱۸۹س مړ)، یعقوب بن ابراهیم په قاضي ابو یوسف مشهور (۱۸۲ س مړ)، حسن بن زیاد لؤلوئي (۲۰٤ س مړ) او زفر بن هذیل (۱۵۸ س مړ).

---

[1]. موفق مکي، مناقب ابي حنیفه ۹/۲-۸ مخونه.

[2]. خطیب بغدادي، هماغه سرچینه، ۳۲ مخ؛ حسین بن علي صمیري، اخبار ابي حنیفه و اصحابه، لومړی مخ؛ ابن حجر حیتمي، پخوانۍ سرچینه، ۵۵ مخ.

[3]. دکتر عبدالمنعم احمد النمر، علم الفقه، ۹۷ مخ؛ ابوالفرج الاغاني ۷۸/۱۳ له دایرة المعارف بزرګ اسلامي، مدخل "ابوحنیفه" ۳۸۰/۵ څخه اخستل شوی دی.

[4]. ابن بزازي، مناقب ابي حنیفه ۳۸۰/۲.

[5]. هماغه سرچینه.

[6]. موفق مکي، مناقب ابي حنیفه ۱۷٦/۲.

امام ابوحنیفه رحمة الله علیه، چې په عباسي حکومت کې د قضاوت-نیاوتون له چارواکی نته وکړه؛ نو"منصور عباسي" زنداني کړ او پر ۱۵۰ هجري سپوږمیز کال د بغداد په زندان کې شهید شو.[۱]

## ۲. د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه لیکنې

لاندې کتابونه امام ابوحنیفه ته ورمنسوب دي:

**۱. الفقه الاکبر:** دا کتاب په اعتقاداتو۔ گروهو کې مشترک متوني عنوان دی، چې گردسره امام ابوحنیفه ته ورمنسوب دی.

**۲. الفقه الابسط:** دا اثر، چې کله یې د"الفقه الاکبر" په نامې هم یادوي، د خپل زدکړیال ابو مطیع بلخي د پوښتنو د ځوابونو ټولگه ده.

**۳. العالم و المتعلم:** د پوښتنو او ځوابونو په چوګاټ کې یوه رساله ده، چې اصلي موضوع یې د حنفي ارجاء ښوونې او د ایمان او عمل د اړیکې څرګندونه ده او له امام ابوحنیفه یې ړومبی راوي "ابو مقاتل حفص بن سلم سمرقندي" دی.

**٤. رسالة الی عثمان البتي:** د ارجاء په اړه بصري اندیال-متفکر او فقیه"عثمان ابن سلیمان بتي"(۱٤۳ س مړ) ته یې یوه رساله ده. مؤلف په دې رساله کې د خپل لیدلوري د څرګندونې تر څنګ پر ځان د افراطي ارجاء تور رد کړی دی.

**٥. الوصیة:** د مړینې پر مهال امام ابوحنیفه ته ورمنسوب وصیت دی، چې د اهلسنت و الجماعت د گروهیز ښوونځي ځینې کلیات پکې دي.

**٦. وصیة الی تلمیذه القاضي ابي یوسف:** ځینې اخلاقي احکام پکې دي.

دا کتابونه ټول چاپ شوي او پر دې سربېره ځینې خطي ـ لیکېزې نسخې هم ورمنسوب دي، چې دا دي:

۱. وصـیة الی ابنه حماد،

۲. وصیة الی یوسف بن خالد السمتي،

۳. رسالة فی الایمان و تکفیر من قال بخلق القرآن،

[۱]. خطیب بغدادي، هماغه سرچینه، ۳۳۰ مخ؛ احمد بن علي طبرسي، الاحتجاج ۱٦۸/۲؛ موفق مکي، مناقب ابي حنیفه۱۲۱/۲؛ ابن بزازي، مناقب ابي حنیفه ۱۷۷/۲ مخ.

٤. مجادلة الاحد الدهريين.
يو څو نايابه نسخې هم امام ابوحنيفه ته ورمنسوبې دي:
١. كتاب الرهن،
٢. الرد على القدريه،
٣. رسالة املاهافى نصرة قول اهل السنة ان الاستطاعة مع الفعل. [١]

سره له دې، چې دا ليكنې امام ته ورمنسوب دي؛ خو د يوې د ورمنسوبېدوسموالى هــم پرېكنده نه دى؛ بلكې په ډاډ ويلاى شو، چې يو له دې كتابونو هم نېغ په نېغه د امام نه دي. دا رسالې د امام زدكړيالانو او په تېره لمسي يې اسماعيل بن حماد د امام د املاګانو پر بنسټ راټولې كړې دي. [٢] او د وخت په تېرېدو زدكړيالانو يې پكې ډول ډول لاسوهنې كړي دي. [٣]

## ٣. د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د وخت سياسي حالات

له سياسي پلوه امام ابوحنيفه په داسې پېر كې اوسېده، چې له امويانو څخه عباسيانو ته سياسي ځواک ولېږدول شو. امام د امويانو د حكومت په پاى او د عباسيانو د حكومت په پيل كې ژوند كاوه او دوو ځواكونو د راختو او لوېدو پېرو. دا يو حكومت يې هم مشروع نه ګاڼه او د شته سياسي وضع د كره كتونكي- منتقد او معترض په نامه نه يوازې يې همكاري ورسره و نه كړه؛ بلكې پرخلاف يې له پوځي او سياسي مبارزو ملاتړ هم كاوه. همدا دريځ او له عباسيانو سره نه همكارۍ يې زندان ته ولېږه، چې په پاى كې يې د شهادت لامل هم شو. [٤]

## ٤. د امام ابوحنيفه د پېر انديز او فرهنګي شرايط

له انديز او فرهنګي پلـوه د امام ابوحنيفه د پېر اسـلامي ټـولنه د ګروهيزو ډلو د تكوين شاهده وه. د دويمې هجري سپوږميزې پېړۍ په لومړۍ نيمايي، په تېره په عراق كې

[١]. دايرة المعارف بزرګ اسلامي، د "ابوحنيفه" مدخل٥/٩٥-٣٩٦.
[٢]. شاه ولي الله دهلوي، حجة الله البالغة ١٣٥/١؛ دائرة المعارف الاسلامية د "ابو حنيفه"مدخل ٣٣١/١.
[٣]. په دې اړه به په څلورم او پينځم څپركي كې توضيحات وركړل شي.
[٤]. خطيب بغدادي، د بغداد تاريخ ٣٢٩/١٣-٣٣٠.

ځينو ګروهيزو مسلو ځينې دريځونه او ډلبندۍ را منځ ته کړې، چې د لومړۍ هجري پېړۍ په شيندليو وييئو-مباحثو کې يې جرړه درلوده او د کلامي مذاهبو او ډلو را منځ ته کېدو ته پيل و. ددې چارو او مسايلو په سر کې د"فاسق ايمان"، "قضا و قدر" او د "امامت و خلافت" مسلې وې.

ددې هرې يوې چارې غوښتنه وه، چې يو ديني عالم يې پر وړاندې يو دريځ ونيسي؛ خو دې دريځونو ځانګړې تړاونه درلود او د يو ځانګړي مذهب په چوکاټ کې نه راتلل. په واقع کې په هغه پېر کې يو ټاکلی کلامي مذهب رامنځ ته شوی نه و، چې ددې ټولو يا ډېرى ګروهيزو مسايلو په باب د دريځونو يو ټاکلی غونډال را وړاندې کړي. هغه نامې، چې بېلابېلو ډلو؛ لکه "مرجئه"، "خوارجو"، "قدريه" او "شيعه وو" لپاره کارېدې، مخکې له دې، چې د يو غونډال- نظام منلي مذهب ښوونکي وي، په ځانګړيو مسلو کې يو ډول دريځنيوه او کله يو ډول سياسي- ټولنيز تشکل او جوړښت ول.[1]

د امام ابوحنيفه په پېر کې، شيعيان له فرهنګي پلوه تر پخوا په مناسب موقعيت کې وو. امام ابوحنيفه د رسالت له کورنۍ، له دوو امامانو (امام باقر او امام صادق) سره همپېرى و، او دا چې په دې پېر کې د اموي حکومت دژوند روستۍ سلګۍ وې او له خپلو عباسي سياسي مخالفانو سره لاس و ګرېوان و؛ نو يو فرصت ګوتو ته ورغی، چې امام باقر د اهلبيتو د معارفو د خپرولو او د زدکړيالانو د روزولو لپاره د يو فرهنګي مرکزيت په جوړولو بريالی شي او د امام صادق په پېر کې هم، چې عباسي حکومت د خپلو پښو په ټينګولو بوخت و؛ نو امام صادق هم وکولای شو، چې د خپل پلار پيل کړى يون پر مخ بوځي او منزل ته يې ورسوي، چې د اهلبيتو ښوونځى مسلمانانو ته ښه ور وپېژني.

تر دې مهاله د زندۍ چاپېريال له لامله او د شيعيانو او د امامانو پرخلاف يې ناوړه چاپېريال ددې لامل شوى و، چې شيعيان له بېلابېلو ګوټونو د اهلبيتو له معارفو سره سمه او پوره اشنايي و نه لري او په واقع کې په فقه، کلام، تفسير او نورو چارو کې يې

[1]. دائرة المعارف بزرگ اسلامي، د "ابوحنيفه "مدخل ۳۸۲/۵.

تر اوسه معرفتي غونډال غوټه شوی نه و او یوازې د امام باقر او امام صادق تر پېر روسته و، چې د ګروهېزې تشیع اندیز او معرفتي منظومه وټاکل شوه. تقریبا د امام صادق د عمر تر روستیو کالونو ډېری شیعیان"سیاسي شیعه" او"مینوال شیعه" وو او"ګروهیز شیعیان" یا لږ وو او یا یې په فقه او کلام کې د اهلبیتو له مذهبه بسیا پوهه نه درلوده.

دکشي په رجال کې راغلي: ((د امام باقر تر امامت مخکې شیعیانو د حلالو او حرامو په اړه له نورو زده کړه کوله تر دې چې د امام باقر د امامت وخت را ورسېد؛ نو دوی ته یې (شریعت) ور زده کړ او یا دوی هغو ته ور زده کړه پیل کړه، چې مخکې یې زده کړې ترې کولې.))[1]

همداراز رانقل شوي: ((هغه مهال، چې امام باقر مسکرات او له دې ځنې نبیذ، مطلق حرام ګڼل؛ نو د کوفې فقهاوو د نبیذو کارول جایز ګڼل او همداراز په لنډ مهاله واده کې شیعیانو او د کوفې فقهاوو اختلاف درلود، ځینو یې جایز ګاڼه او ځینو یې د حضرت عمر (رض) د فتوا له مخې، پر حرمت فتوا ورکوله.))[2]

د اهلبیتو د مقام په اړه یوه بنسټیزه ستونزه د غلاتو وده او ډېرېدل وو، چې د امامانو په باب په غلو یې هم امام باقر او هم امام صادق او هم رښتینو شیعیانو ته اهلسنت بدوینې کول. په حقیقت کې د اهلبیتو امامانو ته د ډېری خلکو د نه راتلو لامل همداغلات وو؛ ځکه ډېری وګړیو به چې اهلبیتو ته مخه کړه؛ نو غالي او رافضي به یادېدل.

امام باقر او امام صادق له غالیانو سره سرسخته مبارزه وکړه[3] او لکه څنګه چې به په شپږم څپرکي راشي، امام ابوحنیفه هم له غالیانو سره لاس و ګرېوان و. په حقیقت کې غلاتوته (چې هغه مهال ډېر وو او خورا وده یې هم کړې وه،( د امام ابوحنیفه منفي نظر او ورسره مخالفت به یې په ځینو ځایونو کې شیعه وو ته منفي نظر ګڼل کېده. حال دا

---

[1]. د کشي رجال، ٤٢٥ مخ.

[2]. سید محمد حسین جعفري، تشیع در مسیر تاریخ، د محمد تقي آیت الهي ژباړه، ۲۹٦ مخ.

[3]. نعمت الله صفري فروشاني، غالیان، ۳۰۹-۳۲۷ مخونه. د شیعه وو د ټولنې د لیدلوریو او بېلابېلو لېوالتیاوو په دننني اختلاف د لاپوهېدو لپاره وګورئ: سید حسین مدرسي طباطبایي، مکتب در فرآیند تکامل، د تهران چاپ، دکویر خپروندیه ټولنه ۱۳۸٦. (په تېره د کتاب دویمه برخه: غلو تقصیر و راه میانه: تکامل مفهوم امامت در بعد علمي و معنوي)

د رښتينو شيعيانو حساب بايد له غلاتو بشپړ بېل کړای شي او د تشيع او غلاتو يو ګڼل، ډېر بې لارې کوونکي چار و او وي به.

## د اهلبیتو له ښوونځي سره

## د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د کلامي اندنو پرتلنه

حضرت امام ابوحنیفه د اسلامي فرهنگ په تاریخ کې، ډېر د نظر خاوند یو فقیه په نامه اوځار- مطرح دی او له ډېر وخت راهیسې د مالک او شافعي تر څنگ د اهلسنتو د سترو فقیهانو په نامه یاد شوی؛ خو د مالکي او شافعي پرخلاف د امام ابوحنیفه ښوونځی د تاریخ په ترڅ کې د دوه اړخیز ښوونځي په نامه پېژندل شوی؛ هغه ښوونځی، چې هم له گروهیز غونډال - نظامه او هم له فقهي غونډاله برخمن دی او په خپل وخت کې یې کلامي اندې له ځانگړې ارزښت او شهرته برخمنې وې او گڼو کلامي ښوونځیو ته الهام ښباندې شوې وې.[1]
د امام ابوحنیفه د کلامي اندو په اړه باید وویل شي، چې گروهې یې بې له لاسوهنې را ته را رسېدلي نه دي او څه چې نن د امام ابوحنیفه د کلامي اندو په نامه راسره دي، ناهمغږي او له بل سره په ټکر کې گزارشات دي، چې د بېلابېلو راویانو د لېوالتیاوو تر اغېزمنېدو روسته را رسېدلي دي.
او هاغسې، چې په تاریخي سرچینو کې ښکاري، ان پخپله د امام ابوحنیفه پر ژوندون یې د اندونو په اړه څرگندونې ناهمغږې وې؛ نو څرگنده ده، چې تر کلونو او پېړیو تېرېد روسته خو به دا ناهمغږي ډېره شوې وي؛ خو ټولې لیدلورې په یوه ټکي کې سره راټولېدې او هغه هم له امام ابوحنیفه نه په گروهیزو آرونو-اصولو کې د یوه اندیال وگړي انگېرنه وه. د اهل حدیثو پر وړاندې د غیر خارجي او غیر شیعي مسلمانانو په اندیزه ډلبندۍ کې دا ټکی اشنا ښکارنده - پدیده وه، چې وگړو او ډلو په یوه ډول ځان له امام ابوحنیفه سره نښلاوه. ته وا د اهل حدیث مخالف امام ابوحنیفه تر ټولو غوره

---

[1]. دائرة المعارف بزرگ اسلامي، پینځم ټوک، د "ابوحنیفه" مدخل، ۳۸۱ مخ.

غیر خارجي او غیر شیعي وګړي په نامه وکولای شول، چې دې ډلو ته اعتبار ښباندی وي. په دې ترڅ کې ځینو د خپل اندیز غونډال یا یې د خپلو ځینو ګروهو سرچینه باله او ځینو یوازې په فقه کې خپل امام منلی و. [1]

## ۱. د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د کلامي اندو رانقلوونکي

امام ابوحنیفه رحمة الله علیه بېلابېلو کلامي ښوونځیو ته الهام ښباندی و او له بېلابېلو اندیزو غونډالونو سره ډېر آثار ورته منسوب دي. که څه په دقیقه توګه یې د نظام منلي منسجم کلامي مذهب په بڼه ګڼلای نه؛ بلکې په کلامي چارو کې یې د نظر خاوند شمېرلای شو، چې اوس یې له کلامي اندو څنې ځینې عناصر، ته په منسوبو ښوونځیو او په ځینو غیر حنفي آثارو کې پاتې دي. په ټول کې د امام ابوحنیفه د کلامي اندو د پښنو پل په دوو ډولو سرچینو کې موندای شو:

۱. د "حنفي – ماتریدي" ښوونځي په سرچینو کې، چې ددې ښوونځي لارویان هم په فقه کې او هم په کلامي چارو کې مدعي دي، چې د امام ابوحنیفه لارویان دي.

۲. غیر حنفي او غیر ماتریدي سرچینې؛ لکه تاریخي سرچینې، د مناقبو کتابونه، د شیعه او سني روایاتي سرچینې، د امام ابوحنیفه د کلامي او فقهي اندو مخالفې سرچینې او...

خو د حنفي او ماتریدي سرچینو په اړه دې وویل شي، چې دا ښوونځی یوازنی ښوونځی نه دی، چې امام ابوحنیفه ته ورمنسوب دی؛ بلکې مخکې ترې یو بل عقلپال ښوونځی د امام د اندو لاروی و.

په هر حال امام ابوحنیفه ته منسوب ګروهیز غونډالونه په دوو غټو ښوونځیو کې ډلبندي کولای شو:

الف) هغه ښوونځی، چې له کلامي او اندپالو دودونو یې لاروي کوله او اعتزالي افکارو ته په ورنږدېدو، د "قدر" په څېر چارو کې د اهل حدیثو په مخالفه ټلواله کې راته.

ب) هغه ښوونځی، چې د ایمان په باب یې د امام ابوحنیفه د اندنې په بنسټولو په نورو چارو؛ لکه د الله تعالی صفات، قدر، امامت او خلافت کې یې د اهل حدیثو نظریاتو

---

[1]. هماغه، ۳۸۷ مخ (له لږ تصرف سره)

ته لېوالتیا پیدا کړه او لارویان یې د "اهلسنت و جماعت" په نامه وپېژندل شول. [1] او څه موده روسته د "حنفي-ماتریدي" ښوونځي په چوګاټ کې راښکاره شول؛ نو بده به نه وي، چې د امام ابوحنیفه د دې دوو ډلو لارویانو په باب ځینې څرګندونې در وړاندې کړو:

## ۱-۱. حنفي کلامي او عدلپال ښوونځی

د امام ابوحنیفه د هغه ډلې زدکړیالانو ترڅنګ، چې امام د فقهې دودولو ته یې لېچې رانغاړلې وې؛ یوه بله ډله هم وه، چې دا یې په کلام کې د یو دیني اندیال - متفکر په نامه رامخې ته کړ. د اهل حدیثو د مخالفو حنفیانو ګروهو کله هم په عراق او د دې سیمې په لویدیځ کې وده و نه کړه او وده یې باید په ختیځ په تېره په بلخ کې ولټول شي. د امام پر زوی حماد سربېره، ابومطیع بلخي (د بلخ قاضي)، سلم بن سالم بلخي او ابومقاتل بلخي له دې ډلې ځنې وو. [2]

د خراسان خلک، چې د امام ابوحنیفه پر ژوندون یې هم له خورا مهمو مینوالو او مراجعینو ځنې وو، تر مړینې روسته یې هم خپله پالوالي -وفاداري ورته وساتله. دا چې "بلخ" د امام د مینوالو او لارویانو مرکز و؛ نو اهل حدیثو "مرجي آباد" ورته وایه. [3]

د درېیمې سپوږمېزې پېړۍ په منځنیو لسیزو کې په خراسان کې په مرجي حنفیانو کې، چې مرجي ورته ویل کېدل، حنفي پخوانۍ کړچارې؛ لکه عقل پالي، له تقلید سره مبارزه او له پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم څخه د را روایت شویو احادیثو په اړه کره کتنیز لیدلوری او ان د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ځینې اصحاب؛ لکه حضرت ابوهریره (رض) یې تر کره کتنې لاندې ونیول. [4]

په څلورمه او پینځمه سپوږمیزه پېړۍ کې د "اهل سنت او جماعت" پراخ تبلیغ د عدل پال حنفي ښوونځي رڼا تته کړې وه؛ خو تر اوسه ددې ښوونځي ځینې ډلې په خراسان

---

[1]. هماغه سرچینه.

[2]. محمد بن سعد، الطبقات الکبری ۲۷۳/۶-۲۷٤؛ دائرة المعارف بزرگ اسلامي، هماغه، ۳۸۷-۳۸۸ مخونه.

[3]. صفي الدین بلخي، فضائل بلخ، ۲۸-۲۹ مخونه؛ دائرة المعارف بزرگ اسلامي، هماغه

[4]. عبدالجلیل قزویني رازي، النقض، ۳۰٤ مخ؛ دائرة المعارف بزرگ اسلامي، هماغه.

او ماوراء النهر کې وې. په " ری " کې هم د پینځمې سپوږمیزې پېړۍ په شاوخوا کې په اصولو او فروعو کې د امام د لارویانو ځینې ډلې وې.[1]
که په متکلمو او عدل پالو حنفیانو کې د ارجاء له وینې تېر شو؛ نو ښکاري، چې د حنفي اهل سنت او جماعت او تشیع ترمنځ په پرتله د دې او تشیع ترمنځ د اختلاف لږه زمینه ده. عقل پالي، له تقلیده ډډه، د قضا و قدر او د عدل پالۍ په اړه یې لیدلوري او د احادیثو پر متونو له جمود او سرسریتوبه لرېوالي یې د اختلاف لپاره لږه زمینه برېښوله؛ خو د اهل سنت او جماعت د ښوونځي برلاسي، د حنفیانو او شیعیانو ترمنځ د اختلاف زمینه ډېره کړه او په خپله په دې ښوونځي کې د حدیث پالۍ عنصر، د نورو سیاسي او ټولنیزو لاملونو ترڅنګ، سوکه سوکه د اړپېچ لمن ژوره او پراخه کړه.

## ۲-۱. حنفي "اهل سنت و جماعت" ښوونځی

پر دویمه او درېیمه سپوږمیزې پېړۍ کې په خراسان کې یو ښوونځی د جوړېدو پر حال و، چې د خپل ګروهیز غونډال سرچینه یې د امام ابوحنیفه له اندوګڼلو او د امام ځینې عراقي زدکړیالان؛ لکه ابویوسف، محمد بن حسن، زفر بن هذیل او حسن بن زیاد لؤلوئی یې د خپل ښوونځي مخکښان ښوول، چې د "حنفي اهل سنت او جماعت" نوم پرې اېښودای شو.[2]
دې ښوونځي بې د ارجاء له اندنې - تفکره، په ګروهیزو چارو کې له اهل حدیثو سره ځانګړی اړپېچ - اختلاف نه درلود او ددې ښوونځي د دودېدو خورا مهم مرکز د ماوراء النهر سیمه په تېره د سمرقند او بخارا دوه ښارونه وو، چې د "سامانیانو" (۳۸۹-۲۶۱ س) پر مهال یې خورا وده وکړه.[3]
د سمرقندي السود الاعظم د کتاب د وینا له مخې: ابوعمرو او ضریر نیشابوري، ابن مبارک مروزي اهل حدیث عالم، ابوسلیمان جوزجاني (چې اهل حدیثو ته د افکارو په نږدېوالي مشهور و)، ابن خلف بن ایوب بلخي (۲۵۰ س مړ)، عصام بن یوسف

---

[1]. عبدالجلیل قزویني رازي، هماغه سرچینه، ۵۵۱-۵۵۲ مخونه؛ دائرة المعارف بزرگ اسلامي، هماغه، ۳۸۸ مخ.
[2]. دائرة المعارف بزرگ اسلامي، هماغه، ۳۸۹ مخ.
[3]. هماغه.

بلخي (۲۱۵ س مړ)، شداد بن حکیم بلخي (۲۳۰ س مړ)، احمد بن حرب نیشابوري (۲۳٤ س مړ)، ابوحفص کبیر بخاري (۲٦٤ س مړ) او محمد بن سلمه بلخي (۲۷۸ س مړ) په دویمه او درېیمه سپوږمیزه پېړۍ کې ددې ښوونځي بلونکي وو. [۱]

د هغه مهال د خراسانیانو په لیکنو کې د "اهل السنة و الجماعة" څرګندنه- اصطلاح عدل پالو حنفیانو ته نه کارېده. [۲] څه چې ددې ښوونځي په لیکونو کې د درېیمې سپوږمیزې پېړۍ تر نیمایي مخکې راغلي دادي، چې ډېری له مخالفو ښوونځیو، په تېره له شیعه، خوارجو او معتزله وو سره پر تضاد اډانه لري او دې مراد ته د رسېدو لپاره یې فقهي او ګروهیز لیدلوري سره واغږل. له دې روایتونو په یوه کې ابوعصمه نوح بن ابي مریم له امام ابوحنیفه د اهل سنت او جماعت په اړه پوښتلي او امام یې په ځواب کې دا ځانګړني ګڼلي دي: د شیخینو تفضیل، د ختنین مینه، پر خفین مسح، د ګناه په پار د چا نه تکفیرول، پر "القدر خیره و شره من الله" او د متکلمانو په دود د الله تعالی په اړه خبرې نه کول دي. [۳] په ورته نورو متونو کې هم له شافعیانو او شیعیانو سره د حنفیانو توپیرونو راغلي دي. [٤]

د اهل سنت او جماعت د ګروهیز ښوونځي تر ټولو پخوانی متن د "الوصیه " کتاب دی، چې امام ابوحنیفه ته ورمنسوب دی، چې پکې د څلورګونو خلفاوو د تفضیل خبره یې د خلافت په اوډون –ترتیب لیدل کېږي. [٥]

د امیر اسماعیل ساماني (۲۹۵-۲۷۹ س) د واکمنۍ په پېر کې د اهل سنت او جماعت عالمانو هغه دې ته اړ ایست، چې د ماوراء النهر په سیمه کې د بېلابېلو ښوونځیو له رامنځ ته کېدو مخنیوی وکړي او ددې موخې د پلي کېدو په پار امیرساماني له حکیم سمرقندي وغوښتل، چې په یوه کتاب کې د "اهل سنت او جماعت" ګروهې راټولې کړي او په دې اوډون د حکیم سمرقندي "السواد الاعظم" کتاب وکښل شو.

---

[۱]. حکیم سمرقندي، السود الاعظم، ۱٤٦-۱٤۷ مخونه؛ دائرة المعارف بزرګ اسلامي، هماغه.

[۲]. عثمان بن سعید دارمي، الرد علی بشر المریسي، ۱۰۸ مخ، د دائرة المعارف بزرګ اسلامي، هماغه.

[۳]. ابولیث سمرقندي، بستان العارفین، ۱۸۷ مخ؛ دائرة المعارف بزرګ اسلامي، هماغه.

[٤]. حکیم سمرقندي، مخکنۍ سرچینه، ۱٤۲-۱٥۲ مخونه؛ دائرة المعارف بزرګ اسلامي، هماغه.

[٥]. الوصیه، ۱۱ مخ؛ دائرة المعارف بزرګ اسلامي، هماغه.

په همدې پېر کې ابوجعفر طحاوي (۳۲۱ س مړ) بل حنفي عالم په مصر کې د "العقيده" کتاب وکښه، چې ډېرى السواد الاعظم ته ورته و او د اهل سنت او جماعت د گروهو توضيح پکې راغلې وه. د حکيم سمرقندي السواد الاعظم او د طحاوي "العقيده" کتابونه ډېرى گډ اړخونه لري او د پېغمبراکرم صلى الله عليه و آله وسلم ټولو اصحابو ته خوش ويني، د عشره مبشره د جنتي کېدو، په فاجر امام پسې نمونځ او په هر پېر کې له واکمنه لاروي او د تورې کېښوول په دواړو کې راغلي او دواړو کتابونو د خبرې په پيل کې خپلې گروهې امام ابوحنيفه ته ورمنسوب کړي او دا يې د اهلسنت او جماعت مذهب نومولى دى:

((هذا ذکر بيان اعتقاد اهل السنة و الجماعة على مذهب فقهاء الملة ابي حنيفة النعمان بن ثابت الکوفى و ابي يوسف.....))[1]

د "السواد الاعظم" له ليکنې سره سم په سمرقند کې په اهلسنت او جماعت کې کلامي لېوالتيا هم رامنځ ته شوه، چې په عراق کې د ابوالحسن اشعري له کلامي لېوالتيا سره د پرتلنې وړه وه. ددې لېوالتيا پيلگر ابومنصور ماتريدي (۳۳۳ س) و، چې د حنفيانو د ارجاء نظريه او سنتپال اندونه يې د يو کلامي غونډال په چوکاټ کې راټول کړل.

د حنفي اهلسنت او جماعت په رامنځ ته کېدو، داچې په خراسان کې د پخواني "فقه الاکبر" متن دود و؛ نو د گروهيز چوکاټ له اړخه يې له دې ښوونځي سره اړخ لگولاى نشو؛ نو سوکه سوکه يې نوى متن د فقه الاکبر په نامه ځايناستى شو، چې د ړومبى فقه الاکبر د شرح په موخه يې ډېر د دې په توجيه او مخونه لاس پورې کړى دى.[2]

د يادونې وړ ده، چې د ساماني واکمنى تر روستيو کلونو غير حنفي ليکوالانو امام ابوحنيفه د "مرجيانو" په ډله کې شمېره او د غزنويانو له پېره د حنفي ارجاء د نظريې په تتېدو، ډل پېژندونکيو امام ابوحنيفه مرجي و نه گاڼه او د اهلسنت او جماعت او سواد الاعظم په شمېر کې يې راوست.[3] ددې پېر په غير حنفي آثارو کې د حنفيانو او

---

[1]. ابوجعفر طحاوي، العقيده الطحاويه؛ ۱۷ مخ؛ حکيم سمرقندي، هماغه، ۲۲ مخ.

[2]. دائرة المعارف بزرگ اسلامي، هماغه ۳۹۰ مخ.

[3]. عبدالقادر بغدادي، الفرق بن الفرق، ۲۱ مخ؛ طاهر بن محمد اسفراييني، التبصير فى الدين، ١٦٤ مخ؛ محمد بن عبدالکريم شهرستاني، الملل و النحل ۱۲٦/۱-۱۲۷ مخونه.

اهلسنتو د نورو ډلو ترمنځ د واټنونو منځه وړو ته څرګندې هڅې لیدل کیږي.[1] دا هڅې د حنفیانو له هرکلي سره مخ شوې او په عمل کې د ګروهيز حنفي ښوونځي د کمزوریدو او د اشعري کلام لارویانو ته د ډېری حنفیانو د یو ځای کېدو لامل شو. د حنفي ښوونو او اشعري کلام د ورنږدېدو اوج د"فقه الاکبر" په دریېمه شرح کې لیدل کیږي، چې د حنفي ارجاء اغېز پکې نه لیدل کيږي او د ایمان په تعریف کې[2] "په ارکانو د عمل" قید یو ضد حنفي ګروهه ده، چې ان په ماتریدي کلام کې هم نه لیدل کیږي.[3]

نو پر دې بنسټ څه مو، چې نن د امام ابوحنیفه د کلامي اندو په نامه په لاسرس کې دي، د حنفي اهلسنت او جماعت روایتونه دي، چې د امام د ګروهو تر تلوین او رنګولو روسته د ماتریدیه، طحاویه او تر څه بریده د اشعري ښوونځي د ګروهې په بڼه د حنفي اهلسنت او جماعت په کتابونو کې راوړل شوي او امام ابوحنیفه ته ورمنسوب شوي دي. بېخي ډاډمنېدای نه شو، چې د امام ابوحنیفه کلامي نظریات هماغه دي، چې حنفي اهلسنت او جماعت یې را روایتوي. ښکاري چې د امام ابوحنیفه واقعي کلامي افکار او لېوالتیاوو یې د هغه په څېر تر اویاوو کالو ډېر عمر کړی نه دی او په واقع کې پر ۱۵۰ س د امام ابوحنیفه له وفات سره سم یې علمي وګړه او اندیزې لېوالتیاوې هم خاورو ته وسپارل شوې. څه چې د امام ابوحنیفه له اندو په تېره کلامي اندې یې حنفي اهلسنت او جماعت رانقل کړي، د ده د حدیث پالو لارویانو د هڅو پایله ده، چې له نورو اهلسنتو او حدیث پالو سره د اړې تړې- سازښت او نږدېدو په موخه راټولې شوې دي. داچې اهل حدیث امام ابوحنیفه ته بدویني دي او د وینا له مخې یې، امام ابوحنیفه په عقل او رای ډېر ډاډ لري، حدیث او منقولاتو ته بې اعتنا دی؛ نو حنفي اهلسنت او جماعت هڅه کړی، چې له اهل حدیثو سره د امام ابوحنیفه د اندو اړپېچونه- اختلافات او توپیرونه را لږ کړي او هغه یې د اکثریت اهلسنتو له مخالفو کړچارو، ګروهو او لېوالتیاوو سپین او تبرئه کړی او د اهلسنت او جماعت د عالمانو په ډله کې یې راوستی دی.

---

[1]. ؛ دائرة المعارف بزرگ اسلامي، هماغه، ۳۹۱ مخ.

[2]. ملا علي قاري هروي، شرح فقه الاکبر، ۲۶ مخ.

[3]. ؛ دائرة المعارف بزرگ اسلامي، هماغه.

د پورتنيو موخو په پار، حنفي اهلسنت او جماعت دې ته اړ شول، چې امام ابوحنيفه ته منسوب کتابونه له سره وګوري او د اندو هغه عناصر يې چې د اهلسنت او جماعت له ګروهو سره همغږي نه وو، ترې لرې کړل او د اهلسنت او جماعت د ګروهو پر ګټه يې پکې بدلون راوست او يا يې د دوی په توجيه، مخونې او تاويل لاس پورې کړ. د "الفقه الاکبر"، "العالم و المتعلم"، "الوصيه" او... چې په اصل کې نېغ په نېغه پخپله د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ليکنې نه وې، په نورو پېرونو کې يې د حنفي اهلسنت او جماعت لخوا پکې ډېری بدلونونه راوستل شول، داسې چې په دې رسالو کې کلامي نوموتي- مطرح مسايل کټ مټ د ماتريدي ښوونځي د کلامي چارو پر بنسټ دي او ان په دې کتابونو او رسالو کې په کار وړل شوې څرګندنې -اصطلاحات او تعبيرات (د کسب اصطلاح او نظريه د خبري صفاتو په باب د بلاکيف تعبير) هماغه څرګندنې دي، چې په درېيو ښوونځيو؛ ماتريدي، طحاوي او اشعري کې په کارېږي او تر امام ابوحنيفه رحمة الله عليه يوه پېړۍ روسته ابوالحسن اشعري، ابومنصور ماتريدي او ابوجعفر طحاوي رامنځ ته کړې. په دې ترڅ کې پخپله د "اهلسنت او جماعت" څرګندنه هغه څرګندنه ده، چې د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه پر مهال دود نه وه او تر پېر روسته يې هغو وګړيو را منځ ته کړه، چې د معتزليانو عقل پالي او شيعي اندې يې نه منلې، چې په دوی کې د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ځينې هغه لارويان هم وو، چې روسته يې د ماتريدي، طحاوي او اشعري اندو لاروۍ ته ور مخه کړه او له نورو ډلو يې د ځان پېژندنې په پار، ځان ته د "اهلسنت او جماعت" او يا د "السود الاعظم" نامه وټاکله.

نوځکه د"اهلسنت او جماعت" څرګندنه هغه تعبير دی، چې درې ښوونځي؛ اشعري، ماتريدي او طحاوي رانغاړي، چې له معتزله وو، شيعه وو، مرجئه وو، خوارجو او نورو يې توپير کړي.[1]

---

[1]. د "اهلسنت" د څرګندنې په باب دا توضيح اړينه ده، چې دا څرګندنه بېلابېلې کارونې لري او څه ته چې پورته اشاره وشوه، يو له دې کارونو ځنې وه. په ټول کې دا څرګندنه څو کارونې لري:

۱. اهلسنت= ټول ناشيعي مسلمانان. په دې کارونه کې، چې اهلسنت ته په عامې مانا تعبيرېږي. له مسلمانانو ځنې قسيم اهلسنت، ټول شيعي او ناسني مسلمانان او د لومړۍ ډلبندۍ لامل او کچه هم د خلافت او امامت پر سر اړپېچ دی. اهلسنت هغوی دي، چې د خدای او رسول له لوري د امامت لپاره د نص پر شتون ګروهن

نه دي او شيعه هغوی دي، چې د اهلبيتو د امامت په باب د نص پر شتون ګروهن دي. ددې اړپيچ په ترڅ کې د شيعه وو او سنيانو کړنلارې او ليدلوري په بېلابېلو کلامي او فقهي جزيي چارو کې توپير مومي.

۲. اهلسنت = ټول غير شيعي او غير خارجي مسلمانان. دا ډلبندي د حضرت عثمان (رض) د خلافت پر مهال له حضرت علي کرم الله وجهه سره د اړپيچ له امله رامنځ ته شوې ده. ددې ډلبندۍ او ځانګې اصلي لامل د "امامت او خلافت" او "د ايمان حقيقت" و، چې له نورو مسلمانانو څخه د خوارجو د بېلتون لامل شو. خوارجو د حضرت عثمان (رض) او حضرت علي کرم الله وجهه خلافت تر پوښتنې لاندې راووړ؛ خو اهلسنتو دا داوړه د درېيم او څلورم خليفه په نامو ومنل (که څه ځينو اهلسنتو تر ډېره د څلورم خليفه په نامه د حضرت علي کرم الله وجهه د حقانيت په باب په اړنګ-شک کې وو او امام احمد بن حنبل ددې اړنګ په لرې کولو کې اغېزمنه ونډه درلوده) بله ډله شيعيان ول، چې له هماغه پيله يې د حضرت علي کرم الله وجهه پر خلافت ټينګار درلود.

۳. اهلسنت = اهل حديث. په دې کارونه کې، چې کله پکې اهلسنت په ځانګړې مانا تعبيرېږي اهلسنت يا اهل حديث هغوی دي، چې په فقه کې د عقل يا رای له کارونې سره مخالف دي او اډانه يې حديث او منقولې سرچينې دي او د منقولاتو د ظاهرو په راخستنه ټينګار کوي. دا ډلبندي ډېری د فقهې په ډګر کې کارونه لري. د نقلي فقهې لارويانو او حديثوالو يا هغه ښوونځی، چې مرکزيت يې په حجاز کې دی او عمدتا د امام انس بن مالک په مشری، اهل حديث يا اهلسنت يادېږي. د دوی پر وړاندې د کوفې يا عراق د ښوونځي يا د "اهل رای" لارويان دي، چې د دوی ستره او ټولمنلې وګړه- شخصيت امام ابوحنيفه (ره) دی؛ البته اهل حديثو په فقه کې خپله کړنلار، کلام او ګروهو ته هم وردننه کړ او له بېخه يې د کلام له علم سره ډډه نه لګېده او بدعت يې ګاڼه او په اند يې څه چې په قرآن او سنتو کې راغلي، بايد بې له عقلي څېړنې تعبدا ومنل شي او هر ډول عقلي وېينه بدعت او کږلاري ده.

٤. اهلسنت = اشاعره، ماتريديه او طحاويه (اهلسنت او جماعت، السود الاعظم). په دې کارونه کې د اهلسنتو پر وړاندې غټه ډله شيعه او معتزله دي (که مرجئه، خوارج او... هم د اهلسنت او جماعت له ولکې بهر شمېرل کېږي) دلته د ډلبندۍ کچه يا لامل په بېلابېلو کلامي چارو کې پر کړنلار اړپيچ دی. ددې ډلبندۍ مخينه له څلورمې هجري پېړۍ مخکې نه ځي او د درېيو کلامي ښوونځيو؛ اشعري، ماتريدي او طحاوي بنسټګرانو او لارويانو يوازې ځان ته د "اهلسنت او جماعت" يا "السود الاعظم" نامې غوره کړې.

۵. اهلسنت = ټول ناشيعي او ناوهابي مسلمانان: په دې روستيو کې د سلفيت تر راپيدا کېدو روسته له سلفيانو د اهلسنتو د توپير په پار، د اهلسنتو څرګندنه يوازې ناوهابي سني مسلمانانو ته کارول کېږي؛ که څه سلفيان په دې ډلبندۍ خوښ نه دي او ځان تر نورو ډېر د "اهلسنت" نوم ته وړ ګڼي؛ خو سني او شيعه پوهان او ليکوالان د درې بهيرونو؛ اهلسنت، شيعه او سلفيت د ګروهو او ليدلوري په باب د وينې په ترڅ کې دا ډلبندي اړينه ګڼي او ورته يې پام وي؛ ځکه که سلفيانو ته اهلسنت وويل شي؛ نو ټول اهلسنت مذاهب به له سلفيت سره ګډ شي؛ خو بايد د اهلسنت او سلفيت د ليدلوري ترمنځ پر توپير قايل شو.

حال دا حنفي "اهلسنت او جماعت" دا تعبیر د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه پېر ته ورغځولی او هغه یې د اهلسنت او جماعت له علماوو څنې یو عالم وګڼه. د بېلګې په توګه: د الوصیه په کتاب (امام ابوحنیفه ته منسوب) کې راغلي دي:
((لما مرض ابوحنیفه رضی الله عنه مرض الموت، اجتمع اصحابه عنده و استوصوا منه وصیة علی طریق اهل السنة و الجماعة، فامر خادمه حتی اجلسه و جلس خلف ظهره حتی اسنده الیه ثم قال: اعلموا اصحابی و اخوانی و فقکم الله تعالی ان مذهب اهل السنة و الجماعة علی اثنتی عشرة خصلة... =هغه مهال چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه مرګوني حال رنځور شو، زدکړیالان یې ورغلل او د اهلسنت او جماعت د کړنلارې پر بنسټ یې ترې وصیت وغوښت. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه [چې ویده و] خادم ته یې امر وکړ، کېمېنوه، چې ډډه درباندې ولګوم. بیا یې وویل: ملګرو او رونو! پوه شئ (الله تعالی مو مل شه) د اهلسنت او جماعت ښوونځی دولس ځانګړنې لري...))[1]
د ویل شویو مطالبو په پامنیوي، طبیعي ښکاري، چې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه کلامې اندې د حنفي اهلسنت او جماعت له ګروهو سره همغږي اوډون او برابرې شوې، چې د اهلبیتو له ښوونځي سره لږه همغږي لري؛ خو د کلامي او عدلپالو حنفیانو روایات او د نورو خپرو ورو روایاتو له سرچینو، چې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه نظریات راسپړل کیږي د اهلبیتو له ښوونځي سره همغږي لري.
په هر حال، د شته روایتونو پر بنسټ د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه کلامي اندو ته یوه لنډه کتنه لرو.

## ۲. الله تعالی پېژندنه

### ۲-۱. د الله تعالی ذاتي صفات

امام ابوحنیفه په فقه الاکبر کې له مخلوقاتو سره د الله تعالی د ورته کولو تر نفې روسته، د الله تعالی ذاتي او فعلي صفات راوړي د "فقه الاکبر" پر بنسټ، چې د حنفي

[1]. الامام ابوحنیفه (ره)، الوصیة، ٤ مخ.

اهلسنت او جماعت لخوا اوډون او برابره شوې ده، امام د الله تعالی د ذاتي صفاتو د قديم ګڼلو په ترڅ کې، د ماتريدي او اشعري په څېر وايي: الله تعالی په پوهه پوه، په ځواک ځواکمن او په کلام متکلم دی او که څوک مدعي شي، چې د الله تعالی صفات مخلوق يا حادث دي او يا د الله تعالی د صفاتو په قديموالي کې تم شي او يا اړنګ وکړي؛ نو پر الله تعالی کافر دی. [1]

څرګنده نه ده، چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ته ددې تعبيراتو ورمنسوبول به له څومره سموالي برخمن وي؛ ځکه د الله تعالی د ذاتي صفاتو قديموالي او همداراز د الله تعالی د ذاتي صفاتو په باب؛ "په پوهه پوه"، "په ځواک ځوکمن" او په "کلام متکلم" تعبيرونه د ماتريدي او اشعري ښوونځي له ګروهو او تعبيراتو ځنې دي.

## ۲. ۲ د الله تعالی خبري صفات

د "فقه الاکبر" د کتاب له مخې، د الله تعالی د ذاتي صفاتو په باب هم د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ګروهه هماغه د ماتريديه او اشاعره ګروهه ده. په فقه الاکبر کې راغلي دي:

((الله تعالی لاس، څېره او نفس لري او دا بلاکيف صفتونه دي. نه شو ويلای، چې د الله تعالی لاس هماغه د ځواک او نعمت لاس يې دی؛ ځکه په دې ترڅ کې به دا صفات باطل شي او دا د قدريه وو او معتزله و وينا ده. د الله تعالی لاس يې صفت دی؛ خو بې له څرنګوالي او کيفيته؛ غوسه او خوښي هم د الله تعالی له صفاتو ځنې يو صفت دی؛ خو بې له څرنګوالي.)) [2]

د "الوصيه" په رساله کې هم د الله تعالی خبري صفات په ظاهري مانا راوړل شوي؛ لکه:

((تقر بان الله استوی علی العرش من غير ان يکون له الحاجة =منښته کوم، چې الله تعالی بې له دې، چې اړمن وي، پر عرش استوا کوي.)) [3]

---

[1]. ملا علي قادري هروي، شرح فقه الاکبر، ۱۹-٦٤ مخونه.

[2]. هماغه: ۱۲۱-۱۲۳ مخونه.

[3]. الامام الوحنيفه؛ الوصية، ۳۸ مخ.

ښايي دلته هم د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه خبرې اړول شوې وي (سره له دې چې امام په خپل عقلپال دود مشهور و؛ خو دلته يې) د اهل حديثو په څېر خبري صفات پر هماغه مفهوم اخستې، چې د لفظ له ظاهره پوهېدل کېږي او پخپله د "بلاکيف" تعبير، د ماتريديه[1] او اشاعره وو ځانګړی تعبير دی او د همدې ګروهې په پار "بلاکفه" هم ورته ويل شوي دي.

## ۳-۲ په سترګو د الله تعالی ليدل کېدل

په سترګو د الله تعالی ليدل کېدل هم د ماتريديه وو او اشاعره وو ګروهه ده، ددې دواړو ښوونځيو د تعابيرو سبک، په فقه الاکبر او الوصيه کې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ته ورمنسوب شوي دي. په فقه الاکبر (د ملا علي قادري هروي په شرح کې) راغلي دي:

((الله تعالی په آخرت کې ليدل کېږي او مؤمنين به په جنت کې الله تعالی د سر په سترګو ويني او دا ليدنه بې له ورته والي، بې له څرنګوالي او بې له څومره والي ده او د الله تعالی او مخلوقاتو ترمنځ يې واټن نشته.))[2]

او د "الوصيه" په رساله کې په سترګو د الله تعالی د ليدل کېدو د ازباد لپاره د ماتريديه وو او اشاعره وو په پام کې آيت راوړل شوی دی:

((له الله تعالی سره د جنتيانو کتنه حق ده او جنتيان الله تعالی ويني؛ ځکه الله تعالی ويلي دي: "وجوه يومئذ ناضرة الی ربها ناظرة" او دا بې له څرنګوالي او ورته والي يوه کتنه ده.))[3]

---

[1]. البته امام مالک بن انس هم پر عرش د خدای د استوا په باب ويل: " الاستواء معلوم، والکيفية مجهولة، والايمان به واجب، والسؤال عنه بدعة= پر عرش د خدای استوا معلومه ده؛ خو څرنګوالی يې مجهول دی؛ ايمان پرې واجب دی؛ خو په باب يې پوښتل بدعت دی. " وګ: شهرستاني، الملل و النحل، لومړی ټوک، ۲۰۷ مخ.

[2]. هماغه سرچينه: ۲۴۴-۲۴٦ مخونه.

[3]. الوصية: ۵۸-۵۹ مخونه.

تر ډېره بریده شوني ده، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ته په سترګو د الله تعالی د لیدل کېدو د ګروهې ورمنسوبول بې بنسټه او په واقع کې د ماتریدیه له ګروهې او ښوونځي وي، چې پر امام ابوحنیفه ورتپل شوې ده.

### ۳. د ایمان څرګندونه

د الوصیه د کتاب له مخې، امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د ایمان په تعریف کې وایي:

[۱]((ایمان؛ په ژبه منښته، په زړه تصدیق او معرفت دی.))

د ابن بزازي په مناقبو کې راغلي دي: ((امام ابوحنیفه ګروهن و، چې ایمان د زړه عقد او غوټه او د شهادتینو ویل دي او کړنې نه رانغاړي.))[۲]

د ایمان په باب مشهور دي، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه پردې سربېره، چې کړنې یې د ایمان رکن نه ګاڼه، ګروهن و، چې ایمان ډېرښت او کمښت نه مني او په الوصیه کې یې په اړه داسې استدلال شوی دی:

((د ایمان نقصان یوازې؛ د کفر په زیاتوالي انګیرل کېږي او د زیاتوالي یې یوازې د کفر په راکمېدو انګیرل کېږي؛ څنګه شوني ده، چې یو وګړی په یو وخت کې هم مؤمن وي او هم کافر؟ مؤمن حقیقتاً مؤمن او کافر حقیقتاً کافر دی او په ایمان کې څه اړنګ نشته؛ لکه څنګه چې په کفر کې څه شک پټ نه دی.))[۳]

نوځکه د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له لیدلوري، داچې ایمان هغه ګروهه ده، چې زړه پرې ډکېږي؛ ډېرښت او او کمښت پکې مانا نه لري؛ ځکه ډېرښت او کمښت تر یقین اوچت دی او که ایمان لږ شي؛ نو کوم یقین به نه وي.))[٤]

---

[۱] هماغه، ۲۷ مخ.

[۲]. ابن بزازي، د امام ابي حنیفه مناقب، دویم ټوک، ۱٤۱ مخ.

[۳]. الامام ابوحنیفه، الوصیه، ۲۹-۳۱ مخونه.

[٤]. محمد ابوزهره، الامام ابوحنیفه، ۱۷٤ مخ.

## ٤. د ارجاء څرګندونه

ډېری اهل حدیثو، اشاعره وو، معتزله وو او شیعه وو امام ابوحنیفه مرجئه شمېرلی دی او دا تور دومره په خولو شوی، چې د څرګندو او مسلماتو په لیکه کې یې ځای موندلی دی[١]؛ خو سره له دې، امام ابوحنیفه په "العالم والمتعلم" او همداراز "عثمان بتی ته په رساله" کې د عمل پر ارزښت د ټینګار په ترڅ کې په ډاګه ویلي، په ګروهه یې لزوما ټول مؤمنان به جنت ته نه ځي او بې توبې ګناهکاران به، د الله تعالی په خوښه یا وبښل شي او یا به وکړول شي.[٢]

شهرستاني له امام ابوحنیفه نه په دفاع کې د مرجئي تور ترې لرې کړی او ګروهن دی، چې امام ابوحنیفه ته د ارجاء ورمنسوبول دروغ دي. قسم خوري، چې امام ابوحنیفه او اصحابو ته یې "مرجئة السنة" ویل کېږي. د شهرستاني په ګروهه: داچې د نورو ډلو مشرانو امام مرجي ګاڼه، علت یې دادی، چې هغه ایمان د زړه تصدیق ګاڼه او د ایمان زیاتوالی او نقصان یې نه مانه. ګومان یې کاوه، چې امام عمل تر ایمان روستی ګاڼه.[٣]

شهرستاني احتمال ورکوي، کېدای شي امام ابوحنیفه ته د ارجاء ورمنسوبولو بل علت داوي، چې معتزله وو مرجي ورته وایه، چې د"قدر" په مسله کې ورسره مخالف و او خوارجو هم داسې کول [نوځکه] لرې نه ده، چې دا لقب خوارجو او معتزله وو ورکړی وي.[٤]

ښکاري، چې امام ابوحنیفه ته د ارجاء د یو ډول څرګندونې ورمنسوبول بې بنسټه نه وي؛ خو د ارجاء نظریه په قیامت کې د ګناه چارې الله تعالی ته ورسپارل دي، چې په خپله خوښه ورمندون-قضاوت او حکم وکړي او دا د "جهمیه له ارجاء" او موافقانو

---

١. سعد بن عبدالله اشعري، المقالات و الفرق، ٦ مخ؛ ابوالحسن اشعري، مقالات الاسلامیین، ١٣٨ مخ؛ رجال کشي، ١٩٠ مخ؛ خطیب بغدادي، د بغداد تاریخ، ١٣ ټوک، ٣٨٢ مخ؛ جمال الدین ابي الحجاج یوسف المزي، تهذیب الکمال، ٧ ټوک، ٢٧٢ مخ؛ شمس الدین محمد بن احمد ذهبي، سیر اعلام النبلاء، ٥ ټوک، ٢٣٣ مخ.

٢. اخستل شوی دی له: دائرة المعارف بزرګ اسلامي، د "ابوحنیفه" مدخل، ٥ ټوک، ٣٨٣ مخ.

٣. شهرستاني، الملل و النحل، لومړی ټوک، ١٢٦ مخ.

٤. هماغه، ١٢٧ مخ.

سره توپیر لري، چې ویل یې: گناه ایمان ته بیخي ضرر نه رسوي [او په واقع کې اباحیتوب (د هرې گناه کول جایز گڼل) دودوي.]
"عثمان بتي" ته په رساله کې د امام ابوحنیفه د ارجاء مانا روښانه راغلې ده. عثمان بتي، امام ابوحنیفه ته ولیکل: ((انتم مرجئة.)) امام یې په ځواب کې ولیکل:
((مرجئه دوه ډوله ده: ملعونه مرجئه (اباحیتوب)، چې ترې کرکجن یم او مرحومه مرجئه، چې له همدوی یم او انبیاء داسې وو. [حضرت] عیسی الله تعالی ته وویل: ان تعذبهم فانهم عبادک و ان تغفر لهم فانک انت العزیز الحکیم.))[1]، [2]

## ۵. د کړنو څرگندونه

د قضا او قدر په باب د حنفي اهلسنت او جماعت د روایتونو له مخې، په کړنو کې د امام ابوحنیفه لیدلوری هماغه د ماتریدیه لیدلوری دی. په فقه الاکبر کې راغلي دي:
((په حقیقت کې د بندگانو ټولې کړنې یې خپلې دی او الله تعالی ددې کړنو پنځوونکی دی، د انسانانو ټولې کړنې په الهي مشیت، پوهه، قضا او قدر رامنځ ته کیږي. فرضي طاعت د الله تعالی په حکم، مینه، رضا، پوهه، مشیت، قضا او قدر ترسره کیږي او گناهگانې د الله تعالی په پوهه، قضا و قدر او الهي مشیت تر سره کیږي؛ نه په الهي مینه، رضا او حکم.))[3]
ملا علي قاري هروي د فقه الاکبر په شرح کې زیاتوي، چې امام ابوحنیفه د عمرو بن عبید پر وړاندې د الله تعالی له لوري د بندگانو د کړنو د پنځونې د جوتولو لپاره د " والله خلقکم و ما تعملون"[4] پر آیت استدلال وکړ.[5] همداراز له الوصیه په نقل وایي، چې امام ویلي دي: ((منښته کوو، چې بنده له خپلو ټولو کړنو، اقرار او معرفت سره

---

[1]. مائده/۱۱۸.
[2]. وهبي سلیمان غاوجي، ابوحنیفه النعمان امام الائمة الفقهاء، ۲۱٦ مخ؛ العالم و التعلم، ۹۷ مخ، دائرة المعارف بزرگ اسلامي، هماغه، ۳۸۳ مخ.
[3]. ملا علي قاري هروي، شرح الفقه الاکبر، ۱۵۳-۱٦۲ مخونه.
[4]. صافات/۹٦
[5]. هماغه/۱۵٤ مخ.

مخلوق دی؛ نو داچې فاعل (انسان) مخلوق دی؛ نوافعال یې باید په طریقه اولی مخلوق وي.))[1]

پردې سربېره، د الوصیه له مخې، امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د اشاعره وو او ماتریدیه وو په څېر استطاعت یې له فعل سره همزمان ګڼلی دی:

((منښته کوو، چې استطاعت له فعل سره یو ځای [او همزمان] دی؛ نه تر فعل مخکې او نه تر فعل روسته؛ ځکه که استطاعت تر فعل مخکې وي [انسان به یې] د ترسره کولو پر مهال له خدایه بې نیازه او مړه خوا وي او دا د الله تعالی د څرګندې وینا پرخلاف دی، چې وایي: " والله الغنی و انتم الفقراء". [2] او که استطاعت تر فعل روسته وي؛ نو محال رامخې ته کېږي؛ ځکه په دې بڼه به فعل بې له استطاعته رامنځ ته شوی وي.))[3]

حال دا د خطیب بغدادي، ابن بزازي او موفق د وینا له مخې، امام ابوحنیفه په دې باب د قدریانو او جبریانو د شخړې ترمنځ یوه منځلارې کړنلار نیولې وه، چې ویل یې: ((لا جبر و لا تفویض و لا تسلیط))[4] د خطیب بغدادي او موفق مکي د روایت له مخې، امام پر الله تعالی د "ظلم، معاصي او فساد ورتړل" سم نه ګڼل. [5]

د حیدر آباد په دکن کې په چاپ شوې الفقه الاکبر کې راغلي دي:

((امام ابوحنیفه د هغه سړي په ځواب کې، چې د قضا او قدر په اړه یې پوښتلی و، لومړی ټاکلی ځواب ور نه کړ او و یې ویل: څوک چې د قضا او قدر په مسله کې څرګندونه کوي، د هغه چا په څېر دی، چې د لمر وړانګو ته ګوري [؛ یعنې] څومره، چې ډېر ورګوري؛ نو حیرت یې لاپسې ډېرېږي. د پوښتونکي ټینګار لامل شو، چې امام په دې اړه نظر څرګند کړي؛ نو و یې ویل: په دې باب باید منځلارې لار وټاکل شي، چې " ولاجبر و لاتفویض". الله تعالی خپل بندګان پر هغه څه مکلف کړي نه

---

[1]. هماغه/۱۵۵ مخ.

[2]. محمد/۳۸.

[3]. الوصیه /٤٨-٤٩ مخونه.

[4]. موفق مکي، مناقب ابي حنیفه ١٠٤/٢ او خطیب بغدادي، د بغداد تاریخ ۱۳/ ۳۷۷ او ابن بزازي، مناقب ابي حنیفه ۸۵/۱.

[5]. موفق مکي/هماغه. خطیب بغدادي /هماغه.

دي، چې د ترسره کولو وس يې نه لري او څه چې کولای نشي، غوښتي يې ترې نه دي او د هغو کړنو له لامله يې نه کړوي، چې يې کړي نه وي او نه يې خوښېږي، چې بندگان يې د هغه څه په اړه غور وکړي، چې په اړه يې پوهه نه لري.))[1]

د ابن بزازي د نقل له مخې، امام ابوحنيفه له يوسف بن خالد السمتي سره د مناظرې پر مهال د جبريه او تفويضيه د ليدلوري په ردولو د قضا او قدر په باب وويل:

((هذه مسالة مقلة قد ضل مفتاحها... والذی نقول قولا متوسطا بين القولين: لا جبر و لا تفويض و لا تسليط، الله تعالی لا يکلف العباد بما لا يطيقون و لا اراد منهم ما لا يعلمون و الارضی لهم بالخوض فيما ليس لهم به علم، والله اعلم بما نحن فيه؛ د قضا او قدر مساله يوه پېچلې مساله ده، چې د حل کونجي يې له وفات شوي [پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم] سره ده. څه چې وايم، د جبر او تفويض ترمنځ منځلارې لار ده، چې نه جبر دی، نه تفويض او نه تسليط. الله تعالی خپل بندگان پر هغه څه نه مکلفوي، چې د کولو وس يې نه لري او خوښ نه دی، چې بندگان يې د هغه څه په اړه غور وکړي، چې په اړه يې پوهه نه لري او الله تعالی زموږ له وضع ښه خبر دی.))[2]

ښکاري، چې د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه منځلاري غوره کول او له لوري يې د جبر او تفويض ردول سموالي ته ډېر ورنږدې وي ان که د قضا او قدر په وينه کې د ابومنصور ماتريدي او ماتريديه روايت، د امام ابوحنيفه د ليدلوري په اړه سم وگڼو؛ نو بيا هم ويلای شو، چې د امام ابوحنيفه ليدلوری او همداراز د ماتريدي او ماتريديه ليدلوري په دې باب د شيعه او د اهلبيتو د ښوونځي له څرگندونې " لا جبر و لا تفويض بل امر بين الامرين" له نظريې سره څرگند نږدېوالی او همغږي لري او يا لږ تر لږه د اماميه وو نظريه ته تر ټولو ور نږدې څرگندونه ده؛ ځکه د ماتريدي د کسب (کړنو) څرگندونه د اشعري د کسب له څرگندونې سره توپير لري او په ماتريديه ښوونځي کې د فعل په رامنځ ته کېدو کې د انسان ځواک اغېزمن گڼل شوی دی.[3]

---

[1]. الامام ابوحنيفه، الفقه الاکبر ۹/ مخ له محمد ابوزهره، الامام ابوحنيفه /۱٦۸ نه په نقل سره او احمد محمود صبحي، فی علم الکلام ۲/۲۲-۲۳ مخونه.

[2]. ابن بزازي، مخکنی سرچينه.

[3]. ابومنصور ماتريدي انسان د خپلو کړنو حقيقي فاعل گڼي (وگ: ابومنصور ماتريدي، التوحيد، ۲۲۵-۲۵٦ مخونه( ددې خبره لازمه د فعل په رامنځ ته کېدو کې د انسان د ځواک اغېزمني ده گڼې د فعل ور منسوبول

بیاضي (په یوولسمه پېړۍ کې ماتریدي عالم)په اشارات المرام کې د "امر بین الامرین" د نظریې تر منلو روسته او د امام باقر وینا ته په اشاره ویلي دي: ((لا جبر و لا تفویض بل امر بین الامرین)) زیاتوي: په دې باب د امام ابوحنیفه وینا، چې ویلي یې دي: "د بندګانو کړنې په حقیقت کې د دوی کسب دی او الله تعالی ددې کړنو خالق دی"، د همدې امر بین الامرین پر نظریې څارن دی.[1]

امام بزودي هم په "اصول الدین" کتاب کې د ماتریدیه وو د نظریې په ویلو سره، په دې باب څرګنده کړې، چې د انسان په کړنو کې یې خپل ځواک اغېزمن دی، که څه ځواک یې د الله تعالی مخلوق دی. هغه په دې باب د ماتریدیه لیدلوری د جبریه، جهمیه، معتزله او اشاعره د نظریاتو مخالف بولي.[2]

## ٦. د قرآن پنځېدنه او الهي کلام

اهل حدیثو، د قرآن د پنځېدنې وینا امام ابوحنیفه ته ورمنسوب کړې ده.[3] همداراز د کلامي او عدلپالو حنفیانو په ویناوو کې امام ابوحنیفه د قرآن په پنځېدنه قایل ښوول شوی دی. اسماعیل بن حماد بن ابي حنیفه ویلي، چې ابوحنیفه د قرآن پر پنځېدنه ګروهن و، او ټینګار کوي، چې قرآن مخلوق دی او همدا زما او زما د پلرونو رایه ده.[4] خو بشر بن ولید د امام ابوحنیفه لمسي دا خبره ردوي، وايي چې دا ستا رایه ده؛ نه دې د پلرونو. وايي: څه چې له امام ابوحنیفه رارسېدلي، تر دې ډېر نه دي، چې ویل یې: قرآن الهي کلام دی، چې په مصاحفو کې مکتوب او پر ژبو مقروء او پر پېغمبر اکرم

---

په ورته مجازي وي؛ نه حقیقي؛ البته روښانه ده، چې ددې لیدلوري له مخې د انسان ځواک او اراده د الهي ځواک او ارادې په اوږدو کې وي.

[1]. کمال الدین احمد البیاضي، اشارات المرام، ۲۵۷-۲۵٦ مخونه. جعفر سبحاني، بحوث فی الملل و النحل ٤٨/٣.

[2]. ابوالمیسر علي بن محمد بزودي، اصول الدین، ٤٠، ١٠٤_١٠٥ مخونه.

[3]. وګ: ابوالحسن اشعري، الابانة عن اصول ادیانة، ۳۸ مخ؛ خطیب بغدادي، د بغداد تاریخ، ۳۷۸/۱۳-۳۸۱ مخونه؛ دائرة المعارف بزرګ اسلامي، د امام ابوحنیفه مدخل ١٦٨/٥.

[4]. الامام ابوحنیفه، الفقه الاکبر ۹مخ د محمد ابوزهره، الامام ابوحنیفه ١٦٨ مخ په نقل.

صلی الله علیه و آله وسلم نازل شوی دی. دا چې قرآن لولو او لیکو دا مخلوق دی؛ خو په خپله قرآن غیر مخلوق دی.[1]

هغه روایتونه، چې اهلسنت او جماعت حنفیانو رانقل کړي، امام ابوحنیفه د قرآن پنځېدنه مردوده ګڼلې او پردې څرګندونه ګروهن یې کافر شمېرلی دی.[2]

همداراز د قرآن پر پنځ د قایلو په اړه د تکفیر رساله هم امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ته ورمنسوب شوې ده.[3] په الوصیه کې هم د قرآن او الهي کلام د صفاتو په باب د امام ابوحنیفه ګروهه د ماتریدیه او اشاعره ګروهه ښوول شوې او د څرګندولو لپاره یې له هغو تعابیرو کار اخستل شوی، چې په دې دوو ښوونځیو کې ترې ګټنه شوې ده:

((منښته کوو، چې قرآن د متعال الله تعالی کلام او نامخلوق دی. [قرآن] وحې، تنزیل او د الله تعالی صفت دی؛ نه یې عین ذات دی او نه یې غیر ذات (لا هو و لا غیره)؛ بلکې په حقیقت کې د الله تعالی صفت دی. [قرآن] په مصاحفو کې لیکل شوی، په ژبو ویل شوی، په سینو کې خوندي او په دوی کې غیر حال دی.

کاغذ، مشوانۍ او لیکنې ټول مخلوقات دي؛ ځکه دا ټول د بندګانو کړنې دي او د بندګانو کړنې هم مخلوق دي؛ حال دا الهي کلام نامخلوق دی؛ او دا چې کتابت، ټکیو، کلماتو او آیتونو ته بندګان اړین دي؛ نو ټول د قرآن دلالتونه دي؛ نوځکه که څوک ووایي د متعال الله تعالی کلام مخلوق دی؛ نو پر الله تعالی کافر دی.))[4]

ښکاري، چې د قرآن پنځېدنې او الهي کلام پر قدمت او لرغونتوب ګروهه هم امام ابوحنیفه ته یو بېځایه ور انتساب وي او د کسب (کړنو) د څرګندونې په څېر یو له هغو ګروهو ځنې وي، چې روسته د اهلسنت او جماعت حنفیانو امام ابوحنیفه ته ورمنسوب کړې وي چې په سموالي کې یې ټینګه شکمني ده.

---

[1]. هماغه سرچینه.

[2]. حکیم سمرقندي، السود الاعظم، ٤٧ مخ؛ ابوبکر بیهقي، الاسماء والصفات، ٣٢٢ مخ؛ خطیب بغدادي، د بغداد تاریخ١٣/٣٧٧-٣٧٨.

[3]. دائرة المعارف بزرګ اسلامي، د امام ابوحنیفه مدخل ٣٨٤/٥.

[4]. الوصیة، ٤١-٤٢ مخونه.

### ۷. د ديني پوهېدنې اړينه کچه

يو له هغو وينو ځنې، چې د امام ابوحنيفه په پېر کې اوڅار- مطرح و، دا وه هغه لږ تر لږه د ديني پوهېدنې کچه څه ده، چې د دين تصديق وشمېرل شي او خاوند ته يې "مؤمن" وويل شي؟ دا وينه د " مايسع جهله" (څه چې ناپوهي پرې معاف شوې او ايمان ته ضرر نه رسوي) په نامه اوڅار شوه. د بېلابېلو نقلونو له مخې، امام ابوحنيفه ايمان پر "ما جاء به الرسول" منښته ګڼله او فی الجمله او بې له تفسيره نته يې د وګړي "مؤمنتوب" ته بسيا ګڼه؛ البته دا چې شکمني اصل ګروهې ته ورستونه شي، په ګروهه يې داسې شکمني د کفر لاملېږي.

د امام له ځينو ټوليزو ګروهو، چې راتېر شو، ځينې ستونزمن ګروهيز مسايل يې ان ديني عالمانو ته هم په "ما يسع جهله" کې ګڼل او د هغوی په باب يې پر چوپتيا او تمېدنه ټينګار کاوه.[1]

### ۸. په ظالم مشر پسې راپاڅېدل

دبې شمېره رواياتو او بېلابېلو سرچينو پر بنسټ، امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په جائر يا ظالم مشر پسې راپاڅېدل نه يوازې جايز؛ بلکې واجب ګڼل. جصاص په احکام القرآن کې وايي:

((د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه مذهب دظالمانو او ظالمو مشرانو پر ضد د جهاد په تجويز کې مشهور و؛ نوځکه اوزاعي ويلي: "موږ په ټولو چارو کې امام ابوحنيفه وزغامه، تر دې چې په توره د جهاد او د ظالمانو د وژنې فتوا يې ورکړه او تر دې روسته مو و نه شو زغملی".

له زيد بن علي سره د امام ابوحنيفه د مرستې کيسه او داچې په پټه يې خلکو ته فتوا ورکړه، چې د زيد له بري ملاتړ وکړي او همداراز د عبدالله بن حسن له زامنو محمد او ابراهيم يې ملاتړ مشهور دی.))[2]

---

[1]. امام ابوحنيفه، العالم و المتعلم، ۹۳-۹٤ مخونه، له دائرة المعارف برزګ اسلامي نه په نقل سره.

[2]. احمد بن جصاص، احکام القرآن ۷۰/۱.

عبدالله بن احمد په "السنه" کې له ابویوسف نه په سم سند رانقل کړي: "کان ابوحنیفه یری السیف = ابوحنیفه [د جائر مشر پرخلاف] پر وسلوال جهاد گروهن و". [1] همداراز په صحیح سند یې له ابراهیم بن شماس نه رانقل کړي، چې ویلي یې دي: "له ابن مبارک سره وو، چې یو وګړي ورته وویل ابوحنیفه مرجي و او [د جائر مشر پرخلاف یې]په توره د پاځون سپارښتنه کوله. ابن مبارک یې دا وینا رد نه کړه. "[2]

ځرګنده ده، چې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه دا ګروهه په ډاګه د عمومو اهلسنتو له ګروهو سره مخالفه ده، چې له جائر مشره په هرو شرائطو کې لاروي واجب ګڼي؛ نوځکه په دې باب هم د اهلسنت او جماعت حنفیانو کوښښ کړی، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له نوور اهلسنتو سره یوه خوله وښیي. ابوجعفر طحاوي د امام ابوحنیفه او د ده د دوو شاګردانو د مذهب پر بنسټ د اهلسنت او جماعت د ګروهو په توضیح کې وایي:

((مونږ پخپلو مشرانو او ولي امر پسې راپاڅېدل جایز نه ګڼو، که څه ظالمان وي او څوک ورپسې راپاڅېدو ته نه هڅوو او له لاروی یې لاس نه اخلو او له دوی لاروي؛ لکه د الله تعالی د لاروی په څېر فرض ګڼو.))[3]

ځینو بې سنده او یوازې داچې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له اهلسنت او جماعت سره همغږی وښیي او داچې په جائر امام پسې راپاڅېدل ناشوني وښیي؛ نو ویلي یې دي، چې لومړی امام ابوحنیفه په جائر مشر پسې راپاڅېدل جایز ګڼل؛ خو روسته یې نظر واوړېد او په جائر مشر پسې راپاڅېدل یې جایز نه ګڼل. [4]

امام محمد زاهد کوثري (د عثماني خلافت روستی شیخ الاسلام او ماتریدي حنفي) په جائر مشر پسې د راپاڅېدو په باب د امام ابوحنیفه ګروهه منلې ګڼي، وایي: سره له دې

---

[1]. عبدالله بن احمد، السنة ۱۸۲/۱ له محمد بن عبدالرحمن الخمیس، اصول الدین عند الامام ابي حنیفه، ٥٦٨ مخ نه په نقل سره.

[2]. عبد الله بن احمد، هماغه، له هماغه نه په نقل سره، ٥٦٨-٥٦٩ مخونه.

[3]. ابوجعفر طحاوي، العقیده الطحاویة (سمونه: نجم الدین محمد الدرکاني)، ٥٧ مخ.

[4]. محمد بن عبدالرحمن الخمیس، اصول الدین عند الامام ابوحنیفه، ٥٦٩ مخ

چې په دې باب خورا روایتونه شته، منکرېدای نشو، چې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه مذهب له ظالمانو او ظالمو مشرانو سره په جهاد کې مشهور دی.[1]

## ۹. شفاعت

امام ابوحنیفه د قیامت پر ورځ د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم شفاعت یو حقیقت ګڼي. دا ګروهه د اهلسنت او جماعت په سرچینو کې هم رانقل شوې ده. د الوصیه په کتاب کې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له خولې راغلي:
((و شفاعة نبینا محمد حق کائن لکل من هو اهل الجنة، و ان کان صاحب کبیرة: د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم شفاعت یو حقیقت او د هر جنتي لپاره ثابت دی، که څه کبیره ګناه یې هم کړې وي.))[2]

## * ټولونه

څه چې د امام ابوحنیفه د کلامي لیدلوري په باب وویل شول، معلومېږي که د قضاوت کچه مو، د اهلسنت او جماعت حنفیانو روایتونه، توجیهات، مخونې او تفسیرونه وي؛ نو څرګنده ده، چې په ځینو ځایونو کې یې لیدلوري له اهلبیتو سره توپیر مومي؛ خو که ومنو، څه چې دوی امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ته ورمنسوب کړي، ټول عین د امام نظریات نه؛ بلکې د مصلحت له مخې له اهلسنت او جماعت سره د امام د همغږي ښوولو د هڅو پایله ده؛ نو دې پایلې ته به ورسو، چې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه نظریات له اهل حدیث او نرور افراطي او تفریطي ډلو سره خورا توپیر لري
د کلامي او عدلپالو حنفیانو د روایتونو له مخې که څه محدود هم دي او هم له غیر حنفیانو (له کلامي، تاریخي، مناقب او نور سرچینو) په رانقل شویو روایتونو کې، ان د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له کلامي اندو د اهلسنت او جماعت او ماتریدي ځینو روایتونو او قرآئتونو په منلو ویلای شو، چې د کلام په باب یې یوه منځلارې لار وهلې، چې په ډېرو ځایونو کې د اهلبیتو ښوونځي ښوونو ته ورنږدېده؛ د بېلګې په توګه: لکه چې و مو لیدل، د قضا او قدر په اړه یې ګروهه د اهلبیتو له ښوونځي سره همغږې ده.

---

[1]. محمد زاهد الکوثري، تانیب الخطیب، ۲۱۱ مخ.
[2]. الامام ابوحنیفه، الوصیة، ٦۰ مخ؛ ملا علي قاري هروي، شرح فقه الاکبر، ۱۵۹ مخ.

همداراز د قرآن په پنځونه يې په دې مانا ګروهه، چې پر کاغذونو مکتوب، پر ژبو مقروء او له موږ سره قرآن، او غيرمخلوق توب يې د کلام پر مانا او د الله له ذاتي صفاتو څنې د يو صفت پر مانا، د اهلبيتو د ښوونځي له ګروهو سره ټکر نه لري او لکه چې مخکې مو اشاره وکړه ددې موضوع (=که د قرآن پر نامخلوقتوب د قايلينو مراد، د "الهي کلام" د صفت نامخلوق توب وي) پر سر شخړه به يوازې يوه لفظي شخړه وي.[١]

د ارجاء د نظريې په باب دې وويل شي، چې د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په پام کې ارجاء د اهلبيتو له ښوونځي سره هېڅ ډول ټکر نه لري. د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ارجاء د اباحيتوب په مانا نه؛ بلکې په لويی لاس يې په دې نظريه د خوارجو ليدلوری ړنګ کړ او په دې پسې و، چې د مسلمانانو له لوري د بل مسلمان د تکفير پر لار خنډ شي. سره له دې هغه د عمل ارزښت ته هېڅ بې اعتنا نه دی او د جهميه پرخلاف ګناهکاران هم جنت ته نه هيلمنوي او يوازې اخروي حکم يې الله تعالی ته ور پرېږدي. په جائر مشر پسې د راپاڅېدو ګروهې يې د عامه اهلسنتو له ګروهو لرې کړې او شيعه او متعزله وو ته يې ورنږدې کوي، چې په پينځم څپرکي کې خبرې پرې کوو.

د الله تعالی د ذاتي صفاتو پر قدامت وينا، په سترګو د الله تعالی ليدل او پر ظواهرو يې د خبري صفاتو حمل هم، لکه څنګه چې د حنفي اهلسنت او جماعت په سرچينو کې راغلي؛ ډېر احتمال شته، چې دوی په خپله جوړ کړي وي او نشي کولای د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه واقعي نظريه او څرګندونه وي؛ ځکه په دې مواردو کې د امام د نظرياتو په څرګندونو کې د ماتريديه، طحاويه او اشاعره اصطلاحات کارول شوي، چې دا اصطلاحات هړو د امام په پېر کې دود نه ول.

د شفاعت په باب د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ګروهه، چې ماتريدي حنفيان يې هم مني، د اهلبيتو د ښوونځي له ښوونو سره همغږې ده.

يوازې د ايمان د زيادښت او کمښت نه منلو په باب ويلای شو، چې د امام څرګندونې د اهلبيتو په ښوونځي کې له څرګندونو سره اړخ نه لګوي؛ البته په دې باب هم ښکاري، چې د امام څرګندونې له ټولنيز مصلحت سنجونې بهر او تشې نه وي. هغه دا

[١]. په دې مانا د قرآن د قدمت پرتلنه، د "ان من شی ء الا عندنا خزائنه و ما ننزله الا بقدر معلوم " (حجر/٢١) په څېر آيتونو د شيعه مفسرانو له فلسفي-عرفاني بيان او د قرآن د درجاتو اړوند او همداراز د"ام الکتاب" په اړه وييني يې بې ګټې نه وي.

د مصلحت له مخې څرګندونه یې څکه کړې، چې د ایمان په باب یې ستره اندېښنه، په مسلمانانو د نورو مسلمانانو تکفیرول وو. د امام ابوحنیفه په پېر او ترې په مخکې پېر کې د ایمان د مسلې پر سر شخړه او د مرجئه وو ادعاوې، د خوارجو دریځ، د ایمان په باب د خوارجو د نظریې پایلې، د مسلمانانو د تکفیر لپاره زمینه او په پایله کې یې د مسلمانانو د ټولنیز سستوالي لپاره یې زمینه چمتو کړې وه؛ نو امام له افراطي او تفریطي لېوالتیاوو په ډډه کولو ((د مسلمانانو د ټولنیز-دیني شړېدو د مخنیوي په هڅه کې و. هغه سره له دې، چې په وګړیز ژوند کې په صالحو کړنو او په ټولنیز ژوند کې پر ټولنیز نیاو-عدالت ټینګار درلود، د خوارجو پرخلاف په دې باب دوه بېلابېلې لارې وړاندیزوي: په وګړیز ژوند کې عمل له هومره ارزښت سره، د ایمان له حقیقته بېل شماري او بې له دې، چې عاصي او ګناهکار مسلمان ته یې د جنت ژمنه ورکړې وي، د ټولنې د نورو وګړو رورور او مؤمن یې شمېري او په دې توګه ولایت (دوستي، خوږلنی...( د خوارجو د برائت (کرکې) ځایناستی کوي. په دې لیدلوري سره ویلای شو، چې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د ارجاء څرګندونه په هغه کړکېچن پېر کې، چې مرکزي خلافت کمزروی و او په بېلابېلو مذهبي او سیاسي انګېزو بېلابېل پوځې یونونه راپورته شوي ول، بې له دې، چې په وګړیز اړخ کې مسلمانان پر سرغړونې زړه ورکړي، په ټولنیز اړخ کې یې د "ایماني رورولۍ" او "ولایت" پر چورلیز راټولول.))[1]

او په کلامۍ چارو کې روستۍ خبره دا که د امام ابوحنیفه په کلامي اندو کې د ماتریدیه د کلامي ښوونځي، د ابومنصور ماتریدي قرآئت ومنو، لکه څنګه چې تېر شول، بیا هم ښکاري، چې د امامیه شیعه وو او د اهلبیتو د ښوونځي او ماتریدي ښوونځي ترمنځ خورا ګډ اړخونه شته؛ نو ویلای شو، چې د اهلسنتو په کلامي مذاهبو کې امامیه مذهب ته تر ټولو نږدې مذهب ماتریدي دی.

[1]. دائرة المعارف بزرگ اسلامي، د ابوحنیفه مدخف ۳۸۵/۵ مخ.

## څلورم څپرکی

### د اهلبیتو له ښوونځي سره د امام ابوحنیفه د فقهي ښوونځي پرتلنه

په دې څپرکي کې مو هڅه ده، چې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د استنباط دود او د فقهي سرچینې وڅېړو او له اهل البیت فقهې سره یې همالاري او نه همالاري روښانه کړو. د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه پر فقه تر ړنا اچونې له مخه اړینه ده، پر دوو ښوونځیو؛ "اهل رای" او "اهل حدیث" رڼا واچوو، چې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په پېر کې یو د بل پر وړاندې وو او امام یو له دې ښوونځیو ځینې د یوه څرګند او لوړپوړی استازی ګڼل کېده.

### ۱. اهل رای او اهل حدیث

څرګنده ده، چې فقهې یې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه مشهور کړ. نوموړی په فقه کې د "اهل رای" د مشر په نامه اوځار دی. د هجري دویمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې او په مسلمانانو کې د فقهي اندو د رامنځ ته کېدو په پیل کې دوه ستر فقهي ښوونځي یو د بل پر وړاندې راڅرګند شول: د حجاز یا مدینې فقهي ښوونځی، چې په حدیثپالۍ مشهور و او د "اهل حدیث" نوم یې غوره کړ او بل د عراق یا کوفې فقهي ښوونځی، چې د " اهل رای" پر ښوونځي مشهور دی. د مدینې د فقهي ښوونځي (اهل حدیث) ستر استازی امام مالک بن انس رحمه الله علیه (۹۳-۱۷۹ س) او د کوفې د فقهي ښوونځي (اهل رای) آریز او مهم استازی امام ابوحنیفه رحمة الله علیه شمېرل کېږي. البته تر امام ابوحنیفه رحمة الله علیه مخکې یې استاد؛ حماد بن سلیمان (۱۲۰ س مړ) او تر هغه مخکې هم ابراهیم نخعي او نور، او د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له همپېرو څخه ابي لیلي او ځینې نور د کوفې اهل رای فقهاء دي، چې د ټولو سر لړ حضرت

عبدالله مسعود(رض) شمېرل کېږي.[1] خو د اهل رای په مخکښېیو روستیو فقهاوو کې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه خورا مشهور و او تل یې نامه له رای او قیاس سره غوټه وه اوپه کوفه کې د اهل رای په ستر فقیه پېژندل کېده.

نوځکه په اهل حدیثو او همداراز په شیعیانو کې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ستره ځانګړنه په رای او قیاس د نوموړي اډانه شمېرل کېږي.

داچې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په رای او قیاس اډانه کوي او خورا ارزښت ورکوي او د اهل حدیثو د وینا له مخې سنتو ته بې اعتنا دی؛ نو اهل حدیثو د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه پر ضد د دښمنۍ لېچې راونغاړلې، تردې چې د امام په رټنه کې یې خورا روایتونه جوړ کړل او له دینه یې بهر او د اسلام دښمن یې ښووه.[2]

په شیعه او اهلسنتو اهل حدیثو کې مشهوره ده، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه سنتو ته د بې اعتنايۍ او له پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم څخه د ډېری رانقل شویو احادیثو د اعتبار په ردولو ناچاره شو، چې رای او قیاس ته ور مخه کړي، چې په خپله فقه کې د نقلي سرچینو تشه ډکه کړي. ابن خلدون په خپله سریزه کې راوړي، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه تر اوولسو حدیثو ډېر سم او صحیح نه ګڼل![3]

امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ته د ځینو شیعیانو منفي او بدوینی لید له رای او قیاسه یې اغېزمن دی او په واقع کې په نظر یې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه دا کار د نص پر وړاندې اجتهاد دی.

خو آیا لکه څنګه چې اهل حدیثو ویلي، امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم څخه منقولو روایتونو او سنتو ته بې اعتنا و؟ آیا لکه څنګه چې مشهور دي، چې ده به د ډېری رانقل شویو احادیثو سموالي ته د شک په سترګه کتل؟ آیا لکه څنګه چې په شیعي او د اهل حدیثو په سرچینو کې راغلي، د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه فقه له قیاسه ډکه او د نص پر وړاندې اجتهاد دی؟

---

[1]. ابن مسعود به په هغو موضوعاتو کې چې حدیث نه و اورېدلی؛ نو د خپل اجتهاد پر بنسټ به یې د مسالې د حکم د بیانولو ترڅنګ ویل، چې: "اقول برایي" و ګ: د امام احمد بن حنبل مسند، مسند المکثرین من الصحابه، ۳۸۹۱ ګڼه.(

[2]. د بېلګې په توګه وګ: خطیب بغدادي، د بغداد تاریخ ۱۳/۴۱۳-۴۵٤ مخونه

[3]. ابن خلدون، مقدمه (د درویش جویدي څېړنه)، ٤۱۵ مخ.

سره له دي، چې د امام ابوحنیفه سولواله - عقل گرایانه کړچار او په رای او قیاس یې له اډانې سترگې نشو پټولای؛ خو په دې باب یې د مخالفینو ورمندون- قضاوت هم له انصاف لرې ښکاري. یوازې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د استنباط دود او فقهي سرچینو ته یې له ځغلندې کتنې، پوهېدای شو، چې امام بې بریده رای او قیاس ته ارزښت نه ورکاوه. امام سنتو او احادیثو ته هم ځانگړی پام درلود. لومړی د یو فقهي ښوونځي تدوین په اوولس حدیثو ناشونی چار دی او دویم که داسې وشي؛ نو د ابن حجر حیتمي د وینا له مخې، تر ټولو ستر هنر به وي.[1] البته پر احادیثو په عمل کې یې له جرح و تعدیله کار اخسته او د احادیثو د راویانو په اړه یې ځانگړی حساسیت درلود او په گوتنیونکې سترگه یې ورکتل. په واقع کې په اهلسنتو کې د ډېری احادیثو راویانو ته یې په گوتنیونکې سترگه کتل او د صحابه وو او تابعینو پر کړنو یې نیوکې له هغو چارو ځنې دي، چې دا یې له عمومو اهلسنتو او په تېره له اهل حدیثو لرې کړی او د ده لیدلوری یې د اهلبیتو ښوونځي ته ورنږدې کړی دی.

## ۲. د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د استنباط سرچینې

### ۱-۲. کتاب

د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په فقه کې (د نورو فقهي مذاهبو په څېر) قرآن کریم د "لومړۍ سرچینې" په نامه اوڅار دی. له قرآن کریمه د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د اخستنې او استنباط په کړنلار کې باید لاندې قواعدو ته اشاره وکړو:

---

[1]. ابن حجر حیتمي، الخیرات الحسان فی مناقب الامام الاعظم ابي حنیفه نعمان، ۷۷ مخ.

**الف( عام او خاص**

امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په ثابتو سنتو (په نظر کې يې صحيح روايات) د کتاب تخصيص صحيح ګڼه؛ خو په آحادو رواياتو يې جايز نه ګڼه.[1]

**ب( مطلق او مقيد**

د قرآن کريم په ډېرى بېلابېلو ځايونو کې، مشابه او ورته موضوعات کې مطرح شوي او احکام يې ځينې مطلق او ځينې مقيد دي، امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ډېرى د قيد عموميت او مطلق تقيد ته لېوالتيا ښوولې ده.[2]

**ج( د ځينو ظواهرو ځانګړول**

امام ابوحنيفه کله د قرآن کريم ځينې ظواهر ځانګړيو ځايونو ته محدودل. د بېلګې په توګه: هغه د "احل لکم صيد البحر و طعامه"[3] له آيته په اخستنه کې د سمندر حلال غوښې ځاروي يوازې په کب پورې محدودوي. همداراز له "و لا جنبا او عابرى سبيل"[4] آيته په اخستنه کې له جوماته د جنب د تېرېدو جواز يوازې د اضطرار په حالت پورې محدودوي.[5]

**د) فريضه او واجب**

امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د وجوبي عباداتو هغه احکام، چې د قرآن له آيتونو ګټنه ترې کېږي، "فريضه" نوموي او هر ډول په لوى لاس - عمدي يا سهوي سرغړونه يې د بطلان لاملېږي؛ خو د عباداتو هغه احکام، چې د پېغمبر اکرم صلى الله عليه و آله وسلم سنتو واجب کړي، "واجبات" نوموليې او له دوى يې سهوي سرغړونه د عبادت د بطلان لامل نه ګڼه.

---

[1]. احمد بن علي جصاص، احکام القرآن ۹٤/۳؛ علي بن محمد بزودي، اصول الفقه، له دائرة المعارف بزرگ اسلام، د ابوحنيفه مدخل ۳۹٤/۵ په نقل.

[2]. دائرة المعارف بزرگ اسلامي، هماغه (له لږ تصرف سره)

[3]. مائده/۹٦.

[4]. نساء/٤۳.

[5]. احمد بن علي جصاص، احکام القرآن ۱٦۸/۳-۱٦۹.

### ۲-۲. سنت

امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د صحیحو روایاتو (د کلیمې په عامې مانا، هغه روایات هم رانغاړي، چې په هغه پېر کې له بسیا شهرته برخمن وو) د حجت گڼلو په ترڅ کې د "واحد خبر" په باب هم سخت گیري کوله. ځینو ویلي، چې هغه گروهن و، چې په "واحد خبر" د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم سنت نشو جوتولای. [۱] د بېلگې په توگه: د استسقا نمونځ یې دعا گڼله. [۲] پردې سربېره، ویل شوي د دوو متعارضو واحدو روایاتو را ټولولو ته یې هم څه لېوالتیا نه ښووله او همداراز "غیر ثابت سنت" یې هم د "ثابت سنت" (د خپل لیدلوري پر بنسټ) پر وړاندې نه مانه[۳]؛ خو د ډېری روایاتو له مخې، د امکان په صورت کې یې "آحاد روایات" راټولول او پر دوی یې هله له عمله ډډه کوله، چې د قرآن له نص او د متواترو سنتو له را ولاړې شوې شرعیه قاعدې به مخالف ول. [٤]

د یحیی بن ضریس او ابن صباح د وینا له مخې، حدیث د سموالي په شرط او له ابن ضریسه د صیمري د وینا له مخې، حدیث د دود په شرط، چې له ډاډمنه، ډاډمن روایت کړی، د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په نزد دویمه فقهي سرچینه وه. [٥] اهل حدیث کوفي فقیه او د امام ابوحنیفه همپېري؛ حسن بن صالح بن حی او همداراز سفیان ثوري او ابن مبارک ویلي که د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د کوم حدیث سموالی به امام ابوحنیفه ته جوت شو؛ نو بیخي ترې نه تېرېده. [٦]

داچې د نن په څېر د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په پېر کې احادیث ډلبندي شوي نه وو؛ نو ډېری احادیث، چې امام په خپله فقه کې گټنه ترې کړې، د آحاد او مرسلو

---

[۱]. هماغه /۳۹٤ مخ.

[۲]. محمد ابوزهره، الامام ابوحنیفه، ۱۷۲ مخ.

[۳]. محمد جواد مغنیه، الفقه علی المذاهب الخمسه، ۱۲۷ مخ.

[٤]. ابوالمؤید خوارزمي، جامع مسانید ابي حنیفه، ۳۵۲-۳۵٤ مخونه؛ محمد بن ادریس شافعي، الرسالة، ۲۱٦_۲۱۷ مخونه.

[٥]. حسین بن علي صیمري، اخبار ابن حنیفه و اصحابه، ۲٤ مخ؛ خطیب بغدادي، د بغداد تاریخ ۱۳/٤۰؛ دائرة المعارف بزرگ اسلامي، د ابوحنیفه مدخل ۳۹٤/۵.

[٦]. ابن عبدالبر، الانتقاء من فضائل الائمة الثلاثة الفقهاء، ۱۲۸ مخ.

روایاتو په کتار کې راځي.[1] د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د روایتونو سراسر مسندونه او له دې د ابویوسف "الآثار" له پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم نه د تابعینو له مرسلو روایتونو ډک دي، چې امام یې له مخې فتوا ورکړې ده.[2]

امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ځینو راویانو ته او له دوی حضرت ابوهریره (رض) ته د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د سنتو په نقل کې د کذب او بې دقتۍ له لامله بدوینی و، وایي:

((ان اباهريرة لم يكن مجتهد، وكان يسمع احاديث النبي صلى الله عليه و آله وسلم فقط، و لا علم له بالناسخ و المنسوخ، و اذن، فلم يكن مجتهدا و لا طائل من وراء روایاته:[3] ابوهریره مجتهد نه و؛ یوازې د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم احادیث یې اورېدل او په ناسخ او منسوخ نه پوهېده؛ نوځکه مجتهد نه و او روایتونه یې ارزښت نه لري.))

امام ابوحنیفه رحمة الله علیه راویان درمل پلوري او فقهاء طبیبان نومول:

((هم الصيادلة و نحن الاطباء))[4]؛ نو په آند یې ډېری راویانو بې له دې، چې د احادیثو سموالی او ناسموالی ته پاملرنه وکړي، رانقلول یې، چې باید فقها او د امام په تعبیر طبیبان دې یې له عقلي او سندي پلوه وڅېړي لکه څنګه چې یو طبیب خپل رنځور ته درملو په ورکولو کې خورا ځیرنه کوي او له خپلې کارپوهۍ ګټنه کوي.

له احادیثو سره د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د چلن د څرنګوالي په باب، "ابن مبارک" له امام ابوحنیفه رحمة الله علیه نه په یو بل نقل کې راوړي، چې:

((ان جاء الحديث عن رسول الله فعلى الراس و العين و اذا جاء عن الصحابة اخترنا و لم نخرج عن اقوالهم، و اذا جاء عن التابعين زاحمناهم[5]: له رسول الله صلی الله علیه و

[1]. دائرة المعارف بزرگ اسلامي، هماغه، ۳۹۵ مخ ص.

[2]. ابوالمؤید خوارزمي، جامع مسانید ابي حنیفه ۴۰۳/۱، ۳۸۸، ۴۲، ۴۲۱، ۳، ۴۹۹، ۵۲۹، او دویم ټوک، ۱۲۹، ۵۹او ۲۲۰ مخ؛ دائرة المعارف بزرگ اسلامي، هماغه.

[3]. الشیخ حسین غیب غلامي، البخاري و صحیحه، ۲٤ مخ.

[4]. هماغه.

[5]. خطیب بغدادي، د بغداد تاریخ۳۴۰/۱۳ او۳٦۸ مخونه؛ ابن عبدالبر، الانتقاء من فضائل الثلاثة الائمة الفقهاء، ۱۲۸ مخ.

آله وسلم نه چې کوم حديث رانقل شي؛ نو موږ يې د زړه له کومې منو، د صحابه وو په ويناوو کې په ټاکنه لاس پورې کوو او له ويناوو يې بهر نه وځوو؛ خو د تابعينو د ويناوو په باب په خپله د نظر او اجتهاد حق لرو.))
د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه له دې ويناوو گټنه کېږي، چې که د واحد خبر سموالی ورته جوتېده؛ نو عمل يې پرې کاوه؛ خو پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم ته يې د ځينو آحاد رواياتو په سموالي کې شک درلود او د ډېری اصحابو او تابعينو په نقل او سموالي يې ډاډ نه درلود.
خو داچې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په ننني مانا په آحاد او مرسل رواياتو عمل کاوه، کېدای شي لامل يې داوي، چې هغه به له دې رواياتو د ظاهري حکم د راسپړلو او نه د واقعي حکم د راسپړلو لپاره گټنه کوله او په بله وينا: واحد خبر [او مرسل] يې د اجتهاد لپاره يوه طريقه گڼله؛ نوځکه يې د واحد خبر په کارولو کې د تعبدي او غير تعبدي احکامو ترمنځ پر توپير قايلېده[1] او يوازې يې په تعبدي احکامو کې له واحد خبره کار اخسته.
امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په ځينو ځايونو کې د احاديثو پر ظواهرو خورا پابند و او دا پابندي ډېری د عباداتو په اړه احاديثو کې تر سترگو کېږي؛ د فقهاوو د مشهور نظر پرخلاف يې، د وتر نمانځه او په لويی اختر کې قرباني د ظاهر حکم له مخې، يو وجوبي او نه سرغړېدونکی چار شمېرلی دی.[2] همداراز د نافله نمانځه او مستحبي روژې له ماتولو يې منع کړې او په بطلان کې يې قضا ورته لازمه شمېرلې ده.[3]
همداراز امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په احاديثو کې د "ناسخ او منسوخ"، "عام او خاص" او "مطلق او مقيد" پر قواعدو ځانگړی حساسيت ښوولی او هڅه يې کړې، چې پردې قواعدو عمل وکړي.[4]

---

[1]. دائرة المعارف بزرگ اسلامي، د ابوحنيفه مدخل ۳۹۵/۵.
[2]. شيخ طوسي، الخلاف ۳۹۵/۱.
[3]. هماغه، ۲۳۲ مخ؛ احمد بن محمد قدوري، المختصر ۹۳/۱ له دائرة المعارف بزرگ اسلامي، هماغه نه په نقل سره.
[4]. شيخ طوسي، هماغه۲۰۷/۲؛ قدوري، هماغه ۳-٤/۳ له دائرة المعارف بزرگ اسلامي، هماغه نه په نقل سره.

### ۳-۲. د اصحابو کرامو اقوال

د "سرخسي " په اصولو کې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له خولې راغلي دي:

((زه لومړی د الله تعالی پر کتاب، بیا د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم پر سنتو او بیا د حضرت ابوبکر (رض)، حضرت عمر (رض)، حضرت عثمان (رض) او حضرت علي کرم الله وجهه پر څرګندونو او بیا د نورو اصحابو کرامو پر څرګندونو عمل کوم.))[1]

د یحیی بن ضریس او ابن صباح په روایت کې په ډاګه شوي، که کوم حکم به په قرآن کریم او د پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم په سنتو کې نه و؛ نو امام ابوحنیفه رحمة الله علیه به د اصحابو کرامو اقوالو ته مراجعه کوله او که د اصحابو کرامو ترمنځ به اختلاف و؛ نو ځان یې ددې اقوالو په ټاکنه کې د واک خاوند ګڼلی دی.[2]

لکه څنګه چې تېر شول، د اصحابو په اقوالو کې ټاکنه د ابن مبارک په روایت کې هم راغلې وه. حنفي عالم؛ ابوالحسن کرخي له اصحابو د تقلیدد وجوب د نفې په ترڅ کې د امام په فقه کې د اصحابو د اقوالو کارونه یوازې په تعبدي چارو پورې محدوده را ایساره ګڼلې ده.[3]

"له عقلي پلوه باید په پام کې ونیول شي، د اصحابو اقوال څومره، چې د پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم سنت منعکسوي؛ شونې ده، خپله رایه یې هم وي؛ نوځکه داسې انګېرلای شو، د واحد خبر په څېر امام ابوحنیفه د اصحابو په اقوالو کې د تعبدي او غیر تعبدي چارو ترمنځ پر توپیر قایل و، او په تعبدي چارو کې یې د اصحابو کرامو اقوال، ظاهري حکم ته د ور رسېدو یوه لار شمېرله. "[4]

---

[1]. ابوبکر سرخسي، اصول الفقه ۱۵۰/۲.

[2]. حسین بن علي صیمري، اخبار ابن حنیفه و اصحابه، ۲٤ مخ او خطیب بغدادي، د بغداد تاریخ ۳٤۰/۱۳ او ۳٦۸ مخونه.

[3]. ابوبکر سرخسي، پخوانۍ سرچینه؛ علي بن محمد بزودي، اصول الفقه ۳۹٦/۳.

[4]. دائرۀ المعارف بزرګ اسلامي ۵ ټوک، د ابوحنیفه مدخل، ۳۹٦ مخ.

## ۲-٤. د اصحابو کرامو کړه وړه

امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د اصحابو کرامو کړنو ته د ګوتنیونې او نیوکې په سترګه لیدلي دي. د بېلګې په توګه: د کسات په یوه مسئاله کې یې (د مجبوریت او زور له مخې وژنه) د حضرت عمر (رض) چلن یو ډول ګواښ ګڼلی او دا یې یو شرعي حکم نه دی ګڼلی.[۱]

محمد بن حسن شیباني له امام ابوحنیفه رحمة الله علیه نه په دفاع کې د اوداسه او غسل په باب د حضرت عبدالله بن عمر (رض) کړنې یې د ده سخت احتیاط ګنلی او د حکم د استنباط کچه یې ګڼلې نه ده.[۲]

## ۲-۵. د تابعینو آراء

د تابعینو د نظریاتو په هکله امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ګروهن و، چې تابعین هم زموږ په څېر مجتهد ول او هېڅ دلیل نشته، چې موږ ترې کټ مټ لاروي وکړو؛ بلکې پخپله یې، په څېر اجتهاد کولای شو: ((هم رجال و نحن رجال [۳]))؛ نو پردې بنسټ له تابعینو د لاروۍ لپاره کومه اړتیا نشته. د یحی بن ضریس، ابوحمزه سکري او ابوعصمه د روایت له مخې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په ډاګه کړې وه، چې د تابعینو فتوا یې ځان ته حجت نه ګڼله او ځان یې د دوی په څېر مجتهد ګاڼه.[٤] که څه، په غیر مستقیمه توګه یې په خپلو استنباطاتو کې د تابعینو له نظریاتو ګټنه کړې ده.[۵]

## ۲-٦ اجماع

د امام ابوحنیفه په "فقهي ادله" کې داسې کوم شواهد نشته، چې اجماع پکې په اصولي مفهوم ځای ولري. د لومړي ځل لپاره د امام شافعي رحمه الله علیه (د دویمې هجري

---

۱. ابوبکر سرخسي، المبسوط ٦۸/۲٤.

۲. پخوانۍ سرچینه.

۳. ابن عبدالبر، الانتقاء من فضائل الائمة الثلاثة الفقهاء، ۱٤۳ مخ.

٤. هماغه سرچینه.

۵. محمد بن ادریس شافعي، الرسالة، ٤٦۰ مخ او ابو المؤید خوارزمي، جامع مسانید ابي حنیفه لومړی ټوک، ۲۷۹ مخ.

پېړۍ دويمه نيمايي) په الرساله کې، اجماع د استنباط يوه سرچينه مطرح شوه. سره له دې، حنفي فقيهانو د "اصول علم" تر تدوين روسته کوښښ کړی، چې په خپلو استنباطي طريقو په حنفي فقه او شرايطو کې د اجماع ځای انځور کړي. ان د حنفيانو په آثارو کې ځيني ليدلوري په خپله امام ابوحنيفه ته ورمنسوب شوي[1]؛ خو ښکاري، چې دا انتساب دومره کوټلی نه وي.[2]

## ۷-۲. رای او قياس

لکه څنگه چې ددې څپرکي په پيل کې هم اشاره ورته وشوه، د شيعيانو او اهلسنتو اهل حديثو له نظره د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه تر ټولو ستره ځانگړنه په فقه کې پر رای او قياس اډانه او د نص پر وړاندې اجتهاد دی. همدا مسئله د هغه تور تر څنگ، چې احاديثو ته بې اعتنا و، هغه مهم لامل دی، چې امام ابوحنيفه ته يې د شيعيانو او اهلسنتو اهل حديثو ليد منفي کړې او د دوی اړيکې يې ترېنگلې کړې؛ نو اړينه ده، په دې باب هم ډېر غور وشي.

### الف) د قياس تعريف

حنفي عالم، ابوبکر سرخسي (٤٩٠س مړ) د قياس په تعريف کې ويلي دي:
((هو الحاق فرع باصل فيه نص يحکم معين من الوجوب او الحرمة، لوجود علة الحکم فی الفرع کما هی فی الاصل و يسمی هذا اجتهادا مجازا ايضا، لانه ببذل المجهود يحصل هذا المقصود:[3] قياس دادی: فرع په اصل پورې ورتړل؛ هغه اصل، چې په نص يې ټاکلی وجوبي حکم يا حرمت موجود وي، په دې دليل چې د اصل حکم علت په فرع کې هم دی. دې مجازا عمل ته اجتهاد هم وايي؛ ځکه [د مجتهد] په هڅه دا موخه لاس ته راوړل کېږي. "

---

[1]. علي بن محمد بزودي، اصول الفقه ۲۲۶/۳ او ابوبکر سرخسي، اصول الفقه ۲۹۵/۱.
[2]. دائرة المعارف بزرگ اسلامي د امام ابوحنيفه مدخل ۳۹٦/۵.
[3]. ابوبکر سرخسي، هماغه سرچينه۱٤۳/۲.

ابن مسعود (رض) قیاس داسې تعریف کړی دی: ((و هو تصدية الحكم من الاصل الى الفرع لعلة متحدة لا تدرک بمجرد اللغة[1]))
قاضي ابوبکر باقلاني د قیاس په تعریف کې وایي:
((و هو حمل مجهول على معلوم، فى اثبات حکم له او نفيه عنه بامر جامع بينهما من حکم او صفة))[2]
پردې بنسټ قیاس څلور رکنه لري:
۱. اصل (مقیس علیه): هغه موضوع، چې حکم یې په کتاب، سنت او یا اجماع کې راغلی دی.
۲. اصل حکم: شرعي حکم، چې په کتاب، سنت یا اجماع د اصل لپاره ثابت شوی دی.
۳. فرع (مقیس) نوې موضوع، چې حکم یې په کتاب، سنت یا اجماع کې راغلی نه دی.
٤. علت: هغه وصف، چې د اصل حکم ملاک، کچه او مناط دی. په بله وینا: د اصل او فرع ترمنځ جامع وصف دی، چې د قیاس سرچینه ده.

## ب) د رای تعریف

د رای د تعریف لپاره بیلابیلې څرګندونې شوې دي. ځینو په یوه تنګه مانا کې کارولې او د قیاس انډول یې ګڼلې ده. ځینو یې مانا پراخه کړې او د اجتهاد انډول یې ګڼلې ده. ابن قیم جوزي یې په تعریف کې وایي:
((نعنى بالراى هنا: ما يراه القلب بعد فكر و تامل و طلب لمعرفة وجه الصواب مما تعارض فيه الامارات))
نو ددې تعریف له مخې، که د علاماتو له مطلقې امارې مراد نښې، ادله او قراین وي، رای د اجتهاد ټول اړخونه رانغاړي؛ لکه څنګه چې ابن قیم په یو بل ځای کې وایي:
((على ان التحقيق الذى لاشک فيه انه ما من امام منهم الا و قد قال بالراى و ما من امام منهم الا و قد تبع الاثر الا ان الخلاف – و ان كان ظاهره فى المبداء –لكن فى التحقيق

[1]. الداکتر وهبة الزهيلى، اصول الفقه اسلامي ۶۰۲/۱-۶۰۳ مخونه.
[2]. هماغه سرچینه، ۶۰۲ مخ.

انما هو فی بعض الجزئیات یثبت فیها الاثر عند الحجازیین دون العراقیین فیاخذ به الاولون و یترکه الاخرون لعدم اطلاعهم علیه او وجود قادح عندهم[1]: بېشکه ویلای شو، چې په امامانو کې به داسې څوک نه وي، چې د رای پر بنسټ به یې خبرې کړې نه وي او داسې امام به نه وي، چې له احادیثو یې لاروي کړي نه وي؛ خو اختلاف – چې ښکاري بنسټیز دی- تر ځېړنې روسته لاس ته راځي، چې یوازې په ځینو جزییاتو کې دی، په هغو ځایونو کې چې حجازیانو ته روایت ثابت شوی؛ خو عراقیانو ته ثابت شوی نه دی؛ نوځکه حجازیان د نوموړی حدیث پر بنسټ عمل کوي؛ خو عراقیانو پرېښی؛ ځکه له دې حدیثه یا خبر نه دي او یا یې په اړه نیوکه لري.))

فخر رازي د رای په تعریف کې وایي:

((ان الرای هو القیاس، لانه یقال للانسان: اقلت هذا برایک ام بالنص؟ فیجعل احدهما فی مقابلة الآخر[2]: رای هماغه قیاس دی؛ ځکه انسان ته ویل کېږي: آیا دا دې د خپلې رای له مخې وویل که د نص پر بنسټ؟؛ نو یو د بل پر وړاندې ایښوول کېږي.))

ابوبکر سرخسي وایي:

((والرای لا یصلح لنصب الحکم ابتداء و انما هو لتعدیة حکم نص الی نظیره مما لا نص فیه[3]: رای له پیله د حکم د اثبات صلاحیت نه لري؛ بلکې رای په ورته ځایونو کې د منصوص حکم غځولو ته چې نص پکې نه وي، کارونه لري.))

شاه ولي الله دهلوي هم ویلي دي:

((ان الرای هم حمل النظیر علی النظیر والراد الی اصل من الاصول دون تتبع الاحادیث و الآثار[4]: رای په مشابه د مشابه حمل او له اصلونو څنې یو اصل ته یې ورستنول دي، بې له دې، چې احادیث او منقولې سرچینې د پلټل شي.))

ښکاري د "اهل رای" او د عراق د "فقهي ښوونځي" په پام کې رای نه پر هغه پراخه مانا ده، چې مطلق اجتهاد راونغاړي او نه پر هغه تنګه مانا ده، چې یوازې اجتهاد د قیاس انډول وي. که په مطلقه مانا د اجتهاد پر مانا وي؛ نو د"اهل رای ښوونځي" ته

---

[1]. له محمد به نصر مروزي، اختلاف الفقهاء، ۷۵ مخ نه په نقل سره.

[2]. فخر رازي، المحصول ۳۵٤/۲

[3]. ابوبکر سرخسي، اصول الفقه ۹۰/۲.

[4]. شاه ولي الله دهلوي، الانصاف فی بیان سبب الاختلاف، ٦۲ مخ.

د"اهل حدیثو ښوونځي" او نورو مخالفینو د پېغور کوم دلیل نه پاتېږي؛ ځکه هر فقیه په هره لېوالتیا که څه حدیث پال وي، په یو ډول اجتهاد لاس پورې کوي او بې له عقلي څېړنې او د ځینو قواعدو له کارونې به له قرآن او سنتو د احکامو استنباط ناشونی وي؛ نو پردې بنسټ رای باید ځانګړې مانا او کارونه ولري، چې د "اهل رای ښوونځي" ځانګړنه وګڼل شي.

خو "رای" یوازې قیاس هم نه دی. د لیکوال په آند د اهل رای ښوونځی د یوې ځانګړنې او د استنباطي لارې په توګه داده: د فتوا ورکول(؛ خو) نه د ټاکلي نص پر استناد او لاسوند؛ بلکې د اهل رای فقیه د مصلحت سنجونې او له شریعت او موخو یې د ټولیزې پوهېدنې له مخې. د نقلي ادله و په نشتون کې، او کله په یوه ځانګړې قضیه کې چې ټاکلی نص نه وي؛ نو اهل رای فقیه پر خپل نظر بې له دې چې پر ځانګړي لاسوند ډډه وکړي، ځان ته د فتوا لار پرانستې ګڼي او البته هڅه کوي، چې څه یې په لاس کې دي، د شریعت له نظام سره خورا همغږی حکم پیدا کړای شي. ابن مسعود (رض)، چې لوړپوړی اهل رای شمېرل کېږي، وایي:

((اقول فیها برایي، فان یکن صوابا فمن الله و ان یکن خطاء فمني و من الشیطان، والله و رسوله منه بریئان[1]: په دې مسله کې د خپلې رایې پر بنسټ خبرې کوم، که سم مې ویلي وي؛ نو د الله تعالی له لوري به وي او که تېروتی یم؛ نو زما او د شیطان له لوري به وي او الله تعالی او استازی یې له دې تېروتنې بچ دي.))

امام ابوحنیفه رحمة الله علیه هم په دې اړه وایي:

((دا خبره مو "رای" ده او ترټولو غوره هغه خبره ده، چې لاسرسی مو ورته موندلی؛ نو څوک چې تر موږ غوره خبره راوړي؛ نو صواب ته به ور نږدې وي. [2]))

رای پر دې مانا، سربېره پر قیاس، استحسان هم رانغاړي او ان، مرسله مصالح هم یو ډول رای شمېرلای شو؛ ځکه د اهل رای فقیه چې کله په یوه پېښه کې، نص نه وي؛ نو شونې ده، چې قیاس هم قبیح وګڼي او استحسان ته ور مخه کړي او پر استحسان ولاړه فتوا ورکول به هم د روایت له مخې نه وي؛ بلکې یو ډول رای ده؛ لکه څنګه چې

[1]. محمد بن نصر مروزي، اختلاف العلماء، ۷٤ مخ.

[2]. خطیب بغدادي، د بغداد تاریخ ۳۵۲/۱۳.

مرسله مصالح هم کله ټاکلې روایتي اډانه نه لري او د دې استنباطي سرچینې د ګروهنو په ګومان، د شریعت د ټولیزو موخو او د احکامو د مصالحو سنجونې په پامنیوي، د یوې قضیې حکم لاس ته راوړل کېږي.

## ج) د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په فقه کې د رای او قیاس کارونه

استحسان او ان قیاس په اهل حدیثو او مالکي ښوونځي کې هم شته او لکه څنګه چې وویل شول، په مالکي مذهب کې مرسله مصالح هم یو ډول رای شمېرلېدای شي. عراقي حدیثپالو؛ لکه سفیان ثوري هم له قیاسه کار اخستی دی. [1] څه چې په دې باب د اهل رای او په تېره د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د ښوونځي د توپیر لاملېږي، د رای او قیاس د کارونې کچه او له قیاس سره د واحد روایت په څېر د کمزورې روایتي ادلې د ټکر په ځایونو کې د چلن څرنګوالی او ځینې ظواهر دي. همدا ټکی لاملېده، چې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ځینې حدیثپال همپېري؛ لکه مالک رحمة الله علیه او نور، چې په خپله یې په فقه کې له قیاسه کار اخسته، د هغه پر قیاس یې نیوکه کوله او په مقابل کې یې ځینې د هغه د قیاس ستاینې ته ور هڅول، تردې چې قیاس یې متل شوی و. [2]

د حضرت امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په لیدلوري کې له رای موخه واقعي حکم یا "ثواب" ته تر ټولو ور نږدې ظاهري حکم دی. [3] په دې باب یوسف بن خالد سمتي ته وایي:

((الله تعالی څوک د ناپوهۍ له لامله نه عذابوي او له جاهلانه وینا نه خوښېږي او زموږ دنده واقع ته د رسېدو لپاره اجتهاد دی او هر مجتهد [د ظاهري حکم له مخې] مصیب دی؛ خو د [واقعي حکم] صواب له الله تعالی سره دی. [4]))

---

[1]. وګ: ابوالمؤید خوارزمي، جامع مسانید ابي حنیفه ۳۸۸/۲ او الفقه الاسلامي و ادلته ۳۲/۱.

[2]. دائرة المعارف بزرګ اسلامي، د ابوحنیفه مدخل ۳۹۸/۵ (له لږ تصرف سره)

[3]. هماغه سرچینه.

[4]. موفق مکي، مناقب ابي حنیفه ۱۰٤/۲؛ ابوبکر سرخسي، اصول الفقه ۱٤/۲؛ محمد بن ادریس شافعي، الرسالة، ٤۹٤ مخ؛ علي بن محمد بزودي، اصول الفقه ٤٦/۱؛ دائرة المعارف بزرګ اسلامي، هماغه سرچینه.

((په رای او اجتهاد کې د حضرت امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د اندیز- فکري بنسټونو د سمې پېژندنې لپاره باید وویل شي، هغه ګروهن و، چې د شریعت احکام د الله تعالی له لوري رالېږل شوي، چې د خلکو ګټې تامین او خوندي کړي... ؛ خو د شریعت احکام پراخه لمنه لري او باید پکې پټ حکمت او مصلحت یو له بله بېل کړای شي. د شریعت ځینې احکام په ادابو، دودونو، سننو، عبادي مراسمو او مذهبي کړنو پورې اړوند دي او پکې پټ مصلحت هماغه تعبد او الله تعالی ته د بنده ور نږدېوالی او تقرب دی؛ نوځکه تعبدي احکام په شرعي نصوصو پسې ځي او رای په دې باب له لږې کارونې برخمنه ده؛ خو د شریعت ځینې احکام د بشري ژوند په ورځنیو موضوعاتو پورې اړوند دي او ددې احکامو د پلي کولو آریز حکمت؛ نه د بندګانو تقرب او تعبد؛ بلکې په ټولنه کې یو روغ حقوقي او جزایي غونډال رامنځ ته کول دي او د شریعت همدا احکام دي، چې حضرت امام ابوحنیفه رحمة الله علیه یې په استنباط او څرګندونه کې د رای ډېره کارونه ګڼله.))[1]

## د) حضرت امام ابوحنیفه او د قیاس د قواعدو کارونه

د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په فقه کې له قیاسه په ګټنې کې دوه آرونه دي:
۱. قیاس یوازې په غیرتعبدي او غیرعبادي چارو کې کارونه لري؛ نه په تعبدي چارو کې. د بېلګې په توګه: د پاکوالي په برخه کې امام ((د حدث د لرې کولو(چې یو تعبدي چار دی او د عبادت سریزه ده،( او د خبث د لرې کونې، (چې په لیدلوري کې یې په پاکوالي پورې اړوند دی او تعبدي اړخ نه لري، ترمنځ) څرګند توپیر ایښی دی: د حدث په لرې کولو کې یوازې اوبه لرې کوونکې ګڼي او په استثنایي توګه د سفر په شرایطو کې د اوبو په نه پیدا کېدو کې، یوازې د کجورې پوخ نبیذ وړاندیزوي. دا استثنا یې له حدیثه اخستې او د اوزاغي پرخلاف یې ان د غیرکجورې نبیذ یې پر منصوص ځای قیاس کړی نه دی [2]؛ خو د خبث د لرې کولو په برخه کې د څو خپرووړو روایتونو په عمومیت یې یوه ټولیزه قاعده راسپړلې ده او نه یوازې د خبث

---

[1]. دائرة المعارف بزرګ اسلامي، هماغه سرچینه.
[2]. دائرة المعارف بزرګ اسلامي، هماغه.

لرې کول یې په هره پاکه مایع جایز ګڼلې؛ بلکې اصولاً د نجاست په شان لرې کونه هم په بله طریقه، بې له وینځلو تجویزوي.))[1]
البته ((په ځینو ځایونو کې د اختلاف جرړه په مصداق کې وي او امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د مسالې بېخ له تعبدي چارو ځنې نه ګڼي. د بېلګې په توګه: د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په فقه کې په نجاساتو پورې اړوند چارې او تطهیر یې تعبدي چارې نه ګڼل کېږي؛ نو پردې بنسټ قیاس ورته لار نه لري.))[2]
۲. له قیاسه هغه مهال کار اخستل کېږي، چې په یوه موضوع کې هېڅ نص او روایت نه وي. شعراني ددې ګوماني ځای د لرې کولو لپاره، چې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه قیاس د نص پر وړاندې اجتهاد دی، د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له خولې وایي:
((پر الله تعالی قسم دروغ یې ویلي او پر موږ یې تور تړلي، چې موږ قیاس پر نص ړومبی ګڼو، آیا د نص په شتون کې قیاس ته اړتیا شته؟))[3]
ابن تیمیه وایي:
((څوک چې ګومان کوي، ابوحنیفه او یا د مسلمانانو له امامانو ځنې یو امام، پر قیاس د منګولو لګولو په پار یې له صحیح حدیث سره مخالفت کاوه؛ نو په باب یې تېروتي او په ګومان او یا هوی یې خبره کړې ده. ابوحنیفه په سفر کې په نبیذ د اودس کولو پر حدیث عمل کړی او له قیاس سره یې مخالفت کړی دی او همداراز په نمانځه کې یې د قهقې او کټ کټ خندا (پر مبطلتوب) عمل کړی دی او په دې باب یې هم له قیاس سره مخالفت کړی؛ ځکه له نظره یې دا دواړه حدیثونه سم دي، حال دا د احادیثو امامان دا احادیث سم نه ګڼي [او له مرسلاتو ځنې دی].))[4]
له واحد خبر او مرسل خبر سره د قیاس د ټکر په باب ابن قیم جوزي ګروهن دی:

---

[1]. وګورئ: شیخ طوسي، الخلاف ۲/۱؛ هماغه، تهذیب الاحکام ۲۱۹/۱.
[2]. هماغه سرچینه /۳۹۸ مخ.
[3]. عبدالوهاب شعرانی، المیزان الکبری ۵۱/۱.
[4]. ابن تیمیه، مجموع الفتاوی ۲۰/۳-٤

((د ابوحنیفه اصحاب پردې اجماع لري، چې د امام ابوحنیفه مذهب دا دی، پر وړاندې یې کمزوری حدیث تر رای او قیاسه غوره دی.))[1]

د امام ابوحنیفه په نزد د قیاس په کارونه کې بې له دې دوو ټولیزو قواعدو، ابوبکر سرخسي پردې ټکي د ټینګار ترڅنګ، چې امام قیاس ان د ضعیف او کمزوري حدیث پر وړاندې هم ړومبی نه ګاڼه، په دقیقه توګه، د قیاس په کارونه کې د امام شرطونه او کڅې دا ګڼي:

۱. د بل نص په شتون، اصل حکم، په هماغه اصل پورې ځانګړی نه وي؛

۲. په قیاس، په اصل پورې له اړوند حکمه لاس پر سر نشي؛

۳. د اصل لپاره، چې په شرعي نص کې کوم علت بیان شوی وي، په هماغې اصل پورې ځانګړی نه وي، چې اصل حکم هغې فرع ته ورمنسوب شي، چې نص نه رانغاړي؛

٤. تر تعلیل روسته (او فرع ته د اصل حکم سرایت او ورغځول) اصل حکم په هماغه پخواني حالت (تر تعلیل مخکې) پاتې شي؛

۵. تعلیل (فرع ته د اصل حکم ورغځول) د منصوصو الفاظو د ابطال (بدلولو) تضمینوونکی نه وي.[2]

په پای کې ددې روایت راوړل به هم ښه وي، چې شیخ مفید د "المحاسن" په کتاب کې رانقل کړی، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه به ویل:

((البول فی المسجد احیانا، احسن من بعض القیاس (المقایس): کله په جومات کې متیازې کول تر ډېرو قیاسونو غوره دي.))[3]

## ۸-۲. استحسان

د استحسان په تعریف کې فقهاء یوه خوله نه دي؛ خو د حنفیانو د رای په تعریفولو کې راغلي: ۱. " د پیاوړې وجهې په پار له قیاسه د مجتهد لاس پر سر ېدل "؛ [1] ۲. "د قیاس

---

[1]. ابن قیم الجوزیه، اعلام الموقعین، له وهبي سلیمان غاوجي، ابوحنیفه النعمان امام الائمة الفقهاء، ۱۳۹ مخ نه په نقل سره.

[2]. ابوبکر سرخسي، اصول الفقه ۱٤۹/۲-۱۵۰.

[3]. شیخ مفید، المحاسن، ۲۱۰ مخ.

پرېښوول او په اسان حکم يې اخستل "؛ [2] ۳. " د ټاکلې پېښې په باب تر ټولو پياوړي دليل غوره کول ". [3]

امام ابوحنيفه رحمة الله عليه به هم په هغو ځايونو کې، چې قياس قبيح ګانه؛ نو پر استحسان يې عمل کاوه؛ ځکه کله به قياس په ټولنيزو عادي اړيکو او معاملاتو کې له دود (عرف) سره په ټکر کې و او د ستونزو لاملېده. [4]

## ۳. په فقه کې د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ټوليز دريځونه

په فقه او عملي قواعدو کې د امام ابوحنيفه ټوليز دريځونه، چې په خپلو استنباطاتو کې يې کارول، په لاندې توګه د ډلبندۍ وړ دي:

۱. په عباداتو او معاملاتو کې اسانتيا او پراختيا: د بېلګې په توګه: د طهارت په باب کې په هره پاکه مايع له بدنه د نجاست لرې کېدل جايز ګڼي؛ ځکه په آند يې د"و ثيابک فطهر"[5] آيت مطلق دی او بې دليله يې تقييد جايز نه دی. د صيقلو څيزونو؛ لکه هنداري او تورې په باب يې يوازې مسح کول د نجاست کنګالول او د خبث لرې کونه شمېري؛ لکه څنګه چې د "بيع" په باب کې دا او زدکړيالان يې د هغه څيز پېرل، چې پېرونکي نه وي ليدلی، له پېغمبر اکرمه صلی الله عليه و آله وسلم د ځينو روايتونو په رڼا کې جايز ګڼي. [6]

۲. د دوو تکليفونو يا دوو سزاګانو نه يو ځای کول او د حنفيانو د وينا له مخې، د بېوزله او کمزوري اړخ رعايت: د بېلګې په توګه، هغه له حضرت علي کرم الله وجهه څخه د يو روايت له مخې، له ښي لاس او کيڼې پښې تر پرېکېدو روسته د غل د کيڼ لاس پرېکول جايز نه ګڼي. [7]

---

[1]. محمد ابوزهره، امام ابوحنيفه، ۳۵۰ مخ.

[2]. علي بن محمد جرجاني، التعريفات، ۸ مخ.

[3]. وهبي سليمان غاوجي، ابوحنيفه النعمان، ۱۴۰ مخ.

[4]. موفق مکي، مناقب ابي حنيفه ۸۲/۱.

[5]. مدثر /۴

[6]. وهبي، سليمان غاوجي، هماغه، ۱۵۷ مخ؛ دائرة المعارف بزرگ اسلامي، د ابوحنيفه مدخل ۳۹۵/۵.

[7]. وهبي، سليمان غاوجي، هماغه، ۱۵۸ مخ؛ دائرة المعارف بزرگ اسلامي، د ابوحنيفه مدخل ۳۹۹/۵.

۳. د شونتیا تر بریده د انسان د تصرفاتو سمونه: د بېلګې په توګه: امام تر جسمي بلوغ مخکې د عاقل ماشوم اسلام سهي او معتبر ګڼي. [1]
٤. وګړېزو آزادیو ته ارزښت ورکول: د بېلګې په توګه: د بالغې او د اهلیت خاوندې ښځې په واده کې "ولي" د ولایت او سلطې خاوند نه ګڼي. [2]
٥. دولت ته د بشپړ سیادت او واک ورکول: د بېلګې په توګه، هغه د شاړو (مواتو) په احیا (او آبادۍ) او په خاوندېدو کې یې د امام اجازه شرط ګڼي (د شیباني او ابویوسف پرخلاف). [3]

پاتې دې نشي، چې د حنفیانو په نزد "حیل " او "عرف" هم د استنباط له سرچینو شمېرل کېږي او ګروهن دي، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه به دا دوه هم د خپل استنباط سرچینې ګڼلې[4]؛ خو باید وویل شي، چې شرعي حیل (قانوني چاره لټونې) د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه تر فقهې ډېر، حنفي فقیهانو ډېر کارولی دی؛ که څه حدیثو اصحابو د"حیل" په نامه یو کتاب امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ته ورمنسوب کړی؛ خو له امامه د داسې کوم کتاب تالیف په حنفي او بې پلوه سرچینو کې تایید شوی نه دی. څه چې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د فقهې په فروعو کې موندل کېږي، د حیل د کارونې محدودې بېلګې دي، چې په واقع کې یې د فقهې ټولیزو قواعدو ته ستنېدل، له مصالحو د لاروۍ او له بندګانو د ستونزو د لرې کولو په څېر دي.

سرخسي وایي: چل هغه مهال جایز او روا دی، چې یو وګړی له حرامو وژغوري او یا یې کوم حلال ته ورسوي او هغه مهال رټلی او ناروا چار دی، چې د نورو د حق د لتاړلو او یا د باطل د حق ښوولو لپاره وکارول شي. [5]

په فقه کې د حیل کارونې پراختیا د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په زدکړیالانو او تابعانو کې غځېدلې او په دې باب ابویوسف او محمد بن حسن شیباني ځینې کتابونه

---

[1]. وهبي، سلیمان غاوجي، هماغه، ۱۵۹ مخ؛ دائرة المعارف بزرگ اسلامي، د ابوحنیفه مدخل ۳۹۵/۵.
[2]. وهبي، سلیمان غاوجي، هماغه، ۱٦۱ مخ؛ دائرة المعارف بزرگ اسلامي، د ابوحنیفه مدخل ۳۹۵/۵.
[3]. وهبي، سلیمان غاوجي، هماغه، ۱٦۲ مخ؛ دائرة المعارف بزرگ اسلامي، د ابوحنیفه مدخل ۳۹۵/۵.
[4]. هماغه سرچینه
[5]. ابوبکر سرخسي، المبسوط ۲۱۰/۳۰.

هم ليکلي دي.[1] البته له ابوسليمان جوزجاني (د شيباني زدکړيال)نقل شوي، چې هغه استاد ته د "حيل" کتاب ورمنسوبول سم نه بولي او زياتوي، چې دا کتاب روسته د بغداد ليکوالو کښلی دی.[2]

## ٤. د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د فقهې تطور- ډول ډول والی

ننی حنفي فقه په بشپړه توگه د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د واقعي څرگندونو ښکارندوی کېدای نشي. د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه اندې يې زدکړيالانو اوډون او تاليف کړې دي، او دوی هم د زماني او چاپېريال د شرايطو په پامنيوي او غوښتنو او اهل حديثو ته د ورنږدېوالي په پار او ورسره د اختلافاتو د راکمولو په پار د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه فقه اهل حديثو ته ورنږدې کړه؛ نو پردې بنسټ، ننی حنفي فقه مخکې او ډېره تر دې، چې د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د څرگندونو ښکارندوی وي، د زدکړيالانو يې؛ په تېره د ابويوسف د لېوالتياوو او اندو محصول-يېبره ده.
((امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په فقه کې ازاد اندي دودوله او هېڅکله يې هم څوک له ځانه په پټو سترگو لاروی ته نه رابلله. په هغو روايتونو کې، چې "زفر بن هذيل" له امام ابوحنيفه رحمة الله عليه څخه رانقل کړي، په ډاگه کړې يې ده، چا ته حلال نه دي، بې له دې چې د کومې فتوا ورکولو په دليل يې پوه شي، يوازې په تقليداو پټو سترگو لاروي ترې وکړي.[3] په دغسې ټينگار يې دا زده کړې خپلو اصحابو ته ورکړې وې، چې څو نسلونه روسته يې لارويان، له يوه عالمه د بل عالم تقليد بې له دې، چې د حکم له منځپانگې يې خبر شي، حرام شمېرلی دی.))[4]
د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه زدکړيالان هېڅکله د امام مقلدين نه وو او د يو مجتهد په څېر يې د دوی له سرچينو نېغه په نېغه د احکامو پر استنباط لاس پورې کاوه او په ځينو ځايونو کې يې د خپل استاد د نظر پرخلاف هم نظر ورکاوه. د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ځينو زدکړيالانو او په سر کې يې قاضي ابويوسف او شيباني، د حنفي

[1]. دائرة المعارف بزرگ اسلامي، د امام ابوحنيفه مدخل ٣٩٩/٥.
[2]. پخوانی سرچينه ٢٠٩ مخ.
[3]. ابن عبدالبر، الانتقاء من فضائل الائمة الثلاثة الفقهاء، ١٤٥ مخ.
[4]. عبدالقادر قرشي، الجواهر المضيئة ٣٤٧/١ له دائرة المعارف بزرگ اسلامي، هماغه، ٤٠٠ مخ نه په نقل سره.

فقهې له را ټولولو سره جوخت، په فقهي چارو او عقيدتي مسالو کې له "اهل حديث ښوونځي" سره خپل واټن کم کړ؛ لکه چې په سياسي اړخ کې يې هم د عباسي خلافت پر وړاندې يو منځلارى دريځ غوره کړ. دا چارې ددې لامل شوې، چې د ځينو اهل حديثو (لکه يحيى بن سعيد قطان، وکيع بن جراح، يحيى بن آدم، ابوعبيد قاسم بن سلام) دريځونه د حنفيانو او امام ابوحنيفه رحمة الله عليه پر وړاندې واړول شي.[1]

*** راټولونه**

له تېرو وينو لاس ته راځي، چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په خپلو اندو، فقهي مذهب او د خپل استنباط په دود او سرچينو کې د اهلبيتو له ښوونځي سره ډېره همغږي نه لري سره له دې، په ځينو ځايونو کې يې کړچار او اندې له عمومي اهلسنتو څنې واټن نيسي او د اهلبيتو ښوونځي ته ور نږدې کېږي.
د کتاب او سنتو په باب دې وويل شي، چې له دې بنسټيزو سرچينو د امام د استنباط دود او د احکامو د راسپړلو آرونه يې د اهلبيتو له ښوونځی سره ګډ ټکي لري او هم ځيني توپيرونه.
په قرآن کې يې "عام و خاص" او "مطلق و مقيد" ته اهتمام او پاملرنه، د اهلبيتو له مذهب سره سمون خوري؛ خو د ځينو ظواهرو تنګوالی او تضييق او له قرآن او سنتو د لاس ته راغليو احکامو په فرض او واجبو ويشل، د امام ابوحنيفه د فقهې ځانګړنې دي، چې د اهلبيتو په ښوونځي که نه ليدل کېږي.
د صحابه وو اقوالو، افعالو او همدارز د تابعينو اقوالو ته چې ګردو اهلسنتو ته منل شوې سرچينې دي، د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ګوتنيونکی ليد يې د عامو اهلسنتو له کړچاره بېلوي او د اهلبيتو ښوونځي ته يې ورنږدې کوي؛ لکه څنګه چې د اهلسنتو په نزد منل شويو راويانو ته يې ګوتنيونکی ليد(لکه حضرت ابوهريرة (رض) او نورو ته يې دريځ د اهلسنتو له عمومي بهيره لرې کړی دی او) د تشيع ښوونځي ته يې

---

[1]. ابن عبدالبر، مخکنی سرچينه، ۱۳۱-۱۳۲ مخونه؛ محمد بن جرير طبري، اختلاف الفقهاء، ۲۵-۲۷ مخونه؛ محمد بن نصر مروزي، اختلاف العلماء، ۵۷-۵۹ مخونه.

ورنږدې کړی دی. ویلو ته یې اړتیا نشته، چې په دې څو ځایونو کې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه دریځ، چې له شیعي دریځ او لیدلوري سره همغږي لري، یو ارزښتمن او استراتیژیک دریځ دی.
د اهلسنتو راویانو ته د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه گوتنیونکی لید او پر روایتونو یې سخت دریځي کول په داسې حال کې دي، چې هغه له اهلبیتو (امام باقر او امام صادق) څخه د روایتونو په اخستو کې له بېخه د سندي او رجالي نقد او کره کتنې په څېړنې پسې نه دی او موږ به په راتلونکي څېرکي کې دې موضوع ته اشاره وکړو.
بله مهمه مسله د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په فقه کې د رای یا قیاس او استحسان وینه- بحث ده. څرگنده ده، چې د اهلبیتو په ښوونځي کې په قیاس او استحسان لاس پورې کول رټل شوی چار دی او دا دواړه د اهلبیتو په فقه کې کوم ځای نه لري؛ خو د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه فقه او همداراز د مخالفانو له اخستنې سره سره او لکه څنگه چې په ځینو شیعي سرچینو کې انځور شوې، د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په فقه کې قیاس او استحسان په محدودو ځایونو کې کارونه لري. د امام ابوحنیفه لخوا د قیاس او استحسان په کارونه کې باید څو ټکي په پام کې ونیسو:
۱. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه به له رای یوازې په غیر تعبدي چارو کې، کار اخسته، او دا هم د نص په نشتون کې.
۲. په ننۍ مانا یې ډېری مرسل روایات او آحاد روایات د عمل او استنباط سرچینه کړي.
۳. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په جزیي توگه هم له قیاس او استحسانه د گټنې لپاره خپل ځانگړي موازین، کچې او قواعد درلودل.
دې ټکیو ته په پامنیوي مومو، چې له امام ابوحنیفه رحمة الله علیه نه د یو داسې وگړي انځور، چې په فقه کې یې چار"د نص پر وړاندې اجتهاد" دی، یو بې بنسټه انځور دی.
البته روښانه ده، چې ان تر همدې بریده هم له قیاسه کار اخستل د اهلبیتو امامان نه مني؛ خو هېر دې نشي، چې پر قیاس عمل، سره له دې، چې د اهلبیتو امامانو رټلی؛ خو د لومړنیو امامیه شیعه وو په فقیهانو کې دود و. ابن ابی عقیل عماني (۳٤۰ س مړ) او ابن جنید اسکافي (۳۸۱ س مړ)، چې دواړه له سترو فقهاوو او د غیبت د پېر له لومړنیو فقیهانو شمېرل کېږي او په شیعه فقهاوو کې د "قدیمین" په نامه ځانگړی مقام او

درناوی لري، دواړو پر قیاس عمل کاوه.[1] سره له دې، چې شیعیان او شیعي علماء په دې دواړو پسې نه ځي؛ خو بیا هم ځان ته اجازه نه ورکوي، چې سپکاوی یې وکړي او دا دواړه په شیعه فقهاوو کې ځانګړی مقام لري.[2] لکه څنګه چې پر قیاس د دوی عمل ددې نه لاملېږي، چې د تشیع له جرګې او د اهلبیتو له لارویانو ووځي، یوازې پر قیاس د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه عمل هم د اهلبیتو له ښوونځي سره د مخالفت پر مانا کېدای نشي او دا هم باید وویل شي، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه؛ لکه څنګه چې رارسېدلي دي، هېڅکله د قیاس په کارونه کې افراط او ښنده نه کوله، او هسې په هسې په دې اړه تورونه وربانديې لګول شوي دي.

[1]. د نجاشي رجال، ۳۸۵-۳۸۸ مخونه؛ روضات الجنات، ۱٦۸، ٥٦٦ او ۵۹۰ مخونه؛ عبدالجلیل قزویني رازي، النقض (د محدث ارموي له تعلیقاتو سره) ٤۸۸/۱؛ آیت الله العظمی خویي، معجم رجال الحدیث ۲۲/۵.
[2]. وګورئ: هماغه سرچینه؛ علامه حلي، خلاصة الاقوال فی معرفة الرجال، ٤۰ مخ؛ شهید مرتضی مطهري، آشنایي با علوم اسلامي، ۳ټوک (اصول فقه-فقه)، ۷۵ مخ.

## پینځم څپرکی

## د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له لیدلوري د اهلبیتو مقام

که څه د اهلبیتو د مرجعیت په باب د امام ابوحنیفه د لیدلوریو په باب پرله پسې - منسجم خبرونه نشته؛ خو سره له دې د ده د څرګندونو او نظریاتو له ټولګې او له اهلبیتو سره یې د اړیکو څېړنه او همداراز د سیاسي او ټولنیز کړنو او کړنلار پر بنسټ یې، تر څه بریده د اهلبیتو پر وړاندې دریځ روښانولای شو.
په دې څپرکي کې به لومړی د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه سیاسي څرګندونو ته اشاره وکړو او بیا به یې له صادقینو او علویانو سره اړیکې وشنو، چې په پایله کې به یې د اهلبیتو پر وړاندې ځینې دریځونه څرګند شي.

### ۱. د امامت مساله او د امام ابوحنیفه سیاسي نظریه

### ۱-۱. د راشده خلفاوو د غوراوي اوډون

د اسلامي فرقو د تاریخ په اوږدو کې یوه خورا حساسه مسله د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د ړومبنیو ځایناستیو مساله او د څلورګونو راشده خلفاوو پر وړاندې دریځ او د دوی د غوراوي - تفضل اوډون دی.
د دویمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې، په غیر شیعي او غیرخارجي ډلو کې د شیخینو [حضرت ابوبکر او حضرت عمر (رضی الله عنهما)] پر تفضیل ګروهه یو متداول چار و؛ خو د ختنین [حضرت عثمان (رض) او حضرت علي کرم الله وجهه] په باب نه یوازې د تفضیل له نظره د رای اختلاف و؛ بلکې هغه ډله، چې د "ړومبی مرجئه" په نامه پېژندل کېده، د دې دواړو د اصل ایمان په باب پر تمېدو قایل وو. د روستۍ ډلې

پېژندل شوي شخصيت "محارب بن دثار" د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه له شيوخو څخه دی.[1]
په دې باب د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د دريځ په باب د نظر اختلاف دی. "صميري" د عراق متقدم حنفي گروهن دی، چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه او زدکړيالانو يې ابويوسف او شيباني پر حضرت عثمان (رض) د حضرت علي کرم الله وجهه پر تفضيل گروهن وو.[2] موفق مکي هم گروهن دی، چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د خلفاوو درجه په دې اوډون گڼله، چې حضرت ابوبکر (رض) او حضرت عمر (رض) له حضرت علي کرم الله وجهه نه په مخکې درجه کې وو؛ خو حضرت علي کرم الله وجهه پر حضرت عثمان (رض) افضليت درلود.[3] مکي په خپلو مناقبو کې نقلوي، چې حماد له خپل پلاره؛ ابن عبدالبر نقل کړی، چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه وويل: " على احب الينا من عثمان: حضرت علي تر حضرت عثمانه (رض) راته گران دی "[4]. ابن عبدالبر په بل ځای کې وايي: "قال ابوحنيفه الجماعة ان تفضل ابابكر و عمر و عليا و عثمان: ابوحنيفه ويلي، چې جماعت پردې دی، چې حضرت ابوبکر او حضرت عمر (رضی الله عنهما) او بيا حضرت علي کرم الله وجهه او حضرت عثمان (رض) غوره وگڼو. "[5] ابن ابي العزيز هم وايي: " و قد روى عن ابي حنيفه تقديم على كرم الله وجهه على عثمان (رض): له امام ابوحنيفه رحمة الله عليه نقل شوي، چې حضرت علي کرم الله وجهه پر حضرت عثمان (رض) (په فضيلت کې) ړومبی دی".[6]
ملا علي قاري هروي هم د فقه الاکبر په شرح کې راوړي چې: "و روى عن ابي حنيفه تفضيل على كرم الله وجهه على عثمان (رض) "[7] داچې دا نظريه د جمهورو اهلسنتو له

---

[1]. دائرة المعارف بزرگ اسلامي، د امام ابوحنيفه مدخل ۳۸۳/۵.
[2]. حسين بن علي صميري، اخبار ابي حنيفه، ۱۳۲ مخ.
[3]. موفق مکي، مناقب ابي حنيفه ۸۳/۲.
[4]. هماغه سرچينه
[5]. ابن عبدالبر، الانتقاء من فضائل الائمة الثلاثة الفقهاء، ۱۶۳-۱٦٤ مخونه.
[6]. الحنفي، ابن ابي العزيز، شرح العقيده الطحاوية، ۵۷۰ مخ.
[7]. ملا علي قاري هروي، شرح فقه الاکبر، ۱۳۹ مخ

نظر سره مخالفه ده؛ نو قاري يې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ته د انتساب په سموالي کې ترديد کوي.[1] او پر حضرت عثمان (رض) د حضرت علي کرم الله وجهه تفضيل ان د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د زدکړيالانو په روايتونو کې هم راغلی دی. له ابويوسف نه د يو روايت له مخې، د " شيخينو د تفضل او ختنين د مينې (البته پر حضرت عثمان (رض) د حضرت علي کرم الله وجهه په تفضيل سره(" نظريه امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ته ورمنسوب شوې ده.[2] محمد بن حسن شيباني د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه بل زدکړيال هم په "السير الکبير" کې وايي: " ان نوح بن ابي مريم سال ابا حنيفه عن مذهب اهل السنة فقال: ان تفضل ابابکر و عمر و تحب عليا و عثمان[3]: نوح بن عمر امام د اهلسنت مذهب په باب وپوښت؛ امام ابوحنيفه رحمة الله عليه يې په ځواب کې وويل: [د اهلسنتو مذهب] دادی، چې حضرت ابوبکر او حضرت عمر (رضی الله عنهما) يې غوره وګڼې او له حضرت علي کرم الله وجهه او حضرت عثمان (رض) سره مينه وکړې. "

ابن شهر آشوب د حضرت علي کرم الله وجهه او حضرت عثمان (رض) په باب د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په تمېدو ګروهن دی او نقلوي، چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ويل: " څه چې د حضرت علي کرم الله وجهه او حضرت عثمان (رض) ترمنځ راپېښ شوي، الله تعالی ته دې وسپارل شي "[4] دا دريځ په واقع کې هماغه د سياسي مرجئه دريځ دی، چې د حضرت علي کرم الله وجهه او حضرت عثمان (رض) ترمنځ يې په رامنځ ته شويو شخړو کې له ورمندون ډډه کړې او قضاوت يې الله تعالی او د قيامت ورځې ته ور پرېښی او د همدې ګروهې (په ارجاء ګروهه او قيامت ته د قضاوت ځنډول) له مخې مرجئه ورته ويل شوي دي. بيا کلامي ارجاء هم تر همدې لېوالتيا لاندې رامنځ ته شوه.

احمد پاکتچي ګروهن دی، چې د حضرت علي کرم الله وجهه او حضرت عثمان (رض) په باب د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه تمېدل، د محارب بن دثار او ړومبيو

[1]. هماغه سرچينه.

[2]. ابن عبدالبر، الانتقاء من فضائل الثلاثة الائمة الفقهاء، ۱۶۱ مخ.

[3]. محمد بن حسن شيباني، السير الکبير ۱۵۸/۱.

[4]. ابن شهر آشوب، المناقب له دائرة المعارف بزرگ اسلامي، مدخل ابوحنيفه ۳۸۳/۵ مخ.

مرجئه پرخلاف د دوی په ایمان او ولایت کې نه؛ بلکې په کړو وړو کې یې تمېدنه وه"[1]؛ خو له امام ابوحنیفه رحمة الله علیه نه پر حضرت عثمان (رض) د حضرت علي کرم الله وجهه د تفضیل په باب په بېلابېلو روایتونو کې ښکاري، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ته د تمېدنې د نظریې انتسابول به بې بنسټه وي.

په هر حال امام ابوحنیفه رحمة الله علیه، حضرت علي کرم الله وجهه پخپلو ټولو جګړو کې پر حقه ګڼلی او د ده دښمنان یې باغیان شمېرلي دي. مکي نقلوي، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه وویل: "ما قاتل احد علیا الا و علی اولی بالحق منه[2]: چې څوک له علي سره جنګېدلی؛ نو علي پر حقه و."

ابن حجر حیتمي هم نقلوي، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ویلي: " ما قاتل احد علیا الا و علی اولی بالحق منه و لولا ما شاع من علی فیهم ما علم احد کیف السیرة فی قتال بغاة المسلمین[3]: څوک چې له علي سره جنګېدلي؛ نو علي بر حق و او که له مخالفینو سره د علي چلن راته رارسېدلی نه و؛ نو هېڅوک به نه پوهېدل، چې د مسلمانو باغیانو په باب سیره او کړنلار څه ده."

قاضي عبدالجبار معتزلي او شیخ مفید هم نقلوي، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د جمل د جګړې په باب ویلي دي:

" لو لا السیرة امیرالمؤمنین فی اله البغی ما کنا نعرف احکامهم: [4]که د باغیانو په باب د حضرت علي سیره نه وه؛ نو موږ به د باغیانو په باب پر احکامو نه پوهېدو."

همداراز امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د جمل د جګړې په باب وپوښتل شو، په ځواب کې یې وویل:

"سار علی فیه بالعدل و موا علم المسلمین بالسنة فی قتال اهل البغی[1]: حضرت علي د جمل په جګړه کې د عدالت له مخې چلن وکړ او له اهل بغی سره په جهاد کې یې د مسلمانانو ببرغ د سنتو له مخې پورته کړ."

---

[1]. دائرة المعارف بزرگ اسلامي، هماغه.

[2]. موفق مکي، مناقب ابي حنیفه ۱۶۰/۲.

[3]. ابن حجر حیتمي، الخیرات الحسان فی مناقب الامام االاعظم ابي حنیفه النعمان، ۸۶ مخ.

[4]. قاضي عبدالجبار، شرح اصول الخمسه، ۱۴۱ مخ؛ شیخ مفید، الجمل ۱/۱ (مجموع آثار شیخ مفید)، ۲۱ مخ.

امام ابوحنيفه رحمة الله عليه له حضرت علي كرم الله وجهه سره د حضرت زبير او حضرت طلحه (رضي الله عنهما) د چلن په باب وايي:

" لا شک ان اميرالمؤمنين عليا انما قاتل طلحة و الزبير بعد ان بايعاه و خالفاه[2]: شک نشته، چې اميرالمؤمنين علي له حضرت طلحه او حضرت زبير (رضي الله عنهما) سره تر هغه روسته وجنګېد، چې دواړو له حضرت علي كرم الله وجهه سره بيعت وکړ او بيا يې پر مخالفت لاس پورې کړ او خپل بيعت يې مات کړ. "

امام ابوحنيفه رحمة الله عليه تر حضرت علي كرم الله وجهه روسته زوی يې امام حسن مجتبی هم د خليفه او پرحق امام په نامه پېژانده. [3]

ددې ډېرو روايتونو پر وړاندې په "حنفي اهلسنت و جماعت" کې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ته په ځينو ورمنسوبو روايتونو کې د څلور ګونو خلفاوو تفضيل يې د خلافت پر ګدۍ د ناستې پر بنسټ مطرح کړی دی. [4] څرګنده ده، چې په "حنفي اهلسنت و جماعت" کې دا روايتونه د اهلسنتو د عمومي باور تر اغېز لاندې دي او امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ته "پر حضرت عثمان (رض) د حضرت علي كرم الله وجهه د تفضيل" د نظريې انتساب او په اهلسنتو کې له دوديزې ګروهې وتل ورته ګران پرېوتي دي.

پاموړ ټکی دادی، چې امام ډېره لږه د چا ستاينه کړې او بې له حضرت علي كرم الله وجهه د بل صحابي ستاينه نقل شوې ترې نه ده. نه يوازې يې په صحابه وو کې د چا ستاينه نه ده کړې؛ بلکې ځينو صحابه وو ته يې منفي ليد هم درلود، چې حضرت ابوهريرة (رض) يې يو دی؛ لکه څنګه چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په صحابه وو کې حضرت طلحه، حضرت زبير (رضي الله عنهما) او معاويه بن ابي سفيان باغي نومولي دي، چې د حضرت علي كرم الله وجهه پرخلاف جنګېدلي دي. د حضرت ابوبکر، حضرت عمر او حضرت عثمان (رضي الله عنهم) د فضايلو په باب او يا پر ويناوو او کړنو يې استناد، په تېره په سياسي چارو کې، د "حنفي اهلسنت و جماعت" په سرچينو کې هم له امام ابوحنيفه نه کوم روايت نشته. بې له هغو تاييداتو، چې

[1]. هماغه سرچينه، ۸٤ مخ.

[2]. موفق مکي، مخکنۍ سرچينه، ۸۳ مخ.

[3]. هماغه ۱۰٤/۳.

[4]. امام ابوحنيفه، الوصية، ۱٤ مخ؛ ملا علي قاري هروي، شرح فقه الاکبر، ٤ مخ.

مخکې مو اشاره ورته وکړه. حال دا امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په څرګنده د حضرت علي کرم الله وجهه له کړنو او ويناوو ملاتړ کوي او په ځينو ځايونو کې يې پر ويناوو او کړنو استناد کړی دی. بې له هغو ځايونو، چې پورته وويل شو، د عباسي خليفه؛ منصور پرخلاف د ابراهيم بن عبدالله حسني (۱٤۷ س) په پاڅون کې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ابراهيم ته وليکل:

"پر دښمن، چې برلاس شوې، له جمليانو سره دې د نيکه علي بن ابيطالب پر سيرت عمل مه کوه، چې ماتې خوړلي يې و نه وژل او د دوی مالونه يې وا نه خستل او په تښتېدلي پسې نه شو او ټپي يې له منځه يو نه وړ؛ ځکه ملاتړ ډله يې نه درلوده؛ بلکې په صفين کې دې د خپل نيکه پر سيرت عمل وکړه، چې اسيرول يې کول او ټپيان يې له منځه وړل او غنيمتونه يې وېشل؛ ځکه ددې لښکر تر شا شاميان وو او هلته اوسېدل.[1]"

دا سپارښتنه پر پورته ويل شويو خبرو سربېره، په خپله ددې ټکي ښکارندوی ده، چې په ديني ښوونو کې امام ابوحنيفه ډېری حضرت علي کرم الله وجهه د مرجع په نامه مانه او د حضرت علي سيرت يې د لاروی وړ [لازم الاتباع] سيرت په توګه اوڅاراوه.

## ۲-۱. د مشرۍ او خلافت وړ وګړي

په شيعه سياسي فرهنګ کې د اسلامي ټولنې د مشرۍ لپاره د "امامت" اصطلاح کارېږي او دا منصب د اهلبيتو ګڼل کېږي او د شرايطو په چمتوتيا کې، د جائر مشر پرخلاف راپاڅېدل هم واجب ګڼي.

پر وړاندې يې د اهلسنتو په سياسي فرهنګ کې، په دې باب د "خلافت" اصطلاح کارېږي او اهلسنت ددې ترڅنګ، چې د شيعه وو د اهلبيتو د مشرۍ ګروهه نه مني، په جائر مشر پسې راپاڅېدل هم جايز نه ګڼي او له هر مشره لاروي که څه جائر هم وي، واجب ګڼي. د "تغلب" نظريه د اهلسنتو په سياسي اندو کې د مشروعيت يو بنسټ ګڼل کېږي؛ نوځکه اهلسنتو ته د امويانو او عباسيانو د ټولو خلفاوو خلافت د منلو وړ دی او اسلامي خلافت يې بولي.

---

[1]. ابوالفرج اصفهاني، مقاتل الطالبيين، ۳۱۵ مخ.

په دې باب د امام ابوحنيفه ليدلورى د اهلسنتو له رسمي ليدلوري سره څرګند توپير لري او د شيعه وو نظريې ته خورا ور نږدې دى او امام ابوحنيفه په دې باب ددې ترڅنګ چې د "امامت" او "امام" ټکي کاروي، د شيعه وو په څېر په جائر امام پسې راپاڅېدل هم واجب ګڼي. پردې سربېره د ابن بزازي د مناقبو د وينا له مخې، امام ابوحنيفه رحمة الله عليه امامت او خلافت له حضرت فاطمې نه د حضرت علي کرم الله وجهه د اولادې حق ګاڼه او ګروهن و، چې همېرو خلفاوو يې حق غصب کړى او د اهلبيتو پر حق يې ظلم کړى و.[1]

د سعد اشعري، نوبختي او مسعودي نظريه داده، چې امام ابوحنيفه ګروهن و: له قريشو هر وګړى، چې خلک پر کتاب، سنت او عدل عمل ته راوبلي؛ نو امامت يې ثابتېږي او په "خروج" کې يې پر نورو ملګرتوب واجبېږي.[2]

ناشي اکبر د مرجئه وو د عمومي ګروهې په نامه راوړې ده، چې دوى پر مفضول د فاضل پر ړومبېوب ټينګار کاوه او په دې پسې وو، که مفضول پر امامت وټاکل شي؛ نو د امت علماوو ته په کار دي، چې د ټاکونکيو تر نهې روسته او د نهې په نه ګټورېدو کې واک ته د فاضل د رسولو لپاره جهاد وکړي.[3] که څه دا روايتونه تر څه بريده يو له بل سره توپير لري؛ خو په يو څيز کې سره ګډ دي او هغه د امامت او خلافت په باب د اهلسنتو له عمومي ګروهې د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه وتل او شيعي ليدلوري ته يې ورنږدېدل دي. د علويانو له پاڅونه ملاتړ او له امويانو او عباسيانو سره يې مخالفت (چې اشاره به ورته وشي) پخپله ددې خبرې پخلى دى، چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د اهلبيتو (لږ تر لږه پر سياسي) مرجعيت ګروهن و؛ خو د نظريې په جزيياتو کې يې ځينې ابهامات دي. د روايتونو له ټولګې دې پايلې ته ورسېداى شو، چې د امامت په باب د امام ابوحنيفه نظريه د زيديه و ګروهې ته ورنږدې کېږي؛ بلکې په دې باب د

---

[1]. ابن بزازي، مناقب ابي حنيفه ١٦/٢.

[2]. نوبختي، فرق الشيعه، ١٠ مخ؛ سعد بن عبدالله اشعري، المقالات و الفرق، ٨ مخ؛ مسعودي، مروج الذهب ٢٢٤/٣.

[3]. ناشي اکبر، مسائل الامامة، ٦٢-٦٣ مخ.

امام ابوحنیفه لیدلوری کې مې د امامت او خلافت په باب د ډېرى زیدیانو گروهه ده.[1]

## ۳_۱. د امام یا خلیفه د ټاکلو لار

امام ابوحنیفه امامت په وصایت پورې منصوص نه گاڼه، سره له دې، چې ټینگار یې کاوه، امامت د حضرت علي د ځوځات دی، په آند یې د امام ټاکلو لار دا وه، چې امام پر مسلمانانو تر واک پیدا کولو مخکې، باید له پخوا په پوره بیعت د مسلمانانو له خوا ټاکل شوی وي. د امام ابوحنیفه له لیدلوري، امامت او خلافت په وصایت او یا داچې وگړی ځان په خپله امام فرض کړي، نه ثابتېږي او نه مشروعېږي؛ که څه بیا

---

[1]. زیدیه د امامت په باب گروهن دي، چې: ۱. حضرت علي د پېغمبر اکرم (ص) د نور صحابه وو په پرتله د خلافت او د پېغمبر اکرم (ص) ځایناستی ته وړ او افضل دی؛ په عین حال کې د مفضول امامت [حضرت ابوبکر او عمر (رضی الله عنهما)] هم جایز دی. ۲. امامت د فاطمې زامنو ته ځانگړی دی. ۳. د امامت د گدۍ د سموالي او مشروعیت شرط، ځان ته ښکاره بلنه او له ظالمانو سره د جگړې لپاره وتل دي. (وگورئ: شهرستاني، الملل و النحل ۱۵۵/۱؛ ابوالحسن اشعري، مقالات والاسلامیین ۱۲۹/۱؛ ابن خلدون، مقدمه، ۱۹۷ مخ؛ ابن مرتضی، البحر الزخار ٤۰/۱).

دا گروهې په خپله زید بن علي ته هم ورمنسوب شوي دي. (هماغه سرچینه)؛ خو د امامیه وو له نظره؛ په خپله زید یو امامی مذهبی و او د امام باقر او امام صادق امامت ته د لاري چارې د چمتو کولو لپاره یې پاڅون وکړ او پاڅون یې د دوی په خوښه او اجازه ترسره کېده. د زید بن علي لخوا د حضرت ابوبکر او حضرت عمر (رضی الله عنهما) د خلافت سپارښتنه، د ځینو علماوو په آند، رښتیونی گروهه یې نه و او ددې لپاره یې دا څرگندونه کوله، چې له اهلسنتو هغه کسان له ځان سره وساتي، چې یې پاڅون ورسره کړی و. (وگورئ: علامه مجلسي، بحارالانوار ۱٦۹/٤٦؛ شیخ صدوق، عیون اخبار الرضا ۲٤۸/۱-۲۵۳؛ آیت الله خویي، معجم رجال الحدیث ۳٤۵/۷-۳۵۷؛ ابوالقاسم الخزاز، کفایة الاثر، ۲۹۵-۳۰۲)

د زیدیه گروهې او همداراز د امام ابوحنیفه (ره) په باب یو ټکی دادی، چې له حضرت فاطمې نه د حضرت علي په اولاده کې د امامت ځانگړتوب، د شیخینو د خلافت له سپارښتنې سره په ټکر کې دی. زیدیانو دا ستونزه داسې هواره کړې ده، چې د شیخینو خلافت یوه استثناء گڼل کېږي. (وگورئ: اشواق احمد مهدي غلیس، التجدید فی فکر الامامة عند الزیدیة، ۵٦ مخ)

د یادودنې وړ ده، چې د امامت او خلافت په باب د ټولو زیدیانو گروهه یو شان نه ده او یو له بل سره اړپیچونه -اختلافات لري، چې دلته یې ویل ناشوني دي.

مسلمانان لاروي ترې وکړي او له خلافته يې خوښ وي؛ ځکه خلافت بايد واک ته تر ور رسېدو مخکې، د پخواني ازاد اختيار له مخې لاس ته راغلی وي. [1]

## ۲. له امام محمد باقر رحمة الله عليه سره د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه اړيکې

په ډېری شيعي او سني سرچينو کې امام باقر رحمة الله عليه د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د استاد په نامه اوڅار دی. [2] له امام باقر نه د امام ابوحنيفه روايتونه ځای د امام ابوحنيفه د روايتونو په مسانېدو کې ليدل کېږي. [3] په سرچينو کې راغلي، چې له اهلبيتو امام باقر رحمة الله عليه لومړی تن و، چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه علم ترې زده کړی دی. [4] ابن حجر حيتمي له اهلبيتو درې تنه د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه استادان ښيي: امام باقر، امام صادق او زيد بن علي. [5]

لکه څنګه چې وويل شول، د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه مهم او اصلي استاد حماد بن ابي سليمان و. په ځينوسرچينو کې راغلي، چې حماد او همداراز حفص بن غياث نخعي د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه نور استادان وو، چې د امام باقر له اصحابو ځنې وو. [6]

که څه امام باقر په مدينه کې او امام ابوحنيفه په عراق کې اوسېده؛ خو په ډېری سرچينو کې راغلي، چې د مدينې له علماوو د علم د زده کړې په موخه امام ابوحنيفه دې ښار ته خورا سفرونه کړي دي. ظاهرا په يوه سفر کې امام ابوحنيفه دوه کاله په مدينه کې مېشت شو او په دې باب يې مشهوره غونډله "لولا السنتان لهلک النعمان"

---

[1]. ابن بزازي، مناقب ابي حنيفه، ۱٦ مخ؛ لکه څنګه چې څرګنده ده د امام ابوحنيفه (ره) دا ليدلوری هم د ډېری زيديانو د ليدلوريو په څېر دی. (وګورئ: احمد شوقي ابراهيم عمرجي، الحياة السياسة الفکرية للزيدية فی المشرق الاسلامي، ۹۴ مخ؛ قاضي اسماعيل بن علي اکوع، الزيدية نشاتها و معتقداتها، ٤۸ مخ)

[2]. رجال الطوسي، ۳۲۵ مخ؛ فضل هاشم جاحظ، رسائل، ۱۰٦.

[3]. ابويوسف، الآثار، ۳٤-۱۲٤؛ ابوالمؤيد خوارزمي، جامع مسانيد ابي حنيفه ۳۸۸/۱.

۲. موفق مکي، مناقب ابي حنيفه؛ ابن بزازي، هماغه.

[4]. ابن حجر حيتمي، الخيرات الحسان، ۷٤، ۹۳، ۱۲۱ مخونه.

[6]. شيخ طوسي، رجال، ۱۸۱، ۱۷۵، ٤۷۱؛ خضري بک، تاريخ التشريع الاسلامي، ۸٦ مخ.

ددې ښکارندوی ده، چې امام ابوحنیفه له امام باقر خورا علمي ګټنه کړې ده. آلوسي وايي: " هذا ابوحنيفه و هومن اهلسنة يفتخر و يقول بافصح لسان: لو لا السنتان لهلک النعمان "[1]. (البته دا غونډله يې له امام ابوحنيفه د امام صادق په باب رانقل کړې ده.(
آيت الله واعظ زاده خراساني پخپله يوه وينا کې وايي: امام باقر ته په مدينه کې د تبليغ او خپلو ښوونو او اندو د خپرولو زمينه چمتو نه وه او پر منبر يې ازادې خبرې کولای نه شوې؛ خو امام ابوحنيفه به په کوفه کې دامام باقر د اندو خپرولو لپاره زمينه چمتو کوله، چې امام باقر د کوفې د جوماتونو پر ممبرونو خپلې اندې او د اهلبيتود ښوونځي ښوونې خلکو ته ورسوې.
البته داسې يو څرګند روايت مو و نه موند، چې دا خبره ډانګپيلې کړي او کېدای شي د خراساني دا خبره له امام باقر سره د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه له اړيکو د خپلې اخستنې پر بنسټ وي.
امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په کوفه کې غوره ټولنيز موقعيت درلود او نه يوازې د دې ښار پياوړی فقيه او د فقيهانو مخکښ و؛ بلکې پياوړی متکلم هم و او په حقيقت کې د کوفې انديز او فرهنګي نبض يې په لاس کې و. دا احتمال شته، چې امام ابوحنيفه له دې موقعيته ګټنه کړې وي او د امام باقر لپاره يې لاره چاره چمتو کړې وي.
په حنفي متاخرو سرچينو کې هم د امام باقر، امام صادق او امام ابوحنيفه اړيکې دوستانه ښوول شوې او ترمنځ يې د اړېيچ په باب کوم مطلب نشته. د اهلسنتو په معاصرو څېړونکيو کې، يو شمېر يې؛ لکه امام محمد ابوزهره له امام باقر او امام ابوحنيفه نه د روايتونو او د دوی د خبرو په رانقلولو هڅه کوي، چې د دواړو اړيکې دوستانه وښيي او ګروهن دی، چې امام ابوحنيفه له امام باقر نه زده کړې کړي او تشيع ته پکې پياوړې لېوالتياوې وې.[2]

## ۳. د امام صادق رحمة الله عليه او امام ابوحنيفه رحمة الله عليه اړيکې

په شيعي او سني سرچينو کې راغلي، چې امام ابوحنيفه د امام صادق د وګړې-شخصيت او علمي مقام تر اغيز لاندې و او په دې باب يې ويل: " والله ما رايت افقه

[1]. اخستل شوی دی له: شاه ولي الله دهلوي، التحفة الاثناعشرية، ۸ مخ.
[2]. محمد ابوزهره، مخکېنی سرچينه، ۵۲-۴۹ او ۷۲-۷۳ مخونه.

من جعفر بن محمد الصادق. "[1] پر شیعي سرچینو سربېره ډېرى د اهلسنتو سرچینو هم امام صادق د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه یو له استادانو څنې گڼي.[2]

ابوزهره د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه دا جمله "لو لا السنتان لهلک النعمان" د امام صادق په باب گڼي، وايي: احتمالاً دا دوه کاله هماغه وي، چې امام ابوحنیفه له ابن هبیره نه حجاز ته مهاجرت وکړ او په حجاز کې یې دوه کاله له امام صادق سره زدکړیالي وکړه.[3] د ځینو روایتونو له مخې " د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه مور څه موده د امام صادق په نکاح کې وه. "[4] البته ځینود امام ابوحنیفه پر ځای ابوالبختري قرشي راوړی دی.[5]

ډېرى حنفي روایتونه او کتابونه هم وايي، چې د امام ابوحنیفه او امام صادق ترمنځ دوستانه اړیکې وې. د امام ابوحنیفه په جامع المسانید کې راغلي، چې: یوه ورځ د حج په مراسمو کې امام ابوحنیفه، امام صادق ته راغی او امام صادق روغ بړ ورسره وکړ او د ده او د ده د کورنۍ په باب یې وپوښتل. یو وپوښتل: یابن رسول الله! دا سړی پېژنې؟امام صادق وویل: زه یې حال، احوال او کورنۍ پوښتم او ته وايې، پېژنې یې که نه؟ دا ابوحنیفه د خپل ښار پیاوړی فقیه دی.[6]

د یوه بل روایت له مخې، یو سړی امام ابوحنیفه ته راغی، و یې ویل: نذر مې کړی، چې څه پیسې یو عادل امام ته ورکړم، وړاندیز دې څوک دی؟ امام ابوحنیفه رحمة الله

---

[1]. مصطفی الشکعه، مخکېنۍ سرچینه، ۵۷ مخ.

[2]. شاه ولي الله دهلوي، تحفة الاثناعشریة، ۸ مخ؛ عمر بن بحر الجاحظ، رسائل الجاحظ، (سندوبي)، ۱۰٦ مخ؛ ابن حجر حیتمي، الصواعق المحرقة، ۱۲۰ مخ؛ ابوالعباس احمد بن یوسف الفرماني، اخبار الدول و آثار الاول، له داود الهامي، امامان اهلبیت در گفتار اهلسنت، ۳٦٤ مخ؛ احمد حسن الباقوري، علی امام الائمه، ٤۸ مخ؛ میر شمس الدین محمد سامي الارنبوري الرومیو، قاموس الاعلام ۱۸۲۱/۳؛ محمد ابوزهره، امام ابوحنیفه حیاته و عصره – آراوه و فقه، ۷۲ مخ؛ هماغه، الامام الصادق حیاته و عصره-آراوه وفقه، ۳۱ مخ.

[3]. ابوزهره، الامام الصادق، ۳۱ مخ.

[4]. ابن شهر آشوب، مناقب آل ابیطالب ۲٤۸/٤.

[5]. دائرة المعارف بزرگ اسلامي، هماغه، ۳۸٦ مخ.

[6]. ابوالمؤید خوارزمي، جامع مسانید ابي حنیفه ۳۷٦/۲.

علیه وویل: که غواړې عادل امام وپېژنې او خپل مال دې ورکړې؛ نو نذر دې جعفر بن محمد ته ورکړه.[1]

ابوالقاسم بغار هم د امام ابوحنیفه او امام صادق د اړیکو په باب رانقلوي:

"حسین بن زیاد روایت کړی، چې امام ابوحنیفه ددې پوښتنې په ځواب کې، چې وپوښتل شو، تر اوسه دې تر ټولو فقیه څوک لیدلی دی؟ وویل: جعفر بن محمد او دا هغه مهال و، چې منصور په ما پسې یو څوک راولېږه او و یې ویل: ابوحنیفه! خلک پر جعفر بن محمد راټول او ور لېوال شوي دي؛ نو ځینې ستونزمنې چارې راټولې او و یې پوښته (چې له ځوابه یې عاجز او د امام صادق محبوبیت راټیټ شي) څلوېښت مسلې مې چمتو کړې او بیا په حیره کې منصور ته ولاړم. منصور له مخکې امام صادق راغوښتی و او په غونډه کې ناست و، چې پر جعفر بن محمد مې سترګې ولګېدې؛ نو پرتم یې دومره راباندې کېناسته، چې د منصور راباندې ناست نه و. سلام مې وکړ او منصور اشاره وکړه، چې کېنم. بیا یې جعفر بن محمد ته، و ویل: ابا عبدالله! دا ابوحنیفه دی!هغه وویل: هو! پېژنم یې. منصور راته وویل: مسلې دې له اباعبدالله وپوښته. ما یوه یوه ترې وپوښته او ځواب یې راکاوه او ویل یې: په دې باب ستاسې نظر (د عراقیانو او اهل رای) داسې دی او د مدینه والو (اهل حدیثو) داسې دی او زموږ نظر هم دادی. په دې مسلو کې کېدای شي له تاسې او یا له مدینه والو سره هم نظره ووسو او کېدای شي له دواړو ډلو سره مخالف او خپلواک نظر ولرو تر دې چې څلوېښت واړه پوښتنې مې پای ته ورسېدې او یوه یې هم بې ځوابه پرېنښووله. بیا امام ابوحنیفه رحمة الله علیه وویل: " الیس اعلم الناس اعلمهم باختلاف الناس: آیا تر ټولو پوه یې د خلکو پر اختلاف تر ټولو پوه نه دی؟"[2]

ځینو معاصرو اهلسنتو لیکوالانو هم د امام صادق او امام ابوحنیفه دوستانه اړیکې منلې او تر څنګ یې ویلي، دا چې دواړه د عمر له نظره یو شان ول؛ نو په دقیق مانا یې د استادۍ او شاګردۍ اړیکه نه درلوده؛ بلکې دا اړیکې یې د معرفت او د علم د راکړې

---

[1]. محمد تقي مدرسي، امامان شیعه و جنبش های مکتبي، ۱۰۰ مخ.

[2]. ابن شهر آشوب، مخکېنۍ سرچینه، ۳۷۸ مخ.

ورکړې په ډګر کې وې. [۱]؛ خو امام ابوزهره وايي: " علماوو امام جعفر صادق د امام ابوحنیفه له استادانو څنې شمېرلی که څه دواړه همزولي وو. "[۲]

په بل روایت کې راغلي دي:

"امام ابوحنیفه د امام صادق د کور مخې ته راغی، امام صادق کونټۍ په لاس له کوره را ووت،. امام ابوحنیفه امام صادق ته وویل: ابا عبدالله! دا کونټۍ څه ده؟ عمر دې هومره نه دی، چې کونټۍ ته اړتیا ولرې. امام صادق وویل: هو! خو دا د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم کونټۍ ده او تبرک پرې کوم. امام ابوحنیفه وویل: که پوهېدم، چې دا د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم کونټۍ ده؛ نو پاڅېدم او ښکل کړې به مې وای. امام صادق وویل: سبحان الله! د امام ابوحنیفه پر مټ لاس راښکود، ورته یې ویل: نعمانه! پوهېږې چې دا [وېښته مې] د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وېښته او دا [پوټکی] مې د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم پوټکی دی؛ نو ولې دې ښکل نه کړل؟ امام ابوحنیفه ټيټ شو، چې د امام صادق لاس ښکل کړي او لاس یې له لستوڼې را وکېښ، د امام صادق لاس ته یې زور ورکړ او د امام کور ته ورننووت. "[۳]

په بل روایت کې راغلي دي:

" امام ابوحنیفه امام صادق ته وویل: ځار دې شم! یو حدیث راته وویاست، چې درنه یې روایت کړم. امام صادق ورته وویل: پلرونو مې له رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم څخه روایت کړی، ویلي یې دي: " الله تعالی زما د اهلبیتو میثاق او طینت له اعلی علیینه واخست او زموږ د شیعیانو طینت یې له دې واخست او که څمکوال او اسمانوال کوښښ وکړي، چې له دې حقیقته څه بدل کړي؛ نو نه یې شي کولای او تردې روسته امام ابوحنیفه او یارانو یې خورا وژړل. "[٤]

په بل روایت کې راغلي دي:

---

۱. محمد رئوف توکلي، چهار امام اهلسنت و جماعت، ۱۸ مخ.

۲. محمد ابوزهره، مخکېنۍسرچینه، ۷۳ مخ.

۳. علامه مجلسي، بحارالانوار ۱۰ ټوک، ۱۳ باب، ۲۳ حدیث، ۲۲۲ مخ.

٤. هماغه سرچینه، اتم حدیث (۲۰٤ مخ)؛ شیخ مفید، الاختصاص، ۱۸۹ مخ؛ قاضي نعمان مغربي، دعائم الاسلام۱/۹۵

" امام صادق، چې عراق ته راغی؛ نو "حیره" ته ولاړ او امام ابوحنیفه ورغی او د څو مسلو په باب یې وپوښت، چې څنې یې دا وې: ځار مو شم! "په نېکیو امر" څه دی؟ امام صادق ورته وویل: نېکي په اسمان او ځمکه کې نېکي وي او هغه امیرالمؤمنین علي بن ابیطالب دی. بیا امام ابوحنیفه رحمة الله علیه وویل: ځار مو شم! بدي څه ده؟ امام صادق وویل: چا چې ظلم پرې وکړ او د هغه حق یې په زور واخست. بیا امام ابوحنیفه وویل: داچې څوک پر گناه بوخت وي او منع یې کړې، څه دي؟ امام صادق وویل: دا پر نېکیو امر او له بدیو منع نه؛ بلکې یو خیر دی، چې نوموړی وگړي ته وروړاندې کېږي. بیا امام ابوحنیفه وویل: ځار دې شم! د "ثم لتسئلن یومئذ عن العیم [1]" د آیت تفسیر څه دی؟ امام صادق ورته وویل: ستا په آند، څه دی؟ امام ابوحنیفه وویل: امنیت، بدني روغتیا او اوسنی ځواک. امام صادق وویل: "نعیم" موږ یو؛ هغه چې الله تعالی خلک زموږ له لارې له بې لارېتوبه خلاص کړي او په زموږ یې خلک له ړوندتوبه بینا او سترگور کړي او په موږ یې له ناپوهی پوه کړي دي. امام ابوحنیفه وویل: ځار دې شم، څنگه قرآن تل نوی دی؟ امام صادق وویل: داچې قرآن راته بې له یوې زمانې بلې زمانې ته نه دی، چې د وخت په تېرېدو زوړ شي، که داسې وای؛ نو قرآن به د نړۍ تر فنا کېدو مخکې فاني کېده. "[2]

قاضي نعمان مغربي وایي:

"ابوعبدالله جعفر بن محمد او اصحابو یې، داچې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه او عراقي اصحاب یې تشیع ته د نږدېوالي له لامله نه ردول؛ ځکه دوی په عراق کې د [حضرت علي] له اصحابو دیني زده کړې کړې وې؛ نوځکه امام صادق او یاران یې هیلمن وو، چې امام ابوحنیفه او اصحاب به یې حق ته راستانه شي. "[3]

آیت الله واعظ زاده خراساني وایي: " زما په گروهه دوی [د اهلسنتو څلورگوني امامان] له سیاسي پلوه شیعه وو؛ ځکه گروهن وو، چې خلیفه باید له آل علي وي او ددې عقیدې په لار کې یې خورا هلې ځلې وکړې. په دوی کې یوه هم له خلافته ملاتړ نه کاوه. دا باید خلکو ته ووایو. زما په عقیده، داچې مذهب یې پاتې دی؛ د

---

[1]. تکاثر /۸

[2]. علامه مجلسي، بحارالانوار ۱۳/۱۰ باب، لسم حدیث (۲۰۸-۲۰۹ مخونه)

[3]. قاضي نعمان المغربي، دعائم الاسلام ۹۵/۱.

حکومتونو پر وړاندې يې همدا ولسي اړخ دی. ډېرې هلې ځلې وشوې، چې امام ابوحنيفه د منصور د حکومت د قضاوت، سترې محمکې او دارالافتا منصب ومني؛ خو و يې نه مانه. دا سمه نه ده، چې پر منبرونو وویاست، امام ابوحنيفه رحمة الله علیه يې ځکه اوڅار کړ، چې د امام صادق پر وړاندې خپله هڅې پرانځي يا داچې له حکومته به يې پيسې اخستې. امام ابوحنيفه رحمة الله علیه تل د امام صادق او اهلبيتو درناوی کاوه او امام ابوحنيفه په خپله شتمن و او عباسيانو ته يې په ښه سترګه نه کتل.... "[1]

## ٤. امام ابوحنيفه رحمة الله عليه او علويان

### ٤-١ له امويانو او عباسيانو سره يې مخالفت او له علويانو سره يې ملګرتوب:

د امام ابوحنيفه د سياسي ليدلوري له دې څرګندېږي، چې له اموي او عباسي حکومتونو سره مخالف، او د وخت د حکومتونو پرخلاف يې د علويانو له پاڅونونو ملاتړ کاوه.

داچې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه اموي او عباسي واکمنۍ مشروع نه ګڼلې؛ هېڅکله چمتو نشو، چې له دې حکومتونو سره د همکارۍ بلنه و مني. ابن هبيره په عراق د اموي مروان يو چارواکي له امام ابوحنيفه رحمة الله عليه سره خبرې وکړې، چې د کوفې د قضاوت چارې سمبال کړي؛ خو امام ابوحنيفه رحمة الله عليه له دې امره سرغړونه وکړه او له لامله يې ابن هبيره، امام ابوحنيفه رحمة الله عليه يوسل او لس کوړې وواهه (يوولس ورځې يې هره ورځ لس کوړې واهه)؛ خو بيا هم امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د قضاوت منصب و نه مانه. [2]

په ځينو روايتونو کې راغلي، چې ابن هبيره غوښتل، چې د بيت المال د سمبالونې چارې امام ورکړي؛ خو امام ورسره و نه منله او ابن هبيره ددې سرغړونې له لامله په کوړو وواهه. ويل شوي، چې کله به امام احمد حنبل رحمة الله عليه ته د امام ابوحنيفه

---

[1]. له آيت الله واعظ زاده خراساني سره د هفت آسمان فصلنامې مرکه. دريم کال نهمه او لسمه ګڼه ۲۹-۳۹ مخونه، ۱۳۸۰ پسرلی او دوبی.

[2]. خطيب بغدادي، مخکې سرچينه، ۳۲۶-۳۲۷ مخونه.

رحمة الله علیه د قضاوت د منصب وړاندیز وریاد شو؛ نو ژړل یې او دا هغه مهال وو، چې امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه هم په کوړو وهل شوی و.[1]
پر امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د ابن هبیره د دباو زیادښت ددې لامل شو، چې امام کوفه پرېږدي او مکې ته ولاړ شي او دوه کاله د امویانو له واکمنۍ لرې تېر کړي.[2]
د عباسیانو تر بري روسته، چې سفاح واکمن شو؛ نو امام کوفې ته راستون شو[3] او د عباسیانو په باب هم تقریبا ټولې سرچینې یوه خوله دي، چې امام د عباسیانو خلافت نه مانه او هېڅکله یې له سفاح او منصور سره بیعت و نه کړ.
خطیب بغدادي لیکي: ابوجعفر منصور (عباسي) امام ابوحنیفه بغداد ته راوغوښت، چې د قضاوت منصب ورکړي او په دې خبره یې خورا ټینګار هم وکړ؛ خو امام ابوحنیفه رحمة الله علیه و نه مانه بیا منصور حکم وکړ، چې بندي یې کړئ او تردې روسته یې څو ځل له زندانه منصور ته راوست او منصور بیا هم د قضاوت د منصب منلو وړاندیز ورته وکړ؛ خو امام بیخي ورسره و نه منله.[4]داچې منصور ټینګار کاوه، چې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه پښه د خپل حکومت قضایي چارو ته راکاږي، کېدای شي د سیاسي مخینې له لامله یې وي. "[5] منصور پوهېده، چې امام له پیله د امویانو او عباسیانو پر ضد له پاڅونونو ملاتړ کاوه او دربار ته یې د امام د پښې په راکاږولو تر څارنې لاندې نیوه. د قضاوت د منصب وړاندیز، چې ګټور نه شو؛ نو بندي یې کړ او ویل کېږي، چې په پای کې یې مسموم هم کړ؛ ځکه د امام د ژوند په روستیو ورځو کې منصور بغداد ته راوغوښت او بندي یې کړ او څو ورځې روسته امام په بند کې وفات شو (رحمة الله علیه). زفر بن هذیل (د امام زدکړیال) ویل، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ته یې په بند کې زهر ورکړل.[6]

---

[1]. هماغه سرچینه /۳۲۷ مخ.
[2]. هماغه.
[3]. هماغه سرچینه.
[4]. خطیب بغدا دي، هماغه سرچینه، ۳۲۷-۳۳۰ مخونه. ابن بزازي، مناقب ابي حنیفه ۱۵/۲.
[5]. خطیب بغدادي، هماغه سرچینه، ۳۸۱ مخ.
[6]. هماغه سرچینه، ۳۲۹-۳۳۰ مخونه.

امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د امویانو او عباسیانو پرخلاف د علویانو له پاڅونونو په کلکه ملاتړ کاوه، له علویانو سره د امام د اړیکو او له پاڅونونو یې د امام د مالي او تبلیغاتي ملاتړ په اړه خبرې کوو:

## ۲-٤. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه او زید بن علي رحمة الله علیه

امام ابوحنیفه رحمة الله علیه یې د زید بن علي د پاڅون له اصلي ملاتړو ګڼلی؛ البته د زید بن علي او امام اړیکې یوازې له سیاسي اړیکو ور هاخوا ژور علمي اړخ هم درلود. زید بن علي په ډېرو شیعي او سني سرچینو کې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له استادانو څخه مطرح دی او په ځینو روایتونو کې راغلي، چې په حجاز کې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د دوو کالو د مېشتېدو په موده کې یې له زید بن علي سره زدکړیالي هم کړې ده. [1]

ځینو روایتونو له زید بن علي سره د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه دوه کلنه زدکړیالي کمزورې ښوولې او ویلي یې دي، چې دا زدکړیالي خپره وره وه. [2] په هر حال، اړنګ نشته، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د زید بن علي زدکړیال و او په خپله امام ابوحنیفه د زید د علم، فقهې، حاضر ځوابی، ښکلې وینا او قناعتي ځواک ستاینه کړې ده. [3]

ابوزهره وایي: " امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د عباسیانو په باب تر هغې څه و نه ویل، چې د علي زامن د عباسیانو پر وړاندې راپاڅېدل او ترمنځ یې شخړه شوه. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د علي د ځوځات مینوال و او په اړه یې ځانګړی تعصب درلود او سرښندنې یې ورته کولې، په تېره د نفس زکیه، او د رور یې ابراهیم د پاڅونونو پر مهال، چې امام یې له پلرونو سره کوټلې علمي اړیکه درلوده او د امام له شیوخو ګڼل کېدل. [4]

---

[1]. ابن حجر حیتمي، الخیرات الحسان فی مناقب الامام اعظم ابي حنیفه النعمان، ۸٦ مخ؛ مصطفی الشکعه، الائمة الاربعه، ۵۲-۵٤ مخونه. محمد ابوزهره، امام ابوحنیفه، ۷۰ مخ.

[2]. هماغه سرچینه.

[3]. مصطفی الشکعه، هماغه سرچینه، ۵٤ مخ؛ محمد ابو زهره، هماغه سرچینه /۳۹ مخ.

[4]. محمد ابوزهره، هماغه سرچینه.

ابن بزازي په خپلو مناقبو کې وايي:
"چې کله زيد بن علي زين العابدين پر ۱۲۱ هجري کال په هشام بن عبدالمالک پسې راپاڅېد؛ امام ابوحنيفه رحمة الله عليه يې په هکله وويل: ضاهي خروجه خروج جده رسول الله يوم البدر: پاڅون يې د خپل نيکه په څېر د بدر د ورځې پاڅون دی.[۱] "
امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ته يې وويل: ولې پخپله ورسره پانځېدې؟په ځواب کې يې وويل: ځکه د خلکو امانتونه راسره دي؛ نو بدرگه مې ورسره و نشوه کړای، دا امانتونه مې ابن ليلي ته ورکول؛ خو وا يې نه خستل؛ نو ووېرېدم، هسې نه جاهلانه و مرم.
بل روايت دا دی، د زيد بن علي په پوځي پاڅون کې د امام ابوحنيفه د نه گډون په باب راغلي دي:
"که ډاډمن وای، چې خلک يې ملاتړ کوي او يوازې به يې نه پرېږدي؛ لکه څنگه يې چې د هغه پلار ځان ته پرېښود؛ نو هرومرو به مې جهاد ورسره کړی وای؛ ځکه هغه پر حقه امام دی؛ خو اوس يې په خپله شتمنۍ ملاتړ کوم. "[۲]
په بېلابېلو سرچينو کې راغلي، چې ترديې روسته امام ابوحنيفه رحمة الله عليه لس زره درهم زيد بن علي ته ولېږل او خپل استازي ته يې [چې ظاهراً فضيل بن زبير و] وويل: "عذر مې زيد ته ووايه. "[۳]
ابوالفرج اصفهاني، چې په خپله اموي ځوځاتی؛ خو علوي گروهی دی[٤]، په دې باب د فضل بن زبير له خولې ليکي: " امام ابوحنيفه رحمة الله عليه راته وويل: له فقهاوو چا د زيد بن علي ملگرتوب کړی دی؟ ومې ويل: سليمة بن کهيل، يزيد بن ابی زياد، هارون بن سعد، هاشم بن بريد، ابوهاشم رماني او حجاج بن دينار. امام ابوحنيفه رحمة الله عليه وويل: زيد ته ووايه، چې ما د دښمنانو پرخلاف ستا د جهاد پياوړتيا ته ځينې امکانات ځانگړي کړي او ته او ملگري دې کولای شئ، جنگي وزلې او وسله پرې

---

[۱]. هماغه سرچينه.
[۲]. هماغه سرچينه.
[۳]. ابوالفرج اصفهاني، مقاتل الطالبيين، ۱٤۱ مخ.
[٤]. رسول جعفريان، مقالات تاريخي، دفتر هشتم، ٤٥ مخ.

وپیرئ. فضیل وایي: بیا یې په پام کې نیول شوې مرسته راکړه، چې زید ته یې ورکړم او زید هم رانه واخسته."[1]

## ۳-٤. له نفس زکیه او ابراهیم بن عبدالله سره د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه اړیکې

محمد بن عبدالله بن حسن بن علي ابیطالب پر "نفس زکیه" مشهور پر ۱٤٥ هجري کال په مدینه کې د منصور عباسي پرخلاف پاڅون وکړ. "نفس زکیه" خپل رور ابراهیم بن عبدالله بن حسن بصرې ته ولېږه، چې خلک او شیعیان یې مرستې ته راوبلي.

د عراق ځینو فقهاوو د نفس زکیه او ابراهیم بلنې ته مثبت ځواب ورکړ، چې له دوی ځنې د عباد بن عوام، یزید بن هارون، میثم بن بشیر، شعبة بن حجاب او امام ابوحنیفه رحمة الله علیه نامې اخستای شو. په دوی کې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه تر ټولو جدي فقیه و، چې له نفس زکیه او ابراهیم څخه په ملاتړ کې یې له خپله نفوذه خورا کار واخست. خلک یې د ابراهیم ملگرتوب ته راوهڅول او په یوه لیک کې یې ابراهیم ته بلنه ورکړه، چې کوفې ته راشي، چې ډېره مرسته درسره وکړو.[2]

خطیب بغدادي روایتوي:

"ابواسحاق فرازي ویلي، چې له عراقه مې د رور د مرگ خبر راورسېد (چې له ابراهیم بن عبدالله طالبي سره یې پاڅون کړی و) کوفې ته راغلم او خبر راورسېد، چې مړ شوی او له سفیان ثوري سره یې [له ابراهیم بن عبدالله سره د پاڅون په باب] مشوره کړې وه. سفیان ثوري ته ورغلم او د خپل رور د وژنې خبره مې ورته وکړه او و مې پوښت، چې آیا له ابراهیم سره یې د پاڅون په باب استفتا در نه کړې وه؟ و یې ویل: هو! ورته مې وویل: څه فتوا دې ورکړه؟ و یې ویل: له پاڅونه مې منع کړ. بیا امام ابو حنیفه ته ورغلم او مې پوښت، چې آیا له تا یې استفتا کړې وه؟ و یې ویل: هو! ومې ویل: څه فتوا دې ورکړې وه؟ و یې ویل: د پاڅون فتوا مې ورکړې وه. بیا مې ورته

---

[1]. ابوالفرج اصفهاني، هماغه سرچینه.

[2]. هماغه سرچینه، ۲٤۰-۲٤۳ مخونه؛ خطیب بغدادي، مخکېنۍ سرچینه، ۳۲۹ مخونه

وويل: الله تعالی دې خیر نه درکوي. [امام] وويل: دا [د ابراهیم بن عبدالله د پاڅون تایید او خوښول] زما نظر دی. بیا مې د ده د نظر د رد لپاره له رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم څخه یو حدیث رانقل کړ. امام راته وويل: دا بې اعتباره حدیث دی. [1]
زفر بن هذيل [د امام ابوحنیفه زدکړیال] وايي:
" امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د ابراهیم له پاڅونه په ملاتړ کې خپل غږ پورته کړ او فتوا يې ورکړه، چې خلک دې پاڅون ورسره وکړي.
زیاتوي: امام ابوحنیفه او مسعر بن کدام، ابراهیم ته ولیکل، چې کوفې ته دې راشي او ژمنه ورسره کوي، چې ملگرتوب به يې کوي او خلک به يې مرستې ته هڅوي. په دې باب مرجئه پر امام ابوحنیفه رحمة الله علیه او مسعر بن کدام نیوکې کولې. "[2]
ابو الفرج اصفهاني نقلوي:
"ابواسحاق فرازي وايي: امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ته ورغلم او نیوکه مې پرې وکړه، و مې ويل: له خدایه نه ډارېږې، چې زما رور ته دې له ابراهیم سره د پاڅون فتوا ورکړه، چې ومړ؟امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په ځواب کې وويل: د رور وژل کېدل دې په بدر کې له وژل کېدو سره برابر دي او د ابراهیم تر څنگ يې شهادت تر ژونده غوره دی. فرازي زیاتوي، چې ومې پوښتل: نو ولې په خپله ولاړ نه شوې؟ امام وويل: د خلکو امانتونه راسره وو. "[3]
ابراهیم بن سوید حنفي وايي:
"د ابراهیم د پاڅون پر مهال امام ابوحنیفه رحمة الله علیه مې مېلمه و، و مې پوښت: تر فرضي حج روسته له دې وگړي سره پاڅون غوره دی که مستحب حج؟ امام ابوحنیفه رحمة الله علیه وويل: تر حجة الاسلام روسته یو جهاد تر پنځوسو [مستحبي] حجونو غوره دی. [4]
همداراز ابراهیم بن سوید روایتوي:

---

[1]. خطیب بغدادي، مخکېنۍ سرچینه، ۳۹۷-۳۹۸.
[2]. ابوالفرج اصفهانی مخکېنۍ سرچینه، ۳۱۰ او ۳۱٤ مخونه.
[3]. هماغه سرچینه.
[4]. هماغه سرچینه /۳۲٤ مخ.

"يوه ښځه امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ته راغله ورته يې وويل: زوی مې له دې سړي [ابراهيم بن عبدالله حسني] سره د پاڅون په تکل کې دی، زه يې منع کوم؛ په دې باب څه وايې؟ امام ورته وويل: مه يې منع کوه."[1]

حماد بن اعين وايي:

" امام ابوحنيفه رحمة الله عليه خلک له ابراهيم بن عبدالله سره پاڅون ته راهڅول او خلکو ته يې د هغه د لاروی حکم ورکاوه."[2]

ابن بزازي نقلوي، چې کله به د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه پر وړاندې د ابراهيم بن عبدالله نامه واخستل شوه؛ نو سترګې به يې له اوښکو ډکې شوې."[3]

عبدالله بن ادريس هم وايي:

" امام ابوحنيفه رحمة الله عليه پر ممبر ناست و، دوو تنو ترې له ابراهيم بن عبدالله سره د پاڅون په اړه استفتاء وکړه او په ځواب کې يې وويل، پاڅئ."[4]

همداراز ابوالفرج اصفهاني په مستند ډول له محمد بن منصور رازي د مشايخ له خولې روايتوي، چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ابراهيم بن عبدالله ته په يوه ليک کې ويلي وو: پر دښمن، چې برلاسې شوې؛ نو د جمل په جګړه کې دې د خپل نيکه؛ علي بن ابيطالب په سيره عمل مه کوه، ماتې خوړلي يې و نه وژل او د هغوی مالونه يې وا نه خستل او تښتېدلي يې تعقيب نه کړل او ټپيان يې له منځه يو نه وړل؛ ځکه ملاتړ يې نه درلود؛ بلکې په صفين کې دې د خپل نيکه په سيره عمل وکړه، چې بنديانول يې کول او ټپيان يې وژل او غنيمتونه يې ويشل؛ ځکه ددې لښکر تر شا د شاميانو لښکر و او هلته وسېدل. دا ليک د ابوجعفر منصور لاس ته ورغی؛ نوځکه يې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه راوغوښت، مسموم يې کړ او بيا په بغداد کې خاورو ته وسپارل شو."[5]

---

[1]. هماغه سرچينه/۳۲۵ مخ.

[2]. هماغه سرچينه.

[3]. ابن بزازي، مخکېنۍ سرچينه ۷۲/۲ مخ.

[4]. مخکېنۍ سرچينه /۳۲۵ مخ.

[5]. هماغه سرچينه، ۳۱۵-۳۱۶ مخونه.

ابن حجر حیتمي او محمد بن یوسف صالحي د عقود الجمان خاوند هم د منصور په حکم لس ورځې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه کوړې وهل د ابراهیم بن عبدالله په پاڅون پورې اړوند بولي:

"منصور، ابوحنیفه د قضاء لپاره او داچې په واکمنۍ کې یې د اسلامي هېوادونو قاضي القضات وي، را وغوښت؛ خو امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ونه منله. منصور غوسه شو او قسم یې وکړ، چې که ویې نه مني؛ نو زنداني به یې کړي او سخت به یې وکړوي. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه بیا هم و نه منله او منصور زنداني کړ. تردې روسته منصور به تل پیغامونه ور استول، چې که غواړې ازاد شې؛ نو باید قضاء ومني. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه همداسې مقاومت کاوه؛ منصور حکم وکړ، چې هره ورځ یې له زندانه راوباسئ او لس کوړې یې وهئ او په بازار کې یې گرځوئ. دا حکم پلی شو او هره ورځ به یې داسې سخت په کوړو واهه، چې بدن به یې په وینو ککړ شو او په چغو او سورو به یې په بازارونو کې گرځاوه او بیا به یې زندان ته بوته. په زندان کې یې سم خوراک څښاک هم نه ورکاوه تردې چې له پینځو ورځو روسته ژړغونی او د دعا په حال یې له نړۍ سترگې پټې کړې."[1]

ابن حجر او محمد بن یوسف صالحي په یو بل روایت کې راوړي دي:

"یوه ډله روایتوي، چې [په زندان کې یې] امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ته یوه کټوری ورکړ، چې زهر پکې وو. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه یې له څښلو ډډه وکړه او و یې ویل، پوهېږم، چې په کټوري کې څه دي؛ نو د خپل نفس په وژنه کې همکاري درسره نه کړم. بیا یې په زوره کټوری پرې وڅښه او ومړ. ویل شوي، چې دا پېښه د منصور مخامخ وشوه او چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه احساس کړل، چې مري؛ نو پر سجده شو او د سجدې پر حال ومړ."[2]

ابن حجر زیاتوي:

"ویل شوي، چې یوازې د قضا د منصب نه منل د منصور لپاره ددې زړه بوگنونکې وژنې دلیل کېدای نشو. اصل لامل هغه و، چې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ځینو

---

[1]. ابن حجر حیتمی، الخیرات الحسان فی مناقب الامام الاعظم ابي حنیفه النعمان، ۹۱ مخ؛ محمد ابن یوسف الصالحي، عقود الجمان، ۳۵۷ مخ.

[2]. ابن حجر حیتمي، هماغه، ۹۲ مخ؛ محمد بن یوسف الصالحي، هماغه ۳۵۸-۳۵۹ مخونه.

دښمنانو منصور ته خبر راووړ، چې ابراهیم بن عبدالله بن حسن بن حسین، چې په بصره کې په منصور پسې راپاڅېدلی و، امام ابوحنیفه د منصور د حکومت پرخلاف راپارولی و؛ نو دا چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له منصور سره له همکارۍ ډډه وکړه او په خورا شتمنۍ یې د ابراهیم ملاتړ کړې و؛ نو ابراهیم ته یې له لېوالتیا وډار شو؛ ځکه امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د سوداګریزې مخینې له کبله خورا شتمن و؛ نوځکه منصور امام ابوحنیفه رحمة الله علیه بغداد ته راوغوښت او دا چې د وژنې لپاره یې پلمه نه درلوده؛ نو ترې یې و غوښتل، چې د قضاء منصب ومني؛ سره له دې چې پوهېده، ورسره یې نه مني، چې د قضاءنه منل به یې د وژنې لامل شي."[1]

ځینو لیکوالانو له علویانو سره د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه، له زید بن علي یې زدکړیالي او له رور یې؛ نفس زکیه او له رور یې ابراهیم بن عبدالله سره د اړیکو په پار "زیدي شیعه" او "بتري شیعه" نومولی، چې له دوی ځنې شهرستاني [2] او فضل هاشم جاحظ[3] ته اشاره کولای شو.

که څه دا ورمنسوبېدل د ډلپژندې دقیق مفهوم نه دی؛ [4] خو باید تر اوسه روښانه شوې وي، چې د امام پر سیاسي کړنلارې سربېره د امامت او خلافت په اړه یې لیدلوری (د ځینو روایتونو له مخې) کټ مټ هماغه د زیدیه لیدلوری دی. له دې چې راتېر شو که موږ د دویمې هجري پېړۍ د دویمې نیمایې سیاسي فضا ته ور ستانه شو؛ نو په لږ تسامح ویلای شو، چې "زیدي شیعه" هغه ته ویل کېږي، چې د علوي پاڅون پلوی وي او د علویانو سیاسي مشري مني؛ البته که دا تسامح ونشي؛ نو "زیدي شیعه" په تېره په دریمه پېړۍ کې او تر دې روسته هغه ته ویل کېږي، چې سوکه سوکه د شیعه او حنفي فقې او معتزلي کلام ګډوله لري؛ خو د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه وخت؛ هغه هم هغه مهال، چې زید بن علي نوی پاڅون کړی دی، تر اوسه ددې مذهب ګروهې د ډېرې نورو ډلو په څېر د یو ټاکلي ګروهیز غونډال په څېر راوړاندې شوی نه و او البته د کېدو پر حال و.

---

[1]. ابن حجر حیتمي، هماغه.

[2]. محمد بن عبدالکریم شهرستاني، الملل و النحل ۱۲۶/۱-۱۲۷

[3]. فضل هاشم جاحظ، رسائل جاحظ، ۱۰۶ مخ.

[4]. دائرة المعارف بزرگ اسلامي، ۵ ټوک، د ابوحنیفه مدخل، ۳۸۳ مخ.

په هر حال، تر دريیمې پېړۍ روسته د زيدي شيعي فقهې، حنفي فقهې او معتزلي ګروهې د ګډېدو شاهدان- لووي يو. سره له دې چې زيديه په شيعه وو کې شمېرل کېدل او په ځينو چارو کې يې شيعي فکرونه پلي کول، سوکه سوکه تر ډېره کچه حنفي فرقې ته ورنږدېدل. د پينځمې هجري پېړۍ د عالمانو څېړنې په ډاډ راښيي، چې حنفيان او معتزليان په زيديه کې يو بل ته رسېدلي او زيديه په ډېرى فقهي چارو کې حنفي او له کلامي پلوه معتزلي شوي دي؛ البته ټول حنفيان نه زيدي دي او نه معتزلي؛ بلکې بله لار يې ټاکلې ده او لکه څنګه چې تېر شول، په واقع کې يوازې يې يو څه په فقه او نه په کلام او سياست کې له امام ابوحنيفه رحمة الله عليه لاروي کړې ده، [1]چې په دې باب به په اووم څپرکي کې هم توضيح ورکړه شي.

ددې ځواب، چې ولې زيديه او حنفيه په زيديه کې يو بل ته ورسېدل؟ د دويمې هجري پېړۍ د هماغه اوښتونيزو- انقلابي او انديزو- فکري بدلونونو او په دوو زيدي پاڅونونو (د نفس زکيه او د رور يې ابراهيم پاڅون) کې پټ دی. پر امام ابوحنيفه رحمة الله عليه او ځينې نورو فقيهانو سربېره، ځينو معتزله مشرانو هم ددې پاڅون ملاتړ کړی دی. د وخت په تېرېدو دا نږدېوالی ددې لامل شو، چې حنفي فقه او معتزلي کلام په زيديه وو کې دود شي. دې لړۍ تر اوومې هجري پېړۍ دوام وموند، يو له څرګندو بېلګو يې موفق بن احمد خوارزمي حنفي دی، چې هم حنفي دی او هم معتزلي او هم زيدي. هغه د شپږمې هجري پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې د خوارزم مشهور خطيب او د "مقتل الحسين" او "مناقب علي بن ابيطالب" د کتابونو ليکوال دی. له علوي پاڅونونو سره د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه يو ځايوالی سوکه سوکه ددې لامل شو، چې بيا ځينې حنفيان هم ددې پاڅونونو ملاتړي شي؛ که څه په غوره توګه دا چار په حنفيانو کې دود نه شو او د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په لارويانو کې يې دا اوښتونيز دود شاته واچول شو. [2]

موفق مکي هم امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د خپل سياسي او کلامي کړنلارې له کبله شيعه ګڼي، وايي: شيعي نزعه پکې وه. [3] د موفق مکي د وينا له مخې، امام ابوحنيفه

[1]. هماغه، ٤٤ مخ (له لږ تصرف سره)

[2]. هماغه، ٤٤ مخ. (له لږ تصرف سره)

[3]. موفق مکي، مناقب ابي حنيفه ٩٢/١.

رحمة الله علیه په خپله د ځینې هغو دښمنیو دلیل داسې ویلی، چې ځینو محدثانو ورسره درلوده:

"له موږ سره د محدثانو دښمني ددې لپاره ده، چې موږ د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم له کورنۍ او اهلبیتو سره مینه لرو او پر فضایلو یې منښته کوو."[1]

محمد بن جعفر دیباج د امام صادق زوی او د زیدیه و یو مشر، د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د ستاینې تر څنگ یې له زید سره د ملگرتیا دلیل له اهلبیتو سره دوستي گڼلې ده. ابوالفرج اصفهاني نقلوي، چې محمد بن جعفر بن محمد (باقر) به په دارالاماره کې چغې وهلې:

"رحم الله اباحنیفه لقد تحققت مودته لنا فی نصرته زید بن علي و فعل بابن المبارک فی کتمانه فضائلنا و دعی علیه[2]: الله تعالی دې پر ابوحنیفه ولوروېږي، چې له موږ اهلبیتو سره یې دوستي جوته وه، چې له زید بن علي یې ملاتړ کاوه او همداراز له ابن مبارک سره چلن او ښېرې ورته کول، چې زموږ فضایل یې پټول."

## ٥. د اهلبیتو پر روایاتو د امام ابوحنیفه ډاډ

لکه څنگه چې په څلورم څپرکي کې تېر شول، امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم څخه په رانقل شویو روایتونو کې سخت دریځي کوله او د اهلسنتو له لارې ډېری را روایت شوي احادیث یې نه منل. هغه د حضرت ابوهریره (رض) په څېر راویان شنل او کره کتنه به یې کوله، چې په اهلسنتو کې یې ځانگړی مقام درلود او دده رانقل شویو ته به ډېر ښوین-خوشبین نه و.

خو په مسانیدو کې یې د اهل بیتو د امامانو روایات ډېر لیدل کېږي[3]، له اهلبیتو څخه یې پر رانقل شویو روایتونو په اسانه ډاډ کاوه او ان په سندي لړۍ پسې به یې هم نه گرځېده، په دې باب شیخ مفید لیکي:

"محمد بن یزید الباني وایي، له جعفر بن محمد سره وم، چې عمر بن قیص ماصر، ابوحنیفه او عمر بن ذر له خپلو یارانو سره راننووتل او امام جعفر صادق یې د ایمان په

---

[1]. هماغه ٢/٨-٩ مخونه.

[2]. ابوالفرج اصفهاني، پخوانۍ سرچینه، ٩٩ مخ.

[3]. خوارزمي، جامع مسانید امام ابوحنیفه.

باب وپوښت. ده ورته وويل: قال رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم: لا یزانی الزانی و هو مؤمن، و لا یسرق و هو مؤمن، و لا یشرب الخمر و هو مؤمن. " په غونډه کې ناستو یو بل ته وکتل او عمر بن ذر، امام جعفر ته وویل: نو دوی ته څه ووایو؟ امام جعفر ورته وویل: څه چې الله تعالی ورته ویلي او په کړنو یې الله تعالی وایي: "و السارق و السارقه.... "[1] او ویلي یې دي: "الزانیة و الزانی... "[2] ناستو یو تل وکتل... او چې له غونډې ووتو؛ نو عمر بن ذر امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ته وویل: ولې دې و نه پوښتل، چې (امام صادق دا روایت د چا له لارې له رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم رانقل کړی دی) امام ابوحنیفه رحمة الله علیه یې په ځواب کې وویل: له هغه چا چې (نېغ په نېغه) وایي: "قال رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم؛ نو د [سند] د پوښتنې اړتیا نشته. "[3]

په څرګنده ددې روایت منځپانګه داده، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له امام صادق نه روایت بې سنده منلی او دومره پرې ډاډمن و، چې د روایت په منلو کې یې د سند راوړل اړین نه ګڼل.

د یوه بل روایت له مخې، امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د امام صادق په باب وایي: "ما د حدیث رجال لیدلي او حدیثونه مې ترې اخستي؛ خو جعفر بن محمد صحفي دی. دا خبره چې امام صادق ته ورسېده؛ نو په خندا شو و یې ویل: زه صحفي یم، ما د خپلو نیکونو او د ابراهیم علیه السلام او موسی علیه السلام صحیفې لوستې دي. "[4]

له امام باقر او امام صادق نه منقطع روایتونه، چې دوی نېغ په نېغه "قال رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وایي، د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له لارې، د ابویوسف (د امام ابوحنیفه زدکړیال) په "الاثار" کتاب کې ډېر تر سترګو کېږي، د بېلګې په توګه: د نفلي نمانځه او نورو په باب روایتونه راغلي دي:

---

[1]. مائده /۳۸

[2]. نور /۲.

[3]. شیخ مفید، الامالي، ۲۲ مخ.

[4]. میرزا محمد باقر موسوي، روضات الجنات ۱٦۹/۸ له رسول جعفریان، حیات فکري و سیاسي امامان شیعه، ۳۵۷ مخ نه په نقل سره.

" روی ابویوسف عن ابي حنیفه عن ابي جعفر محمد بن علي عن النبي صلی الله علیه و آله وسلم انه کان یصلی بعد العشاء الاخرة الی الفجر، فیما بین ذلک ثماني رکعات، و یوتر بثلاث، و یصلی رکعتی الفجر." [1]

ابوزهره وایي: " امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په منقطع توګه حدیث له امام باقر نه نقلوي، چې سند یې له ځانه (امام باقر) مخکې نه ځي او امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په دې بڼه له بل هیڅا حدیث نه مني؛ خو دا چې کوم وګړی د ډاډ او ثقه توب له پلوه ورته لوړی تن وي؛ ځکه (له امام باقر نه دا روایت) په حقیقت کې د علم یو ډول اخستل دي؛ نه یوازې د روایت اخستل." [2]

## ٦. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د اهلبیتو فضایل رانقلول

لکه څنګه چې په څلورم څپرکي کې مو هم اشاره ورته وکړه، امام ابوحنیفه رحمة الله علیه یوازې د اهلبیتو او په دې پورې اړوند وګړي ستایل او بې له دوې یې څوک نه ستایه او نه یې د چا فضایل رانقل کړي. بې له هغو خبرو، چې د امام علي، صادقین او زید بن علي په باب په تېرو څپرکیو کې راغلې، له امام ابوحنیفه رحمة الله علیه نه د اهلبیتو د امامانو نور فضایل هم رانقل شوي دي.

ابن حجر عسقلاني په تهذیب التهذیب کې نقل کړي، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ویل:

" څه موده مې چې له جعفر بن محمد سره تګ راتګ کاوه؛ هغه مې تل په یو له دې درېیو حالتونو کې مونده: یا یې نمونځ کاوه، یا به روژه و او یا به یې قرآن لوست او هېڅکله مې و نه لیدل، چې بې اودسه یې حدیث رانقل کړی وي." [3]

همداراز له امام ابوحنیفه څخه رانقل شوي، چې د امام صادق په باب یې ویل:

" سترګو لا تراوسه د جعفر بن محمد په څېر څوک په پوهه، عبادت، پرهېزګارۍ او ځان ساتې کې لیدلی نه دی، یو غوږ هم نه دي اورېدلي او د یو بشر فکر ته هم راغلی نه دی." [1]

---

[1]. ابو یوسف، الآثار، ٣٤ مخ.

[2]. محمد ابوزهره، امام ابوحنیفه، ١٦٥ مخ.

[3]. ابن حجر عسقلاني، تهذیب التهذیب ٨٨/١ مخ.

په نورو روايتونو کې هم له امام جعفر صادق سره د امام ابوحنيفه د مذاکراتو تر راوړو روسته وايي:
" امام ابوحنيفه د امام صادق سر ښکل کړ او د آنحضرت له کوره ووت او ويل يې: (امام صادق) تر ټولو پوه دی او اوچت عالم مې ترې ليدلی نه دی. "[2]
په بل روايت کې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه امام موسی کاظم ستايي او د امام کاظم د پوهې په باب يې خبر کړي نو:
"محمد بن سنان له داود بن کثير رقي روايتوي، چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ابن ابي ليلی ته وويل: يوه ورځ موسی بن جعفر ته ولاړو، چې د بندګانو د کړنو په باب يې وپوښتو او دا مهال امام جعفر صادق ژوندی و او موسی ماشوم و... [امام موسی کاظم] وويل: که د بندګانو کړنې د الله تعالی له لوري وي؛ نه د بندګانو؛ نو الله تعالی تردې لوړ مقامی او عادل دی، چې خپل بندګان د هغو کړنو په پار وکړوي، چې پخپله الله کړې دي او که کړنه د الله تعالی او مخلوق له لوري (ګډه) وي؛ نو الله تعالی تردې لوړ مقامی او عادل دی، چې خپل بندګان د هغو کړنو په پار وکړي، چې (الله تعالی او مخلوق) په ګډه کړې وي. که د بندګانو کړنې د خپله بندګانو له لوري وي (په دې بڼه کې) که الله تعالی يې وکړوي؛ نو د عدل له مخې به يې وي او که ترې تېر شي؛ نو دوی به متقيان او اهل مغفرت وي. بيا امام په دې باب ځينې شعرونه وويل.... "[3]
دا روايت سيد بن طاووس هم رانقل کړی دی او په دوام کې يې ويلي، چې امام ابوحنيفه د امام کاظم ددې خبرو تر اورېدو روسته د امام کاظم په شان کې وويل: "ذرية بعضها من بعض والله سميع عليم. "[4]
شيخ مفيد دا روايت په دې بڼه رانقل کړی دی:
"ابوحنيفه رحمة الله عليه ويل: مدينې ته ولاړم او امام صادق ته ورغلم او سلام مې پرې واچاو او چې ترې راوتم، د ده زوی موسی [امام کاظم] مې وليد، چې په يو

---

[1]. حيدر اسد، الامام الصادق و مذاهب الاربعة ۵۳/۱.
[2]. شيخ صدوق، علل الشرائع ۹۱/۱
[3]. ابوالفتح کراجکي، کنزالفوائد، ۱۷۱ مخ؛ شيخ صدوق، عيون اخبار الرضا ۱۳۸/۱؛ علامه مجلسي، بحارالانوار ۵۸/۵.
[4]. سيد بن طاووس حسني، الطرائف، ۳۲۸ مخ.

ښوونځي کې ناست دی او وړوکی ماشوم و، و مې پوښت: پردی او نا اشنا به ستاسې په کوڅه کې چېرته اودس ماتی کوي؟ [امام کاظم] وویل: د نهرو او ویالو تر څنګ، تر ېنونو لاندې، د ویالو تر غاړې، په پرانستو لارو کې، له کاریزونو سره او د جومات تر غاړې له دې چاره ډډه کوه او بې له دې ځایونو په بل ځای کې پروا نه کوي. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه وایي: دا خبره مې چې واورېده په سترګو کې مې متین او په زړه کې مې ستر وبرېښېد، ورته مې وویل: در ځار! ګناه چا ته ورمنسوبېږي؟ [امام موسی کاظم] ژور را ته کتل، چې ترې اغېزمن شوم، و یې ویل: کېنه، چې درته یې ووایم. کېناستم، راته یې وویل: ګناه یې د بنده له لوري ده، یا د الله تعالی له لوري او د دواړو له لوري. که د الله تعالی له لوري وي؛ نو الله تر دې عادل او منصف دی، چې پر خپل بنده تېری وکړي او د هغه چار له لامله یې وکړوي، چې کړی یې نه وي. که د دواړو له لوري وي؛ نو دواړه پکې شریک دي او پیاوړی په انصاف کې خپل کمزوري بنده ته اولی دی. که یوازې د بنده وي؛ نو پېښه ورپورې اړوند او نهې ورته متوجه ده او د ثواب حق یې دی او عذاب ورباندې دی او دوزخ او جنت پرې واجبېږي. ابوحنیفه رحمة الله علیه وایي: داچې مې واورېدل، و مې ویل: "ذریة بعضها من بعض و الله سمیع علیم". [1]

په خواشینۍ په همدې ځای کې هم د هغه عمومي ناوړه ګومان له مخې، چې په ځینو شیعي سرچینو کې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په اړه شته، ویلي یې دي، چې دا پوښتنه ابوحنیفه رحمة الله علیه د ازمېینې لپاره وکړه او غوښتل یې په دې پوښتنه، چې احتمال یې ورکاوه، امام کاظم یې ځوابو لای نشي و یې ازمېیي او له دې لارې یې خجل کړي. [2]

خو که د بدوینۍ سترګې لرې کړو، له اهلبیتو سره د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه همېشنی تګ راتګ او له دوی یې دایمي علمي ګټنه، دا قضاوت به سم وي، چې له امام موسی کاظم نه یې پوښتنه هم د زده کونې په پار وه او امام ابوحنیفه هم امام

---

[1]. شیخ مفید، الفصول المختارة من العیون و المحاسن (مصنفات شیخ مفید ۲/۷۲-۷۳ مخونه.(

[2]. علي بن یونس العاملي، الصراط المستقیم ۲/۱۷٤؛ علامه مجلسي، بحارالانوار ۸۵/۵.

موسی کاظم د اهلبیتو د یو غړي په څېر پر چارو پوه ګاڼه. لکه څنګه چې په کنزالفوائد کې رانقل شوی روایت په دې مانا دی.
په تحف العقول کې تر همدې روایت لاندې راغلي، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه غوښتل د جبر او اختیار په باب د پوښتنې لپاره امام جعفر صادق ته ولاړ شي او چې د پوښتنې ځواب یې له امام کاظمه واورېد بسیا یې پرې وکړه او اړتیا یې و نه لیده، چې امام صادق ته ورشي.[1]

## ۷. د اهلبیتو علمي مرجعیت منل

په شیعي سرچینو کې ځینې روایتونه څرګندوي، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د اهلبیتو علمي مرجعیت مانه او ددوی د ویناوو پر وړاندې یې مخالف دریځ نه نیوه، د بېلګې په توګه: په کافي کې له معاویة بن عمار روایت دی، چې وایي:
"له کورنۍ مې یوې ښځې د خپل مال د درېیمې برخې وصیت را ته وکړ، چې یو مریی پرې ازاد کړم، حج پرې وکړم او نور یې صدقه کړم. شتمني یې ددې چار لپاره بسیا نه وه او په دې باب مې امام ابوحنیفه وپوښت. امام راته وویل: مال درې برخې کړه؛ یوه برخه یې د مریي ازادولو ته، یوه یې حج او بله یې خیرات ته ځانګړې کړه. امام صادق ته ولاړم، و مې ویل: په کورنۍ کې مې یوه ښځه مړه شوې او وصیت یې راته کړی، چې د مال په درېیمه یې مریی ازاد کړم، صدقه ورکړم اوحج وکړم. مال ته مې، چې ولیدل؛ نو دې ټولو چارو ته بسیا نه دي. [امام]وویل: لومړی حج وکړه، چې حج الهي فریضه ده او نوره شتمني د مریي د ازادېدو او صدقې ترمنځ ووېشه. د امام صادق دا خبره مې امام ابوحنیفه ته وکړه؛ نو امام ابوحنیفه له خپلې پخوانۍ خبرې تېر شو او د امام صادق خبرې ته یې غاړه کېښووله."[2]
همدا روایت شیخ طوسي په تهذیب الکلام کې رانقل کړی او په روایت کې یې راغلي، چې معاویة بن عمار وایي:
"ابوحنیفه ته مې وویل، چې د یوې مسلې په باب مې امام صادق وپوښت او په ځواب کې یې راته وویل. امام ابوحنیفه وویل: " پر الله تعالی قسم، چې خبره یې حق ده " او

---

[1]. ابن شعبة الحراني، تحف العقول، ٤١١ مخ.
[2]. کلیني، الکافي ١٩/٧

د امام صادق نظر يې ومانه او خپلو اصحابو ته يې هم اعلان کړه. زه د امام ابوحنيفه په غونډه کې کېناستم او وامې ورېدل، چې اصحابو يې د امام صادق د خبرې په باب يو له بل سره خبرې کولې؛ ځينو اصحابو د امام ابوحنيفه د پخوانۍ څرګندونې په باب خبرې کولې او هغوی يې چې د نظر بدلېدل اورېدلي وو[هغو کسانو چې د امام ابوحنيفه د لومړي نظر خبره کوله] تېروتی يې بلل. [1]

په يو بل مفصل روايت کې راغلي، چې د امام ابوحنيفه او امام صادق خبرې اترې يې رااخستي، چې تر خبرو اترو روسته امام ابوحنيفه د اهلبيتو او امام صادق په باب وويل: " الله اعلم حيث يجعل رسالته [2]" (الله تعالی تر ټولو پوه دی، چې خپل رسالت چېري کېږدي).

شيخ صدوق رانقلوي، چې امام ابوحنيفه به ويل: "لو لا جعفر بن محمد ما علم الناس مناسک حجهم[3]: که امام صادق نه وای؛ نو خلک به د خپل حج په مناسکو نه پوهېدل. " مخکې هم تېر شول، چې امام ابوحنيفه، امام صادق په خلکو کې تر ټولو پوه وګڼی ښووه او دې ته ورته تعبيرونه د حضرت علي کرم الله وجهه او امام باقر په باب هم له امام ابوحنيفه رانقل شوي، چې وړاندې تېر شول.

نور روايتونه، چې د اهلبيتو پر روايتونو د امام ابوحنيفه د ډاډ په برخه کې راغلي وو او نور، چې تر دې روسته راځي، را ښيي، چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په ديني او علمي چارو کې د اهلبيتو مرجعيت منلی و او تل يې مراجعه ورته کوله او خپلې پوښتنې يې ترې کولې.

بل ټکی دا په ډېری دې روايتونو کې امام ابوحنيفه، امام صادق په "يا بن رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم " ياداوه، چې دا چار پخپله د اهلبيتو او امام صادق مقام ته د امام ابوحنيفه درناوی څرګندوي.

---

[1]. شيخ طوسي، تهذيب الاحکام ۲۷۷/۶.

[2]. تاج العقائد، له قاضي نعمان المغربي، دعائم الاسلام ۹۱/۱ نه په نقل سره.

[3]. شيخ صدوق، من لا يحضره الفقيه ۵۱۹/۲.

## ۸. په شيعي سرچينو کې له اهلبيتو د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه روايتونه

د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه پر هغو روايتونو سربېره، چې د اهلبيتو فضايل پکې دي، په ځينې نورو روايتونو کې هم په شيعي سرچينو کې د اهلبيتو د راويانو په لړ کې دی. په دې روايتونو کې، چې له لارې يې په شيعي سرچينو کې رانقل شوي، امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د يوې مسلې د حکم لاس ته راوړو لپاره، د اهلبيتو امامانو ته مراجعه کوي، چې دا چار يې په خپله د اهلبيتو د علمي مرجعيت د منلو پر مانا دی.

د بېلگې په توگه څو روايتونه راوړل کېږي:

په کافي کې راغلي دي:

"علي بن ابراهيم له پلاره، له قاسم بن محمد منقري، له نعمان بن عبدالسلام له ابوحنيفه روايتوي، چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه وويل: اباعبدالله (امام صادق) مې د يو تن په باب وپوښت، چې بل ته يې ويلي وو: (فاسقه!) [امام صادق] وويل: حد پرې نه جاري کېږي او تعزيرېږي."[1]

په کافي کې په بل روايت کې راغلي دي:

" علي بن ابراهيم له پلاره، له احمد بن محمد بن ابي نضر، له اسماعيل بن ابوحنيفه او هغه هم له خپل پلاره؛ امام ابوحنيفه رحمة الله عليه روايتوي، چې يې و ويل: ابي عبدالله (امام صادق) ته مې وويل: څنگه په وژنه کې دوه شاهدان او زنا ته څلور شاهدان بسيا دي، حال دا وژنه تر زنا سخته ده؟ [امام صادق] وويل: ځکه وژنه يو عمل دی او زنا دوه عمله دي..... زموږ ځينې اصحاب روايتوي، چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه وويل: [امام صادق] راته وويل: ابوحنيفه! په نزد مو څه [حديثونه] دي؟ امام ابوحنيفه رحمة الله عليه وايي: ورته مې وويل: زموږ په نزد بې د حضرت عمر (رض) له حديثه، چې وايي الله تعالی په شهادت کې پر بندگانو دوه کلمې غوښتې، بل څه نشته. [امام] راته وويل: [ابوحنيفه!] داسې نه ده. په زنا کې دوه حده دي او جايز نه دي؛ خو داچې "دواړه" پر يوه شهادت ورکړي؛ ځکه هم پر ښځه او هم پر سړي بايد حد جاري شي؛ حال دا وژونکی وژل کېږي، چې له وژل شوي دفاع کېږي."[2]

---

[1]. محمد بن يعقوب کليني، الکافي ۲۴۲/۷.

[2]. هماغه، ٤٠٤ مخ.

همدا روایت د بلې لړۍ له لارې، چې پکې محمد بن حسن صفار او علي بن مهزیار دي، له امام ابوحنیفه رحمة الله علیه نه په علل الشرایع کې هم رانقل شوی دی.[1] شیخ طوسي هم دا روایت د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له لارې په تهذیب کې رانقل کړی دی.[2]

شیخ صدوق په "خصال" کې له رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم نه د امام ابوحنیفه له لارې د نکاح په باب یو روایت کړی دی.[3]

## ۹. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه او د امام حسین (رض) ویر

عبدالجلیل قزویني په "النقض" کې د امام حسین په ویرغونډه کې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ګډون ته اشاره کوي. نوموړی د یو ناپېژاند لیکوال "بعض فضائح الروافض" په ځواب کې، چې وایي: د شیعیانو یو بدعت دادی، چې د امام حسین د شهادت پر ورځ خپل سر او سینه وهي او ویر کوي، وایي: دا دود یوازې په شیعه وو پورې ځانګړی نه دی او د اهلسنتو مشران او له دوی څنې امام ابوحنیفه او امام شافعي هم دا دود پلي او غځولی دی؛ نوځکه که دا دود یو عیب او نیمګړتیا وي؛ نو لومړی باید پر امام ابوحنیفه، امام شافعي او اصحابو یې نیوکه وشي او بیا پر شیعه وو.[4]

که څه هم قزویني ددې خبرې جوتولو ته کوم سند راوړاندې کړی نه دی؛ خو د ادعا منل یې له حقیقته لرې نه ده. امام حسین ته ویر غونډې جوړول د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په ډېری لارویانو کې هم دود و او نن هم شاهدان یو، چې ځینې حنفیان د امام حسین په ویر غونډو کې ګډون کوي. په حنفي علماوو کې هم سترو علماوو ته اشاره کړای شو، چې نه یوازې د امام حسین په ویر غونډو کې ګډون کوي؛ بلکې په خپله ددې دود راژوندي کوونکي ول. تر ټولو ستره بېلګه یې ملا حسین واعظ کاشفي (۹۱۰ س مړ) دی، چې د لومړي ځل لپاره یې د امام حسین ویر بولنې"روضه" ټکی را

---

[1]. شیخ صدوق، علل الشرایع ۵۱/۲.

[2]. شیخ طوسي، تهذیب الاحکام ۲۷۷/٦.

[3]. شیخ صدوق، الخصال، ۳۱٦ مخ (۹۸ ردیف)

[4]. عبدالجلیل قزویني، النقض، ٤۰۲.

ایستی دی او دا اصطلاح یې له "روضة الشهداء" اخستل شوې ده. په دې باب به په اووم څپرکي کې څرګندنې راوړو.
د ژباړن یادونه: په دې اړه وګورئ: علي تهراني، په اهل سنتو کې د امام حسین د ویر بولنې تاریخچه، چې په پښتو هم اړول شوی دی.

## ۱۰. له صادقینو سره د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه مناظرې

څه چې پاتېږي، هغه ګڼ روایتونه دي، چې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه او امام باقر، امام صادق او د کوفې امامي علماوو(؛ لکه محمد بن علي د الطاق (مؤمن الطاق) لیکوال، فضال بن حسن و هیثم بن حبیب صیرفي) مناظرې پکې دي. په شیعي سرچینو کې ددې ترڅنګ، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د شیعه او په ډېری دې سرچینو کې د امام باقر او امام صادق زدکړیال ښوول شوی او په لویې لاس په هغو سرچینو کې، چې د امام باقر او امام صادق او له زده کړیالانو سره یې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه مناظرې پکې راغلي، د دوی ترمنځ اړیکې خړې او کړکېچنې انځور شوې دي. ددې مناظرو غټه برخه "قیاس" دی، چې په دې مناظرو کې امام باقر او امام صادق، امام ابوحنیفه تر پوړې لاندې نیسي. بې له قیاسه نور موضوعات هم شته، چې پکې د اهلبیتو امامانو او احیاناً اصحاب یې پر امام ابوحنیفه رحمة الله علیه نیوکې کوي او دا خبرې اترې ددوی ترمنځ یو ډول د اړیکو ترینګلتیا او د دایمي ټکر ښکاروندی دي.
ښکاري، چې ډېری دا مناظرات او تاوتریخجنې خبرې اترې سندي یا متني ستونزې لري او باید و څېړل شي. البته د اهلسنتو په سرچینو کې هم د امام صادق او امام باقر او امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ترمنځ خبرې اترې او مناظرې راغلې دي؛ خو له شیعي سرچینو سره یې توپیر په دې کې دی، چې د اهلسنتو په سرچینو کې دا خبرې اترې او مناظرې خورا دوستانه او په صمیمي فضا کې انځور شوې دي. که د خبرو تر پیلېدو له مخه د اهلبیتو د امامانو او امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ترمنځ کومه ناسمه اخستنه وي، په نهایت کې خبرې اترې په ډېره دوستانه او صمیمي بڼه پای ته رسي، ناسمه اخستنه له منځه ځي او دوستي لاپسې ټینګېږي. په دې خبرو کې هم د لاسوهنې او تصرف اغېزې تر سترګو کېږي، چې ددې مدعا له شواهدو څنې یو دا دی، چې ددې خبرو

اترو منځپانګه او د خبرو اترو متن له شيعي سرچينو سره کټ مټ يو شان دی؛ خو د خبرو اترو ادبيات پکې بدلون مومي او لکه څنګه چې وويل شول، په بشپړه توګه دوستانه دي او بل داچې پوښتونکی او ځوابوونکی هم بدلون مومي. په شيعي سرچينو کې پوښتونکی امام باقر او امام صادق او ځوابوونکی امام ابوحنيفه دی؛ خو د اهلسنتو په سرچينو کې پوښتونکی امام ابوحنيفه رحمة الله عليه او ځواب ورکونکي صادقين ښوول شوي دي.

له امام باقر او امام صادق سره د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د مناظراتو په باب، چې ډېری يې د بحارالانوار، لسم ټوک، ۱۲ باب او ٤٦ ټوک په ۹ باب کې راغلي، آيت الله شيخ محمد آصف محسني وايي: د ٤٦ ټوک د ۹ باب ټول روايتونه نامعتبره دي بې له ۳، ٦ او ۱۳ روايتونو[١]، چې دا درې روايتونه هم بې له امام ابوحنيفه رحمة الله عليه له بل چا سره د امام باقر خبرې اترې دي.

له امام صادق سره د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه مناظرې هم، چې شاوخوا ۲۵۰ دي، د بحارالانوار د ٤٧ ټوک په ۷ باب کې راټولې شوې دي، په دې باب د شيخ محمد آصف محسني نظر دادی، چې په دې باب کې يوازې ۲، ۱۰، ۱۵ او ۱۸ روايتونه معتبر دي او نور روايتونه سندي اعتبار نه لري.[٢] ۲، ۱۰، ۱۵، او ۱۸ ګڼه روايتونه هم بې له امام ابوحنيفه رحمة الله عليه له نورو (زنادقه وو او نورو) سره د امام صادق خبرې اترې دي.

له متني نظره هم ښکاري، چې ډېری دا روايتونه ستونزې لري او د منلو وړ نه دي؛ دلته يوازې ځينو روايتونو او ستونزو ته يې اشاره کېږي:

ځينې دا روايتونه ډېری معما ته ورته دي، د بېلګې په توګه: په يو روايت کې راغلي: "امام ابوحنيفه رحمة الله عليه امام صادق وپوښت، چې د ختيځ او لويديځ ترمنځ څومره واټن دی؟ ورته يې وويل: د يوې ورځې د بهير هومره؛ بلکې ترې لږ. دا ځواب امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ته هېښنده او د منلو وړ نه و. امام وويل: عاجزه! ولې له ځوابه منکر شوې؟ سکه، لمر تر يوې ورځې لږ له ختيځه راخېژي او په لويديځ کې پرېوځي."[٣]

---

[١]. الشيخ محمد آصف المحسني، مشرعة بحارالانوار ۱٦٥/۲.

[٢]. هماغه، ۱۷۰-۱۷۱ مخونه.

[٣]. هماغه سرچينه، ۱۷۰-۱۷۱ مخونه.

دا روایت بې له دې، چې غواړي د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه او امام صادق ترمنځ یو ډول بدویني وښيي او نامناسب ادبیات هم لري، کوم معرفت او ارزښتمن ټکی هم نه لري او لرې ده، چې امام صادق په دې ادبیاتو، داسې د معما په توګه ځواب ورکړی وي او یا داچې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له امام صادق څخه داسې یوه پوښتنه کړې وي، چې دومره ارزښت نه لري،

یو بل روایت هم شته، چې پوښتنه او ځواب یې بې له دې، چې څه د پاموړ علمي ارزښت ولري، یوازې ددې ښکارندوی دی، چې ترمنځ یې یو ډول ترېنګلتیا او بدویني ده او یا امام صادق او امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په دې هڅه کې وو، چې یو بل بې پته کړي.[1]

ځینې دا روایتونه داسې دي، چې معاذالله امام صادق اضافه وخت درلود او بېکاره و او له امام ابوحنیفه رحمة الله علیه سره یې بې له وېینو او ناانړېنو خبرو اترو بل کار نه درلود. بلخوا امام ابوحنیفه رحمة الله علیه به هم بې ادبه د امام صادق پوښتنو ته ځوابونه ورکول، د بېلګې په توګه په روایت کې راغلي:

" امام صادق، امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ته وویل: ولې دې د خره د پښو په دوو ځایونو کې وېښته نه رازرغونېږي؟امام ابوحنیفه رحمة الله علیه وویل: د هغو ددو ځایونو پنځونه ستا د سترګو او غوږونو د پنځونې په څېر دي (چې وېښتان پکې نه رازرغونېږي) امام صادق ورته وویل: دا قیاس دې باطل دی؛ ځکه سترګې مې لیدو او غوږونه مې اورېدو ته دي؛ خو دا دوه ځایونه په ټولو څارویو کې بې ګټې دي. "[2]

همدا روایتونه په ځینو نورو سرچینو کې په بله بڼه راغلي، چې دا بې ادبه تعبیرات پکې نه دي راغلي او خبرې اترې خورا ګټورې او سوله ییزې دي او د خبرو اترو په پای کې هم امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د امام صادق په باب وایي: " الله اعلم حیث یجعل رسالته ".[3]

---

[1]. لکه: بحاراالانوار ۱۰ ټوک، ۱۳ باب، ۷او ۸ حدیثونه، ۲۰۳-۲۰٤ مخونه او ۱۳ حدیث، ٤۱۲-٤۱٤ مخونه.

[2]. ابن شهر آشوب، مناقب آل ابیطالب ۲۸/۲.

[3]. قاضي نعمان المعربي، دعائم الاسلام ۹۱/۱.

په حقیقت کې ځینې روایتونه امام صادق ته یو ډول د نا اړین دوه اړخیزه خبرو یا العیاذبالله دروغ او نفاق ورمنسوبوي او د امام صادق د اصحابو یو نامناسب شخصیت انځوروي، د بېلګې په توګه راغلي:

"محمد بن مسلم وويل: امام صادق ته ورغلو، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ورسره و. امام صادق ته مې وويل، چې یو هېښنده خوب مې ولید. آنحضرت وويل: خوب دې ووايه، چې د خوب تعبیر پوه راسره ناست دی (او په لاس یې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ته اشاره وکړه). ما وويل: خوب وينم، چې کور ته ورننووتم او ګورم، چې مېرمنې مې ډېر غوزان مات کړل او را ویې شیندل. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه وويل: ته به د کورنۍ د میراث په باب له پرېوتیو انسانانو سره دښمني او شخړه وکړې او له ډېرو ستونزو سره تر مخېدو روسته به دې اړتیا پوره شي. امام صادق وويل: " اصبت والله یا اباحنیفه: ای ابوحنیفه پر الله تعالی قسم، چې رښتیا دې وويل ".

ابن مسلم وايي: بیا امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له امام صادقه بهر ووت او امام صادق ته مې وويل: در ځار! زما ددې ناصبي [!] تعبیر بدې ایسي. امام وويل: ابن مسلمه! الله تعالی دې مه خواروه! نه ددې (ناصبیانو!) تعبیر زموږ له تعبیر سره موافق او نه زموږ تعبیر د دوی له تعبیر سره موافق دی ددې [خوب] تعبیر دا نه دی، چې ابوحنیفه وويل. ومې ويل: در ځار! ابوحنیفه ته مو وويل، چې رښتیا مو وويل او قسم مو هم وخوړ؟! و یې ويل: هو! قسم مې وخوړ، چې په خطا کې مصیب و! (یعنې د اجتهاد ثواب ورکول کېږي)

بیا مې امام صادق وپوښت، چې د خوب تعبیر مې څه دی؟ و یې ويل: ته به له یوې ښځې برخمن شې او له کورنۍ سره به دې دا خبره شریکه کړې او ښځه به دې ستا نوې جامې وشلوي. ابن مسلم وايي: یوه ورځ روسته د وره په خوله کې ولاړ وم، چې یوه وینځه مې په مخ کې تېره شوه. زوی ته مې وويل، چې راستنه یې کړه. کور ته مې رادننه کړه او ګتنه مې ترې وکړه، چې ښځه مې پوه شوه او راننووته. وینځې د وره پر

لور منډه کړه او زه دننه [په کور کې] پاتې شوم او ښځې مې هغه جامې څېرې کړې، چې په اخترونو کې مې اغوستې."[1]

دلته ړومبۍ پوښتنه دا ده، څه اړتیا وه، چې امام صادق العیاذ بالله په دروغو د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه نظر تایید کړي او قسم هم وخوري؟ آیا امام ابوحنیفه رحمة الله علیه حکومتي چارواکی و، چې امام صادق یې مخالفینو ته د خبرو د ور رسېدو د مخنیوي په پار تقیه کړې وي؟ان که دا ناشونی محال هم ومنو؛ نو قسم او ټینګار ته څه اړتیا وه؟ که له دې راتېر شو، له بېخه دا روایت د امام صادق پر وړاندې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ناوړه انځوروي؛ خو ټول روایت مخکې له دې، چې دې موخې ته ورسي، د ستر شخصیت ابن مسلم او امام صادق وګړه ټکنۍ کوي. ایا د ابن مسلم په څېر د یو ستر شخصیت کار به دا و، چې د کور مخې ته به درېده، چې وینځې ښکار کړي؟!

داسې روایتونه ډېر دي، چې کله پکې قرآني آیتونه په نامناسبه بڼه تفسیرېږي او دومره علمي ارزښت نه لري.[2]

له همدې ډلې له امام ابوحنیفه رحمة الله علیه سره د امام باقر او امام صادق مناظرې دي، چې موضوع یې "قیاس" دی. البته په شیعي فقه کې د امام باقر او امام صاق پر وړاندې قیاس هېڅ ځای نه لري او پرېکنده ده، چې په قیاس کې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه کړنلار د اهلبیتو امامانو ته د منلو وړ نه وه؛ خو لکه څنګه چې وینو او مناظرې په دې روایتونو کې رامخې ته کېږي، ډېره ترېنګلتیا پکې ښکاري او ښکاري، چې وینې تر دې لا ډېرې سوله ییزې وې، چې دا مناظرې یې را ښیي.

د تاریخ په شهادت او د معتبرو روایتونو له مخې، له مخالفانو او د نورو مذاهبو له لارویانو سره د امام صادق او امام باقر چلن خورا رغنده و او له هغو ادبیاتو سره خورا توپیر لري، چې موږ یې ځینې بېلګې راوړې. د امام باقر علمي موقعیت داسې و، د اسلامي ښوونو تږي که شیعه و که سني له حجاز، عراق، خراسان او د اسلامي ټولنې له

---

[1]. محمد بن یوسف کلیني، الکافي ۲۹۲/۸ مخ؛ علامه مجلسي، بحارالانوار، ٤٧ ټوک، ١١ حدیث، ۲۲۳-۲۲٤ مخونه.

[2]. بحارالانوار ٤٦ ټوک، ۹ باب او ٤٧ ټوک، ۷ باب.

نورو ځایونو ور تلل، چې له علمه يې ګټنه وکړي او د منصور عباسي د وينا له مخې، نوموړ "المفتون به اهل العراق"[1] و.
امام صادق هم د خپل پلار په څېر په شيعه وو او اهلسنتو کې هماغه مقام درلود او که داسې واى، چې هغه به په ستغو، توندو او وچو ادبياتو له خپلو مراجعينو سره چلن کاوه (لکه څنګه چې په ځينو روايتونو کې راغلي)؛ نو هېڅکله يې دومره برى نه پر برخه کېده. تاريخ ګواه دى، چې صادقين نه يوازې د اهلسنتو مخاطب و؛ بلکې د نورو اديانو د مخاطبانو په راماتولو کې خورا برياليي ول او ددې بري خواله - راز يې پر علمي اړخ سربېره محمدي خوي او سيره هم وه. سينې يې پراخه وې ان د مخالفينو زغمل دومره وو، چې د اهلسنتو د علماوو لخوا پر "واسع العلم" يا پراخې پوهې سربېره پر "وافر الحلم" يا پراخې سينې هم ستايل شوي دي.[2]
په واقع کې په دې خويونو پسولل شوي وو، چې د اهلسنتو ډېرى علماوو يې ستاينې ته خولې راسپړلې دي.[3] مالک بن انس له مراجعينو سره د امام صادق د چلن په باب وايي، چې له دوى يو يې په خپله هم و:
"چې کله به جعفر بن محمد الصادق ته به ورغلم؛ نو زما درناوى يې کاوه او خپل بالښت يې راکاوه او راته يې ويل: مالکه! راباندې ګران يې او خوښ يم او ددې دوستۍ په پار د الله تعالى مننداوى يم."[4]
حال دا تر مالکه له علوي کورنۍ او صادقينو سره د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه راشه درشه ډېره وه؛ نو څنګه ومنو، چې صادقينو له مسيحي او يهودي علماوو او ان ځينو توکيزپالو سره لوراند او دوستانه چلن درلود او له امام ابوحنيفه رحمة الله عليه سره يې په چلن کې له توندو، ستغو او وچو ادبياتو ګټنه کوله او يا يې ملنډې پدې وهلې؟! په

[1]. شمس الدين ذهبي، سير اعلام النبلاء ٤٠٥/٤ مخ.
[2]. ابن ابي الحديد، شرح نهج البلاغه ٧٧/١٥.
[3]. شمس الدين ذهبيوسير اعلام النبلاء؛ باقر شريف القرشي، حيات الامام الباقر؛ اسد حيدر، الامام الصادق و مذاهب الاربعة.
[4]. علامه مجلسي، بحارالانوار ٤٧ ټوک، ٤ باب، ١٦ مخ.

واقع کې د نبوي علومو ترڅنګ همدا دوستانه چلن و، چې د مناظرو په پای کې به ډېرى وګړو پخپلو ګروهو کې بدلون راوست او اسلام یا تشیع ته به رااوړېدل. [1]
په هر حال جوته ده، چې د صادقینو او امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ترمنځ علمي وییني وې؛ خو د منلو وړ نه ده، چې خبرې اترې له تاوتریخوالي او دښمنۍ ډکې وې.
یوه هغه مناظره به راوړو، چې د قیاس په باب ده، چې هم په شیعي او هم اهلسنتو سرچینو کې راغلې ده. لکه څنګه چې مخکې هم وویل شول، ددې مناظرې منځپانګه په شیعي او سني سرچینو کې یو شان ده؛ خو د خبرو اترو ادبیات او پوښتونکی او ځواب ورکونکی یې توپیر لري. په شیعي سرچینو کې دا مناظره د امام باقر او امام ابوحنیفه رحمة الله علیه او کله د امام صادق او امام ابوحنیفه رحمة الله علیه څخه رانقل شوې ده؛ خو مشهوره داده، چې دا مناظره د امام صادق او امام ابوحنیفه ترمنځ داسې شوې ده:
"یوه ورځ امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د امام صادق کتو ته کور ته یې ورغی او د کتو غوښتنه یې وکړه، امام صادق اجازه ور نه کړه. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه وایي: څه موده د وره ترڅنګ تم شوم، چې له کوفې څه خلک راغلل او د کتو غوښتنه یې وکړه؛ [امام صادق] د کتو اجازه ورکړه او زه هم ورسره ننووتم، چې ورغلم، ومې ویل: غوره به وي، چې کوفې ته مو یو استازی ولېږئ او د هغه ښار وګړي د حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم اصحابو ته له کنځلو منع کړئ؛ په دې ښار کې تر لسو زرو ډېر وګړي د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم یاران کنځي.
امام صادق وویل: زما خبره نه مني. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه وویل: څنګه به شونې وي، چې خبره مو و نه مني، حال دا د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ځوځات یاست؟ امام صادق وویل: ته په خپله هم یو له هغوی یې، چې خبرې ته مې غوږ نه ږدې؛ بې اجازې مې راننووتې او بې له دې چې درته ووایم، کېناستې او بې اجازې په خبرو شوې؟ اورېدلي مې دي، چې د قیاس پر بنسټ فتوا ورکوې؟
امام ابوحنیفه رحمة الله علیه وویل: هو! امام صادق ورته وویل: پر ځان ووېرېږه!لومړی تن، چې پر دې بنسټ یې فتوا ورکړه، شیطان و او چې کله الله تعالی حکم وکړ، آدم

[1]. بحارالانوار ۱۵۲/۳-۱۵۳ مخونه.

ته سجده وکړه، و يې ويل: نه يې کوم؛ ځکه زه دې له اوره پنځولی يم او هغه دې له خاورې. بيا يې وويل: ستا په آند د يو چا پر ناحقه وژل مهم دي که زنا؟ امام ابوحنيفه رحمة الله عليه وويل: پر ناحقه د چا وژل. امام صادق وويل: نو ولې د وژنې جوتولو ته دوه لووي- شاهدان بسيا دي؛ خو د زنا د ازباد لپاره څلور شاهدان؟ آيا د اسلام دا قانون له قياس سره همغږی دی او سمون ورسره خوري؟ امام ابوحنيفه رحمة الله عليه وويل: نه! امام صادق وويل: متيازې ډېرې مردارې دي که مني؟ امام ابوحنيفه رحمة الله عليه وويل: متيازې. امام صادق وويل: نو ولې الله تعالی تر متيازو کولو روسته خلکو ته د اودس امر کړی دی؛ خو د مني په باب يې د غسل حکم کړی دی؟ ايا دا حکم له قياس سره سمون خوري؟ امام ابوحنيفه وويل: نه!

امام صادق وويل: لمونځ مهم دی که روژه؟ امام وويل: لمونځ. آنحضرت وويل: نو ولې پر حائضې ښځې د فرض روژې قضا فرض ده او د لمانځه نه؟ ايا دا حکم له قياس سره سمون خوري. امام وويل: نه!

امام صادق: اورېدلې مې دي، چې دا آيت " ثم لتسئلن يومئذ عن النعيم[1]: د قيامت پر ورځ به هرومرو د نعمتونه په باب وپوښتل شئ " داسې مانا کوې، چې: "الله تعالی به خلک د خوندورو خوړو او سړو اوبو، چې په دوبي کې ترې گټنه کوي، پوښتي؟

امام ابوحنيفه رحمة الله عليه وويل: سمه ده! زه دا آيت همداسې مانا کوم. امام صادق وويل: که څوک دې کور ته راوبلي او په خوندورو خوړو او سړو اوبو دې مېلمستيا وکړي او بيا ددې مېلمستيا په پار درباندې منت کېږدي؛ نو دداسې وگړي په باب به څنگه قضاوت - ورمندون کوې؟ امام ابوحنيفه رحمة الله عليه وويل: و به وايم، چې کنجوس دی. امام صادق وويل: ايا الله تعالی کنجوس دی؟امام ابوحنيفه رحمة الله عليه وويل: نو د هغو نعمتونو مراد، چې قرآن وايي، انسان يې په اړه پوښتل کېږي، څه دی؟ امام صاق وويل: مراد يې زموږ د رسالت د کورنۍ دوستي ده. "[2]

دا مناظره په بېلابېلو شيعي سرچينو کې راغلې؛ خو تر څه بريده ددې کيسې په متن کې په بېلابېلو سرچينو کې څه نا څه اضطراب او اندېښمني ده. پردې سربېره چې ددې

---

[1]. تکاثر /٨

[2]. علامه مجلسي، بحارالانوار ١٠ ټوک، ١٣ باب، ٢٢٠ مخ.

داستان بېلابېل نقلونه د وييني او مناظرې د څرنګوالي او د داستان په راويانو کې توپير لري، په تېره د هغه ځای په باب، چې دا مناظره پکې شوې، هم اړپېچ دی. ډېری روايتونه دا مناظره په مدينه او د امام صادق په کور کې ګڼي.[1] حال دا د ځينو روايتونو له مخې، دا کيسه په مکه کې د حج په ورځو کې شوې ده.[2]
په دې کيسه کې بله خبره، دا ده، په بېلابېلو نقلونو کې او همداراز په ورته روايتونو کې، په پيل کې امام صادق، امام ابوحنيفه پوښتي، چې څوک دی؟ دنده يې څه ده؟ له کوم ځايه دی؟.... حال دا امام صادق امام ابوحنيفه ښه پېژانده او پورته پوښتنو ته هېڅ اړتيا نه وه. ان که فرض کړو، چې په پيل کې امام صادق، امام ابوحنيفه رحمة الله عليه نه پېژانده؛ خو په يو ځل کتنه او په يوه غونډه کې معرفي کېده، چې بيا به په نورو غونډو کې معرفۍ ته اړتيا نه وي او العياذ بالله د امام صادق حافظه هم دومره کمزورې نه وه، چې امام ابوحنيفه هېر کړي او په بله کتنه کې ترې بيا وغواړي، چې ځان معرفي کړي. حال دا په قياس پورې په اړوند کيسو کې، لومړی امام ابوحنيفه پوښتي، چې څوک دی.
له دې کيسې او بېلابېلو نقلونو لاس ته را ورړای شو، چې امام صادق او امام باقر د قياس په باب د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه کړنلار نه خوښوله او په دې تکل کې وو، چې پر قياس له عمل کولو يې منع کړي (که څه پر قياس د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه عمل لکه څنګه چې تېر شول، په ځانګړيو ځايونو پورې ځانګړی و؛ خو صادقينو پر دومره قياس هم ډېره کول جايز نه ګڼل)خو د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه او صادقينو ترمنځ تراخه چلنونه او هغه تفصيلات، چې د صادقينو او امام ابوحنيفه ترمنځ ترېنګلتيا راښيي، په قوي احتمال ويلای شو، چې ځينو راويانو به له ځانه جوړ کړي وي او امام ابوحنيفه ته به يې له بدوينۍ راولاړېږي. دا تفصيلات لکه څنګه چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه له اهلبيتو لرې ښيي، په خواشينۍ په ځينو ځايونو کې يې د اهلبيتو د

---

[1]. محمد بن يعقوب کليني، اصول کافي ٥٨/١؛ شيخ طوسي، الامالي، ٦٤٥ مخ؛ شيخ صدوق، علل الشرايع ٨٦/١-٨٩ مخونه؛ احمد بن علي طبرسي، الاحتجاج ١١٤/٢؛ علامه مجلسي، بحارالانوار ٢٢٠/١٠؛ علي بن يونس العاملي، الصراط الستقيم ٢١١/٣ مخ؛ قاضي نعمان المغربي، دعائم الاسلام ٩١/١؛ هماغه سرچينه، شرح الاخبار ٢٩٩/٣.
[2]. احمد بن محمد بن خالد البرقي، المحاسن ٣٠٤/٢.

امامانو او د دوی د ځینو اصحابو څېره په ناځانخبري او ناغوښتي ډول نامناسبه انځور کړې ده.
بل ټکی دا په ډېر احتمال د ګڼو قیاسونو په باب ټول روایتونه یوازې یوه کیسه ده؛ ځکه په دې روایتونو کې ډېری الفاظ او تعبیرونه یو رنګ او ګډ دي او یوازې یې د بهیر ډول توپیر لري.
د قیاس په باب همدا مناظره، د اهلسنتو په سرچینو کې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه او امام باقر ترمنځ راغلې ده. د اهلسنتو ځینې معاصر لیکوالان او له دوی امام محمد ابوزهره او مصطفی شکعه د امام ابوحنیفه او امام باقر ترمنځ د دوستانه اړیکو د انځورولو په موخه او داچې ترمنځ یې کوم بنسټیز اړیپچ نه و؛ نو دا مناظره د مکي له مناقبو او د ابن بزازي له مناقبو (چې په دواړو سرچینو کې یې متن تقریباً یو شان دی)رانقلوي. د ابن بزازي او مکي د نقل له مخې، هغه مهال، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ځوان و، له امام باقر سره یې په لومړۍ کتنه کې فقهي خبرې اترې او مناظره رامخې ته شوه، چې د مناظرې په پای کې د قیاس په کارونه کې د امام ابوحنیفه د افراط په باب د امام باقر ورانپوهاوی او نورې ستونزې هوارې شوې او دا مناظره یې، چې د دوستۍ او یو له بله د روایتونو د اخستو لامل شوه. ددې خبرو اترو متن د له مخکې ویل شویو سرچینو له مخې داسې دی:
"امام باقر امام ابوحنیفه وپوښت، ته هماغه یې، چې زما د نیکه دین او احادیث دې په قیاس اړولي دي؟ امام ابوحنیفه په صداقت او د ځان سپینولو په موخه وویل: معاذ الله! امام باقر وویل: بلکې بدل کړي دې دي! او امام باقر دا خبره په ډاډ او د صداقت له مخې وکړه؛ ځکه له غالیانو یې د امام ابوحنیفه د فتواوو په باب ډېری خبرې اورېدلې وې، حال دا امام ابوحنیفه له دې توره پاک او لرې و؛ نوځکه یې امام باقر ته وویل: پر خپل ځای دې هاغسې کېنه، چې درسره یې ښایي، چې زه هم هاغسې کېنم، چې راسره ښایي؛ سکه، هغه درناوی راسره لرې، چې نیکه دې پر خپل ژوندون په خپلو اصحابو کې درلود. امام باقر کېناست حال دا په ادب کې یې د اهلبیتو مړانه څرګنده وه. امام ابوحنیفه یې مخې ته کېناست او له امام باقر نه یې خپلې پوښتنې وکړې، و یې ویل: درې څیزونه پوښتم، ځواب یې راکړه: سړی کمزوری دی که ښځه؟ امام باقر وویل: ښځه. امام ابوحنیفه وویل: دا دې د نیکه خبره ده که ما دې د نیکه دین اړولی

و؛ نو د قیاس له مخې غوره وه، چې سړی یوه برخه او ښځه دوه برخې ولري؛ ځکه ښځه تر سړي کمزورې ده.
امام ابوحنیفه دویمه پوښتنه وکړه: نمونځ مهم دی که روژه؟ امام باقر ځواب ورکړ: نمونځ. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه وویل: دا دې د نیکه خبره ده که ما دې د نیکه دین اړولی و؛ نو د قیاس له مخې غوره وه، ښځې له حیضه تر پاکېدو روسته نمانځه قضا راګرځولې وای نه روژه.
د امام ابو حنیفه درېیمه پوښتنه دا وه: متیازې ډېرې مردارې دي که مني؟ امام باقر وویل: متیازې. امام ابوحنیفه وویل: که د نیکه دین مې دې په قیاس اړولی و؛ نو حکم مې کاوه، چې تر متیازو کولو روسته دې غسل وشي او د مني تر راوتو روسته دې اودس وشي؛ خو معاذالله له دې چې په قیاس دې د نیکه دین واړوم؛ نو دلته وو جلیل مشر باقرالعلوم له ځایه راولاړ شو او امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ته یې غاړه ورکړه او د امام ابوحنیفه څېره یې ښکل کړه. "[1]
خو ددې خبرو اترو په باب دې وویل شي، چې:
۱. له دې خبرو اترو لاس ته راځي، چې امام باقر د قیاس وجه او د هغه قیاس د حکم علت، چې امام ابوحنیفه لاس ته راوړی و منلی و د بېلګې په توګه، د قیاس پر بنسټ باید ښځې ته یې د کمزورۍ له لامله دوه برخې ورکړل شوې وې؛ خو د امام باقرمنښته او د دې منل، چې د قیاس کچه، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په عقل ور رسېدلی و، شونې نه ده؛ ځکه د حکم ستونزه هغه نه ده، چې امام ابوحنیفه ورسېدلی و. [2]
۲. له بېخه دا خبرې اترې (یا لږ تر لږه ځینې عبارتونه او برخې یې) له ځانه جوړې شوې دي؛ ځکه کټ مټ همدا خبرې اترې؛ لکه څنګه مو چې ولیدې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه او امام صادق ترمنځ هم رانقل شوې. ابوزهره، چې د "الامام ابوحنیفه" په کتاب کې یې دا مناظره د موفق مکي او ابن بزازي په نقل راوړې ده، [3] په خپله د "الامام الصادق" په کتاب کې دا خبرې اترې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه او امام

---

[1]. موفق مکي، مناقب ابي حنیفه ۱۶۷/۱ مخ؛ ابن بزازي، مناقب ابي حنیفه ۱۷/۲.
[2]. محمد بیومي مهران، الامامة و اهل البیت ۴۳/۳-۴۵ مخونه.
[3]. محمد ابوزهره، امام ابوحنیفه، ۸۷-۸۸ مخونه.

صادق ترمنځ بولي او د الکليني له الکافي کتابه يې همدا مطلب رانقل کړی دی.[1].
ابوزهره د "مسند الامام احمد بن حنبل" د ۲۹۳ مخ په لومړي لمنليک هم د کليني په روايت ډاډ کړی او ياد کړی يې دی.[2]
يوازېنی ځيز، چې د قياس او دې مناظراتو او د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه او صادقينو د اړيکو په باب منلای شو، دادی، چې ځرګنده ده، چې امام باقر او امام صادق د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په "قياس کارونه" نيوکه کوونکي وو او په دې باب يې وېينه علمي او دوستانه وه؛ نه د شيعه وو هغه توند او ستغ ادبيات سم دي او نه د ځينو اهلسنتو له ځانه جوړې شوې خبرې، چې د امام ابوحنيفه په ستاينه کې د صادقينو کرچار اپوته ښيي.

## ۱۱. د اهلبيتو مرجعيت که د اصحابو؟

يوه بنسټيزه او ستراتيژيکه ستونزه، چې هم د شريعت د احکامو په استنباط او هم د ګروهيزو مسايلو په راوړاندې کولو کې، له قرآن کريم او د رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم تر کړنو او ويناوو روسته، د دين د لومړي مفسرانو په نامه، پر هغې لومړۍ ډلې د اړانې کچه ده، چې مسلمان يا اسلامي مذهب پرې بايد اډانه وکړي، د شيعه وو له ليد لوري دا ډله د اهلبيتو امامان دي، چې ددوی خورا ستره ځانګړنه "عصمت" او سپينلمنتوب دی. شيعه پر عصمت د ګروهې له لارې او ورپسې د اهلبيتو د ديني مرجعيت په منلو (چې په دواوړ ځايونو کې يې استناد د قرآن کريم آيتونه او د پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم ويناوې دي) او دا چې اهلبيت له دين څخه بشپړه پوهه او تفسير لري؛ نو پر دې يې ډاډ پيدا کړی او د پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم د سنتو په څېر د اهلبيتو سنت هم ځان ته حجت ګڼي. پر وړاندې يې اهلسنتو د اهلبيتو پر ځای په ټولو ديني ښوونو کې، اصحاب کرام او تر دوی روسته تابعين مرجع ګرځولي دي.
داچې د صحابه وو يا د اهلبيتو مرجعيت د ديني ښوونو په هر ځای کې له ځانګړي ارزښته برخمن دی، اهلسنت د شيعه وو په مذهب کې د اهلبيتو د عصمت پر ځای د

---

[1]. هماغه، الامام الصادق، ۱٤۲ مخ.

[2]. محمد ابوزهره، مسند الامام احمد بن حنبل، ۲۹۳ مخ، لومړی لمنليک.

"اصحابو پر عدالت" گروهن دي او د دې گروهې له مخې د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم ټولو اصحابو ته په ښوینې- خوشبینی، د دوی پوهه، تفسیر او ټولې کړنې پر ځان حجت گڼي. شیعه د اصحابو په باب پر تفضیل قائل دي؛ یعني ټول اصحاب له یوې مخې عادل نه گڼي او نه ټولو ته بدویني دي؛ بلکې معمولي انسانان يې گڼي، چې ځیني پکې د دین په پوهه او د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د سنتو په رانقلولو کې له ځانگړي مقامه برخمن دي او د ځینو نورو په خبرو او کړنو هم ډاډمنېدای نشو. اصحاب له وگړه ایز- شخصیتي اړخ هم په اخلاقي ځانگړنو کې "ذو مراتب" دي او ټول په یو مقام، درجه او ځای کې نه دي. د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم تر رحلت روسته او د صحابه وو کړنې په ښه توگه ددې مدعا شاهدان دي او د صحابه وو توپیري او یو د بل ضد کړنې يې په خپله له عدالت سره په ټکر کې دي حال دا مورږ د اهلبیتو په کړنو کې هېڅ ډول ټکر او اړپېچ نه وینو.

په دې سراسري لیکنه کې زمورږ آرېزه اندېښني همدا دي، چې روښانه کړو، چې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه کړنلار کوم ښوونځي ته ورنږدې ده. ښکاري، چې د صحابه وو په باب د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ځینو څرگندونو دا د عمومو اهلسنتو له گروهې لرې کړی او د شیعه لیدلوري ته يې ورنږدې کړی دی. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ټول اصحاب عادل نه گڼل او پر تفضیل قائل و. [1] ابوجعفر سکافي (معتزلي متکلم) د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له خولې وایي، چې ځیني اصحاب يې؛ لکه حضرت انس بن مالک (رض) او حضرت ابوهریرة (رض) له عادلو صحابه وو څنې نه گڼل. [2]

سره له دې هغه د حضرت عثمان (رض) او د یوه سلف سب او کنځل هم جایز نه گڼي. خطیب بغدادي نقلوي، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په مکه کې له عطاء بن ابي ریاح سره مخ شو، عطاء ورته وویل: " انت من اهل القریة الذین فرقوا دینهم و کانوا شیعا " بیا يې وویل: " من ای الاصناف انت؟" امام ابوحنیفه رحمة الله علیه يې په ځواب کې وویل: "ممن لا یسبب السلف و یؤمن بالقدر، و لا یکفر احدا بذبب. "[3]

---

[1]. دائرة المعارف بزرگ اسلامي، د ابوحنیفه مدخل، ۳۸۵/۵.

[2]. ابن ابي الحدید، شرح نهج البلاغه ٦٨/٤.

[3]. خطیب بغدادي، د بغداد تاریخ ۳۳۱/۱۳.

د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه دا وینا هم د شیعه وو له لیدلوري سره هېڅ توپیر نه لري که څه په اهلسنتو کې ډېری داسې کسان شته، چې د صحابه وو سب پر شیعیانو ورتړي؛ خو دا تور له بېخه بې بنسټه دی او په امامیه شیعه مذهب کې هېڅکله صحابه وو ته د سب سپارښتنه شوې نه ده. څه چې شیعه پرې ټینګار کوي دادی چې د ټولو اصحابو عدالت ورته موجه یا معقول نه دی او ګروهن دي، چې تر پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم روسته ځینې اصحاب له هغې لارې کاږه شول، چې پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم ور ښولې وه (د اهلبیتو دیني مرجعیت).

فخرالاسلام بزودي، چې په خپله حنفي مذهبی دی او د استنباط اصول یې د امام ابوحنیفه پر وړاندې تقریر کړي، وایي: امام ابوحنیفه رحمة الله علیه او زدکړیالانو یې په خپلو څرګندونو کې د صحابه وو له ویناوو سره مخالفت کړی دی. [1] امام سرخسي بل حنفي عالم ګروهن دی، چېرې، چې د رای او اجتهاد ځای وي؛ نو امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د صحابه وو له نظریاتو سره مخالفت کړی دی. [2] په څلورم څپرکي کې مو په دې باب د امام ابوحنیفه لیدلوریو ته اشاره وکړه او په شپږم څپرکي کې به هم ځینې روایتونه راوړو.

په هر حال امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په بشپړه توګه په هر څه کې ځان له صحابه وو او تابعینو په لاروی ملزم نه ګاڼه او د هغوی پر وړاندې یې، چې ځانونه د اصحابو او تابعینو د کټ مټ لاروی ملزم ګڼل، د اجتهاد لار خپله کړې وه او ویل یې: " هم رجال و نحن رجال "[3]؛ یعنې که اصحاب کرام د اند او فکر خاوندان وو؛ موږ هم د اند او فکر خاوندان یو؛ نو ولې په خپله اجتهاد و نه کړو او پر کوم پرېکنده دلیل په پټو سترګو د سلف له پوهې لاروي وکړو؟

د څه په رڼا کې، چې په تېرو مخونو کې مو د اهلبیتو په باب د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه لیدلوری راووړ، دې پایلې ته وررسېدای شو، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د اصحابو د عدالت او د صحابه او تابعینو د مرجعیت پر ځای ډېر د اهلبیتو پر مرجعیت ګروهن او ډاډمن و؛ خو په عین حال کې خپل اجتهاد ته هم په ذاتي او خپلواکيز-

---

[1]. علي بن محمد بزودي، اصول الفقه، ۹۲۷ مخ.

[2]. ابوبکر سرخسي، اصول الفقه له محمد ابوزهر، الامام ابوحنیفه، ۳۱۱ مخ نه په نقل سره.

[3]. ابن عبدالبر، الانتقاء من فضائل الائمة الثلاثة الفقهاء، ۱۴۳ مخ.

استقلالي ارزښت قايل و او ادعا نشو کولای، چې هغه په بشپړه توگه د اهلبيتو لاروی دی. (لکه څنگه چې د شيعه وو رسمي ډلې په تېره اماميه د اهلبيتو پر ديني مرجعيت گروهن دي).

## شپږم څپرکی

## له شیعیانو سره د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه اړیکې

## له شیعیانو سره د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه اړیکې

د خپل پېر له شیعیانو سره د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د اړیکو په باب (بې له علویانو سره یې اړیکې، چې وویل شول) ډېر معلومات را سره نشته. سره له دې، د ځینو محدودو روایتونو له مخې ویلای شو، چې نوموړی د اهلبیتو د امامانو له زدکړیالانو سره راشه درشه درلوده او د دوی په غونډوکې یې ګډون کاوه.
په ټول کې، په دې باب شیعي روایتونه دوه ډلې کولای شو: ځینې روایتونه وایي، چې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه او شیعیانو ترمنځ اړیکې ترینګلې وې او ځینو روایتونو سوله ییزې اړیکې رانقل کړي. لاندې ددې دوو ډلو روایتونو بېلګو ته اشاره کوو.

### ۱. هغه روایتونه، چې اړیکې ترینګلې ښیي

په ځینو شیعي روایتونو کې لکه څنګه چې د صادقینو اړیکې له امام ابوحنیفه رحمة الله علیه سره کړکېچنې کښل شوې، له زده کړیالانو سر یې هم د امام ابوحنیفه اړیکې داسې کښل شوي ته وا، یو له بل سره یې شخړه درلوده او ان یو د بل سپکاوی یې هم کړی دی. د کشي په رجال کې راغلي دي:
"یوه ورځ امام ابوحنیفه رحمة الله علیه مؤمن الطاق ته وویل: اباجعفره! ته پر رجعیت قائل یې؟ و یې ویل: هو! ابوحنیفه وویل: د پیسو له کڅوړې دې پینځه اشرفۍ پور راکړه او چې د رجعت نړۍ ته ستانه شو؛ نو در به یې کړم. مؤمن الطاق وویل: یومعتبر ضامن راکړه، چې [د رجعت نړۍ ته] انسان ستون شې؛ وېرېږم، سېرلی ستون شې او بیا در کړي مې درنه وانخستای شم."[1]
کشي په دوام کې یوه بله کیسه راوړې ده:
"یوه ورځ امام ابوحنیفه رحمة الله علیه مؤمن الطاق ته وویل: "قد مات امامک جعفر بن محمد: مشر دې؛ جعفر بن محمد ومړ ". مؤمن الطاق بې ځنډه ځواب ورکړ: " و اما

---

[1]. د کشي رجال ۴۲۶/۲.

امامک فمن المنظرين الى يوم الوقت المعلوم: خو ستا مشر (ابليس) به د قيامت تر ورځې پر تمه وي."[1]

امام محمد زاهد کوثري (حنفي عالم او د عثماني خلافت روستی شيخ الاسلام) څرګندوي، چېددې روايت سند کمزوری او اعتبار نه لري.[2]

د کشي په رجال کې دريېمه کيسه داسې ده:

"يوه ورځ مؤمن الطاق امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ته ورغی. امام ورته وويل: له تاسې شيعيانو نقلوي، چې که څوک در کې ومري؛ نو کيڼ لاس يې پرېکوئ، چې د قيامت پر ورځ کړنليک په ښي لاس کې ورکړشي مؤمن الطاق وويل: نعمانه! دا دروغ دي، چې پر موږ شيعيانو راتپل شوي؛ خو له تاسې مرجئه وو مې يوه خبره اورېدلې که په تاسې کې څوک ومري؛ نو يوه کوزه اوبه ورسره ږدئ، چې د قيامت پر ورځ تږی را پا نه څي. ابوحنيفه د ناچارۍ له مخې وويل: دا کيسه او هغه بله کيسه دواړه دروغ دي، چې پر موږ راتپل شوې دي."[3]

ښايي د شيعه وو د ګروهو په باب د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه معلومات دومره کمزوري نه وو، چې ددې خرافاتو په باب وپوښتي. له بېخه د مؤمن الطاق او امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په څېر له سترو او روحاني شخصيتونو لرې خبره ده، چې داسې چټې خبرې په خوله راوړي. داسې او ورته کيسې خورا ژورو څېړنو ته اړتيا لري او هرومرو داسې بې ادبانه متون ځينو په زړه ړندو متعصبانو جوړ کړی، چې په اند يې خپل مذهب پياوړی کړي.

بې له متني ستونزې او مفهومي چټياتو، معمولا دا روايتونه کمزوري سندونه لري او مرسل دي.

په يو بل مرسل روايت کې راغلي دي:

"فضال بن حسن بن فضال کوفي امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ته ورغی، چې امام په ستره غونډه کې ناست و او حديث او فقه يې ورته املا کوله. فضال ورسره ناست خپل ملګري ته وويل: پر الله تعالی که ابوحنيفه خيجل او پړ نه کړم! ملګري يې وويل: په

---

[1]. هماغه سرچينه.

[2]. محمد زاهد کوثري، تانيب الخطيب، ۲۱۳ مخ.

[3]. هماغه سرچينه ٤٣٣/٢.

خپله پوهېږي، چې د ابوحنیفه ځای او مقام څه دی، حجت یې څرګند دی. فضال وویل: غلی شه!تا کله لیدلي، چې د کافر حجت (؟!) غالب وي؟

فضال ابوحنیفه ته ورنږدې شو، سلام یې وکړ او امام ابوحنیفه رحمة الله علیه او غونډې د سلام ځواب ورکړ. فضال، امام ته وویل. یو رور لرم، چې وایي: تر پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم روسته تر ټولو غوره وګړی، حضرت علي بن ابیطالب دی؛ خو وایم، چې تر رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم روسته غوره وګړي لومړی حضرت ابوبکر (رض) او ورپسې حضرت عمر (رض) دی، الله تعالی دې وبښه! په دې باب څه وایې؟ امام ابوحنیفه رحمة الله علیه سر راپورته کړ، و یې ویل: دې دواړو ته همدومره ویاړ بس، چې په قبر کې د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ګاونډیان دي؛ نو تردې بل څرګند دلیل شته؟

فضال وایي: دا مطلب مې خپل رور ته ووایه؛ خو را ته یې وویل: که د قبر ځای د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وي اونه د دوی؛ نو په هغه ځای کې ښخول، چې خپل یې نه دی، له رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم سره یې ظلم کړی او که ځای د دوی وي او د الله تعالی رسول ته یې ورډالی کړی و؛ نو له آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم سره یې بدي کړې ده؛ ځکه له خپلې ډالۍ تېر شوي او خپله ژمنه یې ماته کړې ده.

امام ابوحنیفه رحمة الله علیه وویل: ځای د ددې دواړو نه و او نه په پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم پورې ځانګړی و؛ خو دواړو د عایشې بي بي او حفصې بي بي حق ته سترګې ونیوې؛ نو د خپلو لوڼو د حقوقو له مخې، هلته د ښخېدو مستحق شول. فضال وویل: ما دا مطلب ورته ووایه؛ خو راته یې وویل: پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم نهه مېرمنې درلودې؛ نو څنګه دا دواړه تر نورو ډېرې مستحقې شوې؟ پردې سربېره، څنګه دي، چې ام المؤمنین عایشه بي بي او ام المؤمنین حفصه بي بي له رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم میراث وړي؛ خو فاطمه یې له میراثه منع کېږي؟ امام ابوحنیفه رحمة الله علیه وویل: خلکو! له ما یې لرې کړئ! پر الله تعالی، چې یو خبیث رافضي دی."[1]

---

[1]. بحارالانوار ۷٤/۱۰ مخ.

هغه پوښتنه، چې ددې داستان په باب ذهن ته راځي، داده، چې ولې فضال پوښتنې له خپل اړخه وړاندې نه کړې او العیاذ بالله په دورغو یې وویل، یو روړ لرم، چې داسې وايي؟ حال دا ددې روایت د خبرو اترو د چاپېریال له مخې، دا خبرې په خپله د فضال وې.

دویم دا ولې فضال په دورغو او د خپلې گروهې پرخلاف وویل، چې زما په اند تر رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم روسته غوره وگړي حضرت ابوبکر او حضرت عمر (رضي الله عنهما) دي؟ایا دلته توریه (او تور تړل) مانا لري؟ ایا ویلای شو، چې فضال دلته تقیه کړې ده؟ حال دا په خپله یې وېینه پیل کړه او ددې روایت له مخې، راغلی و، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه پړ کړي.

په ځینو حنفي سرچینو کې هم کله د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه اړیکې له شیعیانو سره کړکېچنې ښوول شوي او دا روایتونه هم تر څه بریده خرافات او له ادبه لرې دي او په واقع کې د ځینو متعصبو حنفیانو لیدلوری دی، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ته ور منسوب شوی دی. په طبقات الحنفیه کې راغلي، چې یوه ورځ مؤمن الطاق (او د طبقات الحنفیه د تعبیر له مخې، "شیطان الطاق") حمام ته ولاړ او په حمام کې یې لنگ وا نه غوست، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه لغړ ولید، ورته یې وویل:

اقـول و فی قولی بلاغ و حکمة
و مـا قلت قولا جئت فیه بمنـکر
الا یــــا عبادالله خافوا الهــــکم
فــلا تدخلوا الحمــام الا بمئزر! [1]

(یوه خبره به درته وکړم، چې حکمت او ابلاغ پکې پټ دی او هغه خبره، چې منکر ورته لار لري، درته یې نه وایم. د الله تعالی بندگانو! له خپل الله تعالی مو وډار شئ او حمام ته بې اوزاره مه ور ننوځئ.)

په خواشینی، مذهبي تعصب برید نه پېژني او ان د روایتونو جعل هم کوي، چې د یو مذهب د مشرانو سپکاوی هم پکې وي.

[1]. تقي الدین عبدالقادر حنفي، طبقات السنیة فی تراجم الحنفیه ۱۳۹/۱ مخ.

له دې غافل دي، چې کله دا خرافات تر ورغندل شوي هغه ته ګران پرېوځي، چې يې ستايي. د بېلګې په توګه دلته پوښتلای شو، که دا روايت سم وي؛ نو پوښتلای نشو، چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په حمام کې له مؤمن الطاق سره څه کار درلود؟ ولې يې د بل په خصوصي چار کې لاسوهنه وکړه؟ که و يې هم منو، دا چار په عمومي حمام کې شوی؛ نو ايا منلای شو، د مؤمن الطاق په څېر يو ستر عالم به بربنډ حمام ته ور ننوځي؟!

## ۲. هغه روايتونه، چې دوستانه اړيکې ښيي

د هغو روايتونو پرخلاف، چې اشاره ورته وشوه، په ځينو نورو روايتونو کې له شيعيانو او د اهلبيتو د امامانو له زدکړيالانو سره د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه اړيکې دوستانه انځور شوې دي. يو له دې روايتونو ځنې وايي، چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د محمد بن مسلم په څېر وګړي د يو ثقه او ډاډمن عالم په نامه مانه. شيخ مفيد په "اختصاص" کې له محمد بن مسلم نه يو روايت رانقل کړی، چې يو کس د هغه ماشوم پر حکم پوهېدو ته محمد بن مسلم ته مراجعه کړې وه، چې د مور په ګېډه کې دی او مور يې مړه ده او محمد بن مسلم ترې پوښتي، چې چا رالېږلی يې. سړی ځواب ورکوي، چې:

" امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ته مې مراجعه وکړه او امام راته وويل، چې په دې باب راسره کوم روايت نشته او ته بايد محمد بن مسلم ته ولاړ شې او د مسلې حکم به درته ووايي. [بيا امام ابوحنيفه رحمة الله عليه وويل:] څه فتوا يې چې درکړه، ما ته راشه او له فتوا يې ما هم خبره کړه. "[1]

موفق مکي هم رانقلوي:

" امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د جابر بن يزيد جعفي (چې مشهور شيعه و او چې له امام باقر به يې احاديث نقلول، ويل يې: حدثنى وصى الاوصياء و وارث علم الانبياء محمد بن على الحسين [2]( په اړه وايي: "ليس عندى غى الكوفة فى بابه اكبر منه "[1]: زما په اند په کوفه کې، په خپل ډول کې ترې بل ستر شخصيت نشته. "

[1]. شيخ مفيد، الاختصاص، ۳۰۳ مخ.

[2]. شيخ مفيد، الارشاد، ۱۶۰ مخ.

د جابر بن يزيد جعفي په باب د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه دا څرګندونه په داسې حال کې ده، چې جابر ان په غلو هم تورن شوی دی.[2]
آيت الله واعظ زاده خراساني وايي: " په رجالي کتابونو کې کښل شوي، څو مشهور راويان، د امام باقر او امام صادق زدکړيالان پخوا د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه زدکړيالان وو او بيا تشيع ته واوختل؛ لکه زراره، محمد بن مسلم، جميل بن دراج او څو تنه نور، چې د يقيني روايتونو مهمه برخه ترې راروايت شوې ده.[3]
حال دا مخکې مو وليدل، چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د يوې مسلې د پوهاوي لپاره يو کس محمد بن مسلم ته ولېږه. دا ټکی ددې ښکارندوی دی، چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه له دې نه خپه کېده، چې زدکړيالان او ملګري يې د امام صادق په ډله کې شي. همداراز خپلې دوستانه اړيکې يې له خپلو پخوانيو زدکړيالانو سره وساتلې او پر علمي مقام يې منښتی و.
په ټول کې ښکاري، چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه له شيعيانو او د اهلبيتو د امامانو له زدکړيالانو سره سوله ييزې او دوستانه اړيکې درلودې او په خپله يې هم يو ډول شيعي لېوالتيا درلوده؛ خو څه چې لامل شوي، چې کله امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ته د شيعيانو مخالفت ورمنسوب شي؛ يو يې په فقه کې استنباطي کړنلار او د قياس مساله ده او بله له غاليانو سره د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ټکر او د راشده خلفاوو له سبه يې مخنيوی و. ته وا امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په خپلو ليدلوريو کې د يوې منځلارې د ټاکنې په تکل کې و، چې نه له ځانه عامه اهلسنت خپه کړي او نه يې اهلبيتو ته شا کړې وي.
له نظري پلوه، له ليدلوري يې، کېدای شو د راشده خلفاوو د منلو او ور ته نيک ګومان د اهلبيتو له مرجعيت او مينې سره يوځای کړو. له ټولنيز پلوه هم، امام ابوحنيفه رحمة الله عليه غوښتل له اهلبيتو سره د اړيکو د ساتلو په ترڅ کې او په علمي، فرهنګي او سياسي ډګر کې د دوی د غوراوي په منښتې په راشده خلفاوو پسې له سپکو سپورو

---

[1]. موفق مکي، مناقب ابي حنيفه، ۱۸/۲.
[2]. رسول جعفريان، حيات فکري و سياسي امامان شيعه، ٤١٣ مخ.
[3]. "ديدگاههای آيت الله بروجردي در تقريب مذاهب اسلامي"، اخبار تقريب، ٤١، ٤٢ګڼې، ٣٣-٣٤ مخونه، (له آيت الله واعظ زاده خراساني سره مرکه)

مخنیوی وکړي، چې د شیعه او سني ترمنځ د کړکېچ زمینه کمزورې کړي. [ژباړن: لکه چې د غزل بابا وایي: د کور خلک برابر د پردیو نه دي ـــــ زه اول یم پنجتني بیا چهار یاري.]

لکه څنګه چې په لومړي څپرکي کې اشاره ورته وشوه، د صادقینو پر مهال غلو او غالیانو خورا وده وکړه. دا مساله ددې ترڅنګ، چې ډېری اهلسنت یې تشیع ته بدوینه کړل، چې د تشیع او غالیانو ترمنځ یې د توپیرنې وسه هم نه درلوده؛ نو دا له هغو لاملونو څنې وو، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د اهلبیتو د فضایلو او د حقوقوپه اړه یې احتیاط ته اړ کړي. شیخ مفیدپه امالي کې نقلوي:

"محمد بن نوف بن عائذ صیرفي وایي: له هیثم بن حبیب بن صیرفي کره وم، چې ابوحنیفه نعمان بن ثابت راننووت. موږ امیرالمؤمنین علي بن ابیطالب رایاد کړ او د خم غدیر په اړه مو په منځ کې خبرې اترې وشوې. ابوحنیفه وویل: زدکړیالانو ته مې ویلي، چې خلکو د خم غدیر روایت مه رانقلوئ [1]؛ ځکه دوی (اهلسنت) به درسره دښمنان شي. د هیثم بن صیرفي رنګ واوخوت او ابوحنیفه ته یې وویل: ولې دې یې نه روایتوي، ایا دا حدیث درسره نشته. ابوحنیفه وویل: ولې نشته او ما راروایت کړی دی. هیثم وویل: ولې دې یې نه روایتوي؟ حال دا حبیب بن ابی ثابت له ابي طفیل له زید بن ارقم له حضرت علي کرم الله وجهه رانقل کړی، چې آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم په رحبه کې وویل: "چا چې دا حدیث اورېدلی وي، خلکو ته دې یې ووایي. "[2] امام ابوحنیفه وویل: " افلا ترون انه قد جری فی ذلک خوض حتی نشد علی الناس لذالک"؟ هیثم وویل: ایا موږ حضرت علي کرم الله وجهه تکذیب او خبره یې

---

[1]. د امام ابوحنیفه په تعبیر کې راغلي دي، چې: " لا تقروا لهم بحدیث غدیر خم فیخصوکم " په دې عبارت کې ظاهرا کارېدلی ضمایر به د "اهلسنت" مرجع وي.

[2]. د "رحبه" داستان ته اشاره، چې پر ۳۵ هجري کال امیرالمؤمنین د هغو کسانو پر خلاف، چې له ده سره یې شخړه کوله، د کوفې په رحبه کې په یوې ډلې خلکو کې حاضر شول او د خپل خلافت د حقانیت د اثبات لپاره یې د غدیر پر حدیث استشهاد وکړ او له خلکو یې وغوښتل، چې که چا دا حدیث له رسول الله (ص) څخه اورېدلی وي؛ نو شهادت دې ورکړي. دېرش تنو د غدیر پر حدیث شهادت ورکړ؛ خو زید بن ارقم پرې شهادت ور نه کړ؛ حال دا پوهېده. حضرت علي ورته ښېرې وکړې، چې خدایه ړوند یې کړې او ړوند هم شو؛ خو ړوندتوب روسته یې، د غدیر حدیث روایت کړ. (و ګ: ابن ابي الحدید، شرح نهج البلاغه ٤ ټوک، ٧٤ مخ، ٥٦ خطبه. تر دوو سوو ډېرو د اهلسنتو راویانو د رحبه داستان رانقل کړی دی.

رد کړو؟ امام ابوحنیفه وویل: حضرت علي کرم الله وجهه نه تکذیبوو او خبره یې نه ردوو؛ خو په خپله پوهیږې، چې ځینو خلکو غلو کړې ده. هیثم وویل: دا حدیث، رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ویلی او خطبه یې پرې ویلې او موږ یې د غالیانو د غلو په پار او د خلکو د خبرو په پار له ویلو ډډه نه کوو؟

دا کیسه حبیب بن نزار بن حیان امام صادق ته وکړه. امام تریو تندی شو. حبیب وویل: محمد بن نوفل په کیسه کې و. امام صادق وویل: بس کړه حبیبه! له خلکو سره یې د خویونو له مخې وچلیږئ او په خپلو کړنو ورسره مخالفت وکړئ. هر وګړی له هغه څه سره دی، چې کړي یې دي او د قیامت پر ورځ له هغه سره دی، چې ورسره مینه لري. موږ یو روزګار او دولت لرو که الله تعالی وغواړي؛ نو له سره به مو لرې شي. حبیب غلی شو او امام صادق وویل: پوه شوې حبیبه! زما له حکم سره مخالفت مه کوئ، ګنې پښېمانه به شئ. حبیب وویل: له حکمونو دې سرغړونه نه کوم. دا کیسه د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه او حبیب ترمنځ هغه مهال وشوه، چې عباسیان حکومت ته رسېدلي وو او د آل محمد فضایل یې ښکاره کولای نشول."[1]

موږ بې له دې، چې په دې اړه د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه کړنلار تایید کړو، له دې حدیثه مو اخستنه داده، چې په دې اړه یې دریځ له دوو چارو اغېزمن و؛ یعنې هم د غلو د بهیر له پرمختګه ډارېده او هم د عامو اهلسنتو فکر ورسره و؛ لکه څنګه چې د امام صادق له وینا او هم هغه توضیح، چې تر روایت لاندې راغلې، پوهېدای شو، چې د هغه روزګار شرایط، د تقیه شرایط وو او دا عملیه د امام باقر له پېره پیل شوې وه؛ نو د اهلبیتو د فضایلو بیانولو او پر حقوقو یې ټینګار ته په مناسب بڼه لاره چاره چمتو نه وه.

پردې سربېره، په خپله دا روایت ښیي، چې په هر حال امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له شیعیانو سره تګ راتګ او راکړه ورکړه درلوده او په غونډو کې یې ګډون کاوه او شیعیانو او د اهلبیتو د امامانو زدکړیالانو هم د اهلبیتو په باب ترې ځینې تمې درلودې؛ څکه د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه، هیثم او په غونډه کې د نورو ناستو کسانو ترمنځ وینه او همداراز همدا کیسه امام صادق ته کول او په دې بڼه د امام صادق څرګندونې، ډېرې خپلمنځي څرګندېږي او د دوو نمښتو او منښتو ترمنځ د وینې په څېر نه ده؛

[1]. شیخ مفید، الامالي (د شیخ مفید د مصنفاتو ۱۳ ټوک)، ۷۳ مخ.

يعنې د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه له څرګندونو لاس ته راځي، چې ده له خم غديره د شيعيانو اخستنه منلې وه او هيثم او ملګرو يې هم په همدې اټکل له امام ابوحنيفه رحمة الله عليه سره د خبرو لړۍ پرانستې وه.
د تشيع پر وړاندې د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه بله کړنلار دا وه، چې دوو لومړيو خلفاوو ته د شيعيانو ليدلوری بدل کړي او ورته د ځينو غالي شيعه وو د کنځلو مخنيوی وکړي. ابوزهره وايي: "امام ابوحنيفه رحمة الله عليه کوښښ کاوه، چې د آل البيت شيعيان حضرت عمر او حضرت ابوبکر (رضي الله عنهما) و نه کنځي ".[1] د مکي په مناقبو کې راغلي دي:
"امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ويل: مدينې ته ولاړم او ابوجعفر محمد بن علي (امام باقر) کره ولاړم. امام باقر راته وويل: عراقي روره! راسره مه کېنه! کېناستم او بيا مې وپوښتل: د حضرت ابوبکر او حضرت عمر (رضي الله عنهما) په باب مو نظر څه دی؟ [امام] وويل: الله تعالی دې حضرت ابوبکر او حضرت عمر (رضي الله عنهما) وبښـي. ومې ويل: په عراق کې ويل کېږي، چې تاسې له دې دوو برائت غواړئ؟ و يې ويل: معاذ الله! د کعبې پر الله تعالی قسم، چې دروغ يې ويلي دي. ايا نه پوهېږې، چې علي کرم الله وجهه خپله لور ام کلثوم د فاطمې بي بي لور حضرت عمر بن خطاب (رض) ته ورنکاح کړې وه؟ که [حضرت عمر (رض)] اهليت نه درلود؛ نو حضرت علي دا کار نه کاوه. ومې ويل: څومره به ښه شي، چې هغوی (عراقيانو) ته يو ليک واستوې او درتپل شوی دا تور له ځانه پاک او تکذيب کړئ، و يې ويل: له ليکه مې لاروي نه کوي؛ لکه څنګه مې چې در ته وويل، دلته مه کېنه، غوږ دې کېښود؛ نو څنګه به مې له ليکه لاروي وکړي؟"[2]
داچې امام باقر، امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ته وايي، چې راسره مه کېنه او هغه هم د "عراقي روره!" په تعبير کېدای شي ددې لپاره وي، چې عراقيان پر تشيع مشهور وو او د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه تګ راتګ هم، چې يوخوا له زيد بن علي او پاڅون سره يې په اړيکه کې و او بلخوا د اهل حديثو غوسه هم ورته راتله، د هغه احتياط پرخلاف

[1]. محمد ابوزهره، امام ابوحنيفه، ۷۲ مخ.
[2]. موفق مکي، مناقب ابي حنيفه ۱۶۰/۲.

وه، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه کاوه، کېدای شي هم یې امام باقر د توري خولې ته ورگوزاراوه او هم یې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه لپاره ناوړه سیاسي راتلونکې درلوده.

په ټول کې باید وویل شي، چې ظاهراً امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په دې تکل کې و، چې نه اهلسنت له ځانه خپه کړي او نه له اهلبیتو او تشیع واټن ونیسي؛ بلکې تر شوني بریده له دواړو بهیرونو سره په اړیکه کې و. د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه عقلپاله کړنلار او په فقهي استنباطاتو کې یې پر قیاس اډانه د اهل حدیثو د کرکې او غوسې موچې راپارولې وې او که له تشیع او له اهلبیتو او شیعیانو سره یې په اړیکو کې له احتیاطه کار اخستای نه وای؛ نو په ټولیزه توگه به یې په اهلسنتو کې خپل مقام له لاسه ورکړی و او دا چار امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ته د ډېرى مصلحت غواړیو علماوو په څېر د منلو وړ نه و.

# اووم څپرکی

## د اهلبيتو او تشيع په باب، د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه او حنفيانو د ليدلوريو پرتلنه

### ۱. د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په لارويانو کې څو لاسي

د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د اندو او نظرياتو د لاروی مدعيان په خپلو کې يوه خوله نه دي او د امام له اندو يې قرائتونه سره خورا توپيرونه لري؛ لکه څنګه چې په دريېم څپرکي کې مو اشاره ورته وکړه، د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه لومړني لارويان دوه ډلې وو: د امام عقلپال او ګروهيز لارويان د " کلامي او عقلپالو حنفيانو" په نامه او فقهي لارويان يې د "اهلسنت او جماعت " په نامه پېژندل کېدل، چې فقهي لارويان يې ډېری حديثپالې لېوالتياوې لري. دويمه ډله نن په خپله په بېلابېلو ډلو وېشل کېږي، چې کله ددوی د ليدلوريو ترمنځ توپير له شيعه او حنفي ډلو ترمنځ له توپيره خورا ډېر وي او واټن يې هم ډېر وي. ځينې دا ډلې د اهلبيتو له ښوونځي سره خورا واټن لري او تشيع ته هم خورا بدوين دي، حال دا ځينې پکې تر څه بريده د اهلبيتو ښوونځي او تشيع ته ورنږدې کېږي؛ نو پردې بنسټ د ټولو هغو وګړيو په باب يو ډول قضاوت نه شو کولای، چې ځانونه د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه لارويان ګڼي.
په دوام کې به ځينو حنفي ډلو او ځينو توپيرونه ته يې اشاره وکړو او هم هغو لاملونو ته چې ځينې حنفي ډلې يې د اهلبيتو له ښوونځي لرې او بدوينه کړې دي.

### ۱-۱. ماتریدي حنفیان

د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ډېری لارویان هغه وګړي دي، چې په کلام کې د ابومنصور ماتریدي لارویان دي او د ماتریدي له لارې خپل کلام هم د ده له روایت له مخې، په امام ابوحنیفه رحمة الله علیه پورې نښلوي؛ لکه څنګه چې مخکې هم اشاره ورته وشوه، ماتریدي کلام سره له دې، چې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه کلامي اندې اهل حدیثو ته ورته نږدې کوي؛ خو بیا هم د اهلسنتو په کلامي مذاهبو کې د اهلبیتو ښوونځی ته خورا ورنږدې او سازګار ښوونځی دی.

د اهلبیتو په باب د ماتریدي حنفیانو لیدلوری تقریباً منځ لاری لیدلوری دی او د اهلبیتو ډېری فضایل مني. د بېلګې په توګه: ملا علي قاري هروي د فقه الاکبر شارح د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د وینا په شرحه کې وایي:

" و نشهد... فاطمة و زینب و رقیه و ام کلثوم کن جمیعا بنات رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم "، راوړي دي:

" د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په ویناوو کې پر زینب د فاطمې لومړیتوب په رتبه کې یې د لومړیتوب له لامله دی. روایت دی، چې: فاطمه ځکه فاطمه نومول شوې، چې الله تعالی دا او ځوځات یې د دوزخ له اوره لرې ساتي... په بل روایت کې راغلي، چې فاطمه ځکه فاطمه نومول شوې، چې الله تعالی دا او مینوال یې د دوزخ له اوره ساتي. همداراز بتول نومول شوې؛ ځکه هغه له خپلو همپېرو ښځو نه په فضیلت، دین، حسب او نسب کې غوره ده... له علي کرم الله وجهه سره یې واده د الهي وحې په حکم و او په کورنۍ کې پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ته تر ټولو ګرانه وه. رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم به چې له کوم سفره راستون شو؛ نو فاطمه به لومړۍ تنه وه، چې له پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم سره به یې کتل. پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل: فاطمه مې د بدن ټوټه ده، څوک یې چې وځوروي، زه یې ځورولای یم.... همداراز پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ورته وویل: خوښه نه یې، چې د نړۍ د مېرمنو اغلې ووسې؟ په بل روایت کې راغلي، چې دا د جنتي ښځو اغلې ده.... فاطمې، علي کرم الله وجهه ته حسن او حسین د جنتي ځوانانو ښاغلي وزېږول... او محسن، چې په ماشومتوب کې ومړ او ام کلثوم او زینب. د رسول الله

صلی الله علیه و آله وسلم ځوځات يوازې د فاطمې له لارې دی او له فاطمې يې ځوځات يوازې له دوو لمسيو حسنينو څخه پاتې دی."[1]
ملا قاري هروي د حضرت امام مهدي په باب وايي:
" اما په اخرالزمان کې د امام مهدي راښکاره کېدل او داچې نړۍ به له عدله ډکه کړي؛ لکه څنګه چې له تېري او ظلمه ډکه شوې وه او داچې امام مهدي د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم له عترت او د فاطمې له ځوځاته دی. جوته شوې ده او په دې باب له رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم خورا روايتونه رانقل شوي دي."[2]

## ۲-۱. دولس امامي حنفيان

دولس امامي سنيان هغوی ته ويل کېږي، چې د عمومي اهلسنتو د ګروهې له مخې، د راشده خلفاوو د خلافت د منلو ترڅنګ، د اهلبيتو د دولس ګونو امامانو پر لوړ مقام هم د الهي فيض او واسطې په توګه ګروهن دي او له اهلبيتو سره مينه کوي. دا ډول لېوالتيا په سني صوفيانو کې دود ده او دا ډول وګړي ډېری په نهمه او لسمه هجري پېړۍ کې وو.
دوی د شيعه وو ځينې ګروهې؛ لکه تبری، رجعت، بداء او... نه مني؛ خو د اهلبيتو فضايل او مناقب خورا رانقلوي او پر راشده خلفاوو سربېره د دولس ګونو امامانو امامت مني او له دوی تبری او ورته کنځل او ښېرې کول جايز نه ګڼي. د دولس ګونو امامانو امامت هم د صوفيه د سترو اقطابو او روحاني مشرانو په توګه مني او سياسي مشري د اهلبيتو د امامانو نه ګڼي. په امام مهدي هم ګروهن دي او د اماميه وو په څېر ګروهن دي، چې هغه د امام حسن عسکري زوی دی؛ البته په دوی کې ځينو ويلي، چې هغه مړ شوی او ډېری يې هم پر ژونديتوب ګروهن دي.
ډېری ليدل کېږي، چې په شيعه او سنيانو کې کمزور بنسټه ليکوالان او ويناوال، چې دداسې وګړيو پر مذهبي دريځ سم پوه شوي نه دي، په باب يې يو اړخيزې خبرې کوي. ځينې شيعه مذهبي ګروهن دي، د بېلګې په توګه: مولانا بلخي، سنايي او يا.... شيعه وو او د خبرې ادعا يې په اشعاور کې د اهلبيتو ستاينه ده، پر وړاندې يې ځينې

---

[1]. ملا قاري هروي، شرح فقه الاکبر، ۲۲۴-۲۲۵ مخونه.
[2]. هماغه سرچينه، ۴۱۲ مخ.

اهلسنت لیکوالان هڅه کوي، شیعه توب یې رد کړي او د خبرې ادعا یې ددې وګړیو له لوري د راشده خلفاوو د خلافت منل دي. حال دا، دا ډول وګړي د شیعه او سني په هغه قالب کې نه رانغاړل کیږي، چې د ننني محترمو لیکوالانو په پام کې دي.
دا ډله وګړي؛ لکه څنګه چې مې وویل، په عین حال کې په خپل فقهي مذهب کې د اهلسنتو یو له څلورګونو امامانو (ډیری یې د امام ابوحنیفه) لارویان دي او د راشده خلفاوو خلافت د راپیښېدو په اوډون مني، اهلبیتو ته هم، په تېره په علمي او مانیز-معنوي ډګر کې په ځانګړي مقام قایل دي او په اند یې ددې دوو راټولول هېڅ پروا نه کوي او باید داسې وي.
په حنفیانو کې د داسې لېوالتیا په باب (چې ددې لېوالتیا ډیری وګړي حنفي مذهب او بیا شافعي دي) لاندې وګړیو ته اشاره کولای شو:

## ۱-۲-۱. مولانا جلال الدین بلخي (۶۰۴-۶۷۲ س)

ستر عالم او مشهور عارف جلال الدین محمد مولوي بلخي، په خپلو شعري ټولګو؛ مثنوي او د شمس تبریزي په کلیاتو کې اهلبیتو ته خپله مینه څرګنده کړې ده. هغه د امیرالمؤمنین علي کرم الله وجهه د وګړې- شخصیت پر ستاینې سربېره، دکربلا د سترې پېښې په باب هم له درد او درکه ډکه شاعري کړې، چې پر اهلبیتو یې د زړه بایلو څرګندوی ده. مولوي د عاشورا پېښه په عرفاني لید ګوري او د شهید، د دین خسرو، د غیب خسرو، فدایي، پارسا، مخکښ او د سلوک مخکښ په نامه د ټکیو له لارې د سید الشهداء مقام راپېژني.
مولانا د مثنوي په لومړي دفتر کې د حضرت علي کرم الله وجهه ستره وګړه راسپړلی او د هغه ستر او بشپړ انسان د خوی پر بنسټ په هڅه کې دی، چې مسلمانانو ته زده کړې ترې ورکړي. د مولانا بلخي دا اوږده شعرونه څکه دلته راوړو، چې د امیرالمؤمنین علي کرم الله وجهه په باب یې لید لوری روښانه شي:

از علي آموز اخلاص عمل
شیر حق را دان منزه از دغل
در غزا بر قهرمانی دست یافت
زود شمشیری کشید و برشتافت
او خدو انداخت در روی علی
افتخار هر نبي و هر ولی
آن خدو زد بر رخی که روی ماه
سجده آرد پیش او در سجده گاه
در زمان انداخت شمشیر آن علی
کرد او اندر غزایش کاهلی
گشت حیران آن مبارز زین عمل
وز نمودن عفو و رحم بی محل
گفت: بر من تتغ تیز افراشتی
از چه افکندی مرا بگذاشتی؟
آن چه دیدی بهتر از پیکار من
تا شدی تو سست در شکار من؟
آن چه دیدی که چنین خشمت
نشست
تا چنان برقی نمو د باز جست؟
آن چه دیدی که مرا زان عکس دید
در دل و جان شعله ای آمد پدید؟
آن چه دیدی برتر از کون و مکان
که به از جان بود و بخشیدم جان؟
در شجاعت شیر ربانیستی
در مروت خود بدانی کیستی
در مروت ابر موسایي به تیه

کآمد از وی خوان و نان بي شبیه
ابرها گندم دهد کان را به جهد
پخته و شیرین کند مردم چو شهد
ابر موسی پر رحمت بر گشاد
پخته و شیرین بی زحمت بداد
از برای پخته خواران کرم
رحمتش افراشت در عالم و علم
تا چهل سال آن وظیفه و آن عطا
کم نشد یک روز زان اهل رجا
تا هم ایشان از خسیسی خاستند
گندنا و تره و خس خواستند
امت احمد که هستید از کرام
تا قیامت هست باقی آن طعام
ای علی که جمله عقل و دیده ای
شمه ای وا گو از آنچه دیده ای
تیغ حلمت جان ما را چاک کرد
آب علمت خاک ما را پاک کرد
باز گو ای باز عرش خوش شکار
تا چه دیدی این زمان از کردگار؟
چشم تو ادراک غیب آموخته
چشم های حاضران بردوخته
راز بگشا ای علی مرتضی
ای پس از سوء القضا، حس القضا
یا تو وا گو آنچه عقلت یافته است
یا بگویم آنچه بر من تافته است
از تو بر من تافت چون داری نهان

می فشانی نور چون مه بی زبان
لیک اگر در گفت آید قرص ماه
شب روان را زودتر آرد به راه
از غلط ایمن شوند و از ذهول
بانگ مه غالب شود بر بانگ غول
چون تو بابی آن مدینه علم را
چون شعاعی آفتاب حلم را
باز باش ای باب رحمت تا ابد
بارگاه ما "له کفوا احد"
گف: فرما، یا امیرالمؤمنین
تا بجنبد جان به تن در چون جنین
چون جنین را نوبت تدبیر او
از ستاره سوی خورشید آید او
چونکه وقت آید که گیرد جان جنین
آفتابش آن زمان گردد معین
این جنین در جنبش آید زآفتاب
کآفتابش جان همی بخشد شتاب
از کدامین ره تعلق یافت او
در رحم با آفتاب خوب رو؟
از ره پنهان که درو از حس ماست
آفتاب چرخ را بس راه هاست
باز گو ای باز پر افروخته
باشه و با ساعدش آموخته
باز گو ای باز عنقا گیر شاه
ای سپاه اشکن به خود، نی باسپاه
امت وحدی یکی و صد هزار
باز گو ای بنده، بازت را شکار

در محل قهر، این رحمت زچیست
اژدها را دست دادن راه کیست؟
گفت: من تیغ از پی حق می زنم
بنده حقم، نه مامور تنم
شیر حقم نیستم شیر هوا
فعل من بر دین من باشد گوا
من چو تیغم پُر گهرهای وصال
زنده گردانم، نه کشته در قتال
خون نپوشد گوهر تیغ مرا
باد از جا کی برد میغ مرا؟
که نیم، کوهم زحلم و صبر و داد
کوه را کی در رباید تند باد؟
آنکه از بادی رود از جا خسی ست
زانکه بادناموافق خود بسی ست
باد خشم و باه شهوت باد آز
بُرد او را که نبود اهل راز
کوهم وهستی من بنیاد اوست
ورشوم چون کاه بادم باداوست
جز به یاد او نجنبد میل من
نیست جز عشق احد سرخیل من
خشم بر شاهان شه و ما را غلام
خشم را هم بسته ام زیر لگام
تیغ حلمم گردن خشمم ز دست
خشم حق بر من چو رحمت آمده
است
غرق نورم گرچه سقفم شد خراب
روضه گشتم گرچه هستم بو تراب

چون در آمد در میان غیر خدا
تیغ را اندر میان کردن سزا
تا "احب لله" آید نام من
تاکه "ابعض لله" آید کام من
تا که "اعطا لله" آید جود من
تا که "امسک لله" آید بود من
بخل من لله، عطا لله و بس
جمله لله ام، نیم من آن کس
وآن چه لله می کنم تقلید نیست
نیست تخییل و گمان جز دیدنیست
ز اجتهاد و از تحری رسته ام
آستین بر دامن حق بسته ام
گر همی پرم همی بینم مطار
ور همی گردم همی بینم مدار
ورکشم باری بدانم تا کجا
ماهم و خورشید پیشم پیشوا
بیش ازین با خلق گفتن روی نیست
بحر را گنجایی اندر جوی نیست
پست می گویم به اندازه عقول
عیب نبود، این بود کار رسول
اندر آ من در گشادم مر تو را
تف زدی و تحفه دادم مر تورا
پس جفا گر را چنین ها می دهم
پیش پای چپ چه سان سر می نهم
پر وفاگر را چه بخشم؟ بو بدان
گنج ها و ملک های جاودان
گفت: امیر المؤمنین با آن جوان
که به هنگام نبرد، ای پهلوان
چون خدو انداختی در روی من
نفس جنبید و تبه شد خوی من
نیم بهر حق شد و نیمی هوا
شرکت اندر کار حق نبود روا
نقش حق را هم به امر حق شکن
برزجاجه دوست سنگ دوست زن
گبر این بشنید و نوری شد پدید
در دل او تا که ز ناری برید
گفت: من تخم جفا کاشتم
من تو را نوعی دگر پنداشتم
تو ترازوی احد خو برده ای
بل زبانه هر ترازو بوده ای
تو تبار واصل و خویشم بوده ای
تو فروغ شمع کیشم بوده ای
من غلام موج آن دریای نور
که چنین گوهر برآرد در ظهور
عرضه کن بر من شهادت را که من
مر تو را دیدم سرافراز زمن
قرب پنجه کس زخویش و قوم او
عاشقانه سوی دین کردند رو
او به تیغ حلم چندین خلق را
وا خرید از تیغ چندین حلق را
تیغ حلم از تیغ آهن تیزتر
بل ز صد لشکر ظفر انگیز تر[1]

---

[1]. مثنوی معنوی، دفتر اول، ابیات ۳۷۲۱-۳۸۲۵

مولانا بلخي د شمس تبريزي په شعري ټولګه کې د کربلا د شهيدانو په باب وايي:

کجایید ای شهیدان الهی کجایید ای در مخزن گشاده
بلا جویان دشت کربلایی کجایید ای نوای بی نوایی
کجایید ای سبک روحان عاشق در آن بحرید کین عالم کف اوست
پرنده تر ز مرغان هوایی زمانی بیش دارید آشنایی
کجایی ای شهان آسمانی کف دریاست صورتهای عالم
بدانسته فلک را در گشایی زکف بگذار اگر اهل صفایی
کجایید ای ز جان و جا رهیده دلم کف کرد کین نقش سخن شد
کسی مر عقل را گوید کجایی؟ بهل نقش و به دل رو گر زمایی
کجایید ای در زندان شکسته بر آ ای شمس تبریزی ز مشرق
بداده وامداران را رهایی که اصل اصل اصل هر ضیایی

د شمس تبريزي په شعري ټولګه کې په يو بل ځای کې هم هڅه کوي، چې حسين بن علي او د کربلا شهيدان راوپېژني:

چیست با عشق آشنا بودن ترس ایشان ز بی بلا بودن
به جز از کام دل جدا بودن شیشه می گیر و روز عاشورا
خون شدن خون خود فرو خوردن تو نتوانی به کربلا بودن[1]
باسگان بر در وفا بودن
او فداییست هیچ فرقی نیست
پیش او مرگ و نقل یا بودن
رو مسلمان سپر سلامت باش
جهد میکن به پارسا بودن
کین شهیدان ز مرگ نشکیبند
عاشقانند بر فنا بودن
از بلا و قضا گریزی تو

[1]. هماغه سرچينه، غزل ۲۱۰۲

په یوه بل غزل کې یې د یزید او حسین تقابل داسې شرح کړی دی:

ز سوز شوق دل همی زند عللا
که بوک در رسدش از جناب وصل صلا
دلست همچو حسین و فراق همچو یزید
شهید گشته دو صدره به دشت کرب و بلا
شهید گشته بظاهر حیات گشته به غیب
اسیر در نظر خصم و خسروی بخلا
میان جنت و فردوس وصل دوست مقیم
رهیده از تک زندان جوع و رخص و غلا
اگر نه بیخ درختش درون غیب ملیست
چرا شگوفه وصلش شکفته است ملا
خموش باش و ز سوی ضمیر ناطق باش
که نفس ناطق کلی بگویدت افلا[1]

د حلب د شیعیانو په داستان کې (د مثنوي شپږم دفتر) هم مولانا د امام حسین پر اسماني او ستره وګړه رڼا اچوي:

روز عاشورا نمی دانی که هست
ماتم جانی که از قرنی به است
پیش مؤمن کی بود این غصه خوار
قدر عشق گوش عشق گوشوار
پیش مؤمن ماتم آن پاک روح
شهره تر باشد ز صد طوفان نوح[1]

---

[1]. هماغه سرچینه، غزل، ۲۳۰

او د حسيني ويرجنو پر زيان پېژندنه رڼا اچوي او وايي، چې د حسين غم د هغه چا لپاره خورا ستر او درون دی، چې د الله تعالی او د الله تعالی د استازي رښتين لاروی وي؛ ځکه څوک چې له حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم سره مینه کوي؛ باید له امام حسين سره هم مينه وکړي، چې " حسين منی و انا من حسين " قدر عشق گوش عشق گوشوار؛ لکه څنگه چې د انسان غوږ خوښ دی، غوږوالی یې هم خوښه ده؛ له غوږه مراد حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم او له غوږوالی مراد امام حسين دی. د مؤمن له نظره د سيد الشهداء د پاک روح درناوی او ورته وير کول د نوح تر سلو توپانونو هم مشهور دی. مولوي په ۷۹۱ او ۷۹۲ دوو بيتونو کې د مؤمن پر ټکي له ټينگار سره او له حسين سره د ورمنسوبېدو څرنگوالی يې له حسين سره "تولا" او د امام حسين له دښمنانو "تبری" او کرکه څرگندول د ايمان اومؤمن له نښو ځنې معرفي کوي؛ ته وا د مولانا د امام حسين د زيارت دې برخې ته پام و، چې وايي: " يا ابا عبدالله لقد عظمت الرزيه و جلت و عظمت المصيبه بک علينا و جميع اهل الاسلام: ابا عبدالله! په رښتيا چې وير دې ستر او پر موږ او ټولو اسلاموالو دې غم او خپگان درون دی. " حسين د سلطاني روح او شاهنشاه په نامه يادېږي، چې د مولانا د نورو اشعارو په رڼا کې او مراد ترې د عشق سلطان دی. (و گ: صفوي –سيد سليمان -۱۳۸٦) او همداراز حسين ته د دين خسرو ويل شوی دی، مولوي د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم يو صحابي او خليفه هم په دې لقبونو ياد کړی نه دی. امام حسين د صادق واصل عاشق اعلی بېلگه ده او هغه د دين خسرو او د عاشقانو شاهنشاه دی، چې د دنيا له قيده خلاص شوی او د غيبو نړۍ ته ور هسک شوی دی.

بيا مولانا وايي: ويرجنو! د ځان پر حال وژاړئ، چې له حسيني ارزښتونو سره خورا واټن لرئ. پر حسين مه ژاړئ، بايد پر خپل خراب ايمان او زړه وژاړئ، چې ددې فاني دنيا په مزخرفاتو مو زړه تړلی دی او بيا د دين د دروغجنو مدعيانو ځواب ورکوي، وايي: دينوالي خپلې نښې لري، چې ځنې يې: "توکل"-"سرښندنه" –"مانيزه ښکلا" او "ښښنه" ده، چې په تاسې کې نه ليدل کېږي. که حسيني ياست او د الهي عشق شراب مو څښلي وي؛ نو ولې مو په کړنو او ويناوو کې اغېز نه ليدل کېږي؟

[1]. ب۷۹۳-۷۹۰- دفتر ششم مثنوی

پس عزا برخود کنید ای خفتگان
ز آنکه بدمرگی است این خواب گران
روح سلطانی ز زندانی بجست
جامه چه درانیم و چو خاییم دست
چونکه ایشان خسرو دین بوده اند
وقت شادی شد چو بشکستند بند
سوی شادروان دولت تاختند
کنده و زنجیر را انداختند
روز ملک است و گش و شاهنشهی
گر تو یک ذره از ایشان آگهی
ورنه ای آگه برو بر خود گری
ز آنکه در انکار نقل و محشری
بر دل و دین خرابت نوحه کن
که نمی بیند جز این خاک کهن
ور همی بیند چرا نبود دلبر
پشتدار و جان سپار و چشم سیر
در رخت کو از می دین فرخی
گر بدیدی بحر کو کف سخی
آنکه جو دید آب را نکند دریغ
خاصه آن کاو دید آن دریا و میغ[1]

مولانا په دې غزل کې هم په پرتلېزه څېړنه هڅه کوي، چې له حسین، حسیني عاشقانو او "پاتې شونيو" د غوره پوهې له لارې د کربلا حماسي لار وښيي.

[1] . مثنوی معنوی، دفتر ششم، بیت های ۷۹۵-۸۰۵

چیست با عشق آشنا بودن
بجز از کام دل جدا بودن
خون شدن خون خود فرو خوردن
با سگان بر در وفا بودن
او فداییست هیچ فرقی نیست
پیش او مرگ و نقل یا بودن
رو مسلمان سپر سلامت باش
جهد میکن به پارسا بودن
کین شهیدان ز مرگ نشکیبند
عاشقانند بر فنا بودن
از بلا و قضا گریزی تو
ترس ایشان ز بی بلا بودن
شیشه می گیر و روز عاشورا
تو نتانی به کربلا بودن[1]

د میرزا حسن نوري په کشف الاستار کې مولوي د دولس گونو امامانو په ستاینه کې یوه بله قصیده ته ورمنسوب شوې، چې لومړي او روستي بیتونه یې دادي:

"ای سرور مردان علی مستان سلامت می کنند"
تردې چې په پای کې د دولس گونو امامانو تر شمېرلو روسته وایي:
"با میر دین هادی بگو با عسکری مهدی بگو
با آن ولی مهدی بگو مستان سلامت می کنند"[2]

ځینې گروهن دي، چې له شمس نه د مولوي مراد هم موعود مهدي دی. ډېری مولوي پېژندنکیو ویلي، چې د شمس تبریزي په نامه څوک نه و، چې د مولانا همپېری

---

[1] . کلیات شمس، غزل ۲۱۰۲
[2] . میرزا حسین نوری، کشف الاستار، ص ۸۱

او له مولانا سره و او د مولانا د تخیل زوکړه یې ګڼي؛ خو که د ددې شمس مصداق هماغه غایب او موعود مهدي وي؛ نو دا چار منطقي بریښي او نور به د مولانا د همپېري شمس د لټون اړتیا نه وي. دا ټکی مو هم په ګوته کړ، چې ډېری حنفي عرفاوو، چې دلته مو د دولس امامي حنفیانو په نام یاد کړل، دا په ډاګه کړې، چې موعود مهدي د امام حسن عسکري زوی دی، چې پټ شوی او هغه مهال به راښکاره شي، چې الله تعالی وغواړي او نړۍ به له عدل او انصافه ډکوي. په ډېری روایتونو کې حضرت مهدي په "شمس" تعبیر شوی او په ځینو روایتونو کې "والشمس والضحی" په حضرت مهدي تاویل شوی دی. دا غایب شمس او د حقیقت دې لمر له مولانا زړه وړی او د هغه د راښکاره کېدو او وصل لپاره د شمعې په څېر سوځي. د لاندې شعرونو مخاطب بې له موعود مهدي بل څوک نه شو ګڼلای:

می بده ای ساقی آخر زمان
ای ربوده عقل های مردمان
خاکیان زین باده بر گردون زنند
ای می تو نردبان آسمان
له دې شعرونو سره:
این کیست این این کیست این
این یوسف ثانی است این
خضر است و الیاس این مگر
یا آب حیوان است این
این باغ روحانی است این
یا بزم یزدانی است این
سرمه سپاهانی است این
یا نور سبحانی است این
خورشید رخشان می رسد
مست و خرامان می رسد
با گوی و چو گان می رسد سلطان میدانی است این

### ۲-۲-۱. شیخ فریدالدین عطار نیشابوري (۵۰۷ س مړ)

محمد بن ابراهیم فریدالدین عطار د صوفیانو ستر شیخ او حنفي عالم دی، چې د اهلبیتو په ستاینه کې یې شعرونه ویلي دي. نوموړی "تذکرة الاولیاء" د امام صادق په ژوند لیک پیلوي او دا د ټولو دولس گونو امامانو د یاد په څېر گڼي:

" هغه د مصطفوي ملت سلطان، د نبوي برهان حجت... یو څو ټکي به ترې (امام صادق) راوړو، چې دوی (اهلبیت) ټول یو دي او دا چې هغه یې یاد کړې؛ لکه چې د ټولو، یاد دې کړی وي. گورې نه! څوک یې چې پر مذهب وي [امامي شیعیان/اثناعشري/جعفري] د دولس گونو امامانو پر مذهب دي؟؛ یعنې یو دولس دی او دولس یو دی.... "[1]

بیا پر اهلبیتو د گروهې په اړه لیکي: " له هغه قومه تعجب کوم چې اهل سنت و جماعت اهل بیتو ته لازم درناوی نه لري؛ خو داسې نه ده، څوک چې پر محمد صلی الله علیه و آله وسلم ایمان لري او پر اولادې یې ایمان نه لري؛ نو پر محمد صلی الله علیه و آله وسلم ایمان نه لري. "

بیا په دې باب د شافعي مشهور شعر ته اشاره کوي:

"لو کان رفضا حب آل محمدفلیشهد الثقلان انی رافضی "[2]

عطار د اهلبیتو په ستاینه کې شعرونه لري، چې په پیل کې یې وایي:

" مصطفی ختم رسل شد در جهان

مرتضی ختم ولایت در عیان

جمله فرزندان حیدر اولیا

جمله یک نوراند حق کرد این ادا"

د دولس تنو امامانو تر شمېرلو روسته وایي:

"صد هزار اولیا روی زمین

از خدا خواهند مهدی را یقین

یا الهی مهدیم از غیب آر

---

[1]. فریدالدین عطار، تذکرة الاولیاء ۲۱/۱.

[2]. هماغه سرچینه /۲۲.

تا جهان عدل گردد آشکار
مهدی هادیست تاج اتقیاء
بهترین خلق برج اولیاء
ای ولای تو معین آمده
بر دل و جانها همه روشن شده
ای تو ختم اولیای این زمان
و از همه معنا نهانی جان جان
ای تو هم پیدا و پنهان آمده
بنده عطارت ثنا خوان آمده"[1]

### ۳-۲-۱. حکیم سنايي غزنوي (۴۷۳-۵۴۵ س)

ابوالمجد مجدود بن آدم سنايي، نوميالی حکيم او د مدينة الاولياء؛ غزني مشهور عارف په "حديقة الحقيقة" کې له اهلبيتو سره خپله مينه څرګنده کړې ده. څو ځل يې د "ثقلين" حديث د " انی ترکت فيکم الثقلين کتاب الله و عترتی " په عبارت راوړی دی.[2]
د سنايي په ليکنو کې هم د اهلبيتو ستاينې تر سترګو کيږي او هم د راشده خلفاوو.[3] د حضرت علي کرم الله وجهه په ستاينه کې خورا شعرونه لري، چې وايي:
آنکه بر مرتضی برون آید
سوی عاقل امام چون آید
مصطفی گاه رفتن از دنیا
چون بسنجید منزل عقبی
جمله اصحات مرو اورا گفتند
که چه بگذاشتی بر آشفتند
گفت بگذاشتم کلام الله

[1]. هماغه سرچينه
[2]. حديقة الحقيقة و شريعة الطريقة، ۲۶۰-۲۶۶.
[3]. هماغه سرچينه ۲۲۶-۲۶۶ مخونه.

عترتم را نکو کنید نگاه

د امام حسن او امام حسین فضایلو ته یې ځانګړې ځپرکی ځانګړی کړی او دا باب یې داسې پیل کړی دی:

" فی فضیلة امیرین العادلین، و السبطین قرتی العینین، سیدا شباب اهل الجنة، الحسن و الحسین رضوان الله علیهما، قال النبی صلی الله علیه و آله وسلم: اولادنا اکبادنا فان عاشورا حزنونا و ان ماتوا قتلونا، و قال ایضا صلی الله علیه و آله وسلم: نعم الراکب و نعم الجمل و ابواهما خیر منهما رضی الله عنهما. "[1]

د امام حسن د شهادت پېښه بیانوي او د دښمنانو یې پستي څرګندوي [2] او امام حسین داسې ستايي:

"ذکر الحسین یضیی العینین سلالة الانبیاء و اولاد الاصفیاء و الاولیاء و الاوصیاء و شهید الکربلا و قرة عین المصطفی، بضعة المرتضی و کبد فاطمة الزهراء رضی الله عنه و عن والدیه، قال الله سبحان و تعالی عز من قائل فی محکم کتابه: ان الذین یؤذون الله و رسوله لعنهم الله فی الدنیا و الآخرة و اعدلهم عذابا مهینا و اولئک هم الخاسرون و قال النبي صلی الله علیه و آله وسلم: ترکت کتاب الله و عترتی فاخبر ان و عدالله حق. "[3]

## ٤-٢-١. ملاحسین واعظ کاشفي (٩١٠ س مړ)

کمال الدین حسین بن علي سبزواري په واعظ کاشفي مشهور، د امام حسین د وير د دوديزو مراسمو په بیاژواکۍ - احیاء کې خورا ونډه درلوده. دا یو نقشبندي صوفي او حنفي فقیه دی، چې په حنفي فقه کې یې یوه خپلواکه رساله هم لیکلې ده [4]. پر ٩٠٨ هجري کال یې په هرات کې مهم او لومړی کتاب د حسیني وير لپاره ولیکه او د

---

[1]. هماغه، ٢٦٠ مخ.

[2]. هماغه، ٢٦٢ مخ.

[3]. هماغه /٢٦٦ مخ.

[4]. د ملاحسین واعظ کاشفي په تخلص کې "سبزواري" د هرات د سبزوار له "شین ډنډ" څخه اخستل شوی دی، چې په دې سیمه کې زیږېدلی دی او بیا روسته ددې سیمې نوم "شین ډنډ" شو.

"روضة الشهداء فی مقاتل اهل البیت " نامه یې پرې ورکړېښووه. ددې کتاب لیکنه د مرشدالدوله عبدالله (د هرات واکمن) په غوښتنه ولیکل شو. [1] دا کتاب د پېغمبرانو علیه السلام کړاوونه او د دولس ګونو امامانو په تېره د کربلا پېښه رانغاړي. "روضة الشهداء" پر خپل وخت په سیمه کې خورا مشهور شو او لوست یې په غونډو کې دود شوی و. ان چا به چې چاته نصیحت کاوه او د امامانو پر کړاوونو به یې ژړاوه، ورته به یې ویرنبولی یا"روضه خوان" وایه. [2]
او دا نامه تر ننه په شیعیانو کې دود دی او ددې نامې ایښوونې سرچینه د ملا واعظ کاشفي "روضة الشهداء" ده. په عراق کې تر ننه ممبري ته "قاري" وایي، چې په عربۍ کې په لنډه د پارسي د روضه خوان ژباړه ده. (قاری الروضه). "[3]
د اسلامي هېوادونو په شیعه مېشتو سیمو کې د روضة الشهداء کتاب لوستل د "داستان های قهرماني" او "هزار و یک شب" ځایناستی شو او ان تر صفویه وو له مخه په محرم او صفر میاشتو کې پر ممبرونو لوستل کېده. [4]
په خپله کاشفي په اهلسنتو کې (په شامي مانا تشیع: له درېیو لومړیو خلفاوو سره د نه مخالفت ترڅنګ له اهلبیتو سره مینه( د امام حسین د ویر دود ته اشاره کوي:
" د اهلبیتو مینوال هر کال د محرم میاشت په رارسېدو، د سیدالشهداء د خپګان ویر ته کېني او د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم زامنو ته ویر کوي. "[5]
نوموړی وایي، د مقتل کتابونه خبرونه خپاره واره ول؛ نو امله یې هوډ وکړ، چې په یو کتاب کې یې راټول کړي او د همدې موخې لپاره یې د "روضة الشهداء" کتاب ولیکه. [6] واعظ کاشفي یو بل کتاب هم لري، چې شیعه ته لېوالتیا یې په ډاګه کوي او دا"فتوتنامه ی سلطانی " دی. دا کتاب پر پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم، څلور

---

[1]. اسماعیل بغدادي، هدیة العارفین ۳۱۶/۱.
[2]. محمد خوانساري، روضات الجنات، ۲۵٦ مخ؛ الدکتور کامل مصطفی الشیبی، الصلة بین التشیع و التصوف ۳۱۰/۲.
[3]. مصطفی الشیبی، هماغه ۳۱۰/۲
[4]. هماغه؛ پر "لب لباب مثنوي" د نفیسي سریزه، ث مخ.
[5]. واعظ کاشفي، روضة الشهداء، ٦ مخ؛ دکتر کامل مصطفی الشیبی، هماغه، ۳۱۱ مخ.
[6]. واعظ کاشفي، هماغه؛ دکتر کامل مصطفی الشیبي، هماغه، ۳۱۲ مخ.

گونو خلفاوو (رضی الله عنهم) او د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم پر آل او اصحابو په درود پیل شوی او تر یوې سریزې روسته یې د کتاب د موضوع په هکله توضیح ورکړې، بیا یې پر علي بن موسی الرضا درود ویلی او وایي: " د فتوت مبداء او ښکارندوی یې ابراهیم خلیل الله دی او د فتوت قطب علي مرتضی دی او د فتوت خاتم به مهدي وي. [١] بیا وایي، چې فتوت هم د نبوت په څېر په پېغمبرانو کې یو پټ میراث و، چې حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم ته او له ده حضرت علي کرم الله وجهه او نورو امامانو ته رسېدلی دی. [٢] د حضرت علي د فتوت لپاره یې د "لا فتی الا علی لا سیف الا ذوالفقار" مشهور روایت شاهد راوړی دی [٣] او په دې دوو آیتونو یې ټینگار کړی دی: " و من الناس من یشری نفسه ابتغاء مرضات الله "[٤] او "یؤثرون علی انفسهم ولو کان بهم خصاصة "[٥] او همداراز د بېل بېل امام فتوت یې تایید کړی دی. [٦] دا چې جوته یې کړه، علي کرم الله وجهه د فتوت اصل دی؛ نودرې واړه زامن حسن، حسین او محمد بن حنفیه یې د اسلامي فتوت مخکښان شمېرلي دي. [٧] لیکي د فتوت له آدابو یو دا دی، چې هغه حلوا وخوري، چې په اور پخه شوې نه وي، د وینا له مخې یې، داسې حلوا د خم غدیر تر غونډې روسته پر خلکو وویشل شوه. [٨] په کوم ځای کې، چې د فتیان د جشن پر شرحه بوخت شوی، د عبدالرزاق له "فتوتنامه" یې یو نص راوړی، چې په کې یو په بل پسې د دولس گونو امامانو نامې راغلي او حضرت مهدي داسې ستایل شوی: "د ځمکوالو او اسمانوالو حجت، صاحب الزمان او قاطع البرهان ". [٩]

---

[١]. واعظ کاشفي، فتوتنامه، ۲ مخ؛ مصطفی الشیبي، هماغه، ۳۱۲-۳۱۳ مخونه.
[٢]. واعظ کاشفي، هماغه، ۷ مخ؛ مصطفی الشیبي، هماغه، ۳۱۳ مخ.
[٣]. واعظ کاشفي، هماغه، ۱۵-۱٦ مخونه؛ مصطفی الشیبی، هماغه.
[٤]. بقره/۲۰۷.
[٥]. حشر /۹.
[٦]. واعظ کاشفي، هماغه، ۵ مخ؛ مصطفی الشیبي، هماغه.
[٧]. واعظ کاشفي، هماغه، ۱۰۰ مخ؛ مصطفی الشیبانی، هماغه.
[٨]. واعظ کاشفي، هماغه، ۹٤-۹۵ مخونه؛ مصطفی الشیبي، هماغه.
[٩]. واعظ کاشفي، هماغه، ۱۰٤-۱۰٦ مخونه؛ مصطفی الشیبي، هماغه.

### ۵-۲-۱. خواجه محمد پارسا (۸۲۲ س مړ)

خواجه محمد پارسا، د بخاري حافظ او زاهد او د "فصل الخطاب" کتاب خاوند او ستر نقشبندي حنفي عالم دی. پر خپل تسنن د ټینګار ترڅنګ یې په خپل کتاب د اهلبیتو د دولس ګونو امامانو د حالاتو شرح کې راوړې ده د ځینو اهلسنتو علماوو له خولې، د دولس ګونو امامانو په باب لیکي:

"څه هغه ټوټه ځمکه، چې الله تعالی په سپېڅلیو او پاکو بدنونو مشرف کړې، چې د الله تعالی تر فیض لاندې او د الله تعالی د ناپایه لورنې د نازلېدو ځای دی."[1]

### ٦-۲-۱. فضل الله بن روزبهان خنجي (۹۲۷ س مړ)

فضل الله د "وسیلة الخادم الی المخدوم" او " پر څوارلسو معصومینو د درود د شرح" کتابونو لیکوال او نقشبندي حنفي دی. فضل بن روزبهان په خپله په ډاګه کوي، امام مهدي هم د نوروو امامیه وو په څېر په دې ځانګړنو مني، چې د امام حسن عسکري زوی دی. د "امام مهدي د ختم ولایت" په باب لیکي:

"پوه شئ، چې امام مهدي د امامانو او اولیاوو خاتم دی؛ یعنې خاتم الاولیا لکه محمد علیه سلام چې خاتم الانبیاء دی سره له دې، چې د پخوانیو ټول بشپړ کمالونه پکې دي او د هر یو د ځانګړیو کمالونو وارث دی.... "[2]

د دولس ګونو امامانو د شان او عظمت تر ویلو روسته د حضرت امام مهدي په باب لیکي:

"والقوة و المرضویة و المکارم الحسنیة و العزائم الحسینیة و العبادة العلویة و العلوم الباقریة و الامامة الصادقیة و الاخلاق الکاظمیة و المعارف الرضویة و الکرامات التقویة و المقامات النقویة و العساکر العسکریة، الذی فاق الانام کرامة و فضلا، الامام المودود

---

[1]. فضل الله بن روزبهان، وسیلة الخادم الی المخدوم، ۱۸۲ مخ؛ دادو الهامي، امامان اهلبیت د ګفتار اهلسنت، ۳۱۷ مخ.

[2]. فضل الله بن روزبهان، وسیلة الخادم الی المخدوم، ۱۸۲ مخ؛ دادو الهامي، امامان اهلبیت د ګفتار اهلسنت، ۳۱۸-۳۱۹ مخونه.

و المظهر المووعود، ابی القاسم محمد المهدی العبد الصالح و الحجة القائم المنتظر لزمان الظهور"[1]

خو سره له دې يې د علامه حلي د "کشف الصدق" د کتاب په رد کې د "ابطال الباطل" کتاب ليکلی دی. فضل الله دولس گوني امامان علمي خلفاء گڼي او پر سياسي مشرۍ قايل ورته نه دی. د خم غدير حديث هم رانقلوي؛ خو د اهلبيتو د امامانو د سياسي خلافت لپاره دليل نه گڼي. فضل، اموي حکومت هم نه مني او صفويانو ته هم په منفي سترگه گوري. وايي، د امام حسين د ويرن بولۍ د اوربدو ځواک نه لري او لېوال و، چې په مشهد کې ښخ کړای شي، په آند يې بايد د اهلبيتو او صحابه وو کرامو دوستي بايد سره يوځای وي.[2]

## ۷-۲-۱. عبدالرحمن جامي (۸۱۷-۸۹۸ س)

جامي (چې زيارت يې په هرات کې دی) د خراسان [او اوسنی افغانستان] يو ستر عارف، شاعر او حنفي مذهبه عالم دی، ځان د يو سني په توگه د معرفي کولو او د خلافت په اړه د خپلې گروهې د څرگندونې په ترڅ کې، ځان د اهل بيتو مينوال بولي او گروهن دی چې سني نه ښايي د اصحابو د خپلمنځي اړپېچونو په پار، د دوی ترمنځ د دوستۍ او دښمنۍ کرښې راکاږي؛ په عين حال کې بايد پوه شي، چې په دې اړپېچ کې حق له حضرت علي کرم الله وجهه سره و:

و آن خلافی که داشت با حيدر در خلافت صحابـــــي ديگر
حق در آنجا به دست حيدر بود جنگ با او خطا او منکر بود[3]

جامي په عين حال کې چې له رفض او رافضه وو (د هغو کسانو پر مفهوم چې اصحاب کنځي) کرکجن و، د شافعي مشهور شعر (لو کان رفضا حب آل محمد فليشهد الثقلان انی رافضی) يې په دري کړی او وايي:

---

[1]. هماغه سرچينه، ۲۹۰ مخ.

[2]. و گ: فضل الله بن روزبهان، وسيلة الخادم الی المخدوم، هماغه، ابطال الباطل.

[3]. عبدالرحمن جامي، سلسلة الذهب، ۱۷۸ مخ؛ رسول جعفريان، مقالات تاريخي، دفتر هشتم، ۵۹ مخ.

گـــــــر بـــــود رفـض حب آل رسول
یــا تـــولی بـــــه خانــــــدان بتـــــول
گـــــو گـــــواه بـــــاش آدمـــــی و پری
که شـــــدم مـن ز غیــــر رفـــــض بـــری
کیش من رفض و دین من رفـض است
رفع من رفض و مابقی خفـــــض است. [1]

جامي د شیعیانو او سنیانو لخوا تېسوری و، یو خوا چې کله بغداد ته ورغی، د روافضو په باب یې د اشعارو له لامله، شیعه و ورټه، بلخوا چې کله یې د حضرت علي کرم الله وجهه په ستاینه کې اشعار وکښل؛ نو د خراسان سنیانو تېسوری کړی، جامي کاږي: "دا چې په سلسله الذهب نظم کې مې حضرت امیر او ستره اولاده یې وستایله؛ نو د خراسان له سنیانو ډارېدم چې نابېره مې په رفض تورن نه کړي، چې پوه شوم، په بغداد کې به د روافضو له جفا سره مخ شم". [2]

**جامي، چې د امام حسین زیارت ته ځي، وايي:**

کردم زدیده، پای سوی مشهد حسین
هست این سفر به مذهب عشاق فرض عین
خدام مشهدش به سرم گر نهند پای
حقا که بگذرد سرم از فرق فرقدین
کعبه به گرد روضه او می کند طواف
رکب الحجیج این تروحون أین أین
از قاف تا به قاف پر است از کرامتش
آن به که حیله جوی کند ترک شید و شین
آن را که بر عزار بود جعد مشکبار

[1]. هماغه سرچینه، ١٤٦ مخ، له هماغه نه، ٦٠ مخ.
[2]. نجیب مایل هروی، جامي، ١١٨ مخ.

از موی مستعار چه حاجت به زیب و زین
جامی گدای حضرت او باش تا شود
با راحت وصال مبدل عذاب بین
می ران ز دیده اشک که در مذهب کریم
باشد قضای حاجت سایل، ادای دین[1]

**د علي کرم الله وجهه زيارت ته چې ځي، وايي:**

اصبحت زائرالک یا شحنة النجف
بهر نثار مرقـد تو نقد جان به کــــف
تو قبـــــله ی دعـــايي و اهل نیاز را
روی امید سوی تو باشد ز هر طرف

د دولس گونو امامانو په ستاينه کې يو شعر لري، چې لومړی او روستی بيت يې دا دی:

من زمهر حیدرم هر لحظه اندر دل صفاست
از پی حیــدر حسن ما را امام و رهنما است

تردې چې وايي:

عسکـــری نور و دوچشم عالم است و آدم است
همچو یک مهدی سپهسالار در عالم کجاست[2]

## ۸-۲-۱. ابوالمؤيدخوارزمي(۴۸۴-۵٦۸س)

ابوالمؤيد موفق بن احمد مكي، خوارزمي خطيب او ستر حنفي عالم دی، چې د امام حسين په باب يې د "مقتل الحسين" ستر کتاب ليکلی دی. نور کتابونه يې: "مناقب ابي حنيفه"، "قضايا اميرالمؤنين"، "ردالشمس على اميرالمؤمنين" دي، چې دوه روستي يې

[1] .دیوان جامی، ص۷۸
[2]. حنفي قندوزي، ينابيع المودة؛ ميرزا حسين نوري، كشف الاستار، ٦۵ مخ.

بې درکه شوي دي. [1] د "المناقب" کتاب، چې د حضرت علي کرم الله وجهه او د اهلبیتو د فضایلو په باب دی او همداراز "مقتل الحسین" کتاب ترې پاتې او چاپ شوي دي. د اهلبیتو په باب یې یو شعر دادی:

و قدمنعوا الحــسین الماء ظلما
و جـدل بالطعـــان و بالضــــراب
و لولا زینـــــــب قتـــلوا علـــــیا
صغــــــیر قتــــل بـــق او ذبـاب
و قد صلبوا امام الحــق زیــــــدا
فیـــــا لـــله مــــــن ظلم عـــــجاب
بنات محمد فی الشمس عطشی
و آل یــــــــزید فی ظل القبــــــاب
لآل یزیـــــــد مـــــــن آدم خیــــــام
و اصحــــــاب الکساء بلا ثیاب[2]

## ۹-۲-۱. حافظ حسین کربلایي تبریزي (۹۹۳ س مړ)

د اولیاوو د قبرونو د زیارت په باب یې د "روضات الجنان و جنات الجنان" کتاب کښلی او په دویم ټوک یې د دولس ګونو امامانو ژوندلیک راوړی دی.

## ۱۰-۲-۱. قاضي عمده ساوه یي حنفي (٥٦٧ س مړ)

قاضي به د طغرل په جامع جومات کې د امام حسین ویر غونډې جوړولې. عبدالجلیل قزویني وایي:

---

[1]. رسول جعفریان، مقالات تاریخ، دفتر هشتم، ٦٢ مخ.
[2]. ابوالمؤید خوارزمي، مقتل الحسین، ۳۹۰ مخ.

" ستر ساوه يي حنفي قاضي، چې خوله ور او مشهور سړی و، د طغرل په جامع جومات کې يې د شل زرو تنو په شتون کې د کربلا د شهداوو د شهادت کيسه په داسې شان وکړه، چې ټولو خلکو له غمه سرونه سرتور او جامې يې وشلولې."[1]

## ۱-۲-۱۱. عبدالوسع باخزري

دا نقشبندي حنفي عالم او د "مقامات جامي" کتاب ليکوال دی، چې دولس گوني امامان يې پکې تاييد کړي؛ خو په عين حال کې يې د شيعه وو په رد کې هم مطالب راوړي دي.

## ۱-۲-۱۲. حنفي قندوزي (۱۲۲۰-۱۲۹٤ س)

شيخ سليمان بن ابراهيم بلخي قندوزي، دولس امامي حنفي دی، چې د اهلبيتو د فضايلو په باب يې د "ينابيع الموده" درې ټوکه پېړ کتابونه کښلي دي. دا کتاب يې په سل بابونو کې اوډون کړی او په سريزه کې يې د مودت آيت [قل لا اسئالکم عليه اجرا الا المودة فی القربی[2]] او تطهير آيت ته په اشارې وايي:

"الله تعالی د خپل استازي د خپلوانو او اهلبيتو مودت او مينه واجبه کړې او غوښتي يې، چې دوی بشپړه له هر ډول چټلۍ پوره پاک کړي؛ ځکه الله تعالی د "تطهير آيت" په "انما" پيل کړی، چې د اهلبيتو تطهير ته د الله تعالی د ارادې د حصر ښوونکې ده او دا مطلب يې د (تطهيرا) په مطلق مفعول موکدکړی دی او داچې ددوی مينه او مودت بايد د بصيرت او څېړنې له مخې وي؛ نو مودت يې پر مناقبو او فضايلو ولاړ دی او داچار هم په دې پورې اړه لري، چې د تفسير او احاديثو پر څېړنه بوخت شو، چې اهلسنت او جماعت پرې ډاډ لري؛ لکه صحاح سته..... او د مناقبو کتابونه او.... ".[3]

---

[1]. عبدالجليل قزويني رازي، النقض، ۳۷۲ مخ.

[2]. شوری /۲۳ آيت.

[3]. حنفي قندوزي، ينابيع المودة، ۱ مخ (سريزه)

بيا د نورو اهلبيتو پر ستاینه بوختېږي او د ينابيع المودة كتاب له ليكلو خپله موخه څرګندوي:
" د پېغمبراكرم صلی الله علیه و آله وسلم اهلبيت؛ اهل عباء د سترو نېكمرغيو وسايل او د كبريايي بركتونو كانونه دي. دا كتاب يې د خوښۍ او رضايت د راجلبولو او د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم او اهلبيتو د شفاعت په هيله كښل كېږي"[1]
د ټولو هغو دولس امامي حنفي علماوو يادونه او ژوند ليک راوړل، چې د اهلبيتو په باب يې يا كتاب كښلی او يا يې ستايلي، دلته ناشوني دي؛ نوځكه دلته يوازې د ځينو د نامو په راوړو بسيا كوو:

### ۱-۲-۱۳. عفيف الدين طائفي حنفي (۱۲۰۷ س)

د "اتحاف السعداء بنماقب سيدالشهداء" كتاب ليكوال.

### ۱-۲-۱٤. قادربخش بن حسن علي حنفي (۱۲۷۳-۱۳۳۷ س)

د "جور الاشقياء علی ريحانة سيد الانبياء" كتاب ليكوال.

### ۱-۲-۱٥. مولوي عبدالعزيز بن شاه ولی الله دهلوي (۱۱٥۹-۱۲۳۹)

د امام حسين د شهادت د فلسفې په باب يې د" سرالشهادتين" كتاب كښلی دی.

### ۱-۲-۱٦. شيخ علي انور بن علي اكبر علوي حنفي (۱۲٦۹-۱۳۲٤)

د "شهادت الكونين فی مقتل سيدنا الحسين السبط" كتاب ليكوال.

### ۱-۲-۱۷. محمد معين بن محمد التتوي الحنفي (۱۱٦۱ م)

د " قرة العين فی البكاء علی الحسين" كتاب ليكوال.

### ۱-۲-۱۸. محمود بن عثمان حنفي رومي (۸۷۸-۹۳۸)

د "مقتل الامام الحسين بن علي ابيطالب" كتاب ليكوال.

[1]. هماغه /٦ مخ.

### ۱-۲-۱۹. خواجه علي غزنوي حنفي (۵۵۱ م)

په بغداد کې يې د عاشورا پر ورځو د وعظ او ويرن بولی غونډې جوړولې او واکمنانو به يې په غونډه کې ګډون کاوه.[۱]

### ۱-۲-۲۰. خواجه محمود حدادي حنفي

خواجه به له ابوالفتوح نصر آبادي او... سره د کوشک په کاروانسرای او د "ری" په سترو جوماتونو کې د امام حسين او د کربلا د شهداوو لپاره ويرغونډې جوړولې.[۲]

### ۱-۳. سلفي حنفيان

په روستيو کې ځينې حنفيان د سلفيانو په جال کې راګېر شوي او نه يوازې له شيعه وو سره؛ بلکې له ټولو حنفيانو او له دوی غير سلفي حنفيان (لکه ماتريديه، چې د حنفيانو ډېری برخه ده،(کړلاري ګڼي او امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ته يې په ناحقه منسوبين بولي. ددې ډول حنفيانو ليکنو ته مراجعه (چې په حقيقت کې سلفيان دي) راښيي، چې ځينې نني حنفيان د حنفي مذهب او د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د مذهب په اړولو کاږه روان دي او دترکستان لاره يې خپله کړې او لا تر اوسه څوک پيدا شوي نه دي، چې ورته ووايي: "اين تذهبون؛ چېرې ځئ"؟

سلفي حنفيان هڅه کوي، چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه يو سلفي مسلک وښيي او اندې يې له سلفيت سره همغږې کړي. د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د دريځ پرخلاف حضرت ابوهريرة (رض) سپېڅلی کېږي او د سلفي جمود د حديثپالی څادر د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه عقلپال تن ته وراغوندي او په پايله کې ان ابومنصور ماتريدي، ماتريديان او منځ لاري حنفيان مبتدع (نوښتګر) او له دينه بهر ګڼي!

---

۱. عبدالجليل قزويني رازي، النقض و ۳۷۱ مخ.

۲. هماغه /۳۷۲ مخ. ددې وګړيو پر ليدلوريو د پوهېدو لپاره و ګ: عبدالجليل قزويني رازي، النقض؛ ميرزا حسين نوري طبرسي؛ کشف الاستار عن وجه الغائب عن لابصار؛ داود الهامي، امامان اهلبيت د ګفتار اهلسنت؛ سيد محمد طاهر هاشمي شافعي، مناقب اهلبيت از ديدګاه اهلسنت؛ رسول جعفريان، مقالات تاريخي، دفتر هشتم؛ الدکتور مصطفی کامل شيبي، الصلة بن التشيع و التصوف، ۲ټوک.

ددې ډلې یوه څرګنده بېلګه شمس سلفي افغاني دی؛ او ګروهن دی، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه یو سلفي مذهبی دی او ماتریدیان امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ته ورمنسوبیدای نشي. شمس سلفي افغاني د "عداءالماتریدیه للعقیدة السلفیه" په نامه خپل کتاب کې وایي:

"نامه یې د مسمی له مخې ده او مبنا یې پر مانا دلالت کوي. د "عداء" ټکی مې د کتاب په نامه کې ور زیات کړ وښیي، چې ماتریدیه د سنیانو په ډله کې نه راځي؛ بلکې د سلفیه وو د ګروهې دښمنان دي. [1]"

زیاتوي د خپل کتاب تر تالیف روسته یې د خپلو هم اندو له دوو رسالو سره مخ شو، چې په اړه یې وایي:

"بیا د ماتریدیه وو په نقد کې له دوو رسالو سره مخ شوم، چې دوی د ماتریدیه وو په سترګو کې اغزي او په ستوني کې هډوکي او د سلفیه وو د سترګو تور دي. لومړۍ رساله د ابي عبدالرحمن محمد الخمیس ده، چې د کنجوسو بدعتپالو پرخلاف یو لښکر دی او جوت کړي یې دي، چې ماتریدیه سني نه؛ بلکې جهمي دي او د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د سني ګروهې مخالف دي.

بله رساله زموږ د درون ورو احمد حربي ده، چې د غبي معاند ماتریدیه محارب دی او د ماتریدیه وو د اسرارو په را سپړلو جوتوي، چې ماتریده اهلسنت نه؛ بلکې د امت بدعتپاله ډله ده. [2]"

شمس سلفي افغاني ددې ترځنګ، چې د ابومنصور ماتریدي خبرې د جهمیاتو تاویلات ګڼي[3]، پر احمد حربي نیوکه کوي، چې ولې یې ټول بدعتپال ماتریدي متکلمان نقد کړي نه دي:

**پر حربي څو نیوکې دي:**

۱. نوموړی د ماتریدیه وو شپږ تنه مشران (یو یې ملا علي قاري) شنلي؛ خو پر نورو یې نیوکه نه ده کړې، چې تر دوی مشهور او خورا بې لارې دي، چې دا دي: صدرالشریعه، تفتازاني، صنغاني، بیاضي، اسفراییني، طاش کبری زاده، ابن عربشاه،

---

[1]. الشمس السلفي الافغاني، عداء الماتریدیة للعقیدة السفلیة، ۱۰ مخ (د کتاب سریزه)

[2]. هماغه /۱۱-۱۲.

[3]. هماغه /۱۲ مخ.

خيالي، مقدسي، حافظ الدين نسفي، کستلي، ابوليث سمرقندي، علاء الدين بخاري، جامي، جرجاني، قونوي، قرشي، سيالکوټي او نور.
۲. هغه معاصر ماتريديان؛ لکه کوثريان [د محمد زاهد کوثري لارويان]، بريلويه او ديوبنديان نقد کړي نه دي ". [۱]
ليکوال د خپل کتاب د سريزې په پای کې هيله کوي، چې حنفيان د سلف ګروهې ته راستانه شي او له ځانه جوړې ماتريدي جهمي عقيدې توبه وکړي. [۲]
څرګنده ده، چې په دې کتاب او نورو کتابونو کې د "قبوريه وو" په باب د شمس افغاني ګروهه، پشپړه له سلفيته اغېزمنه ده. پخپله د شمس افغاني د وينا له مخې، لومړی يې د "عداء الماتريدية للعقيدة السلفية" کتاب د خپلې ماسترئ د تېزس او رسالې په بڼه د "لماتريدية و موقفهم من توحيد الاسماء و الصفات" په نامه د مدينه منورې په پوهنتون کې وړاندې کړې وه او بيا يې د نامه په بدلولو پراخه کړه. "[۳]

---

[۱]. هماغه سرچينه/۱۳ مخ.
[۲]. هماغه سرچينه، ۲۱ مخ نه روسته.
[۳]. هماغه سرچينه/۱۰ مخ.

## ۲. د اهلبیتو له ښوونځي د ځینو حنفیانو د لرېوالي لاملونه

سره له دې چې په اهلسنتو کې صوفي حنفیان، اهل تشیع او اهلبیتو ته خورا ورنږدې دي؛ خو د ځینو عامو او حنفي علماوو اړیکې د اهلبیتو له ښوونځي او تشیع سره نه یوازې د تاریخ په ځینو بهیرونو کې سوله ییزې نه وې، چې ان په ځینو علمي وپینو او سیاسي- ټولنیزو ډګرونو کې هم د حنفیانو او تشیع ترمنځ اړیکې ترینګلې شوې دي. دواړو لوریو (شیعیانو او حنفیانو) یو بل ته منفي لید درلود. په دې روستیو کې دا بدویني دومره ډېره شوه، چې د ځینو حنفي علماوو لخوا د شیعه وو پرخلاف سرسخت مخالف دریځونه ونیول شول او خپلې دا خبرې یې پخوانیو حنفي مشرانو ته ورمنسوب کړې. بیاضي عاملي، زمخشري ته چې د حنفیانو ستر او لومړی درجه مفسر دی، ورمنسوبوي، چې د "هو الذی یصلی علیکم و ملائکته "[1] د آیت په تفسیر کې یې ویلي دي: " جوز الصلوة بمقتضی هذه الآیة علی اجود المسلمین، لکن لما اتخذ الرافضة ذلک فی ائمتهم، منعناه "[2]: ددې آیت له مخې، پر غوره مسلمانانو درود ویل غوره دي؛ خو داچې روافض [شیعیان] د خپلو امامانو په شان کې په دې آیت عمل کوي؛ نو موږ [د پورته آیت له مخې] پر غوره مسلمانانو درود منع کړ!" که څه دا زمخشري ته ورمنسوب شوی؛ خو ما د کشاف تفسیر په نویو چاپونو کې دا عبارتونه و نه موندل. زمخشري [الکشاف ۵۴۱/۳-۵۴۲ او ۵۶۷-۵۶۸ مخونه] د احزاب سورت په ۴۳ او ۵۶ آیتونو کې پر پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د درود په باب وینه کړې؛ خو پورته رانقل شوي عبارتونه پکې راغلي نه دي. پردې سربېره، ښکاري زمخشري په خپله د اهلبیتو مینوال و. په کشاف تفسیر کې یې دشورا سورت د **۲۳** آیت په تفسیر کې له اهلبیتو سره د مینې د وجوب او ورسره د دښمنی د ناوړه پایلو په باب روایت راوړی دی:

"عن النبی صلی الله علیه وسلم، انه قال: من مات علی حب آل محمد مات شهیداً الا و من مات علی حب آل محمد مات مغفوراً له الا و مان مات علی حب آل محمد

---

[1]. احزاب /۴۳ آیت.

[2]. البیاضي العاملي، الصراط المستقیم ۲۰۶/۳ مخ.

مات تايبا الا و من مات على حب آل محمد مات مؤمنا مستكمل الايمان الا و من مات على حب آل محمد بشره ملک الموت بالجنة کما تزف العروس الى بيت زوجها الا و من مات على حب آل محمد فتح له فى قبره بابان الى الجنة الا و من مات على حب آل محمد جعل الله قبرة مزار ملائکة الرحمة الا و من مات على حب آل محمد مات على السنتة و الجماعة الا ومن مات على بغض آل محمد جاء يوم القيامة مکتوبا بين عينيه آيس ن رحمة الله و من مات على بغض آل محمد مات کافراً الا ومن مات على يغض آل محمد لم يشم رائحة الجنة[1]: له رسول الله صلى الله عليه و آله وسلم نه روايت دی: څوک چې د آل محمد صلى الله عليه و آله وسلم په مينه ومري، شهيد دی؛ پوه شئ! څوک چې د آل محمد صلى الله عليه و آله وسلم په مينه ومري؛ نو ښښل شوی مړی شوی دی؛ پوه شئ!څوک چې د آل محمد صلى الله عليه و آله وسلم په مينه ومري؛ نو توبه کوونکی به مړی شوی وي؛ خبر وسئ!څوک چې د آل محمد صلى الله عليه و آله وسلم په مينه ومري؛ نومؤمن او له بشپړ ايمان سره مړ شوی دی؛ پوه شئ! څوک چې د آل محمد صلى الله عليه و آله وسلم په مينه ومري؛ نو ملک الموت او بيا نکير او منکر به د جنت زېرى ورکوي. پوه شئ! څوک چې د آل محمد صلى الله عليه و آله وسلم په مينه ومري، جنت ته به داسې بېول کېږي؛ لکه ناوې، چې د زفاف پر شپه د ناوې کوټې ته په درناوي بېول کېږي؛ پوه شئ! څوک چې د آل محمد صلى الله عليه و آله وسلم په مينه ومري په قبر کې به يې د جنت پر لور دولس ورونه پرانستل شي؛ پوه شئ!څوک چې د آل محمد صلى الله عليه و آله وسلم په مينه ومري؛ نو له سنت او جماعت سره به مړ شوی وي؛ پوه شئ!څوک چې له آل محمد صلى الله عليه و آله وسلم سره په مينه ومري؛ نو قبر يې د رحمت د پرښتو زيارت ځای وي؛ پوه شئ! څوک چې له آل محمد صلى الله عليه و آله وسلم سره پر کرکه ومري؛ نو د قيامت پر ورځ به په داسې حال راپاځي، چې د ددو سترگو ترمنځ به يې ورته ليکلي وي: د الله تعالى له رحمته نهيلی؛ پوه شئ!څوک چې له آل محمد صلى الله عليه و آله وسلم سره پر کرکه ومري؛ کافر مړ شوی؛ پوه شئ؛ پوه شئ!څوک چې له آل محمد صلى الله عليه و آله وسلم سره پر کرکه ومري؛ نو د جنت بوی به بوی نه کړي. "

[1]. زمخشري، کشاف تفسير ٤/٢٢٠-٢٢١.

په خواشینۍ، چې بیاضي عاملي په صراط المستقیم کې یوه بله خبره د "الهدایه" لیکوال ته ورمنسوب کړې، چې یو حنفي عالم دی چې ویلي یې دي:
"مشروع داده، چې گوته په ښي لاس پر گوته کړو [التختم بالیمین]؛ خو دا په رافضیانو [شیعیانو] کې دود او رووږد شوی دی؛ نو موږ یې په کیڼ لاس پر گوته کوو."[1]
په هر حال ځینې نننی عام حنفیان او ډېری لوستي یې، شیعه وو او امامانو ته یې بدوینه دي ان تردې، چې په ځینو ډلو کې یې دا بدویني له پخوا راهیسې په دښمنۍ هم اوختې ده.
پوښتنه داده: له تشیع او اهلبیتو سره د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له ښو اړیکو سره سره او ددې خبرې په پامنیوي، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د نورو مسلمانانو له تکفیرولو سره مخالف و او داچې ډېری حنفي علماء او عارفان دولس امامي دي؛ نو ولې په دې باب په امام ابوحنیفه رحمة الله علیه پورې منسوب لارویان یې پر سیره عمل نه کوي؟ په ډېری حنفیانو کې په تدریج د لیدلوري د بدلېدو لاملونه دادي:
۱. د کلامي اوعدلپال حنفي ښوونځي له منځه تگ او د هغې اهلسنت او جماعت ډلې برلاسي، چې د حنفي فقهې لارویان وو؛ ۲. او په حنفیانو کې د بخاري د کړنلار، اندې او د "صحیح" نفوذ یې؛ ۳. د عثمانیانو او صفویانو سیاسي شخړه؛ ٤. په حنفیانو کې د سلفیت د متعصبې او افراطي اندې نفوذ.
اوس به پردې لاملون رڼا واچوو:

## ۲-۱. د کلامي او عدلپالو حنفیانو ځوږ

په خواشینۍ، چې تر پینځمې هجري پېړۍ روسته کلامي او عدلپال حنفي ښوونځی مخ په ورکېدو شو او د اهلسنت او جماعت حنفي ښوونځی، چې له ۲ او ۳ لسیزې راپدېخوا مخ په ځلېدو و، د ابوجعفر طحاوي او ابومنصور ماتریدي له لارې، چې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د کلامي اندو لارویان وو، د اسلامي نړۍ په بېلابېلو برخو کې خپور شو. لکه څنگه چې پخوا هم وویل، له اندیز پلوه کلامي او عدلپال حنفیان د

[1]. البیاضي العاملي، هماغه سرچینه.

اهلبیتو له ښوونځي او شیعي اندو سره خورا همغږي دي. کلامي او عدلپال حنفي بهیر، چې عمدتا په بلخ کې متمرکز و او ددې بهیر اند او کړنلار، چې له عقلپالی، عدلپالی، تساهل او ازاد اندنې سره اخږل شوی و، له معتزلي او شیعي تفکر سره خورا نږدې و او په واقع کې، په دې بهیر پورې اړوند حنفیان په اسلامي نړۍ کې لومړۍ روښانفکره ډله ګڼلای شو. د عدلپالو او کلامي حنفیانو کړنلار نننۍ اسلامي ټولنې ته بېلګه کېدای شي. بلخ د تساهل، ګوذارې او عقلپالی په ځانګړنو سمبال، د اندونو، ښوونځیو او تفکرونو زېرمتون دی، چې په خواشینۍ نن د ناپوهۍ او افراط تر دوړو لاندې ښخ دی او لا تر اوسه د دې ازاد اندنې او ګوذارې د کان ارزښت روښانه را ته نه دی. د لیکوال په اند په دې حساس وخت کې ددې عقلي ښوونځي بیاژواکي او په بلخ کې ددې اندې د پاتې شونیو لټول او پر بېلابېلو ګوټونو یې رڼا اچول زموږ د اسلامي ټولنې د پوهانو او اندیالانو یوه بنسټیزه دنده ده.

د کلامي او عقلپال حنفي ښوونځي په ځوړتیا، اهلسنت او جماعت حنفیان یو څه د اهل حدیثو اندو ته ورنږدې شول او له دوی په اغېزمنېدو یې یو څه د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له اصلي اندو واټن واخست، چې له شیعي اندو سره یې نسبي همغږي درلوده او په هغو اهلسنت او جماعت کې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه کړنلار او ان کلامي او سیاسي اندې سوکه سوکه مخ په ډوبېدو شوې، چې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه فقهې لارویان وو او په حنفیانو کې همدا تدریجي بدلونونه ورو ورو په خپله د دوو حنفي او تشیع مذهبونو ترمنځ د واټن لامل شو. که څه لا تر اوسه ماتریدي حنفیانو د اهلبیتو له ښوونځي او تشیع سره ډېر واټن نیولی نه و؛ خو دا روستي لاملونه وو، چې دا واټن یې لاپسې نور هم ډېر کړ.

## ۲-۲. په حنفیانو کې د صحیح بخاري نفوذ

د اهلسنت او جماعت برلاسي او خورېدل او د کلامي او عدلپال حنفي ښوونځي د ځوړ پایله په حنفیانو کې د صحیح بخاري د لیکوال محمد بن اسماعیل بخاري د نفوذ لامل شو. ورو ورو بخاري او صحیح یې په حدیثپالې کړنلار، په حنفي اهلسنت او

جماعت کې خورا ځای لاس ته راووړ تردې چې دوی ته صحیح بخاري تر قرآن روسته خورا غوره کتاب شمېرل کېږي او په حدیثي پوهه کې ساری نه لري.
که څه اوس هم له کلامي پلوه، حنفیان له اهل تشیع سره خورا ګڼ ټکي لري او د ډېری حنفیانو (د ترکیه، عراق، افغانستان، منځنۍ آسیا، هند او پاکستاني حنفیانو) کلامي مذهب تر اوسه هم ماتریدي دی او د ماتریدي نظر او کړنلار، چې د اهل حدیثو او افراطي معتزله وو نظر ورسموي، په ډېری کلامي مسایلو کې (بې د امامت له مسلې) شیعه وو ته خورا نږدې کېږي. طحاویه مذهب هم، چې د مصر، افریقایي حنفیانو او د اسلامي نړۍ د ځینو نورو حنفیانو کلامي مذهب دی، له ماتریدي مذهب سره خورا توپیر نه لري؛ خو د طحاویه په باب دې وویل شي، چې په طحاویه مذهب کې د مقلد ایمان سم دی او طحاوي د دین په اصولو کې عقلي او نظري بحث نه مني او ویل یې، بې ځنډه دې په دې اصولو ایمان راوړل شي.[1]
په طحاویانو کې دا ټکی لاملېږي، چې ډېر په څېړنې او علمي وینو پسې نه وي (او په ډېره اسانه ډېری ګروهیزې چارې، چې په خپله یوه سرچینه کې یې ووینې، مني). بله مهمه خبره داچې په حنفیانو کې اهل حدیثو ته د ورلېوالتیا یو پټ ځواک شته که څه هم په طحاوي او ماتریدي کړنلار او لیدلوري ور انډولېږي؛ خو تل د دې پټ ځواک د زور اخستنې لېوالتیا په حنفیانو کې شته، چې حنفیان یې د اهل حدیثو په لومه کې راګېر کړې دي. په حنفي اهلسنت او جماعت کې حدیثپالو ته لېوالتیا ددې لامل شوې، چې امام بخاري ته پر ستر ارزښت قایل شي او په حنفیانو کې د بخاري نفوذ هم اهلبیتو او تشیع ته د بدوینۍ لامل شوی دی. امام بخاري اهلبیتو او تشیع ته خورا منفي لید لري. د بېلګې په توګه:
۱. بخاري د حضرت فاطمة الزهرا د مناقبو په باب کې یو حدیث او د حضرت عایشې په مناقبو کې یې اته حدیثه رانقل کړي دي.[2]

---

[1]. و ګ: م. م. شریف، تاریخ فلسفه در اسلام ۳۴۸/۱-۳۴۹ همداراز و ګ: العقیده الطحاویة د نجم الدین محمد الدرکاني په سمونه او تعلیق، ۵۱ مخ.
[2]. صحیح بخاري، پینځم ټوک، د فضائل اصحاب النبي کتاب، ٦١ باب، ۹٦ مخ (مناقب حضرت زهرا) او ٦٢ باب، ۹۸-۹٦ مخونه (د حضرت عایشې فضایل)

۲. بخاري د حضرت علي کرم الله وجهه د مناقبو په باب کې شاوخوا پینځه حدیثونه رانقلوي، چې یو هم تقریبا هیڅ منځپانگه نه لري؛ خو د حضرت عمر (رض) او حضرت عثمان (رض) په مناقبو کې یې غوره او ډېر احادیث رانقل کړي دي. [1] همداراز د معاویه بن ابي سفیان مناقبو ته یې یو باب ځانگړی کړی او د امیرالمؤمنین په نامه یې یادوي او درود پرې وایي. [2]
۳. که څه د حضرت فاطمې (رض) د مناقبو په باب کې د "فاطمة بضعة منی.... " حدیث رانقلوي؛ خو په بل باب کې ددې حدیث شان ورود یو بې بنسټه او جعلي کیسه ښیي، چې پکې حضرت علي کرم الله وجهه له حضرت زهرا سره ناسم چلن کوي او وایي، چې حضرت علي د ابوجهل پر لور مرکه وکړه او حضرت زهرا په دې چلن خپه شوه او خپل پلار ته یې شکایت وکړ. رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وویل: علي دې یا زما لور طلاقه کړي او یا دې د ابوجهل پر لور مرکې ته شا کړي، چې "فاطمة بضعة مني فمن آذاها فقد آذانی " [3]
٤. په "ذکر اصحاب النبی" کې یې یو حدیث رانقل کړی، چې مضمون یې د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم له لور؛ زینب سره د خپل مېړه؛ ابوالعاص بن ربیع چلن ته له حضرت فاطمې سره د حضرت علي کرم الله وجهه پر چلن غوراوی ورکول شوی او هغه یې تر حضرت علي (ک، پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ته خورا وفادار او پتمن ښوولی دی. [4]
۵. په یو بل حدیث کې راغلي، چې رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم به حضرت علي کرم الله وجهه او حضرت زهرا د سهار او یا د شپې د نمانځه لپاره راپاڅول. حضرت علي په دې خبره خپه شو، و یې ویل: زړونه مو د الله تعالی په لاس کې دي، که وغواړي؛ نو په خپله مو راویښوي. رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ددې

---

[1]. هماغه، ۳٦ باب، ۷۰-۷٤ مخونه (مناقب عمر بن الخطاب)، ۳۷ باب، ۷٤-۷۸ مخونه (مناقب عثمان (رض)) او ۳۹ باب، ۷۹-۸۱ مخونه (مناقب علي کرم الله وجهه )
[2]. هماغه سرچینه، ٦۰ باب، ۹٦ مخ (ذکر معاویه بن ابي سفیان)
[3]. هماغه سرچینه ٤ ټوک، ۳۱۲-۳۱۳ مخونه.
[4]. هماغه سرچینه، باب ذکر اصحاب النبی، ۸٦-۸۷ مخونه.

خبرې تر اورېدو روسته د حضرت علي او زهرا بي بي له وره راستون شو او دا آیت یې له ځان سره زمزمه کاوه: " وکان الانسان اکثر شی جدلا "[۱]، [۲].
دا ډول غرضي کیسې او له ځانه جوړ شوي احادیث، چې د اهلبیتو سیاسي دښمنانو او په تېره د حضرت علي کرم الله وجهه د مخالفانو لخوا جوړ شوي، له هغو څلورو زرو حدیثونو څنې دي، چې امام بخاري له شپږ سوو زرو احادیثو څنې ټاکلي دي!
٦. بخاري له خوارجو؛ لکه عمران بن حطام او... حدیثونه رانقلوي او ډاډمن یې بولي، [۳]حال دا په ټول صحیح بخاري کې یې له امام جعفر صادق نه یو حدیث هم رانقل کړی نه دی.
٧. د اهلبیتو پر وړاندې د بخاري د دریغ په باب، د ده د استادانو څېړنې او هغه وګړي، چې بخاري ترې اغېزمن دی، ګټور دي. ابن حجر عسقلاني وایي، چې بخاري خپل کلامي مسائل له کرابیسي او ابن کلاب څخه اخستي. [٤] چې دا دواړه منحرفان وو او رجال پوهان یې داغمن ګڼي.
ابن حجر په تهذیب التهذیب کې لیکي، چې ابن کلاب نصراني و او بیا د کلابیه منحرفې ډلې مشر شو. [٥]
ابوبکر بن ابي شیبه د "المصنف" خاوند د امام بخاري یو استاد دی، چې یې د افکارو او ګروهو تر اغېز لاندې و. عباسي متوکل دا او رور یې؛ عثمان بن ابي شیبه ته ډګر ورپرېښود، چې په دوو سترو جوماتونو کې تدریس وکړي او حدیث روایت کړي. ابوبکر بن ابي شیبه په رصاصه جومات کې غونډې جوړولې. [٦] متوکل د خپلو اسلافو پخوانیو کړنلار پرخلاف، د محدثانو په پیاوړي کېدو لاس پورې کړ او د ابي شیبه زده کړیالانو ته یې ځانګړي حقوق او انعامونه ځانګړي کړل، چې د معتزله وو په رد او د

---

۱. کهف /٥٤
۲. صحیح بخاري، هماغه، ۳ټوک، ۲٥۳-۲٥٤ مخونه.
۳. هماغه، اووم ټوک، کتاب اللباس، باب لیس الحریر، ۳۳-۳٤ مخونه.
٤. ابن حجر العسقلاني، فتح الباري ٤۲۳/۱ مخ.
٥. ابن حجر العسقلاني، تهذیب التهذیب ۳۱۰/۲؛ ذهبي، سیر اعلام النبلاء ۱۱/ ۱۷٥؛ ابن حزم اندلسي، الفصل فی الملل و الاهواء و النحل ۷۷/٥؛ ابوالحسن اشعري، مقالات الاسلامیین ۱٥٤/۱ مخ.
٦. ذهبي، تاریخ الاسلام، حوادث السنه ۲۳۰-۲٤۰ هجري.

الله تعالی د لیدل کېدو د تایید د نظریې لپاره احادیث رانقل کړي؛ نوځکه محدثانو متوکل ته لېوالتیا پیدا کړې وه.
پردې سربېره، متوکل له اهلبیتو سره په ناوړه چلن او په تولنه کې یې د مقام په راټیټولو او له تشیع سره پر دښمنۍ یې لاس پورې کړ. د امام حسین د قبر زیارت کول یې منع کړل او قبر یې ویجاړ کړ او لیکلي یې دي، چې د امام حسین قبر یې په اوبو لاهو کړ او حکم یې وکړ، چې د قبر په ځای کې یې کرهڼه وکړئ.[1]
متوکل د اهلبیتو له لسم امام حضرت امام علي النقي سره تر ټولو ناوړه دښمني وکړه. یو ټوکمار یې درلود، چې په غونډو کې به یې خلکو ته ویل، زه د حضرت علي پېښې کوم او پر حضرت علي یې ملنډې وهلې، چې په غونډه کې ناست وګړي وخندوي.[2]
د متوکل په غونډو کې له حضرت علي او اهلبیتو سره د دښمنۍ سیاست تر دې بریده و، چې ذهبي په تاریخ الاسلام کې لیکي: علي بن جهم، چې شاعر او د متوکل له ملګرو څنې و، په خپلو شعرونو کې یې خپل پلرونه کنځل، چې ولې یې زما نامه علي ایښې دی.[3]
د متوکل د پېر په دې شرایطو او غونډو یې د ابي شیبه د د زده کړیالانو فکري وضعیت په ډاګه کېږي، چې په خپله د بخاري له استادانو څنې دی. که په بخاري کې اهلبیتو ته منفي لید لیدل کېږي او ان په صحیح کې یې د حضرت علي د وګړې ټګنې کولو ته روایتونه لیدل کېږي؛ نو د ابوبکر بن شیبه په څېر وګړیو د اغېزمنېدو پایله ده، چې له متوکله یې پیسې اخستې او د تدریس خورا غوره غونډې یې په لاس کې وې.
عجیبه ده صحیح بخاري په حنفیانوځومره لوړ مقام لري دوی په فقه کې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه لارویان دي او په حدیثو کې یې خپل مشر بخاري ټاکلی دی؛ خو د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه سرسخت دښمنان بخاري او استادان یې دي!، چې دا چار د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه او بخاري او د ده د استاد د دوو مخالفو کړنلارو له لامله دی. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د"من کذب علی متعمدا فلیتبوء مقعده من

---

[1]. ذهبي، سیر الاعلام النبلاء ۳۵/۱۲؛ ابن الجوزي، المنتظم ۲۳۷/۲؛ ابوالفرج اصفهاني، مقاتل الطالبیین، ۴۸۷ مخ.
[2]. ابن اثیر، الکامل فی التاریخ ۳۱۸/٤-۳۱۹؛ النویري، فنون الارب ۲۸۲/۲۲.
[3]. ذهبي، تاریخ الاسلام، وفیات، ۱٤۲-۱٤٥ او ۳٥٦-۳٥٥ مخونه.

النار" حديث په استناد، د آحادو رواياتو په لارې کې خورا محتاط و او ويل يې: پر هغه حديث عمل کول، چې سموالی او ډاډمنتوب يې جوت نه وي؛ پر پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم د دروغ تړلو په ګړنګ کې ورګوزارېدل دي.
لکه څنګه چې په تېرو څپرکيو کې هم وويل شول، امام ابوحنيفه رحمة الله عليه محدثين درمل پلوري او فقها يې طبيبان ګڼل. حضرت ابوهريرة (رض) يې مجتهد نه ګاڼه او ويل يې، چې ابوهريرة (رض) يوازې د پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم احاديث اورېدلي او د ناسخ او منسوخ پر علم نه پوهېده.[1]
د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه همدې کړنلارې يې، محدثين دښمنان کړل، چې د حکومتونو په سياسي او مالي ملاتړ ورپسې راپاڅېدل او ان د حديثو په جوړولو يې لاسونه پورې کړل. د بېلګې په توګه: ابوعصمه نوح بن ابي مريم وپوښتل شو، چې له عکرمه له ابن عباسه د قرآن د ټولو سورتونو د فضايلو په باب احاديث در رسېدلي؟!په ځواب کې يې وويل: "داچې ومې ليدل ډېرى خلکو له قرآنه مخ اړولی او د ابوحنيفه پر فقه او د محمد بن اسحاق مغازي بوخت شوي؛ نو دا روايتونه مې جوړ کړل."[2]
د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د کړنلارې او د اهل حديثو ددې دريځ په پامنيوي، د امام پر وړاندې د بخاري د دريځ نيونې په باب د څو خبرو کول اړين دي:
۱. راغلي، لومړى تن، چې له امام ابوحنيفه رحمة الله عليه سره يې پر مخالفت لاس پورې کړ، په مکه کې، عبدالله بن زبير حميدي و. نوموړى د حرم شيخ و او په مسجدالحرام کې به کېناسته او حديثونه يې رانقلول. د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه نامه به يې چې اخسته؛ نو د"ابوحنيفه" پر ځاى به يې "ابوجيفه" [مردار پلار] [3] وايه، حال دا حميدي يو له هغو ډاډمنو مشايخو څخه و، چې بخاري په خپلو روايتونو کې ډاډ پرې کړى او حميدي تر ټولو مشايخو خورا ورګران و.
۲. صحيح بخاري سريزه نه لري او بخاري د خپل کتاب د سريزې او خطبې پر ځاى د حميدي روايت ايښى او له "بسم الله الرحمن الرحيم "روسته ليکي:

---

[1]. مسند الامام ابی حنيفه (برواية الامام الحصکفي)، ۲۲ مخ.
[2]. ابن جوزي، الموضوعات ۴۱/۱؛ العراقي، التقليد و الايضاح، ۱۳۲ مخ؛ تدريب الراوي، ۲۸۲ مخ.
[3]. خطيب بغدادي، مخکېنى سرچينه؛ ذهبي، تاريخ الاسلام؛ هماغه، سير اعلام النبلاء، له الشيخ حسين غيب غلامي، البخاري او وصحيحه، ۲۶ مخ نه په نقل سره.

"حدثنا الحميدي.... " امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ته د حميدي د هغه دريځ په پامنيوي پايله اخستای شو، چې ولې بخاري خپل كتاب د حميدي په نامې پيلوي او په حقيقت كې دا چار يې د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه پرخلاف دريځ نيونه ده.[1]
۳. په صحيح بخاري كې لومړی حديث "انما الاعمال بالنيات" دی. دا په خپله د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه پرخلاف د بخاري د دريځ څرگندوی دی؛ ځكه امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په دې حديث نيوكه كوي او په عباداتو او معاملاتو كې يې نه مني؛ خو بخاري دا روايت اوه ځل[2] په خپل صحيح كې راوړی او په معاملاتو، نكاح او ان په طلاق كې يې هم نافذ گڼي.[3]
٤. بخاري بې له امام ابوحنيفه رحمة الله عليه، د څلورگونو مذاهبو امامان درې تنه نور په خپلو نامو معرفي كوي؛ خو چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ته رارسي؛ نو د "بعض الناس" يا "قول بعض الناس" په عباراتو يې په كنايه يادوي. دا تعبير د صحيح بخاري د "حيل" په كتاب كې يوازې ۲۷ ځل راغلی دی. د صحيح بخاري شارحين ټينگار كوي، چې دا تعبير د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه كنايه او كله يې د ځينو زدكړيالانو؛ لكه شيباني او ابويوسف كنايه ده.[4]
۵. بخاري په خپل صحيح كې پر امام ابوحنيفه رحمة الله عليه سخت بريد كوي او تر " وقال بعض الناس" تر عباراتو روسته ټينگار كوي، چې كله هغه د "بعض الناس" تعبير راوړي؛ نو دا عبارتونه د پېغمبر اكرم صلی الله عليه و آله وسلم له سنتو سره د مخالفت په حكم دی[5]؛ يعنې د بخاري له نظره، د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه اقوال د پېغمبر اكرم صلی الله عليه و آله وسلم د سنتو مخالف دي.

---

[1]. الشيخ حسين غيب غلامي، البخاري و صحيحه، ۲۶ مخ.
[2]. دا حديث د صحيح بخاري په دې بابونو كې راغلی دی: ۱. د كتاب سريزه. ۲. كتاب الايمان، ۳. كتاب العتق، ٤. كتاب مناقب الانصار، ۵. كتاب النكاح، ٦. كتاب الايمان و النذور. ۷. كتاب الحيل.
[3]. الشيخ حسين غيب غلامي، البخاري و صحيحه، ۲۷ مخ.
[4]. بدرالدين محمود بن احمد العيني، عمدة القاري ۱۰۰/۹؛ محمد بن يوسف الكرماني، الكواكب الدراري ۵٤/۱۱؛ عبدالغني الغنيمي الميداني، كشف الالتباس عما اورده البخاري على بعض الناس، ٦٤ مخ؛ محمد الخضر الشنقيطي، كوثر المعاني الدراري ٤٦۰/۱۱۲ مخ.
[5]. صحيح البخاري، كتاب الحيل؛ الشيخ حسين غيب غلامي، الامام البخاري و فقه اهل العراق، ۱۹۷-۱۹۹مخونه.

۶. ابن عبدالبر په "الانتقاء" کتاب کې وايي: بخاري په خپل کتاب "الضعفاء و المتروکين" کې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ته سپکې سپورې کړي او همداراز بخاري له خپل استاد نعيم بن حماد مروزي نقلوي، چې له ابي سفيان سره وم، چې د امام ابوحنيفه نامه واخستل شوه. سفيان وويل: "لعنع الله کان يهدم الاسلام عروة عروة، و ما ولد فی الاسلام مولود اشر منه [1]: د الله تعالی لعنت دې پر ابوحنيفه وي، چې اسلام يې ټوټې ټوټې کړ او له منځه يې يووړ او په اسلام کې بله شريره زوکړه ترې نه وه ". دا مطلب د "الضعفاء و المتروکين" د کتاب په نويو چاپونو کې لرې کړای شوی دی.

۷. بخاري په پيل کې حنفي و او پلار او نيکونه يې ټول حنفي ول، بې له درېيم نيکه يې چې مجوسي و. عموماً په مرو، ستر خراسان او بخارا کې حنفي مذهب، دود مذهب و او په دې سيمو کې ټولو د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه پر فقې عمل کاوه. بخاري، چې مکې ته راغی، حنفي مذهب يې پرېښود او شافعي مذهب ته يې ور مخه کړه او په خپله يې ويلي، چې د مذهب بدلول يې د خپلو استادانو د اغېزمنېدو له لامله و. [2]

۸. د بخاري له شيوخو او بلاواسطه استادانو ځنې يو هم، نعيم بن حماد مروزي دی. ابن حجر او ذهبي وايي چې نعيم بن حماد په خپله د سنتو د مقام د پياوړي کولو لپاره تل حديثونه جوړول او دا يې د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه پرخلاف دريځ نيونه وه. [3]

۹. ابوبکر بن ابي شيبه د بخاري له استادانو ځنې يو دی، چې د خپل کتاب "المصنف" په روستۍ برخه کې د "الرد علی ابی حنيفه " په نامه يو کتاب لري، چې د اهل رای او اهل حديثو ترمنځ اختلافي ټکي يې پکې راټول کړي دي.

۱۰-ځينې گروهن دي، چې بخاري له امام ابوحنيفه رحمة الله عليه سره په تعارض او ټکر کې له اسحاق بن راهويه، نعيم بن حماد مروزي، حميدي او ابوبکر بن ابي شيبه نه اغېزمن و. [4]

---

[1]. ابن عبدالبر الانتقاء من فضائل الائمة الثلاثة الفقهاء، ۱۴۹ مخ.

[2]. الشيخ حسين غيب غلامي، البخاري و صحيحه، ۳۰ مخ.

[3]. ذهبي، سير اعلام النبلاء ۵۹۵/۱۰؛ ابن حجر العسقلاني، تهذيب التهذيب ۹/۱۰، ۸۳۳ شمېره؛ الشيخ حسين غيب غلامي، البخاري و صحيحه، ۳۱ مخ.

[4]. الشيخ حسين غيب غلامي، هماغه سرچينه، ۳۲ مخ.

نوځکه، له اهلبیتو سره د بخاري د مخالفت او تربګنۍ پر دلیل د پوهېدو لپاره او همداراز له امام ابوحنیفه رحمة الله علیه سره پر دښمنۍ د دلیل پوهېدو ته باید د بخاري استادان او د دوی اندیز غونډال او منځپانګه او له خپلو معاصرو خلفاوو سره یې د استادانو مقام او له اموي او عباسي خلفاوو یې د اندېزې خپلواکۍ پر څومره والي او څرنګوالي پوهېدنه اړینه برېښي.
څرګنده ده، چې د اهلبیتو او تشیع پر وړاندې د ډېری حنفیانو د لیدلوري په بدلېدو کې د بخاري او صحیح ونډه یې خورا اغېزمنه وه او څوک نمښته ترې نشي کولای.
نو پردې بنسټ بخاري هم له اهلبیتو سره ستونزه لري او هم له امام ابوحنیفه رحمة الله علیه سره. شیخ عبدالرشید نعماني وایي:
" ان صنیع الامام البخاري مع الامام الاعظم یشبه صنیعه مع الامام جعفر صادق: له امام ابوحنیفه رحمة الله علیه سره د بخاري دښمني او چلن یې له امام جعفر صادق سره د دښمنۍ او چلن په څېر دی[1]. "
ذهبي هم په تذکرة الحفاظ کې د امام صادق په ژباړه کې وایي:
"لم یحتج به البخاری و احتج په سائر الائمة = بخاري د امام صادق پر ویناوو استناد و نه کړ؛ خو [د اهلسنتو] نورو امامانو یې پر ویناوو استناد کړی دی."[2]
د صحیح بخاري د اعتبار څومره والی، د تدوین بڼه یې، او پکې د اسرائیلیاتو شتون.... نورې مهمې موضوع ګانې دي، چې په دې مقاله کې یې د راوړو ځای نشته.[3]

## ۲-۳. د عثمانیانو او صفویانو سیاسي شخړې

د مسلمانانو ترمنځ دا دومره پراخه درزونه او اړپېچونه، سیاسي او تاریخي منځپانګه لري او یوازې مذهبي ښکارنده نه ده. مراد دادی، چې ددې ټولو لاملونو د ودې او تکامل لامل هغه سیاسي اړپېچونه دي، چې د اسلام له تاریخه د څو پېړیو په راتېرېدو یې اوسني حالت ته رارسولي دي. په پیل کې اړپېچ دومره ژور او پراخه نه و او د

[1]. وهبي سلیمان غاوجي، ابوحنیفه النعمان، ۲۱۷-۲۱۸ مخونه.
[2]. هماغه، ۲۱۸ مخ.
[3]. و ګ: الشیخ حسین غیب غلامي، البخاري و صحیحه، هماغه سرچینه، الامام البخاري و فقه اهل العراق.

وخت په تېرېدو دې برید ته رارسېدلی دی. څه چې د مسلمانانو د مذهبي ډلو د بېلتون په نامه را سره دي، مخکې او ډېر تر دې، چې په "کلام" او "مذهب" کې جرړه ولري، په "سیاست" او "تاریخ" کې جرړه لري، بې له دې، چې د مذاهبو بېلتوني منځپانګه یکې په پام کې ونیول شي.

د اسلام د تاریخ په ترڅ کې "مذهب" د"سیاست" یوه وزله وه او دا سیاستوال وو، چې د سیاسي دلایلو له لامله یې مذهبي اړیچونو ته لمن ووهله او ددې اړیچ بتي یې سرې کړې او همداراز پراخ او ژور یې هم کړل؛ ګنې نه د راشده خلفاوو (رضي الله عنهم) په پېر کې او نه د اهلبیتو د امامانو په ۲۵۰ کلن پېر کې، د نن په څېر د اسلامي مذاهبو ترمنځ بېلتون په دې بڼه او دومره نه و.[۱]

د حنفیانو او شیعیانو د اړیکو په باب هم؛ لکه څنګه چې مخکې مو هم وویل، په تدریج د حنفي اهلسنت او جماعت ځینې لارویان د بخاري او د ده د صحیح تر اغېز لاندې له اهلبیتو څخه په واټن کې شول او د تشیع پر وړاندې یې منفي لیدلوری پیدا کړ؛ خو دا بدویني او منفي لید ځینو سیاسي لاملونو لاپسې ډېر کړ، چې ورو ورو یې د شیعه د تکفیرولو بڼه خپله کړه او په ځینو اهلسنتو کې یې تشیع له غلو سره ورته کړه. له دې لاملونو څخه یو مهم لامل یې د حنفي مذهبه عثمانیانو او شیعه مذهبه صفویانو ترمنځ سیاسي شخړه وه. د عثمانیانو او صفویانو ترمنځ سیاسي اړیچ او شخړې د شیعیانو او حنفیانو د اړیکو په ترېنګلتیا کې خورا مهمه او ستره ونډه درلوده.

عثماني دولت له شیعي صفوي دولت سره په سخت جنګي حالت کې و. دا چې دا دولت له شیعي ایرانیانو سره د جګړې لپاره خپل ولس وهڅولای شي؛ نو د شیعه وو پر تکفیرولو او د دوی د وینې تویېدو د مباحېدو په پروژې یې لاس پورې کړ. دا نقشه هندوستان ته هم ورننوتله او "شاه عبدالعزیز دهلوي" ددې پروژې تر اغېز لاندې د "تحفة الاثنی عشریة"په نامه یو کتاب ولیکه. عثماني دولت په ځانګړي توګه دا کتاب په اهلسنت مېشتو سیمو کې خپور کړ او د شیعه او سني اړیچونو ته یې لمن ووهله. د اثنی عشري شیعیانو د عقایدو د څېړنې په برخه کې نوموړی کتاب پر سلفي مذهبو وګړیو خورا اغېزمن پرېوت؛ لکه څنګه چې دا اغېز د تشیع په باب د احسان الهي ظهیر

---

[۱]. www. tebyan. net

په لیکنو کې ښه تر سترګو کېږي او لیکنو یې هم د اثنی عشریانو په باب د را روسته سلفي مذهبو وګړیو پر لیکنو خورا اغېز وکړ. کوم سیاسي شرایط، چې په نوموړي کتاب کې لیکل شوي، له مورخینو پټ نه دي. ټول هندي مورخین یوه خوله دي، چې دا کتاب د دولسمې هجري پېړۍ په پای کې او په داسې سیاسي شرایطو کې خپور شو، چې په لکهنو کې د "اوده" واکمن –چې له تشیع یې ملاتړ کاوه –او د اهلسنتو د واکمنو ترمنځ سیاسي شخړه وه. همداسې چې کله به په تاریخ کې د شیعي او سني واکمنو ترمنځ سیاسي شخړې راوچتې شوې؛ نو دا ډول کتابونه به واکمنانو ته وړاندې کېدل. په ورته شرایطو کې، محمود شکري آلوسي، نوموړی کتاب سلطان عبدالمجید خان عثماني ته وړاندې کړ او هیلمن شو، چې د اهلسنتو پر ګټه او د تشیع په پوپناه کېدو کې اغېزمن وي.[1]

د عثماني دولت د سیاست غوښتنه وه، چې په جدي بڼه د تشیع مذهب اپوټه معرفي کړي، په تېره هغه مهال، چې کله بغداد د شیعي ایران په لاس نسکور شو؛ نو په کلکه یې خپل شتون په خطر کې ولید. عثماني دولت ښه پوهېده، چې اهلسنت له شیعیانو سره خونړۍ جګړه نه کوي؛ خو داچې دا مطلب ورته وویل شي، چې شیعیان د کافرو غالیانو برخه ده او نه مسلمانانو.[2]

لومړی سلطان سلیم عثماني (۱۵۱۲-۱۵۲۰ م)، چې د استبداد او سخت دریځۍ له لامله یې کلک زړی - سنګدل ورته وایه، تر لښکر لېږدنې له مخه، خپل مقام ته د خطرونو د لرې کولو په پار یې حکم وکړ، چې زما ټول ورونه او وریرونه دې ووژل شي. سلیم له کورنۍ حساب پاکونې روسته له شاه اسماعیل صفوي سره مقابلې ته راووت. سلیم پر شاه اسماعیل تر برید له مخه د ختیځ آناتولي شیعیان وځپل او څلوېښت زره تنه یې پکې ووژل.[3] ددې څلوېښتو زرو تنو وژنه د عثماني دولت په رسمي سرچینو کې ثبت دي. د عثماني دولت مدافع شاعر په دې باب وایي:

---

[1]. الدکتور عصام علی یحیی العماد، المنهج الصحیح و الجدید فی الحوار مع الوهابیین، ۷۲-۷۳ مخونه.

[2]. هماغ سرچینه، ۷۱-۷٤مخونه.

[3]. نورمن ایتسکویتس، امپراطوري عثماني و سنت اسلامي، د احمد توکلي ژباړه، ۲٤۳ مخ.

فرستاد سلطان دانا رسوم
دبیران دانا به هر مرز و بوم
که اتباع این قوم را قسم قسم
در آرد به نوک قلم اسم اسم
ز هفت و ز هفتاد ساله به نام
بیارد به دیوان عالی مقام
چو دفتر سپردند اهل حساب
عدد چل هزار آمد از شیخ و شاب
پس آنگه به حکام هر کشوری
رساندند فرمانبران دفتری
به هر جا که رفته قدم از قلم
نهد نیغ بر آن قدم بر قدم
شد اعداد این کشته های دیار
فزون از حساب قلم چل هزار

پر ۹۲۰ هجري کال سلطان سلیم له یوسل او شل زره لښکر سره د آذربایجان پر لور روان شو. دعثماني هېواد د خلکو د لا هڅوني په موخه يې په شاه اسماعیل صفوي پسې خورا ډنډورې پیل کړې او د هغه هېواد له یو شمېر علماوو يې د شیعیانو د تکفیر حکم واخست. له صفویانو سره د عثمانیانو له دې جګړې په تړولو راپاتیو اسنادو کې راغلي، چې سلطان سلیم له دې جګړې موخه له تسننه دفاع او تشیع له منځ وړل یاد کړي دي. سلیم د سني مسلمانانو د خلیفه په نامه ځان ددې مذهب مدافع ګانه او په تکل کې و، په سیمه کې د تشیع جرړه را وباسي.[1]

د سلطان سلیم په لښکر کې دننه د "یني چري جنګیالیو" په خورا مخالفتونو ورسره لاس پورې کړ. عثمانیانو له کفارو سره په غزا کولو کې شهرت درلود او اوس له مسلمانانو سره په جګړه کې، هغه هم په دومره پراخه کړۍ کې. د شپې ځینې سرتېرو یو

---

[1]. جي، شاو. استانفورد، تاریخ امپراطوري عثماني او ترکیه جدید، د محمود رمضان زاده ژباړه، ۵۰-۱۵۲ مخونه؛ رسول جعفریان، هماغه، ۵۷-۵۸ مخونه.

لیک په یو غشي کې بند کړ او د سلطان سلیم خونې ته یې واستاوه، چې پکې یې د مسلمان وژنې گیله کړې وه. د لیک په ځینو برخو کې راغلي وو:
" ایا په یو هېواد کې، چې د اهلسنتو په څېر پینځه وخته محمدي اذان کېږي، اودس کوي او په جماعت نمونځ کوي، روژه نیسي، خورا قرآن وایي، حج کوي، تل د "لا اله الا الله محمد رسول الله "سپېڅلې او پاکه کلمه وایي؛ نو دا خلک په کوم شرعي دلیل وژل کېدای شي؟... موږ به د دین په نامه له ایرانیانو سره و نه جنگېږو او چې کله مو وویل، چې جگړه مو د هېواد پر سر ده؛ نو دا ویجاړ هېواد یې په دومره وینو نه ارزي، چې نیوو ته یې توییې شي."[1]
پر ۹٤٤ س (د سلطان سلیمان خان قانوني پېر) هم د عثمان پاشا په مشرۍ عثماني لښکر پر تبریز یرغل وکړ او د دې ځای مېشت وگړي یې قتل عام کړل. د قاضي احمد قمي د وینا له مخې، عثمانیانو جوماتونه او ممبرونهددې لپاره وسوځول، چې پکې صحابه وو ته کنځلې شوې وې. پر دې سربېره ټول حدیثي او کلامي کتابونه یې وسوځول. په دې برید کې له ماشومه تر سپین ږیري او ښځینه وو او نارینه وو اته زره وگړي ووژل شول.
بلخوا په داسې له تعصب په ډک مذهبي حالاتو کې د دنیوي چارو پر سر د عثماني او صفوي حکومتونو د اړپېچ له لامله صفوي دولت هم پر مذهبي تعصب اخته و، حال دا اهلسنتو په صفوي واکمنۍ کې د فعالیت حق نه درلود، مسحیت او غربي مبلغانو په اسانۍ کولای شول، چې په ایران کې فعالیت وکړي او څو کلیساوې په تبلیغي چارو بوختې وې.
یوازې "رافائل دومان فرانسوي، د کاپوسن د فرقې مشر څلوېښت کاله د خپل دین تبلیغ ته په اصفهان کې پاتې شو."[2]
په ایران کې مذهبي افراط او مخالفانو ته یې په کنځلو کې د مخې خلاصېدل، د مذهبي جگړې د اور په بلونه کې اغېزمنه وه؛ خو تر ټولو مهمه ستونزه یې دا وه، چې په

[1]. رسول جعفریان، هماغه، ٦٠ مخ.
[2]. هماغه سرچینه، ۱۸٤ مخ.

نورو سیمو کې به شیعیان کړېدل. لیکل شوي، چې په حرمینو شریفینو کې ځینو شیعه علماوو د ایران علماوو ته لیک ولیکه:
" انکم تسبون ائمتهم فی اصفهان و نحن فی الحرمین نعذب بذالک اللعن و السب [1]: تاسې په اصفهان کې د اهلسنتو مشران کنځئ او موږ ستاسې د کنځلو په پار په مکه او مدینه کې کړېږو. "
شاه اسماعیل صفوي یوازې د امامانو په دوستۍ بسیا و نه کړه؛ ځکه ډېری سنیان هم په دې اصل کې ورسره یوه خوله او همغږي وو او له اهلبیتو سره یې مینه کوله.
څه چې شاه اسماعیل صفوي یې په تکل کې و؛ د دولس امامي تشیع د بنسټ د ډبرې ایښوول وو، چې هم یې پر "تولی" او هم یې تبری اډانه کوله. په دې مانا، چې ددې مذهب په منلو یې باید د اهلبیتو له دښمنانو خپله کرکه څرګنده کړې وای. د جهان آرا په تاریخ کې راغلي:
"وټاکل شول.... چې تر اذان روسته د محمدي دین له دښمنانو تبری او ښېرې ورته وشي او پر آل محمد صلی الله علیه و آله وسلم تولی وکړي او تبرائیانو ته یې وټاکل، چې په کوڅو او بازارونو کې دې ګرځي او سنیان او د دولس ګونو امامانو دښمنانو او وژونکیو دې وکنځي او اورېدونکیو ورسره د "ډېر دې وي او کم دې نه وي" په شعار بدرګه وو.... "[2]
د میر مخدوم شریفي په نامه حنفي عالم د عثمانیانو مدافع، چې د دویم شاه عباس صفوي د سلطنت په پېر کې مشاور و، د اهلسنتو پر وړاندې یې د شاه اسماعیل د لید په بدلولو کې خورا ونډه درلوده، تردې شاه هڅه وکړه، چې د دولس ګونو امامانو نامې له سیکو لرې کړي او د امامانو په باب یوازې د خپل شعر په لیکلو راضي شو.
خو میرزا مخدوم شریفي د علماوو او قزلباشانو د دباو له لامله د شاه له سترګو ولوېد او اروپا ته وتښتېد او هلته د قاضي په نامه پر کار بوخت شو او پر ۹۸۷ س یې د شیعه مذهب په رد کې "النواقض علی الروافض"په نامه یو کتاب ولیکه. [3]

---

[1]. خوانساري اصفهاني، روضات الجنات ٣٦٢/٤ (له رسول جعفریان، صفویه در عرصه دین، فرهنګ و سیاست ٤١/١نه په نقل سره)
[2]. هماغه سرچینه، ۳۹ مخ.
[3]. هماغه سرچینه، ١٤٨-١٤٩ مخونه.

## ۲-٤. په ځينو حنفيانو کې د سلفيت نفوذ

ځينې احناف پل په پل له اهلبيتو په تېره له شيعيانو څخه په واټن کې شول. په دې لار کې بخاري خورا اغېزمن گام اوچت کړ؛ البته لکه څنگه چې تېر شول بخاري هم د خپلو درباري استادانو تر اغېز لاندې و، چې دا استادان د عباسي واکمنانو په چوپړ کې او د اهلبيتو دښمنان وو او همداراز د غاليانو تر اغېز او له غالي او تشيع څخه د ناوړې پوهېدنې تر اغېز لاندې و. ډاکټر علی يحيی عصام العماد، چې په خپله له سلفي مذهبه تشيع ته راوختی، وايي، دا چې سلفيت او ډېری اهل سنت غلو او تشيع سره يو شان بولي؛ نو ددې ناوړه ورمندون د ناوړه پايلو په باب زياتوي: "له غاليانو سره د تشيع د گډولې ستونزه د عثماني سياسي شرايطو تر سيوري لاندې را د بره شوه او سلفيانو – چې د عثماني پېر له ليکنو يې گټنه وکړه –خپره کړه او هېره دې نشي، چې خورا غوړه او سخته هم شوه. خو دا ټول کتابونه يوازې تبليغي وو، نه علمي او څېړنيز او څرگنده ده، چې د غير علمي تبليغاتو موخه د رقيب د څېرې اېوته ښوول او ورسره له هر ډول عملي وينې ډډه او تېښته ده. د عثماني دولت تر راپرځېدو روسته، د اهلسنتو ډېری مشرانو، له شيعيانو سره د اهلسنتو د پخوانيو مشرانو د چلن پر بيا ژواکې ټينگار وکړ. په داسې شرايطو کې چې دا چلن د عثمانيانو پر مهال هېره شوې وه، "شيخ محمد شلتوت" د مصر د الازهر پوهنتون مشر او د اهلسنتو ستر عالم فتوا ورکړه، چې شيعه مذهب هم د اهلسنتو د نورو څلورگونو مذاهبو په څېر يو مذهب دی او ځان ته يې ټاکلی شو."[1]

خو سلفيت د خپل فکري نظام او د"التحفة اثنی عشريه" کتاب له مطالعې په اغېزمنېدو خپله لاره وغځوله او په تېرو لسيزو او اوسني وخت کې يې خپل فکري نظام د اهلسنتو په بېلابېلو برخو او له دوی په حنفيانو کې خپور کړ.

په هر حال بخاري د احنافو او تشيع ترمنځ واټن رامنځ ته کړ. په حنفيانو کې د بخاري په نفوذ د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه اعتدالي او عقلپال حنفي ښوونځی مخ په ورکېدو شو او له نورو لاملونو په اغېزمنۍ (لکه د ماتريديه او طحاويه اندې او د فقه الاکبر ليکوالان (۳)) حنفي ښوونځی، اهل حديثو ته ور نږدې کېږي. د وخت په

[1]. الداکتر عصام علی يحيی العماد، المنهج و الصحيح فی الحوار مع الوهابيين، ۷٤ مخ.

تېرېدو، چې صحيح بخاري په حنفيانو کې ستر مقام لاس ته راوړی او د عثماني او صفوي سياسي پېرونو تر سيوري لاندې له شيعيانو سره د اهلسنتو او حنفيانو د اړيکو تر ترېنګلتيا روسته، سلفيت رامنځ ته شو او ددې بهير شيعي ضد اندو په ځينو حنفيانو کې نفوذ وکړ.

بې له هغو تاريخي سياسي لاملونو، چې مخکې اشاره ورته وشوه، له افراطي ګرۍ او د سلفيت له تعصبه د ځينو سيمو د عامو حنفيانو اغېزمنېدل، عمدتاً د دوو دليلونو له مخې دی:

۱. د مذهبي لوست او پوهې له منځه تلل او څو سوه کلن فرهنګي بېلتون، چې ټول افغانستان، پاکستان او منځنۍ آسيا يې د ناپوهۍ په تورتمونو او د مذهبي پوهې په ځوړ کې ور ډوب کړي دي.

۲. له بريده ډېر د صحيح بخاري دودېدل او ددې سيمې په مېشتو کې يې خورا ستر مقام لاس ته راوړل. په هغو ځايونو کې چې د حنفيانو ديني او مذهبي پوهه او د حنفي ښوونځي له عناصرو يې پوهه او پېژندنه ژوره او غوره وه؛ نو د سفليت په څېر له افراطي بهيرونو يې اغېزمنېدل هم لږ وو. (لکه په افغانستان کې د اهلسنتو اسلامپالو بهير) البته د اخوان المسلمين او ځينو نورو سلفي بهيرونو اغېزمنېدل هم په اسلامپالو کې ليدل کېږي؛ البته دا اغېزمنېدل ډېری په استعمارځپنه کې د اسلامي خوځښتونو په اسلامپالو کې ليدل کېږي او نسبتاً په اسلامي نړۍ کې يو خپرېدونکی چار دی او اخوان السملين ان د ايران پر انقلاب او ځينو شخصيتونو يې هم اغېز وکړ. په هر حال د حنفي اسلامپالو اغېزمني نسبتا تر څه بريده له ديني بصيرت سره يو ځای وه.

دا يوه جدي پوښتنه ده، چې دې ډول حنفيانو څنګه حنفي مذهب او د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه اندې د بخاري له کړنلار او سلفي لېوالتيا سره جمع او را ټولې کړي دي؟! له اهل حديثو او سلفيانو او په خپله له بخاري سره د حنفي مذهب څرګند ټکر، سنت، صحابه وو او سلف ته يې دريځ دی. بل داچې تصوف په اهلسنتو او حنفيانو کې خورا دود دی او سلفيت سخت له تصوف سره په دښمنۍ کې دی.

په حقيقت کې د سلفيت پر وړاندې دوه بهيرونه دي: "يو د تشيع بهير.... او بل تردې خورا پياوړی د تصوف بهير دی. په اهلسنتو کې تصوف له بېخه پر يو اصل اوختی؛ يعنې هر وګړی بايد په فقه کې د يو امام؛ لکه ابوالحسن اشعري [او....] او په تصوف

کې هم باید د قطب او یا یوې لړۍ لاروی وي او دا د دین برخه شوې ده. په سوډان کې د تصوف اووه اصلي لړۍ دي، چې ټول گروهن دي، چې رباني فیض د حضرت علي کرم الله وجهه له لاسه اخستل کېږي. دوی، چې ټول سنیان دي، ولایت پر رباني فیض مانا کوي، وایي، چې دا پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي دي [؛ خو] سلفیت سخت تصوف ځپي؛ ځکه ډېر نفوذ لري."[1]

د ټولو اسلامي مذاهبو (شیعي او سني) ترمنځ گډ ټکی، په یو نه یو ډول یې له اهلبیتو سره تړاو دی او هر یو په یو نه یوه بڼه مشر، مخکښ، پیر، مراد او د خپل ښیون څراغ گڼي او په دې بهیر کې پر ځانگړي مقام ورته قایل دي. ټول صوفي اهلسنت، اهلبیت مانیز او روحاني مشران او د رباني فیض په لاس ته راوړو کې د ولایت څښتان گڼي.

آیت الله واعظ زاده خراساني وایي:

"استقصا مې کړې، چې د شیعه وو او اهلسنتو صوفیه فرقې د خپل ولایت لړۍ حضرت علي کرم الله وجهه ته رسوي بې له نقشبندیه فرقې، چې خپله لړۍ حضرت صادق ته رسوي او گروهن دي، چې حضرت صادق ولایت له خپل مورني نیکه قاسم بن محمد او هغه له خپل پلاره محمد او هغه له حضرت سلمان (رض) او حضرت ابوبکر (رض) او پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم څخه اخستی دی. په مصر کې ټولې صوفې ډلې گروهنې دي، چې که د ولایت لړۍ حضرت علي کرم الله وجهه ته و نه رسي؛ نو د منلو وړ نه دي. د گروهې له مخې یې، له شیخ او مراد سره یې بیعت [چې هر کال د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم د زوکړې پر سپېڅلې ورځ ترسره کېږي] له حضرت علي سره بیعت او په ده له رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم سره بیعت دی."[2]

---

[1]. له آیت الله واعظ زاده خراساني سره مصاحبه (فصل نامه هفت آسمان، سال سوم، ۹ او لسمه گڼه، ۲۶-۲۷ مخونه، ۱۳۸۰ پسرلی او دوبی)

[2]. هماغه سرچینه، ۱۹-۲۰ مخونه. (البته د نقشبندیه په باب دې وویل شي، چې دا طریقه څو لړۍ لري او د دوی په نزد تر ټولو غوره لړۍ "سلسلة الذهب" ده چې په دې لړۍ کې د اهلبیتو امامان دي. دا لړۍ له امام حسن مجتبی نه علي بن موسی الرضا ته رسي. و گ: شیخ امین علاء الدین نقشبندي، حقیقت تصوف و بحثي از طریقه نقشبندیه(

د سلفیت ستونزه کوږ اندي او فکري سختوالی دی، چې له دیني مفاهیمو یې د ځانګړې اخستنې لامل شوی دی او د همدې کوږ فکری او جمود له لامله دي، چې:
۱. له توحید، شرک او... په څېر له دیني مفاهیمو خورا تنګ نظری تفسیر راوړاندې کوي.
۲. عرفان او تصوف په هره بڼه، چې وي، مردود ګڼي او مقابله ورسره کوي.
۳. غلو له تشیع سره مساوي او یوه ګڼي [1] او ټول شیعیان تکفیروي بې له دې، چې ددوی له دیني، مذهبي او ګروهیزو بنسټونو یې خبر وي او سند یې هم ځینې غیر علمي او مغرضانه لیکنې دي، چې د واقعي تشیع له معارفو تشې دي.
په واقع کې په پام کې یې کافر شیعه د ذهن په جعلیاتو او بې بنسټه تورونو کې پټ دی او په بهرنۍ نړۍ کې [بې له غالیانو، چې شیعه وو هم ورته شا کړې ده]داسې شیعه له داسې ګروهو سره نه و او نشته؛ خو سلفیانو د خپل ذهن دا جوړ کړی انځور پر شیعیانو ورتطبیق کړی او ددوی په تکفیر یې لاس پورې کړی؛ البته سلفیان نور اهلسنت هم په خپل مذهب او لار کې سم نه بولي او خوښ دي، چې دوی هم له سره د توحید کلمه ووایي او د خپلو ګروهو چاڼ وکړي؛ خو په یوه واحده ټلوالې کې په یو وخت کې له ټولې اسلامي نړۍ سره لاس او ګرېوانېدای نشي؛ نو ددوی نوبت تر تشیع روسته دی که څه سلفیت تر څه بریده له اهلسنت او تشیع سره په یو وخت کې مبارزه کوي؛ خو تېره توره یې ډېره تشیع ته ور اړولې ده.

---

[1]. الدکتور عصام علی یحیی العماد، المنهج الصحیح و الجدید فی الحوار مع الوهابیین، ۱۳۶-۷۱ مخونه.

# راټولونه

# او روستۍ پايله

د ځېرنې آريزه پوښتنه مو دا وه، چې د اهلبيتو او ديني مرجعيت په باب يې " د حضرت امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ليدلوری څه دی او اهلبيتو ته پر کوم مقام قايل دی؟"

ددې پوښتنې په ځواب کې مو وويل: "اهلبيتو ته د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په دريځ کې يې لږ تر لږه د سياسي او مينوال شيعه په چوکاټ کې ځای ور کولای شو که څه له علمي پلوه هم په يو ډول د اهلبيتو پر علمي مرجعيت باور لري. "

لکه چې څنګه مو ددې ليکنې په لومړي ځپرکي کې ولوستل، د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په پېر کې، اهلبيتو ته ليد توپير درلود او ان په عمومي مانا يې دنه په شيعي ټولنه کې، په تېره د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په پېر کې د اهلبيتو د مقام او د ديني مرجعيت په باب د نظر يووالی نه و.

بېلابېلې ډلې، چې د شيعه په نامه پېژندل کېدې، ځينې يې يوازې له اهلبيتو سره د دوستۍ او د فضايلو په رانقلولو شيعه نومېدې. ځينو نورو د خلافت لپاره د رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم د کورنۍ پر غوراوي ګروهن وو او حضرت علي کرم الله وجهه يې په مرتبه کې تر حضرت عثمان (رض) اوچت ګاڼه او ځينو تر حضرت عمر (رض) او حضرت ابوبکر (رض) غوره ګاڼه، ددې ترڅنګ د راشده خلفاوو (رضي الله عنهم) خلافت يې د راپېښېدو په اوډون منلی و. دا ډله د سياسي تشيع، عراقي تشيع يا په شامي تشيع يادېږي، پر هغه وخت په کوفه کې ډېری شيعيان مېشت وو، چې د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د ودې پېر و.

ځينې نور خلک هم وو، چې تر دوی ورهاخوا يې د اهلبيتو په بشپړ ديني مرجعيت باور درلود او ګروهن وو، چې په ټولو ديني چارو کې بايد اهلبيتو ته مراجعه وشي او د ټولنې علمي او سياسي مرجعيت يوازې په دوی پورې ځانګړی دی. دا ډله، چې مخينه يې د رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم پېر ته ور رسي، د صادقينو تر مهاله هم نسبتا په لږه کې- اقليت کې وو او هم د امويانو د واکمنۍ د زندۍ او خپګان چاپېريال له لامله يې د اهلبيتو د ښوونځي له ټولو ګروهيزو او شرعي اړخونو پوره پوهه نه درلوده. د صادقينو فرهنګي هڅو ددې ډلې په فرهنګي او عقيدتي وده کې بنسټيزه ونډه درلوده.

امام ابوحنيفه رحمة الله عليه له امويانو څخه عباسيانو ته د ځواک د لېږد په پېر کې اوسېده او دواړه لړۍ يې ليدلې وې. سره له دې چې امويانو او عباسيانو دواړو له امام

ابوحنیفه رحمة الله علیه نه په ټینګه د همکارۍ غوښتنه کړې وه؛ خو امام ابوحنیفه رحمة الله علیه یوه رژیم ته هم د همکارۍ لاس ور نه کړ؛ بلکې د دواړو پر ناحقۍ ګروهن و او د همدې ګروهې له لامله د دواړو حکومتونو له سختو مخالفانو څخه هم و.

له فرهنګي پلوه دا پېر د کلامي فرقو د جوړېدو پیل و. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه هم لومړی د کلام پوهې ته مخه کړه او بیا یې فقهې ته لاس کړ او په دواړه ډګرونو کې اوڅار او د اند څښتن و؛ خو روسته یې فقهي ښوونځي ډېر شهرت وموند.

د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د پېر شیعیان، د صادقینو په هڅو، په فکري-فرهنګي بیاژواکۍ کې ول او تر حضرت علي کرم الله وجهه روسته دا د شیعه وو د علمي-فرهنګي ودې پېلامه وه.

ددې چاپېریال په پامنیوي، د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په باب ویلای شو، چې هغه له اهلبیتو سره د مینې ترڅنګ، له یو مینوال شیعه ورهاخوا په واقع کې یو سیاسي شیعه هم و. په سیاسي اړخ کې یې د امامت او اسلامي خلافت په باب، نظر له زیدیه سره همغږی دی؛ یعنې د راشده خلفاوو (رضی الله عنهم) د منلو ترڅنګ او په ډېر احتمال تر حضرت عثمان (رض) د حضرت علي کرم الله وجهه پر افضلیت هم ګروهن و او تر هغه روسته د امام حسن پر امامت او خلافت ګروهن و او تر هغه روسته یې هم امامت او خلافت له فاطمې بي بي څخه د حضرت علي د څوځات حق ګاڼه. امامت یې په نص پورې ځانګړی نه ګاڼه او همداراز پر مسلمانانو د حکومت لپاره یې په ځواک واک ته رسېدل هم نه منل او ګروهن و، چې امام دې آزادانه د مخکښنیو مسلمانانو له لارې د حضرت علي کرم الله وجهه له اولادې وټاکل شي.

نوځکه یې له صادقینو او زید بن علي نه د پوهې پر زده کړې سربېره د اهلبیتو له امامانو سره دوستانه او ښه اړیکه درلوده او ددوی درناوی یې کاوه او نه یوازې اموي او عباسي حکومت یې په رسمیت و نه پېژانده؛ بلکې د امویانو او عباسیانو پرخلاف د علویانو له پاڅونونو یې ملاتړ هم وکړ او په پایله کې له علویان سره د ملتوب او له اهلبیتو سره د مینې او شیعي لېوالتیاوو له لامله، عباسي منصور په زندان کې بندي کړ او په ډېر احتمال د زهرو په ورکولو یې په زندان کې شهید کړ.

امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په عین حال کې چې په ټولیزه او مطلقه بڼه د صحابه وو عدالت نه مانه، په هځه کې و، چې غالیان د راشده خلفاوو (رضي الله عنهم) له سپکو سپورو منع کړي او یوه منځلارې لار وروښیي او په ټول کې د شیعیانو او اهلسنتو لید، خلفاوو، اهلبیتو، نورو موضوعاتو او دیني ښوونو ته واړوي او له امن او امانه یوه ډکه اسلامي ټولنه جوړه کړي، چې پکې بېځایه شخړې نه وي او دیني رورولي پکې واکمنه وي.

ډېری هغه مناظرې، چې په شیعي او په ځینو سني سرچینو کې راغلي، د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه، امام باقر او امام صادق اړیکې ترېنګلې ښیي؛ نو دا ډول مناظرې له متني او سندي پلوه د منلو وړ نه دي او له دواړو لوریو ستونزې لري. دا مناظرې ځینو امامي شیعه وو او حنفي مذهبو وګړیو جوړې کړې او په دوی کې ځینو د مذهبي تعصب له لامله د صادقینو او امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ترمنځ ځینې علمي اختلافات خورا غوړ او ډکرنګه کړي او حقایق یې اپوټه ښوولي دي. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ته د معاصرو شیعیانو لید او تشیع ته د حنفیانو لید له همدې له ځانه جوړو شویو کیسو څخه سرچینه اخستې ده. په تېره د ځینو اهلسنت او جماعت لید (د عدلپالو او کلامي حنفیانو تر ځوړ روسته یې وده کړې ده)، چې په صحیح کې یې د بخاري له دوده اغېزمن دي. امام بخاري په خپله هم د خپلو حدیثپالو استادانو تر اغېز لاندې و، چې دې استادانو یې له تشیع او اهلبیتو سره ضدیت درلود او د امویانو اوعباسیانو په چوپړ کې وو او د واکمنانو لخوا پیسې ورکول کېدې. بلخوا امام بخاري او ګډاندي-هم فکران یې هم د تشیع او غالیانو پر ګډولو اخته شوي وو. په راروسته پېرونو کې د عثمانیانو او صفویانو سیاسي شخړو او اړپېچونو او د سلفیت راښکاره کېدل او په حنفیانو کې یې نفوذ د شیعیانو او حنفیانو ترمنځ اړیکې ترېنګلې کړې او داچې سلفیانو، تشیع او غالیانو ته په یوه سترګه کتل؛ نو خپل همدا لید یې نورو افراطي حنفیانو ته هم ور ولېږداوه.

حال دا د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه اندې او ان د ماتریدي او طحاوي کلام ځینې عناصر، چې د حنفیانو کلامي مذهب دی، له شیعي اندو سره د پاموړ ګډو ټکي لري او د ګډ ټکیو ترسیوري لاندې او له صادقینو سره د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه چلن او همداراز له شیعیانو او اهلبیتو سره د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له چلنه په اغېزمنېدو

سره معاصر شیعیان او حنفیان کولای شي، چې په ټولنه کې په دیني او ایماني رورولۍ سوله ییز ژوند وکړي او یو ځواکمن اسلامي امت او عزتمنه اسلامي ټولنه رامنځ ته کړي. دداسې ورځ په هیله!

په خواشینۍ، چې د تشیع او تسنن ترمنځ جوړجاړی ته د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه هڅو اپوټه پایله ورکړه؛ یعنې د ټولنیز سازښت غوښتنې یې دې ته اړ کړ، چې شیعي او سني عناصر سره یوځای کړي،؛ نو دې کار دې عقلپال متکلم او اهل رای فقیه ته هم د حدیثپالو سنیانو د غوسې موجې راوپارولې او همداراز د شیعي ټولنې لید یې هم ورته منفي کړ. حدیثپالو اهلسنتو ځکه زندیق او د خپل دین دښمن ورته ووایه او تکفیر یې کړ، چې کړنلار یې عقلپاله وه او د منقولاتو پر ظاهر یې له اډانې ډډه کوله. شیعي ټولنې هم ځکه د صادقینو د کړنلار مخالف او له اهلبیتو سره په تقابل کې گاڼه، چې رای او قیاس یې کاراوه. البته په داسې ټولنه کې، چې د زغم او گوزارې کچه ټیټه وي او ټول یوازې خپله اخستنه او پوهه مطلقه او یوازېنی حقیقت گڼي؛ نو د حقیقت پلټنې روح پکې کمزوری کېږي؛ نو په ټولنه کې به د جگړې یو اوزار د کرکې څرگندونه او پر ناصح او گوتنیونکي د ټاپو لگول وي. دا ټکی تر څه بریده طبیعي برېښي، هر انسان، چې کله مصالحې او جوړ جاړي ته د رابلنې په دریځ کې شي؛ نو طبیعتا باید د دواړو لوریو د ضعف او قوت ټکي او نیمگړتیاوې ووایي.

که ټولنه د درک او شعور داسې کچې ته رسېدلې وي، چې دواړه لوري صادقانه خپلې نیمگړتیاوې ومني او د لرې کولو په هڅه کې یې شي؛ نو دلته به هغه سمونپال او مصلح بری احساسوي، چې د دې چار لپاره یې ډگر ته رادانگلي دي؛ خو په ډېره خواشینۍ، چې د وینې او شخړې دواړه لوري د ناصح او سمونپال یوازې هغه خبره مني، چې پر گټه یې ده او هڅه کوي، چې له هغو نیوکو (که څه په حقه هم وي) ځان پاک کړي او رد یې کړي، چې په دوی کې دي؛ نو له سمونپال سره دښمني کوي، چې ولې دې زما نیمگړتیاوې رابربنډې کړې او داچې سمونپال منصفانه په نړه نیت د دواړو لوریو پر شننه بوخت دی، چې د نیمگړیو ټکیو په لرې کېدو یې د یووالي لپاره گام پورته شي؛ نو که دواړه لوري د گوتنیونکي، ناصح او سمونپال شننې یو اړخیزې وگڼي او له انصافه لرې شي؛ نو طبیعي ده، چې دواړه لوري به له ناصح او سمونپال سره د

دښمنۍ لپاره پلمه لاس ته راوړي او د هغه ناصحانه غږ د اورېدو پر ځای به یې تکفیر کړي.
په خواشینۍ تل شاهدان او لووي وو، چې کله د اهلسنتو کوم ستر عالم، ناصح او ګوتنیونکی د شیعیانو د دریځ په تایید کې څه وویل یا به یې ولیکل؛ نو ځیني سخت دریځه حنفیان وایي، چې شیعه شوی او پر خبرو یې ډاډ په کار نه دی. په بل اړخ کې چې کله له شیعه علماوو ځنې یو د خیر غوښتنې او یووالي غوښتنې له لامله د شیعیانو د دریځ شننه کوي او اهلسنتو ته مثبت نظر لري؛ نو سخت دریځه شیعیان پرې د انحراف او کږلارۍ ټاپه لګوي او یا وایي، چې له اهلبیتو څخه په واټن کې شوی دی.
څو پېړۍ دي، چې دې لنډلید، تعصب او پخپلې اخستنې او ذهنیت پورې د حقیقت ځانګړې ګڼل له اسلامي ټولنو څخه د شننې او منصفانه ازاد اندي نظر څرګندولو مخه نیولې ده او د اسلامي ټولنو د اندو د زرغونېدو، د اسلامي مذاهبو د پیوستون او د مؤمنینو د تالیف قلوب مخه مو نېولې ده او ددې پر ځای یې یو د بل په تکفیر او تفسیق لاس پورې کړی او خپل منځ ته مو د دښمنانو د راننووتو لار پرانستې ده او د " کل حزب بما لدیهم فرحون" له مخې هغه څه مطلق حق ګڼو، چې روږد شوي پرې یو او نه یوازې مخالف غږ، چې ان د سمونپالو او ناصحانو د زړه سوې غږ هم په ستوني کې ورزندۍ کوو.
د کتاب لیکوال هم له دې ډارېږي، چې هسې نه ځینې متعصب شیعیان یې د کتاب د ځینو غونډلو له لامله بې لارې او له خپله مذهبه وتلی وګڼي او متقابلا ځیني متعصب حنفي رونه یې د کتاب د ځینو غونډلو له لامله مغرض رافضي وګڼي. د حقایقو له ویلو سترګې پټولای نشو، که په رښتینتوب وویل شي؛ نو د مسلمانانو ترمنځ به د ډېرو بدوینو مخه ونیسي. دیني متونو او میراثونو ته بیاکتنه او پراخ اندي - بازاندیشي مو د عقل غوښتنه او دیني دنده ده او هیلمن یم، چې مخاطبان او لوستونکي دې ناڅیزه زیار ته په منصفانه لید او له تعصب، حب او بغض نه په لرې سترګه وګوري او همداراز په خیرغوارۍ او ناپلوۍ یې نیمګړتیاوې راپر ګوته کړي.
دا ټکی دې هم وویل شي، چې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د وخت اهل حدیث ورسره سخت مخالف شول؛ خو امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ته د ځینو شیعه وو لید سوکه سوکه منفي شوی او ددې نظریې منل ستونزمن برېښي، چې وواېو د امام

ابوحنيفه رحمة الله عليه د وخت شيعيانو امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ته منفي ليد درلود.
بايد زياته شي، چې: د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه بل ستر مظلوميت په دې کې دی، چې له ده د لاروۍ ځينې مدعي ډلو، له دينه د خپلې اخستنې د تاييد په موخه، د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په اندو کې لاسوهنه وکړه، چې نن ددې ډلو غوره او ځرګنده بېلګه امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ته ور منسوب د سلفي حنفيانو ډله ده.
بيا هم بايد ټينګار وشي، چې ليکوال هېڅکله خپل ليد لوری بې عيبه او نيمګړی نه ګڼي. د علمي بېوزلۍ او ځينو سرچينو ته د نه لاسرسی له لامله يې، لکه څنګه چې په کار وه، هاغسې څېړنه ونشوه کړای؛ خو دومره هيلمن يم، چې څېړنه مې د اسلامي مذاهبو د خاوندانو او په تېره د حضرت امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په ليد لوريو کې د اهلبيتو د مقام څېړنې ته يو ور پرانستلنه وي.
يو له هغو وړانديزنو، چې په دې باب د څېړنو لپاره يې رامخې ته کولای شو دادی، چې له صادقينو سره د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د مناظراتو په باب، چې په شيعي او سني سرچينو کې کوم روايتونه رانقل شوي، له رجالي، ادبي او منځپانګې له پلوه يې دقيقه او ژوره شننه او څېړنه وشي. بل وړانديز مې دادی، چې په امام ابوحنيفه رحمة الله عليه پورې اړوند سرچينې بايد له سره وکتل شي او کومې ډلې او انديز ښوونځي، چې دامام د لاروۍ مدعيان دي ددوی د افکارو د همغږۍ کچه په عالمانه او منصفانه ډول بې له تعصب او غرضه و ارزول شي.
" و آخر دعوانا ان الحمدلله رب العالمين"

په پیل کې مو وویل، ددې لیکنې اصلي موخه داده:
د اسلامي مذاهبو ترمنځ په پیوستون راوستو کې هڅه وشي او د اسلامي مذاهبو ځینې لارویان، چې د افراط او یو د بل نه پېژندو له لامله یو بل ته ښه نه ویني؛ نو هڅه وشوه دا لیکنه په دې لار کې یو اغېزمن ګام وي.
له همدې لامله مناسب مو ولیدل، چې دلته د هغو عالمانو فتواوې او نظریات هم راوړو، چې د مسلمانانو د خپلمنځي یووالي په لار کې یې هڅې کړي او باید ووایو، چې د کتاب دا برخه مو د محترم شیخ محمد آصف محسني په لارښوونه ورزیاته کړه.

## ۱. د علامه سید جمال الدین افغاني رحمة الله علیه لیدلوری

په وینا او کړنو کې د دې اسلامي یووالي د ستر بنسټګر ستره موخه اسلامي یووالی او اسلامي ورورولي وه. دلته یې دوه ویناوې راوړو، چې د ده د دننني ژور درد ښکارندوی دی:
۱. "ته وا مسلمانان سره یوه خوله شوي، چې یو لاس نشي او یو بل ته د یووالي لاس ورکړي او خپل ځواکونه په یوه جبهه کې د پردیو پرخلاف وکاروي؛ چې د نړۍ تر ټولو ستر ځواک به له پښو وغورځوي... که د بریتانیا ښکېلاک (د خپل وخت ستر ځواک) یو فیل وي او مسلمانان هر یو، یو ماشی وي؛ نو که په میلیونونو دا ماشي ددې فیل په غوږ کې بنګار وکړي؛ نو لږ تر لږه کوڼ به یې کړي."[۱]
۲. "خپل ماغزه او انده مې د ختیځ د درد نومېرنې - تشخیص او درملنې ته ځانګړی کړې؛ ومې موندل، چې د ختیځ خورا وژونکی درد، یو له بله د وګړیو بېلتون، شېندلې اندې او پر یووالي یې اړپېچ دی؛ نو د دوی د ګروهې د یووالي او د لویدیځ پرخلاف مې یې را پاڅولو ته ملا و تړله."[۲]

## ۲. د اروابښاد شلتوت فتوا: جعفري مذهب خپلولای شئ

له اروابښاد شلتوت وپوښتل شو:

---

[۱]. رئیس کرمي، سیدعلي، سیدجمال الدین اسدآبادي و همبستګي جهان اسلامي، ۲۷ مخ.
[۲]. افغانی، سیدجمال الدین، العروة الوثقی، د محمد عبده سریزه، ۱۳ مخ.

"ځيني خلک گروهن دي، داچې د يو مسلمان عبادات او معاملات سم وي؛ نو له څلورو مشهورو مذاهبو څنې د يو مذهب لاروی دې وي او په دې څلورگونو مذاهبو کې د امامي او زيدي شيعه وو د ښوونځي نامې نشته؛ نو ايا پښپړ موافق ياست، چې د اثنی عشري شيعه وو له ښوونځي لاروي له دين سره په ټکر کې نه ده؟" په ځواب کې يې وويل:
"اسلام خپل لارويان يو هم د کوم ټاکلي ښوونځي په لاروی ملزم کړی نه دی؛ بلکې هر مسلمان، له هر ښوونځي چې په صحيح توگه رانقل شوی وي او احکام يې په خپل ځانگړي کتاب کې راټول وي، لاروي يې کړای شي او څوک چې يو له دې څلورگونو مذاهبو د يوه لاروی وي، بل ښوونځي ته (هر ښوونځی، چې وي) اوړېدای شي. جعفري ښوونځی، چې په اثنی عشري امامي مذهب مشهور دی، د نورو اهلسنتو مذاهبو په څېر لاروي ترې شرعا جايز ده؛ نوځکه غوره ده، چې مسلمانان دا حقيقت وومي او د بل ځانگړي ښوونځي په باب له ناحقه او ناروا تعصبه لاس واخلي؛ ځکه د الله تعالی دين او شريعت يې د ځانگړي ښوونځي تابع نه دی او د يو ځانگړی ښوونځي په احتکار او انحصار کې به هم نه وي؛ بلکې د ټولو مذاهبو مشران، مجتهدان وو او اجتهاد يې د الله تعالی درشل ته قبول دی او څوک، چې مجتهد او اهل نظر نه وي، تر خپل پاموړ ښوونځي او له فقهې يې لاروي کړای شي او په دې مورد کې په عباداتو او معاملاتو کې توپير نشته ". [1]

## ۳. د شلتوت رحمة الله عليه پر فتوا تقريظات

۱-۳. داکتر محمد فحام د الازهر پخوانی رئيس د شيخ محمد شلتوت پر فتوا په تقريظ کې نظر يې تاييدوي، وايي:
"د شيخ محمد شلتوت اخلاقو، پوهې، د پوهې پراخی، په عربي پوهې، د قرآن تفسير او د فقهې اصولو ته حيران يم؛ له اماميه شيعه مذهبه يې د تعبد جواز ورکړ، شک نه لرم، چې فتوا يې پياوړی بنسټ لري، چې زما گروهه هم هماغه ده. "[2]

[1]. عبدالکريم بی آزار شيرازي، همبستگی مذاهب اسلامي، ۳۴۵-۳۴٦ مخونه.
[2]. مرتضی رضوي، فی سبيل الوحدة الاسلامية، ٦٤ مخ.

همداراز وايي: "الله تعالی دې شيخ شلتوت وبښي، چې دې کريمې مانا ته يې ور پام کړ او پر هغه څرګنده او مېړنۍ فتوا، چې ور يې کړه، ځان يې تلپاتې کړ. پر اماميه شيعه مذهب يې د عمل کولو د جواز فتوا ورکړه؛ ځکه يو اسلامي او فقهي مذهب دی او ډاډ يې پر کتاب، سنت او دليل ټينګ او پياوړی دی.... "[1]

۲-۳. شيخ محمد غزالي هم د شيخ شلتوت د فتوا په تاييد کې وايي:

" ګروهن يم، چې د ستر استاد شيخ محمد شلتوت فتوا د مسلمانانو په پيوستون کې اوږده لار وهلې ده.... په حقيقت کې عمل يې د مستشرقينو د خيالاتو دروغجنول دي، په خيال مې، کومې کينې او اړپېچونه چې په مسلمانانو کې دي، په پای کې به يوه ورځ اسلامي امت وشيندي او تر يوه ببرغ لاندې به راټول نشي؛ خو په آند مې دا فتوا د چار پيل او د لارې سر دی. "[2]

## ۳-۳. عبدالرحمن نجار د قاهرې د جومات مدير:

"د شيخ شلتوت د فتوا درناوی او فتوا پرې ورکوو او مسلمانان په څلورګونو مذاهبو کې له انحصاره ژغورو. شيخ شلتوت مجتهد امام دی، رای يې سمه او کټ مټ حق ده. ولې بايد په خپلو فتواوو کې پر ټاکليو مذهبونو بسيا وکړو، حال دا دوی ټول مجتهد ول؟"[3]

## ٤. د امام خميني تقريبي فتواوې او ليدلوري

۱-۱. "په مسجدالحرام او د مدينې په جومات کې د جماعت د نمانځه د پيلېدو پر مهال له جوماته وتل جايز نه دي او پر شيعيانو واجب دي، چې له اهلسنتو سره په جماعت نمونځ وکړي. "[4]

---

[1]. هماغه سرچينه.
[2]. محمد غزالي، دفاع عن العقيده و الشريعة، ۲۵۷ مخ.
[3]. پخوانۍ سرچينه، ٦٦ مخ.
[4]. امام خميني، رساله نوين، ۲٦۵ مخ.

۲-۱. د اهلسنتو د جماعت په نمانځه کې د ګډون د څرنګوالي په باب، امام خمیني استفتا شو، چې یا دا نمونځ د نیت او نورو له پلوه د شیعه وو د نمانځه په څېر دی؟ ویې وویل: "په هره بڼه، چې یې کوي، تاسې یې هم کوئ."[1]

۳-۱. وپوښتل شو: بې له حجه ایا شیعیان د اهلسنتو په امام جماعت پسې اقتدا کړای شي؟ و یې ویل: هو.[2]

٤-۱. " که د اهلسنتو علماوو ته د ذیحجې لومړۍ ورځ جوته شوه او د میاشتې پر لومړۍ ورځ یې حکم وکړ؛ نو شیعه حجاج دې تبعیت ترې وکړي او پر کومه ورځ، چې نور مسلمانان عرفات ته ځي، دوی دې هم ولاړ شي او حج یې سم دی."[3]

٥-۱. " طواف دې په متعارفه بڼه وکړي؛ لکه څنګه یې چې نور حجاج کوي او له هغو چارو دې ډډه وشي، چې ناپوهه وګړي یې کوي او په مطلقه بڼه دې، له هغو چارو ډډه وشي، چې د مذهب د سپکاوي لاملېږي، په وقوفین کې د اهلسنتو د قضاتو له حکمه متابعت لازم دی."[4]

٦-۱. "په کار ده، چې (د حج په مراسمو کې) ایراني روڼه او د نورو هېوادونو شیعیان له هغه کړنو ډډه وکړي، چې د مسلمانانو په لیکه کې درز اچوي او په کار ده، چې د اهلسنتو د جماعت په نمانځه کې حاضر شي او په کورونو کې دې د جماعت د نمانځه او له مخالفو خبرو کولو ډډه وکړي او د سپېڅلیو وګړیو پر قبرونو دې له ځان ورغورځولو ځانونه وساتي، چې کله د شرع مخالف هم دي."[5]

## ٥. د علامه سید شرف الدین موسوي لیدلوری (۱۲۹۰-۱۳۷۷س)

علامه شرف الدین موسوي، چې خپل ټول عمر یې د مسلمانانو د یووالي په لار کې تېر کړ او په دې لار کې یې خورا هڅې کړي، د "المراجعات" کتاب په سریزه کې وايي:

---

[1]. استفتائات از امام خمیني، ۲۲۸ مخ.

[2]. هماغه سرچینه، ۲۷۹ مخ.

[3]. امام خمیني، رساله نوین، ۲٦٥ مخ.

[4]. هماغه سرچنیه.

[5]. هماغه سرچینه.

"ډېر مخکې تر دې، چې دا ليکونه زما او شيخ سليم بشري ترمنځ لېږد راولېږدول شي، په ذهن کې مې ددې مطالبو د ليکلو انده وه؛ ځکه د سني او شيعه د پوهاوي او يووالي اند مې له ځوانۍ د زړه ارمان و او تل د يوې داسې هوارې لار په لټه کې وم، چې مسلمانان د پوهاوي برید ته ورسوي او ترمنځ يې د دښمنۍ جرړه له بېخه راونړوي او د ناپوهۍ او بېلتون پرده يې له سترګو اوچته کړي، چې خپل ژوند ته په ټينګه وګوري او ټول په اسلامي واجب آر (رورولۍ) پابند شي او بيا ټول يوځای د الله تعالی په ټينګې رسۍ منګولې ولګوي او يو له بل سره د نيکانو ورونو په څېر د يوې عالمې، عاملې، پوه او ځواکمنې ټولنې د جوړېدو پر لور ګامونه اوچت کړي او ټول پکې يو د بل ملاتړي وي.... "[1]

په بل ځای کې وايي: "فرقتهما السياسة، فلتجمعهما السياسة: له هماغې لومړۍ ورځې، سياست (او سياسي موخو) شيعه او سني سره بېل کړل او اوس بايد سياست (او د اسلام او مسلمانانو سياسي مصالح) يې يو له بل سره يو ځای کړي. "[2]

په بل ځای کې په خواشينۍ وايي:

" په ډېره خواشينۍ دې وويل شي، چې مسلمان رونه سره دښمني کوي، حال دا پر يوه مبداء او يو دين ګروهن دي او بايد چې په رورولۍ ژوند وکړي؛ خو يو له بل سره لاس و ګرېوان دي او د بې فرهنګو په څېر يې خپلې شخړې اوج ته رسولې، ته وا شخړې او لاس و ګرېوانېدل هم د علمي وينو او مناظرو له آدابو څنې دي او له څرګندوونکيو دليلونو شمېرل کېږي؟!همدا وضع د پازوالۍ دنده را ژوندۍ کوي او انسان چاره پلټنې ته اړ باسي او خواشيني کوي يې او ځان پوښتي، چې: ايا چاره شته؟څه بايد وکړو؟

دا دی له کلونو او پېړيو راهيسې د مسلمانانو خواشينونکي ټولنيز حالات! او دې کړاوونو له هر لوري رانغاړلي يو: له مخکې، شا، ښي او کيڼ لوري او په دې ترڅ کې هغه قلمونه، چې بايد په کار واچول شي (چې د ټولنې د خير، سمونې او روښنګرۍ لپاره وي) کله مزدور قلمونه هم وي، څنې ګرو قلمونه هم دي او کله هم احساساتي

[1]. محمد رضا حکيمي، شرف الدين، ۱۹۹-۲۰۰ مخونه.

[2].النص و الاجتهاد، سريزه، ١٤ مخ، له محمد رضا حکيمي، شرف الدين، ۲۰۰ مخ نه په نقل سره.

قلمونه وي او په دې اړېچونو او شخړو کې درزونو ته لمن وهي، چې په پايله کې ټولنه د ځوړ کندې ته ورگوزارېږي؛ نو څه بايد وکړو؟چاره څه ده؟

لړه لړه مې د کړاوونو او ستونزو پر وړاندې د صبر کاسه نسکوره شوه او ټول وجود مې په دې خواشينۍ کې ډوب شو. دا و، چې پر ۱۳۲۹ س کال مصر ته روان شوم. په دې هيله، چې د نيل د سيند په اوبو به مې د ارمانونو تنده ماته کړم او په زړه کې مې تېر شول، چې خپلو ځينې هيلو ته به ورسم او څوک به وموم، چې خپلې څرگندونې ورته وکړم او د مسلمانانو د خيرغواړۍ او سمونې لار به ورسره ولټوم او د مسلمانانو د بېلتون ددې ناروغۍ درملنه به وکړم، چې يو له بله يې بېل کړي او د الله تعالی شکر، چې هيله مې پلې شوه؛ ځکه د مصر سيمه په علم او اخلاص سمبال ده او څرگند حقيقتونه او کوټلي دليلونه مني او دا د مصر له غوره امتيازونو ځنې دي.

په مصر کې مې په خوشحالۍ او هوساينې بخت ملگری شو او د دې هېواد له يو ستر عالم سره يې مخ کړم، عقلمن عالم، چې ښه خوي او ستره ټولنيزه اډانه يې درلوده، چې پر حق يې د ديني مشرۍ پر گدۍ اډانه وهلې وه او څومره ښکلې ده د ديني علماوو خپلمنځي آشنايي، هغه مهال، چې په پاک روح او په زړه پوريو ويناوو او محمدي اخلاقو يو له بل سره چلن کوي. که يو ديني عالم د فضل او فضليت په ښکلې جامه پسوللی وي؛ نو په خپله به هوسا وي او لارويان به يې هم په هوسا او لورنه کې وي او څوک به وارخطا نه وي، چې د زړه درد ورته ووايي.

د مصريانو دا ستر عالم او د مصريانو مشر –چې ما ورسره وکتل – داسې و او کومې ناستې مې هم، چې ورسره وکړې، داسې وې. په دې کتنو کې مې له خپلو ستونزو او خواشينيو ورته سر وټکاوه او ده هم له خپلو غمونو او وارخطاييو شکايت راته وکړ. ډېر ښه وخت و؛ ځکه په موږ کې يې دا انده راوخوټوله، چې د اسلامي يووالي لپاره د چارې په لټه کې شوو..... "[1]

[1]. محمد رضا حکيمي، شرف الدين، ۲۰۵-۲۰۷ مخونه.

### ٦. آیت الله سید محمد حسین بروجردي

آیت الله واعظ زاده خراساني (د اسلامي مذاهبو د پیوستون د نړیوالې ټولنې سرمنشي)، چې د آیت الله بروجردي له زدکړیالانو څنې دی، نقلوي، چې نوموړی (آیت الله بروجردي)د خلافت په باب، چې د شیعه او اهلسنتو ترمنځ یوه مهمه اختلافي مسله ده، وایي:

"نن مسلمان اړمن نه دي، چې پوه شي، څوک خلیفه و او څوک نه و، نن د مسلمانانو اړتیادا ده، چې پوه شي، احکام له کومې سرچینې اخستېږي، هغوی وایي: قرآن او سنت، موږ وایو: قرآن او عترت؛ نو نن چې نه کوم حکومت شته او نه کوم خلافت، موږ خپلې خبرې عملي کولای شو ووایو، د خلکو د ستونزو د هواري مرجع اهلبیت دي."[1]

### ٧. په عمان کې د اسلامي هېوادونو د غونډې بیانیه

دا غونډه د اردن په پلازمېنه عمان کې د ۱٤۲٦ د جمادی الاول له ۲۷ څخه تر ۲۹ (چې د ۲۰۰۵ د جولای له ٤ مې تر ٦ نېټې پورې سمون خوري) جوړه شوه، د غونډې نامه وه "د اسلام حقیقت او په اوسنۍ ټولنه کې یې ونډه".

په غونډه کې د اسلامي نړۍ مخورو وګړو ګډون کړی وو.

د لوی او بښونکي الله تعالی په نامه

درود او سلام دې وي زموږ پر نبي محمد (صلی الله علیه و آله) او پر آل یې.

(خلکو! له خپل پالونکې ووېرېږئ، هغه پالونکي، چې له یوه تنه یې پېدا کړئ. [2])

د الازهر د ستر شیخ د فتوی، د حضرت آیه الله العظمی سید علي سیستاني د فتوی، د مصر د مفتي د فتوی، د شیعه د سترو مراجعو (جعفریه، زیدیه) د فتوی، د عمان د مفتي د فتوی او په سعودي عربستان کې د اسلامي فقهې د نړیوالې مجمع، د ترکیې د دیني چارو د اعلا مجلس فتوا، د اردن د مفتي فتوا، د ښاغلي ډاکټر یوسف القرضاوی

---

[1]. خراساني، واعظ زاده، زندګي آیت الله العظمی بروجردي، ۳۹۰ مخ.

[2] ("نساء /۱")

د فتوی پر بنسټ او همداراز د اردن د پاچا ملك عبدالله ثانی ابن حسين د پرانستې وينا له مخې او زموږ د پوهې پر بنسټ، چې د "خالصاً لوجه الله الکريم" لپاره ده او زموږ د څېړنېزو وينو او په غونډه کې د وړاندې شويو نظرياتو له مخې، د دی بيانيي د پای لاسليك کوونکيو دا پايليزه پرېکړه تصويب کړه او پرې التزام لرو.

١- څوك چې د هر اسلامي مذهب لاروی وي؛ نو مسلمان دی. اسلامي مذهبونه دا دي: د اهل سنتو څلورگوني مذهبونه (حنفي، مالکي، شافعي او حنبلي)، جعفری مذهب، زيدې مذهب، اباضي مذهب او ظاهريه مذهب. څوك چې پر دې اتو مذاهبو باور ولري؛ نو مسلمان به وي او تکفيرول يې جايز نه دي وينه، پت او مال يې حرمت لري. د الازهر د شيخ د فتوی له مخې د اشعريه عقيدې د لارويانو او د حقيقي تصوف د پلويانو او د واقعي فيلسوفانو د پلويانو تکفير روا نه دی.

د مسلمانانو بله هر ډله، چې پر الله تعالی او رسول يې او د دين پر اصولو ايمان ولري او د اسلام د اصولو حرمت او درناوي کوي او د دين له ضرورياتومنکر نه وي؛ نو تکفيرول يې روا نه دي.

٢- د ټولو اسلامي مذهبونو په منځ کې د اختلاف په پرتله گډ ټکي ډېر تر سترگو کيږي. پر همدې بنسټ د اته گونو مذاهبو لارويان د اسلام د دين په آرونو - اصولو کې يوه خوله دي.

هر يو پر لويی او يو الله تعالی گروهه لري او همداراز پر دې هم گروهه لري، چې قرآن کريم د لوی الله تعالی له خوا پر پيغمبر اکرم (صلی الله عليه و آله) نازل شوی او په يقين، دا کتاب د الله تعالی کلام دی او حضرت محمد (صلی الله عليه و آله) زموږ مشر، لارښود او د الله تعالی پيغمبر دی او نړيوالو ته مبعوث شوی دی.

دا ټولې ډلې د اسلام پر پينځگونو ارکانو، شهادتينو، نمونځ، زکات، روژې او حج يوه خوله دي او همداراز د ايمان په آرونو کې هم سره يوه خوله دي لکه، پر الله تعالی، ملائکو، د الله تعالی له خوا پر رالېږل شويو اسماني کتابونو، پيغمبرانو، قيامت او په خير او شر کې د الله تعالی پر تقدير ايمان درلودل، او د علماوو په مينځ کې اختلاف د دين په آرونو کې نه؛ بلکې په فروعو کې دی او په فروعو کې اختلاف امت ته يو ډول رحمت دی؛ دا څکه له ډېر پخوا ويل شوي و، چې "د علماو د نظرياتو ترمنځ اختلاف يو غوره او نيك چار دی".

۳- پر اسلامي مذاهبو منښته په دې مانا ده، چې يو مسلمان د شرعي احکامو په استنباط کې پر ځانګړيو قواعدو باور ولري؛ نوځکه روا نه ده څوك چې د فتوی ورکولو وړتيا او وس نه لري او په هر مذهب کې، چې د استنباط کومې لارې چارې ښوول شوي پرهغه يې پوره لاسبري نه وي تر لاسه کړی (؛ نو) فتوی ورکړي او همداراز روا نه ده، چې يو تن په مذهب کې د فتوی طريقه او منهج په پام کې و نه نيسي او فتوی ورکړي او پردې سربېره سمه نه ده، چې څوك د اجتهاد دعوا وکړي او له ځانه مذهب جوړ کړي او فتوی ګانې ورکړي، چې د مسلمانانو د شريعت له کړۍ او د شريعت له ثابتو قوانينو او قواعدو څنې ووځي، چې په اسلامي مذاهبو کې بنسټيز شوي او په دين کې بدعت او نوښت کېږدي. د ۱۴۲۵ د قدر پر شپه، د عمان د هاشمينو په جومات کې د ويل شوې بيانيې چورليز د ټولو اسلامي مذاهبو ټولمنيلتوب او د دوی د قوانينو درناوی دی؛ نو ځکه د مذاهبو درناوی او دلارويانو ترمنځ يې خپلمنځي خبرې يوازېنۍ لار ده چې منځلاري ډاډمنوي او د مسلمانانو په منځ کې مهربانۍ او دوه اړخيزه خبرو اترو ته لار اواروي.

۵- موږ ټول دې ته را بولوو، چې خپلې ګوندۍ او تربګنۍ دې شا ته واچوي يو د بل درناوي دې وکړي او د توحيد پر کلمه دې منګولې ولګوي او مسلمان دولتونه او ملتونه دي خپلمنځې اړيکې لاپسې پياوړې کړي، چې اسلامي امت يو موټی شي او په خپل منځ کې دې رورولي د "حب فی الله" په کړۍ کې پراخ او ژوره کړي او د اسلامي امت جرړې دومره پياوړې کړي، چې پکې نه فتنه رامنځ ته شي او نه پکې څوك لاس وهي.

٦- الله تعالی وايي: مومنان سره رونه دي او تل د خپلو مسلمانانو رونو په منځ کې سوله وکړئ، ښائی د الله تعالی تر رحمت لاندې راشئ[1].

والحمد لله وحده[2]

---

[1] (حجرات/۱۰)

[2]. علي آقا نوري، امامان شيعه و وحدت اسلامي، ۳٦٧-۳٦۹ مخونه.

## ۸. د ډاکتر يوسف قرضاوي (د اسلامي نړۍ د علماوو د ټولنې رئيس) فتوا

پوښتنه: په مذهب او نظر کې د مخالفت په پار د يو عقيدتي، فقهي او سلوکي مذهب لارويانو تکفيرول جايز دي؟

ځواب: "الحمدلله و الصلاة و السلام على سيدنا رسول الله صلى الله عليه وسلم،

د الهي توفيق تر غوښتو روسته، د پوښتنې په ځواب کې وايم:

څوک چې د زړه له اخلاصه ووايي: " اشهد ان لا اله الا الله و ان محمداً رسول الله "؛ نو مسلمان دی. له ټولو مسلماني حقوقو برخمن دی او ټولې دندې يې هم پر غاړه دي. داسې وګړي د دوزخ اور ته له ورننووتو خلاصون موندلی. که يوازې په ژبه شهادتين ووايي او زړه يې ايمان پرې نه لري؛ نو منافق دی. په ظاهر کې د مسلمانانو احکام پرې جاري کېږي، که څه د دوزخ په خورا لاندېنيو برخو کې يې ځای دی؛ په يو متفق عليه حديث کې راغلي دي:

"امرت ان اقاتل الناس حتى يقولوا: (لا اله الا الله، فاذا قالوها فقد عصموا منى دماءهم و اموالهم الا بحقها و حسابهم على الله: حکم راته شوی، چې له خلکو سره ترهغې وجنګېږم، چې " لا اله الا الله" وايي؛ نو دا غونډله يې چې وويله؛ نو زما له لوري يې وينه او شتمني خوندي ده؛ خو د اسلامي قوانينو له مخې (د قصاص او دياتو تر بريده)؛ خو اخروي حساب يې له الله تعالى سره دی.( "[1]؛ نوځکه ځينو اسلامي علماوو ويلي دي: اسلام په يوه جمله کې پټ دی، د شهادت جمله، په دې جمله انسان اسلام ته ورننوځي او اسلامي حکم پرې جاري کېږي.

ډېری احاديث هم په دې چار دلالت کوي؛ لکه:

۱. "من شهد ان لا اله الا الله و ان محمداً رسول الله حرم الله عليه النار: څوک چې " لا اله الا الله و ان محمداً رسول الله " ووايي؛ نو الله تعالى پرې د دوزخ اور حراموي. "[2]

۲-"من شهد ان لا اله الا الله وحده لا شريک له، و ان محمدا عبده و رسوله و ان عيسى عبده و رسوله و ابن امته و کلمته التى القاها الى مريم و روح منه و ان الجنة حق، و ان

---

[1]. متفق عليه دی. صحيح بخاري، کتاب الايمان، ۲۵ مخ او صحيح مسلم، کتاب الايمان، ۲۰ مخ له حضرت عمر بن خطاب نه يې رانقل کړی دی.

[2]. احمد او مسلم او ترمذي له حضرت عباده رانقل کړی دی.

النار حق و ان البعث حق، ادخله الله الجنة على ماكان من عمله، من اى ابواب الجنة الثمانية شاء: څوک چې شهادت ورکړي، چې بې له ايکي يو الله تعالى بل الله تعالى نشته او شريک نه لري او محمد يې بنده او استازى دى او عيسى يې هم بنده او استازى او د هغه د وينځې او کلمې زوى دى او کومه کلمه يې چې مريم ته ورالقاء کړه او روح يې دى او جنت حق دى، دوزخ حق دى او قيامت حق دى؛ نو هره کړنه، چې لري، الله تعالى به يې جنتي کړي، د جنت له اتو روښو، چې په هر يوه يې خوښه وي. "[1]

٣- ("من شهد ان لا اله الا الله دخل الجنة ": څوک، چې شهادت ورکړي، چې بې له ايکي يو خدايه بل الله تعالى نشته؛ نو جنتي دى"). [2]

٤- ("من قال لا اله الا الله مخلصا دخل الجنة: څوک چې د اخلاص له مخې ووايي: " لا اله الا الله "؛ نو جنتي دى. ")

٥-("من قال لا اله الا الله و كفر بما يعبد من دون الله حرم ماله و دمه و حسابه على الله: څوک، چې ووايي: " لا اله الا الله " او پر هغه څه کافر شي، چې بې له الله نمانځلېږي؛ نو مال او ځان يې محترم دى او حساب يې له الله تعالى سره دى. ")[3]

٦- (" من مات لا يشرک بالله شيئا دخل الجنة: څوک چې په داسې حال ومري، چې الله تعالى ته پر څه څيز پر شريک قايل نه وي؛ نو جنت ته به ننوځي. ")[4]

٧- ("من مات لا يشرک بالله شيئا دخل الجنة و من مات يشرک بالله شيئا دخل النار: څوک چې په داسې حال کې ومري، چې الله تعالى ته پر شريک قايل نه وي؛ نو جنت ته به ننوځي او څوک چې په داسې حال ومري، چې الله تعالى ته يې شريک نيولى وي؛ نو اور ته به ننوځي. ")[5]

[1]. صحيح بخاري او صحيح مسلم له حضرت عباده رانقل کړى دى.

[2]. حضرت بزاز له حضرت ابن عمر نه رانقل کړى دى.

[3]. صحيح مسلم د ابومالک اشجعي له پلاره رانقل کړى دى.

[4]. صحيح احمد، بخاري او مسلم له حضرت ابن مسعود څخه رانقل کړى دى.

[5]. احمد او مسلم له حضرت جابر نه رانقل کړى دى.

۸-"من مات و هو يعلم ان لا اله الا الله دخل الجنة: څوک چې په داسې حال ومري، چې پوه شي، چې بې له ايکي يوه خدايه بل الله تعالی نشته؛ نو جنت ته به ننوځي. ")[1]

دا ټول روايتونه – چې صحيح هم دي – پردې دلالت کوي، چې اسلام ته د ورننووتو لار د شهادت کلمه ده او که انسان په رښتيا ويلې وي او ومري – نه د نفاق له مخې – نو له اوره يې د خلاصون لاملېږي او جنتي دی، په ژوند کې يې چې هر څه کړې وي؛ يعنې که د يو انسان گروهه سمه وي؛ نو اور ته له ورننووتو خلاصون مومي، که څه ډېری گناهونه يې هم کړې وي.

کومې نامې، چې ځينې مسلمانان يې نورو ته اخلي، مهم نه دي. سلفي، صوفي، شيعه، سني، اشعري، معتزلي، ظاهري، مقاصدي او.... مسمی دي او مضمون اصل دی؛ نه نامه او عنوان.

همداراز دا حديثونه د نورو هغو احاديثو په باب وارد دی، چې ايمان له ځينې کبيره گناه کوونکيو؛ لکه زنا، غلا، شرابخوری او... څخه نفې کوي؛ لکه د " لايزانی الزانی حين يزنی و هو مؤمن، زناکار د زنا پر حال ايمان نه لري" حديث په څېر. د حديث منظور د ايمان د کمال نفې ده؛ نه په خپله ايمان.

البته د حديث د مانا لپاره داسې تاويل اړين دی، چې د احاديثو ترمنځ ټکر نه وي او په عربي ژبه کې داسې تاويلونه جايز دي.

د بېلگې په توگه وايو: پوهه هغه ده، چې گټوره وي. مراد ترې کامل علم دی. يا مور هغه ده، چې ماشوم وروزي؛ يعنې کامله مور؛ ځکه تر زېږون روسته موروالی تر لاسه کېږي.

څوک چې اسلام ته ننوځي؛ نو کافي ده، چې د اسلام پر ارکانو او واجباتو قلبي التزام او باور ولري. که څه په عمل کې گناهکار وي او پر ځای يې نه کړي؛ ځکه رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم به د هغو خلکو بې ځنډه اسلام مانه، چې شهادتين يې ويل او په مسلمانانو کې به يې شمېره. که څه بيا يې د نمانځه، روژې او زکات په څېر احکامو عمل و کړ.

---

[1]. احمد او مسلم له حضرت عثمان نه رانقل کړی دی.

د چا په اسلام راوړو چې ډاډمن شوئ؛ له مسلمانانو یې ایستای نشو؛ خو دا چې په کفر یې یقین پیدا کړو؛ ځکه یقین په شک له منځه نه ځي او څه چې له اسلامه د وتو لپاره ډاډ راوړوونکي دي، دادي، چې له بالضروره معلومه انکار وکړي یا کوم قطعي حرام، چې شک پکې نشته، حلال وشماري او یا داسې خبره یا کړنه وي، چې بې له کفره بل تاویل و نه لري؛ لکه بې اجباره، چې بوت ته سجده وکړي یا قرآن تر پښو لاندې ولتاړي یا یې په ګند کې واچوي یا الله تعالی او استازې صلی الله علیه و آله وسلم وکنځي یا داسې څرګند څه ولیکي، چې په کفرتوب کې یې شک نه وي.

جایز نه ده، چې یو مسلمان بل مسلمان د ګناه په پار له اسلامه بهر کړي، که څه ګناه یې کبیره هم وي؛ ځکه سمه ده، چې کبیره ګناه د انسان مسلمانتوب ټکنی کوي؛ خو په ټولیزه یې له منځه نه وړي او په دې دلیل، چې قرآن مجید قاتل، د مقتول د اولیاء دم رور ګڼي، وایي:

((یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُواْ کُتِبَ عَلَیْکُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَی الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالأُنثَی بِالأُنْثَی فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِیهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاء إِلَیْهِ بِإِحْسَانٍ: [1] مؤمنانو! د قتل په پېښو کې د قصاص حکم ورته لیکل شوی دی: ازاد، د ازاد او مریی د مریي او ښځه دې د ښځې په بدله کې ووژله شي او که له قاتل سره (دیني( رور څه نرمي وښووه (او د قصاص حکم یې د وینې په بیه بدل کړ)؛ نو له غوره لارې دې کار واخلي (او د وینې خاوند دې د دیه ورکوونکي حال په پام کې ونیسي) او قاتل دې هم په نېکۍ او خوښۍ (د مقتو ل ولي ته) دیه ورکړي (او ناغېړي دې پکې نه کوي)))

قرآن هم د هغو مسلمانانو ایمان قبول کړی، چې یو له بل سره جګړې کوي، وایي:

((وَإِن طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِینَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَیْنَهُمَا فَإِن بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَی الْأُخْرَی فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّی تَفِيءَ إِلَی أَمْرِ اللَّهِ فَإِن فَاءتْ فَأَصْلِحُوا بَیْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا إِنَّ اللَّهَ یُحِبُّ الْمُقْسِطِینَ [2]: او که له مؤمنانو دوه ډلې پخپلو کې په جنګ شي؛ نو ترمنځ یې سوله وکړئ؛ نو که یوه یې پر بلې تېری وکړي؛ نو له تېري کوونکې سره تر هغو وجنګېږئ، چې د الله تعالی حکم ته راوګرځي؛ نوکه راوګرځېد(او د سولې او پخلاینې

[1]. بقره/۱۷۸

[2]. حجرات /۹

لار يې ونيوه)؛ نو په منځ کې يې په عدل سوله وکړئ او انصاف وکړئ؛ (ځکه) چې الله تعالی انصاف کوونکي خوښوي.))
او په بل آيت کې وايي:
((إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ [1]: په حقيقت کې مؤمنان يو د بل رونه دي؛ نو د خپلو رونو ترمنځ (چې کله اختلاف پيدا کړي) روغه وکړئ او (خپل ځانونه) د الله تعالی له عذابه وساتئ، ښايي پر تاسې رحم وکړای شي.))
او په دې دول اسلام د زنا، تور، غلا، لارلوټ، شرابخورۍ او د ارتداد په سزا کې پر توپير قايل دی. که هره کبيره ګناه کفر وګڼل شي؛ نو بايد ټولو ته د ارتداد سزا ورکړه شي؛ نوځکه علماء دې ديني نصوص يو له بل سره يو ځای مانا کړي، متشابهات دې له محکماتو سره او فروع دې له اصولو سره په اړيکه کې کړي او هغه روايتونه تاويل کړي، چې د مسلمانانو ترمنځ جګړه کفر او ځينې کړنې يې کفري کړنې شمېري؛ لکه دا روايت: "لا ترجعوا بعدی کفارا يضرب بعضکم رقاب بعض: تر ما روسته کفر ته مه ور مخه کوئ او ځينو مو د ځينو نورو ورمېږونه مه وهئ." [2]
لکه څنګه چې جايزه نه ده، يو مسلمان د ګناه په پار له مسلمانۍ بهر کړو، همداراز جايزه نه ده، چې د خطا او تېروتنې په پار هم دا کار وکړو؛ ځکه هر عالم تېروتای شي او د خطا عقوبت له امته اخستل شوی دی.
له حضرت ابن عباس نه د ابن ماجه د روايت له مخې، چې ابن حبان او حاکم تصحيح کړی، الله تعالی له دې امته خطا، نسيان او اکراه لرې کړې ده.
په نړۍ کې د مشهورو مذاهبو لارويان، ټول په اسلامي مفهوم کې نونوتي دي، چې توضيح يې ورکړه شوه. هم فقهي مذاهب، چې د اسلام د عملي احکامو څرګندونه يې پر غاړه ده؛ لکه د اهلسنتو څلورګوني مذاهب او ظاهري مذهب او هم اعتقادي او کلامي مذاهب، چې د دين له اصولو د اخستنې - برداشت له مخې رامنځ ته شوي؛ لکه امام ابوالحسن اشعري (٣٢٤س مړ) ته منسوب اشعري مذهب، امام ابومنصور ماتريدي

---

[1]. حجرات /١٠

[2]. دا متفق عليه حديث دی، چې بخاري د کتاب الايمان په ٦١٦٩ ګڼه او مسلم د نوموړي کتاب په ٦٥ ګڼه کې له حضرت جرير بن عبدالله له حضرت عمر رانقل کړی دی.

(۳۳۳ س مړ) ته منسوب ماتريدي مذهب او هم فقهي- اعتقادي مذهب؛ لکه امام جعفر صادق (۱٤۸ س مړ) ته منسوب جعفري مذهب، امام زيد بن علي بن الحسين (۱۲۲ س مړ) ته منسوب زيدي مذهب او عبدالله بن اباض تميمي (د عبدالمالک مروان د پېر په روستيو کې مړ) ته منسوب اباضي مذهب. دا ټول مذاهب د ايمان هغه ارکان مني، چې په قرآن کې راغلي دي:

" و من يکفر بالله وملائکته و کتبه و رسله و اليوم الاخر: څوک چې پر الله تعالی، پرښتو، کتابونو، د الله تعالی پر استازيو او د قيامت پر ورځ کافر شي.... "[1]

پر قدر ايمان درلودل (چې په نبوي سنتو کې راغلي) پر الله تعالی د ايمان يوه برخه ده.

دا مذاهب همداغسې د اسلام پر عملي ارکانو، شهادتينو، نمونځ، زکات، د رمضان پر روژې او د چا چې وسه وي د بيت الله پر حج، ايمان لري.

همداراز اسلامي پرېکنده محرمات (لکه: وژنه، ځان وژنه، زنا، لواطت، شرابخوري، غلا، غصب، رباخوري، د پلارمړي -يتيم د مال خوړل او پر پاکلمنو مؤمنو ښځو تور او نور گناهونه، چې د کتاب او سنتو په محکماتو کې د کولو په صورت کې د عذاب ژمنه ورکړه شوې او اسلامي امت يې پر گناهتوب اجماع لري) حرام گڼي. ټول د اسلام پر قطعي احکامو(لکه عباداتو، معاملاتو، واده، حدودو، قصاص او شرعي او مالي سياستونو او نورو احکامو) ايمان لري. ټول په هغو چارو کې اجتهاد مني، چې په اړه يې قطعي الثبوت والدلاله نص نه وي راغلی.

اجتهاد ځينې اصول او ضوابط لري، چې د شرع اصولو ته ورگرځي که څه طريقه يې په بېلابېلو مذاهبو کې سره توپير لري. ځينې مذاهب، نص ته ډېره لېوالتيا لري، ځينې يې ډېر د رای پلوي دي، ځينې يې ظواهر اخلي او ځينې يې مقاصد غوره کوي.

له مجتهدينو ځنې هر يو يې، چې په اجتهاد کې واقعي الهي حکم ته ورسېد؛ دوه اجره لري او هغه چې په دې لار کې تېرواته؛ نو يو اجر به لري؛ ځکه خپله ټوله هڅه يې کړې ده او د حق په لټه کې و؛ نو بايد له اجره بې برخې نشي. په دې باب يو صحيح متفق عليه حديث رارسېدلی دی. د مجتهد تېروتنه توپير نه کوي، چې په اصولو کې وي که په فروعو کې، په علمي چارو کې وي که په عملي چارو کې. څېړونکيو

[1]. نساء/۱۳٦

علماوو دا خبره ښه څرګنده کړې ده. د تېروتنې په پار د مجتهد ګناهکار ګڼل (کافر خو لا لرې خبره ده)هغه څه دي، چې د بقرې سورت له دې آيت سره په ټکر کې دی: ((لاَ يُكَلِّفُ اللّهُ نَفْسًا إِلاَّ وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ رَبَّنَا لاَ تُؤَاخِذْنَا إِن نَّسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلاَ تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلاَ تُحَمِّلْنَا مَا لاَ طَاقَةَ لَنَا بِهِ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَآ أَنتَ مَوْلاَنَا فَانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ [1]: الله تعالی هر څوك تر خپلې وسې مکلف بولي (انسان) چې څه (ښه) وکړي؛ نو ځان ته يې کړي او هره (بدي) چې وکړي؛ نو د ځان په زيان به يې کړې وي. (مؤمنان وايي:( پالونکيه! که څه هېره او خطا را نه وشي؛ موږ پرې مه نيسه. پالونکيه! پرموږ هغه پېټی مه ږده؛ لکه چې هغه دې (د ګناه اوسرغړونې له لامله) زموږ پر مخکښنيو ايښی و. پالونکيه! پر موږ هغه پېټی مه ږده، چې د پورته کولو وس يې نه لرو او د ګناهونو نښې را نه ووينځه، ومو ښښه، راباندې ولورېږه، ته مو پالندوی (او مرستندوی) يې او پر کافرانو مو بريالي کړه.))

په صحيحو روايتونو کې راغلي، چې الله تعالی دا دعا قبوله کړې ده. که الله تعالی هغه مجتهد ته سزا ورکړي، چې خپله ټوله هڅه يې کړې ده؛ خو حقيقت ته په وررسېدو کې تېروتی دی؛ نو د هغه تېروتنې له لامله يې مجازات کړی دی، چې د پورته آيت له مخې يې سزا معاف شوی او داسې يو تکليف يې ور ترغاړې کړی، چې له وسې يې پورته و.

امام ابن تيميه وايي: هر مؤمن، چې د حق په غوښتنه کې اجتهاد وکړي او تېروځي، تېروتنه يې چې هر څه وي، الله تعالی يې ښني، که په علمي او نظري چارو کې وي او که په عملي فروعو کې وي. د پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم اصحاب او اسلامي مشران ټول پر همدې رای وو؛ خو پر اصولي مسايلو (چې انکار ترې د کفر لامل دی) او فرعي مسايلو (چې انکار ترې د کفر نه لامليږي)د مسايلو ډلبندي يو بې بنسټه ډلبندي ده، چې نه له صحابه وو رارسېدلی نه له تابعانو او نه له نورو اسلامي مشرانو.

---

[1]. بقره/۲۸٦

امام ابن الوزير هم وايي: له تېروتنې د تېرېدو لپاره خورا آيتونه راغلي دي. ظاهرا اهل تاويل ددې آيتونو په مانا کې تېروتي دي – ځکه له آيتونو يې په غلط تفسير کې په لويی لاس څه معلومات نه لرو او باطن علم يوازې له الله تعالی سره دی –چې يو يې دا آيت دی:

((وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيمَا أَخْطَأْتُم بِهِ وَلَكِن مَّا تَعَمَّدَتْ قُلُوبُكُمْ[1]: او په هغه (خبره) کې، چې تېروتي ياست (او بې پامه ورته د نورو په نامه غږ وکړئ؛ نو) گناه درباندې نشته؛ خو هغه چې له زړونو يې وکړئ (؛ نوپه اړه يې مسؤول ياست) او همداراز: ((رَبَّنَا لاَ تُؤَاخِذْنَا إِن نَّسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا[2]: پالونکيه! که څه هېره او خطا را نه وشي؛ موږ پرې مه نيسه.))

ددې آيت په تفسير کې دوه سم حديثه لرو؛ يو له حضرت ابن عباس (رض) او بل حضرت ابوهريره (رض)، چې الله تعالی وايي: (("قدفعلت: يعنې قبوله مې کړه او تاسې د هېر او تېروتنې له لامله نه نيسم.))

په بل آيت کې الله تعالی وايي: ((وَلَمْ يُصِرُّواْ عَلَى مَا فَعَلُواْ وَهُمْ يَعْلَمُونَ[3]: او پر خپلې گناه ټينگار نه کوي؛ ځکه پوهېږي (چې بدېې کړي دي).))

الله تعالی هغه گناهکاران، چې د پوهې له مخې گناه کوي، د پوهې په پار يې رټي او د مؤمن د وژنې په باب په سخته وايي: ((وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ[4]: او څوك چې مؤمن په لويی لاس ووژني؛ نو سزا يې دوزخ دی.))

په دې آيت کې د دوزخ ژمنه په وژنې کې په لويی لاس پورې تړاو لري.

د احرام په حال کې د ښکار په باب وايي: ((وَمَن قَتَلَهُ مِنكُم مُّتَعَمِّدًا[5]: او که چا ښکار په لويی لاس وواژه))

ډېری احاديث هم په دې مانا راغلي؛ لکه د سعد، ابوذر او ابي بکره (رضي الله عنهم) احاديث، چې پر سموالي يې دهغه په باب يوه خوله دي، چې د پوهې له مخې په

---

[1]. احزاب/٥

[2]. بقره/٢٨٦

[3]. آل عمران/١٣٥

[4]. نساء/٩٣

[5]. مائده/٩٥

دروغو د پردي سړي په باب ادعا وکړي، چې پلار يې دی. دلته هم پوهه د عذاب د وعدې لپاره شرط ګڼل شوی دی.
په دې باب څرګند حديث د هغه بوډا په باب دی، چې د ناپوهۍ له لامله يې وصيت وکړ، چې تر مړينې روسته يې وسوځوئ او په يوه توپاني ورځ کې يې نيمه ايره په بېديا او نيمه په سمندر کې خوشې کړي، چې د الله تعالی لاسونو ته ورنشي، چې په عذاب يې نه کړي، بيا وېره پرې ورکېناسته او الله تعالی پرې ولورېد او...
دا خبره يې يا پر الله تعالی او معاد د ناپوهۍ له لامله وه او يا د الله تعالی له قدرته د ناپوهۍ له مخې او فکر يې کاوه، چې که ايره يې وشيندل شي؛ نو الله تعالی ته يې راټولول ناشوني دي.
خو الله تعالی پرې ولورېد او ناپوهۍ يې له منځه ولاړه او له الهي عقوبته ووېرېد او.....
دا سړی په دې ځانګړنې، چې خبره يې د ناپوهۍ له لامله وه، چار يې کفر ته نه رسي؛ خو داچې د الهي پېغمبرانو په ښوونو پوهه ولري او داچې دا چار الله تعالی کړای شي محال ورته نه دی؛ خو بيا هم پېغمبران دروغجن وګڼي.
الله تعالی وايي: ((وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّى نَبْعَثَ رَسُولاً [1]: او موږ هېڅکله (يو قوم) نه عذابوو، څو مو پېغمبر ور استولی نه وي (چې خلك په خپلو دندو پوه کړي(.
دا حديث هغوی ته خورا هيلمنوونکی حديث دی، چې د آيتونو په تاويل کې تېروتي او هغه حديث دی، چې پر سموالي يې يوه خوله دي او يوې ډلې اصحابو؛ لکه حذيفه، ابوسعيد او ابوهريره (رضی الله عنهم) رانقل کړی؛ بلکې لکه څنګه چې په جامع الاصول او مجمع الزوايد کې راغلي، هغه حديث دی، چې راويان يې تواتر ته رسېدلي، د حذيفه (رض) په روايت کې راغلي، چې دا سړی نباش او کفن کش و.
څه مو چې وويل، په تاييد کې يې ځينې حديثونه لرو، چې الله تعالی وايي: " انا عند ظن عبدی بی فليظن بی ما شاء: زه هغسې يم، چې بنده مې ګومان کوي؛ نو څنګه يې چې خوښه وي، زما په باب دې ګومان وکړي. "
دا احاديث له دريو سمو لارو راغلي دي.

[1]. اسراء/۱۵

ډېرى اسلامي علماوو ويلي: مسلمان د هغه الفاظو په پار، چې له خولې يې راوځي، تكفيرولاى نشو؛ خو داچې ويونكى يې په كفر پوهه ولري. د محيط د كتاب خاوند وايي: دا د ابوعلي جبايي، محمد بن حسن شيباني او شافعي عقيده ده. [1]
ان "په درې اوياوو د امت د ويشل كېدو"حديث، چې ډېرى علماء يې مني او وايي، چې دا درې اويا واړه فرقې په دوزخ كې دي؛ خو يوه فرقه يې، چې "ناجيه فرقه" نومول شوې ده. ان دا حديث هم –له ټولو ستونزو سره، چې په سند او دلالت كې يې شته – بېلابېلې فرقې يې د امت؛ يعنې د اسلامي امت او "محمدي امت" برخې ګڼلي دي. د روايت د سرچينې له لامله، چې د پېغمبراكرم صلى الله عليه و آله وسلم له خولې يې راوړى، چې: "ستفترق امتى"؛ يعنې امت مې ډله ډله كېږي. دې حديث ټول د امت په متن كې راوړي او موږ ته جايز نه دي، چې په خپلو تاويلاتو او تكلفاتو يې له امته بهر كړو
بخاري له حضرت انس بن مالک (رض) رانقلوي، چې پېغمبر اكرم صلى الله عليه و آله وسلم ويلي دي: " من صلى صلاتنا و استقبل قبلتنا و اكل ذبحتنا، فذلک المسلم الذى له ذمه الله و ذمه رسوله، فلا تخفروا الله فى ذمته: يعنې څوک زموږ په څېر نمونځ وكړي او زموږ قبلې ته ور مخه كړي او زموږ له حلالې وخوري، مسلمان دى او د الله تعالى او د هغه د استازي په پناه كې دى؛ نو تاسې يې د الله تعالى د واک تر ولكې لاندې څارن ووسئ. "[2]
بخاري هم داسې رانقل كړي، چې حضرت بن مالک وپوښتل شو: اباحمزه! څه څيز د بنده وينه او مال حراموي؟ ځواب يې وركړ: څوک چې شهادت وركوي، چې بې له ايكي خدايه بل الله تعالى نشته او زموږ قبلې ته ور مخه كړي او زموږ په څېر نمونځ وكړي، زموږ له حلالې وخوري؛ نو مسلمان دى او د مسلمانۍ له ټولو حقوقو برخمن دى او د مسلمانۍ ټولې دندې ور ترغاړې دي. [3]
ددې خبرې مانا داده، چې بايد ددې وګړي پر مسلمانۍ حكم وكړو او اسلامي احكام پرې جاري كېږي كه څه ګناهكار وي يا په ځينو علمي چارو كې تېروځي كه په

[1]. وګ: ايثار الحق على الخلق، ۳۹۲-۳۹٤ مخونه.
[2]. بخاري، كتاب الصلاة، ۳۹۱ ګڼه.
[3]. صحيح البخاري، كتاب الصلاة، ۳۹۳ مخ.

اصولو کې وي که په فروعو کې؛ لکه څنګه چې دا خبره په علم کې راسخینو جوته کړې ده.
الله تعالی هغه دعا اجابت کړې، چې د بقرې سورت په پای کې یې رازده کړې او د تېروتنې او هېر ګناه یې رانه اوچته کړې ده: " ((رَبَّنَا لاَ تُؤَاخِذْنَا إِن نَّسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا [1]: پالونکیه!که څه هېره او خطا رانه وشي؛ موږ پرې مه نیسه.))
په دې موضوع کې الله تعالی د علمي او عملي مسایلو او په اصولي او فرعي پېښو پورې اړوند مسالو ترمنځ توپیر نه دی ایښی.
د صحابه وو عمل هم زموږ کړنې تاییدوي. صحابه وو خوارج تکفیر نه کړل؛ لکه څنګه چې له حضرت علي کرم الله وجهه، سعد بن ابي وقاص (رض) او نورو نه روایت شوی دی. ابن الوزیر وایي: د حضرت علي کرم الله وجهه په واسطه د خوارجو نه تکفیرول راته له څو لارو جوت شوي دي. همداراز د حضرت علي کرم الله وجهه په واسطه د خوارجو د مالونو بېرته ورکول هم راته له څو لارو جوت شوي دي. له حضرت جابر (رض) نه روایت دی، چا ورته وویل: ایا کوم قبلې والا ته د مشرک وایئ؟ ورته یې وویل: اعوذبالله او بیا یې وژړل.
ورته وویل شول: ایا څوک پکې کافر ګنئ؟ و یې ویل: نه![2]

---

[1]. بقره/۲۸٦

[2]. دا حدیث ابویعلي او طبراني رانقل کړی دی او سند یې سم دی. ابن حجر هم د مطالب العالیه د درېیم ټوک په ۲۹٦ مخ کې سم ګڼلی دی.

## د تکفير د خپراوي په نټه/ انکار کې د سترو مشرانو ويناوې

کوم مطالب مو چې وويل، د اسلامي مذاهبو سترو مشرانو هم ويلي او موږ هم پردې مطالبو د ټينګار لپاره يې ځينې هغه ويناوې راوړي، چې زموږ د موخو له مخې د تکفيرولو مخنيوی کوي.

### د اشاعره وو او نورو متکلمانو وينا

د عضدالدين ايجي په المواقف کتاب او د سيدشرف الدين جرجاني په شرح کې يې، چې د را روسته اشاعره وو له مهمو کتابونو څنې دی، راغلي دي:
" ډېری متکلمان او فقهاء په دې آند دي، چې د هيڅ قبلې والا تکفيرول جايز نه دي ".
شيخ ابوالحسن اشعري د "مقالات اسلاميين" د کتاب په پيل کې ويلي دي: "ځينې مسلمانان ځينې نور بې لارې ګڼي او کرکه ترې کوي او په پايله کې ډله ډله شول؛ خو اسلام يې سره راټولوي او ټول په خپله غېږ کې رانغاړي. "
دا د اشعري مذهب دی، ډېری اصحاب هم همدا رايه لري. له امام شافعي رانقل شوي، چې وايي: " د يوه مذهب د لاروي شهادت هم نه ردوم؛ خو د "خطابيه وو"؛ ځکه د حليت په کذب ګروهن دي ".
حاکم د المختصر د کتاب خاوند په المنتقي کتاب کې له حضرت امام ابوحنيفه رحمة الله عليه رانقل کړي: "له اهل قبله وو څنې يې څوک هم نه تکفيراوه. ابوبکر رازي هم همدا رای له "کرخي" او نورو رانقل کړې ده.
ويلي يې دي: "معتزله، چې تر ابوالحسن مخکې وو، په شخړه کې شول او زموږ اصحاب-؛ يعنې اشاعره- يې په ځينو چارو کې تکفير کړل. زموږ ځينو يارانو هم ورته کار وکړ په ځينو چارو کې يې تکفير کړل. استاد ابواسحاق اسفرايني ويلي دي: " هر مخالف، چې موږ تکفير کړي، مو يې هم تکفيروو او که داسې نه وي؛ نو نه ".
د مواقف خاوند او شارح يې د مسلمانانو د عدم تکفير لپاره د ډېری متکلمانو او فقهاوو رای تاييد کړې، که څه په ځينو ګروهيزو چارو کې له حق ګروهې سره مخالف هم وي؛ ځکه کوم ګروهيز مسايل، چې اهل قبله پرې يو له بل سره اړپېچ لري؛ لکه ايا

الله تعالی د بندګانو د کړنو پنځوونکی دی که نه؟ ایا الله تعالی څېره لري که نه؟ایا په آخرت کې لیدل کېږي که نه؟ ایا هغه غواړي، چې ګناه وشي که نه؟ او دې ته ورته پېښې، ټولې نظري چارې دي، چې پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم به یې په باب تازه مسلمان شوي وګړي نه پوښتل او دې چارو ته بې له څه پاملرنې او بې له دې چې په لټه کې یې شي، د وګړیو مسلماني منله. اصحاب او تابعان هم همداسې کول.
له دې چلنه معلومېږي، چې د وګړیو د مسلمانۍ سموالی ددې پوښتنو ځوابولو ته تم نه دی او په دې چارو کې تېروتل یې د مسلمانۍ حقیقت نه ټکنی کوي او که د وګړیو د اسلام د سموالي حقیقت په دې پورې اړه درلوده او پکې تېروتنې به د وګړیو د اسلام حقیقت ټکنی کاوه؛ نو واجب به وه، چې په دې چارو کې د خلکو د ګروهې ځرنګوالی وڅېړل شي؛ خو پوهېږو، چې نه د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم په پېر کې، نه د اصحابو په پېر کې او نه د تابعانو په پېر کې د داسې چارو په باب څه خبره نه وه. [۱]
امام محمد غزالي د معتزله وو، مشبهه وو او نوښتګی و ډلو په باب، چې د دیني متونو په تاویل کې د اجتهاد له مخې تېروتي دي، تر ویناو روسته وایي: " څه چې باید زده کړیالان ډډه ترې وکړي، له تکفیره ډډه کول دي، تر هغه وخته چې لار ورته وي؛ ځکه د قبلې پر لوري د نمونځ کوونکیو او د لا اله الا الله د ویونکیو د ځان او مال مباح ګڼل ناسم چار دی او د زرو کافرو په ژوندي ساتلو کې تېروتنه، د یو مسلمان د یو ځاڅکي د وینې د تویېدو تر تېروتنې اسان دي. "
او پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي دي: "امرت ان اقاتل الناس حتی یقولوا لا اله الا الله محمد رسول الله، فاذا قالوها فقد عصموا منی دماءهم و اموالهم الا بحقها: حکم راته شوی، چې له خلکو سره تر هغه مهال وجنګېږم، چې "لا اله الا الله او محمد رسول الله" ووایي او دا جمله یې چې وویله؛ نو ځان او مال یې په امن کې دی؛ خو په حقه. "
غزالي هم داسې ویلي دي: "جوته شوې را ته نه ده، چې په تاویل کې تېروتنه د کفر لاملېږي. دا چار دلیل ته اړتیا لري؛ خو د لا اله الا الله د ویوونکیو عصمت بیخي

[۱]. وګ: المواقف او همداراز شرح یې اتم ټوک، ۲۳۹ او ۲۴۰ مخونه.

جوت شوی دی او هېڅ څه يې نشي زايلولای؛ خو پرېکنده پوهه. همدومره بسيا ده، چې پام مو وي په تکفير کې افراط او ښنده- مبالغه د برهان د دليل مؤيد نه دی؛ ځکه برهان بايد يا يو شرعي اصل وي يا د يو شرعي اصل پر بنسټ يو قياس وي. هغه شرعي اصل، چې د کفر لامل دی (د الله تعالی او استازي يې او....(څرګند تکذيب دی. څوک چې تکذيب و نه کړي، بل هر چار هم چې د کذب په مانا وي، په هکله يې نه دی؛ نوځکه نوموړی د شهادت د کلمې په ويلو تر عمومي عصمت لاندې پاتېږي. "[1]

## د حنفي مذهبو فقهاوو نظر

جامع الفصولين د حنفيانو يو کتاب دی، چې پکې راغلي دي: " طحاوي زموږ له اصحابو رانقل کړي دي: هېڅ څوک له ايمانه نه وځي؛ خو داچې له هغه څه منکر شي، چې ايمان ته د ورننووتولامل وي. په چا چې يقين حاصل شو، چې مرتد شوی؛ نو د ارتداد حکم پرې جاري کېږي او د چا په ارتداد، چې شک و؛ نو د ارتداد حکم پرې نه ورجاري کېږي؛ ځکه وګړيو ته ثابت شوی اسلام په شک له منځه نه ځي او اسلام او مسلماني برلاسي دي....

نو ښايي که په دې باب څه شکايت کوم عالم ته راوړل شي؛ نو اهل اسلام دې نه تکفيروي ". زه (د جامع الفصولين خاوند) وايم: "دا مطلب مې ځکه مخکې راووړ، چې د هغه ويناوو لپاره يوه کچه وي، چې په دې څپرکي کې مې را وړې؛ ځکه په ځينو منقولاتو کې د تکفير حکم راغلی دی، حال دا ددې سريزې له مخې، د تکفير ځای نه دی- پام وکړئ. "

په "خلاصه" او نورو کتابونو کې راغلي دي: که په يو چار کې بېلابېل احتمالات وو، يو احتمال يې د تکفير لامل او نور احتمالات يې د تکفير مانع شمېرل کېږي؛ نو مفتي بايد د هغه احتمال اړخ ونيسي، چې د تکفير مانع وي او مفتي بايد مسلمانانو ته حسن ظن ولري.

په بزازيه کې زيات شوي دي:

---

[1]. الاقتصاد فی الاعتقاد، ٢٢٣ او ٢٢٤ مخونه د بيروت د دارالکتب چاپ.

" خو داچې وګړی ټينګار وکړي، چې د يو مطلب اراده يې کړې ده، چې د کفر لامل دی؛ نو په دې بڼه کې به تاويل ته څه ځای پاتې نشي. " د بېلګې په توګه: که څوک د يو مسلمان وګړي د دين سپکاوی وکړي، په يوه احتمال دا سپکاوی د دين د سپکاوي او استخفاف پر مانا ده؛ نو د کفر لامل دی او په بل احتمال مراد يې د مسلمان پرېوتي اخلاق او ناوړه چلن دی – نه په خپله د دين سپکاوی – په هر ځای کې، چې په کفر کې اختلاف وي؛ نو خبره بايد په ښه محمل حمل کړو که څه پر يوه ضعيف او کمزوري روايت ډډه وهل وي؛ نو ډېری په کفر ککړ لغات، چې کارېږي؛ له مخې يې د تکفير حکم ورکولای نشو او ژمن يم، چې هېڅ په دې اقوالو د تکفير حکم صادر نه کړم.... "[1]

ابن عابدين په ردالمختار کتاب کې له خير رملي نقل کړي، چې د بحر د خاوند په دې وينا (که څه په ضعيف روايت ډډه وهل وي) پسې يې ويلي دي: " که څه روايت زموږ له نامذهبانو هم وي. دليل يې دادی، شرط شوی له هغه څه انکار د کفر لامل دی، چې د مسلمانانو پرې اجماع وي. "[2]

حنفي څېړونکی، کمال الدين بن الهمام وايي: " د مذهبيانو په خبرو کې د تکفير حکم خورا زيات دی؛ خو دا يوه هم د مجتهدانو او فقيهانو خبره نه ده او دا احکام نافقهاوو ويلي او پر خبرو يې ډاډ نشته. "[3]

## د مالکي مذهبو فقهاوو ويناوې

د مالکي مذهبو د نظريو په رانقلولو کې يوازې د شاطبي د نظر په رانقلولو بسيا کوو: د الاعتصام په کتاب کې د بدعتپالو او کوږ اندو تر يادولو روسته وايي: " اسلامي امت ددې فرقو، چې بدعتونه يې کړي، د لارويانو د تکفير په باب اړپېچ لري؛ خو څه چې سم برېښي او له روايتونو سره ډېر همغږي دي، د دوی پر تکفير د پرېکندتوب نشتوالی دی او دې مطلب ته دليل مو د صالح سلف عمل دی.

---

[1]. البحر الرائق۱۳٤/۵ او ۱۳۵ مخونه.

[2]. حاشية رد المختار ۳۹۹/۳ مخ د استانبول چاپ.

[3]. هماغه سرچينه ٤۲۸/۳.

نه گورئ، چې حضرت علي –رضی الله عنه- له خوارجو سره څنگه چلن وکړ؟ علي (رض) د اسلاموالو په څېر چلن ورسره وکړ، د الله تعالی د وینا له مخې، " وَإِن طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا [1]: او که له مؤمنانو دوه ډلې پخپلو کې په جنگ شي؛ نو ترمنځ یې سوله وکړئ "

کله چې حروریان (خوارج) راپورته شول او د مسلمانانو له ټولي بېل شول؛ نو آنحضرت برید پرې و نه کړ او ورسره و نه جنگېد او که دوی په خپلو وتو مرتد شوي وو؛ نو حضرت علي کرم الله وجهه به کله هم نه وو پرېښي؛ ځکه پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي دي: " من بدل دینه فاقتلوه: چا چې خپل دین بدل کړ؛ نو ویې وژنئ. " حضرت ابوبکر –رضي الله عنه- هم، چې له اهل رده سره جگړې ته راووت؛ پرې یې نه ښوول؛ ځکه دې دوو ډلو توپیر درلود، معبد جهني او نور اهل قدر هم چې راښکاره شول؛ نو صالح سلف یې یوازې په شاته کولو، شړلو، دښمنی او ورسره په کرکې بسیا وکړه او که په خپلو وتو یې په محض کفر لاس پورې کړی و؛ نو د مرتد حد به پرې جاري کېده. عمر بن عبدالعزیز(رض) هم په موصل کې د خپل پېر د حروریانو (خوارجو) له وژنې ډډه وکړه؛ لکه څنگه چې حضرت علي کرم الله وجهه ویلي وو، د مرتدانو چلن ورسره و نه کړئ.

خو د مانا له پلوه: که څه وایو: هغوی د فتنې او تاویلپالی له مخې د خپلو ځاني غوښتنو او د قرآن کریم د متشابهاتو لارویان دي؛ خو هغوی یوازې د ځاني غوښتنو لارویان نه دي او په بشپړه توگه د قرآن له متشابهاتو لاروي نه کوي؛ ځکه که داسې وه؛ نو کافر گڼل کېدل؛ ځکه په اسلامي شریعت کې دا چار یوازې هغوی کوي، چې د عناد له مخې د قرآن محکمات نفې کوي، چې البته دا چار کفر دی؛ خو څوک چې اسلامي او محمدي شریعت تصدیقوي، بالاخره د وفاق پر لوري دي؛ لکه څنگه چې د حضرت علي –رضي الله عنه- د زمانې دوه زره خوارج هم ورستانه شول؛ که څه زیاترو یې داسې و نه کړل. [2]

---

[1]. حجرات /۹

[2]. شاطبي، الاعتصام۳۳/۳او ۳۵ مخونه، د المنار چاپ.

## د شافعي مذهبو فقهاوو نظر

د ابوحامد غزالي نظر مو راووړ، چې هم د شافعي مذهب له مشرانو څنې دی او اشعري عالم دی، دلته به د نورو شافعي مذهبو علماوو نظر راوړو:

## د صحیح مسلم په شرح کې د نووي ويناوې

"یوه شئ! د حقوالو د مذهب له مخې، یو اهل قبله هم د گناه په پار نه تکفیرېږي، اهل هواء او بدعتپال هم (لکه خوارج او معتزله او...( هم نه تکفېرېږي. څوک چې د اسلام له اړتیاوو څنې له یوه منکر شي، مرتد او کافرېږي؛ خو داچې نوی مسلمان شوی وي او یا په لرې بیدیا کې لوی شوی وي یا داچې له هغو وګړیو څنې وي، چې دا چارې ترې پټې پاتې وي. په دې ترخ کې لومړی یې سمه عقیده ورپېژندل کېږي که بیا یې هم ترې انکار وکړ؛ نو د کفر حکم پرې کېږي همداراز که څوک د زنا، شرابخوری وژنې او نورو محرماتو پر حلالوالي قایل وي، چې د اسلام له اړتیاوو څنې دي. "
ابن حجر په تحفه کې وايي: "غوره ده، چې مفتي تر شوني بریده د وګړیو په تکفیرولو کې احتیاط وکړي؛ څکه تکفیرول خطرناک چار دی او په دې چار کې ډېری کفرویونکي – په تېره عوام وګړي – کوټلي هوډ نه لري. پخواني او اوسني شافعي مشران مو په همدې نظر وو، د حنفي مذهبي مشرانو پرخلاف، چې د تکفیرولو حکم یې ډېرو ځایونو ته ورپراخ کړ، حال دا دا ځایونه د تاویل وړ دي؛ بلکې ناکفر ککړې مانا ترې راولاړېږي. "
بیا له زرکشي د حنفیانو له نظره د تکفیر د پراخوالي لاملونه رانقلوي وايي: " ډېری موارد، چې د تکفیر د لاملونو په باب د فتواوو په کتابونو کې راغلي، له حنفیه مشایخو روایت دي او را روستي او پرهیزګاران یې له دې نظریاتو سره مخالف او ترې منکر دي او وايي: له دې وګړیو تقلید جایز نه دی؛ څکه دوی په اجتهاد پېژندل شوي نه دي او دا څرګندونې یې د امام ابوحنیفه پر یوه کتاب هم مستندې کړي نه دي؛ څکه د ابوحنیفه له عقیدې سره په ټکر کې دي. امام ابوحنیفه وايي: زموږ په نزد بنسټیز اصل ایمان دی، چې یوازې د یقین پرخلاف یو څیز یې نفې کوي. "

دې مطلب ته باید پاملرنه وکړو او هغوی چې مسلمانان تکفیروي، باید له موږ او حنفیه پرهیزګاروعلماوو دې لرې وي؛ ځکه وېره ده، چې د مسلمانانو په تکفیرولو په خپله پر کفر اخته شي.
زموږ ځینو څېړونکیو (شافعیانو) او هغوی (حنفیانو) خورا ارزښتمې ویناوې کړې دي: ابوزرعه، چې له را روستیو څېړونکیو دی، ویلي دي: که څوک ووایي، چې د الله تعالی په پار مې پرېږده او ځواب درکړي، چې ته مې د زرو خدایانو په پار پرېښوولې؛ نو پر کفر یې حکم نه شو کولای؛ ځکه مراد یې دادی، چې په زرو الهي لاملونو یا په زرو الهي خوشې کولو مې پرېښوولې، که څه د لفظ ظاهر دا نه وایي؛ خو تر شوني بریده دې انسانانو ته له سزا ورکولو ډډه وشي په تېره په هغو ځایونو کې، چې ددې خبرې ویونکی په ناوړه عقیده نه وي پېژندل شوی؛ خو دا چې د ناوړه وینا د ظاهر له لامله تادیب شي."[1]

## د حنبلیانو څرګندونې

دلته به یوازې د امام ابن تیمیه د ویناوو په رانقلولو بسیا وکړو، څوک چې له بدعتپالو سره په سخت دریځ او شدت عمل مشهور و. شیخ الاسلام ابن تیمیه وایي: "د ګناه کولو په پار او د هغو ګروهیزو تېروتنو له لامله د مسلمانانو تکفیرول جایز نه دي، چې مسلمانان پکې اختلاف لري، ان بې لارې خوارج هم، چې پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ورسره د جګړې حکم ورکړی و او امیرالمؤمنین علي بن ابیطالب کرم الله وجهه یو له راشده خلفاوو ځنې ورسره وجنګېد او ټول صحابه، تابعان او نور دیني مشران د جګړې لپاره ورسره یوه خوله وو؛ خو سره له دې حضرت علي ابن ابیطالب کرم الله وجهه او حضرت سعد بن ابي وقاص (رض) او نورو صحابه وو تکفیر نه کړل او سره له دې، چې ورسره وجنګېدل؛ خو مسلمان یې ګڼل او علي کرم الله وجهه ورسره جګړه پیل نه کړه، تردې چې هغوی د مسلمانانو وینې تویې کړې او د خلکو شتمنۍ یې چور کړې؛ نو په دې وخت کې د ظلم د لرې کولو او برید د تمبونې لپاره

---

[1]. تحفة المحتاج ٨٤/٤.

ورسره وجنګېد، نه د کافرتوب په پار يې؛ نوځکه يې د هغوی ښځې اسيرانې نه کړې او د هغوی مالونه يې غنيمت نه کړل. "

په هغه ځای کې، چې د يوې ډلې بې لاري په نص او اجماع جوته شوې وي او الله تعالی او استازي صلی الله عليه و آله وسلم يې ورسره د جګړې حکم ورکړی وي، نه تکفيرېږي؛ نو د هغوی پر وړاندې دريځ خو څرګند دی، چې په ځينو ځايونو کې حق ورته رې مشتبه دی. يوه مسلمانه ډله هم بله مسلمانه ډله تکفير ولای نشي، کېدای شي ددې ډول تکفيرولو بدعت خورا سخت وي. حقيقت خو دادی، چې ډېری کړلاري، هغه وګړي دي، چې پر حقيقت د نه پوهېدو او د حقيقت په پوهه کې د ناپوهۍ له لامله يې اړپېچ پيدا کړی دی. اصل دادی، چې د مسلمانانو ځان، مال او پت يو پر بل حرام دي او بې د الله تعالی او استازي له اجازې يې نه حلالېږي.

که يو مسلمان له ديني متونو د ناسمې اخستنې او تاويل له مخې، له بل مسلمان سره وجنګېږي يا يې تکفير کړي؛ نو نه کافرېږي؛ لکه څنګه چې حضرت عمر بن الخطاب (رض) د خاطب به ابي بلتعه په باب پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم ته وويل: رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم! اجازه راکړئ، چې ورمېږ يې ورغوځ کړم. پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم وويل: دا هغه دی، چې په بدر کې حاضر شوی و او ته څه پوهېږې، کېدای شي الله تعالی بدريانو ته ويلي وي: "څه چې مو خوښه وي و يې کړئ، مابښلي ياست. " دا حديث په صحيحينو کې راغلی دی.

او بيا په صحيحينو کې راغلي دي: سيد بن خضير(رض)، سعد بن عباده (رض) ته وويل: ته منافق يې او د منافقانو دفاع کوې!دواړه سره دښمنان شول او بيا يې پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم په منځ کې روغه وکړه.

دا بدريان دي، چې ځينو يې پر ځينو تور ولګاوه او و يې ويل، چې ته منافق يې؛ خو پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم دوی تکفير نه کړل؛ بلکې ټولو ته يې د جنت ژمنه ورکړه. همداسې دي په صفين او جمل کې پخواني جنګېدلي مسلمانان، سره له دې، چې دوی ټول مسلمانان او مؤمن وو، لکه څنګه چې الله تعالی په باب وايي:

" وَإِن طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا [1]: او که له مؤمنانو دوه ډلې پخپلو کې په جنګ شي؛ نو ترمنځ يې سوله وکړئ "
" إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ [2]: په حقيقت کې مؤمنان يو د بل رونه دي؛ نو د خپلو رونو ترمنځ (چې کله اختلاف پيدا کړي) روغه وکړئ او (خپل ځانونه) د الله تعالی له عذابه وساتئ، ښايي پر تاسې رحم وکړای شي. "
الله تعالی ويلي هغوی چې يو له بل سره جنګېدلي او يو پر بل يې بريد کړی، يو د بل مؤمن رونه دي او حکم يې کړی، چې ترمنځ يې په عدالت چلن وشي. [3]

## د زيديه او خپلواکو مشرانو ويناوې

په تېرو مخونو کې مو د ابن الوزير د ويناوو مهمه برخه رانقل کړه. دلته هم له السيل الجرار نه د امام شوکاني ځينې ويناوې رانقلوو:
پوه شئ، کوم مسلمان چې پر الله تعالی او د قيامت پر ورځې ايمان لري ورته روا نه ده، چې له اسلامه د مسلمانانو د وتو او کفر ته يې د ورننووتو حکم ورکړي؛ خو داچې د لمر په څېر روښانه دليل يا برهان ولري؛ ځکه په صحيحو حديثونو کې او له يوې ډلې صحابه وو رانقل شوي دي، چې "من قال لاخيه يا کافر فقد باء بها احدهما: څوک چې خپل رور ته ووايي: کافره! نو يو له دوی پرې ککړ شوی دی. " (؛ يعنې که رښتيا وي؛ نو هغه کافر دی او که پر ناحقه يې ويلي وي؛ نو په خپله ويونکی يې کافر شوی دی)
په يو صحيح حديث کې راغلي او په صحيحينو او نورو کې په نورو الفاظو راغلی دی: "من دعا رجلا بالکفر او قال عدوالله و ليس کذلک الا حارعليه –ای رجع- و فی لفظ فی الصحيح فقد کفر احدهما: څوک چې چاته د کفر په لقب غږ وکړي يا ورته ووايي: (د الله تعالی دښمنه) او هغه داسې نه وي؛ نو دا وينا يې خپل ځان ته ورګرځي يا په بل تعبير: يو يې بيخي کافر دی.

[1]. حجرات /۹
[2]. حجرات /۱۰
[3]. مجموعة رسائل ابن تيميه ۲۸۱/۳ مخ.

دا ډول او ورته حدیثونه ستر نصحیتونه او د لارې ښوونه دي، چې د نورو په تکفیرولو کې بیره و نه کړو. الله تعالی ویلي دي:
" وَلَـٰكِن مَّن شَرَحَ بِالْكُفْرِ صَدْرًا [1]: خو چاچې (په خوښه خپله) سینه کفر ته پرانسته "
باید د کفر پر وړاندې پراخه سینه، ارام روح او ډاډمن زړه ولرو. شرکي ګروهې مو چې غوږو ته رارسي، اعتبار نه لري په تېره که ویونکی یې له اسلام سره د مخالفت په باب جاهل وي او کوم اعمال، چې کوي، له اسلامه د وتو او کفر ته ورننووتو هوډ پرې و نه لري، دا راز کفر لړلي الفاظ که د یوه مسلمان له خولې راووځي؛ خو ویونکی یې پر مانا او مفهوم ګروهه نه لري؛ نو د اعتبار وړ نه دي. [2]
شوکاني ددې کتاب په یو بل ځای کې، د وضوء النهار د خاوند په دې غونډله د تعلیق ترڅنګ "و المتاول کالمرتد و قیل کالذمی "وایي: تاویل ګر د مرتد حکم لري او ځینو ویلي، چې د ذمي حکم لري ". په دې کوټلیو او عبرتناکو جملو یې ویلي: "دلته دي، چې باید اوښکې تویې شي او اسلام او مسلمانانو ته ویر وشي، چې په دین کې تعصب پر ډېری مسلمانانو څومره کړښتونه ورتپي او د کفر ټاپې وهي؛ نه د سنتو پر بنسټ او نه د قرآن د آیت له مخې، نه د الله تعالی د کلام په استناد او نه د کوم دلیل او برهان له مخې؛ بلکې د دیني تعصب د دېګ خوټېدو او په مسلمانانو کې درز اچونې ته د شیطان د بري په پار، چې یو د بل په باب یې ځینې القائات ورشیندل؛ لکه خس و خشاک، چې په هوا او سراب په بیدیا کې وي. نو خدایه! د مسلمانانو پر حال ژړا په کار ده ددې کړښت او بلا په پار، چې دین ته خورا ملاماتوونکې ده او مسلمانانو ته یو بې ساری کړاو دی او که لږ عقل هم درپاتې وي او لږ الهي مراقبت درسره وي او اسلامي غیرت ولرې، پوهېږې او ټول هغه وګړي، چې د اسلام له فرهنګ سره اشنا دي، پوهېږي، چې " پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلمد اسلام په باب وپوښتل شو. آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم یې د حقیقت او مفهوم په باب وویل: " انه اقامه الصلاة و ایتاه الزکاة و حج البیت و صوم رمضان و شهادة ان لا الا الا الله: لمونځ

---

[1]. نحل /١٠٦
[2]. السیل الجرار ٨٠/٤

وکړي، زکات ورکړي، د الله تعالی د خونې حج ته ولاړ شي، د رمضان د میاشتې روژه ونیسي او شهادت ورکړي، چې بې له ایکي یو خدایه بل الله تعالی نشته. "
په دې مانا احادیث خورا ډېر دي. څوک چې دا پینځګوني ارکان ومني او سم یې پر ځای کړي، د ټولو منکراتو په درلودو بیا هم، مسلمان دی هر څوک چې وي او څوک، چې د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم د وینا پرخلاف بې بنسټه او ناپوهه خبره کوي؛ نو پر مخ یې ور وولئ او ورته وواست: پرتې دې له ځان سره کېږده، دا د محمد بن عبدالله –صلوات الله و سلامه علیه- برهان دی.
"دعوا کل قول عند قو محمد فما آمن فی دینه کمخاطر"
(هر خبره د محمد وینا ته ورپرېږدئ، چې څوک په خپل دین کې ډاډمن دی؛ د هغه په څېر نه دی، چې په خطر کې دی)
لکه څنګه چې ددې پینځګونو ارکانو د پر ځای کوونکیو په باب د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم حکم تېر شو، آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم د هغو وګړیو پر ایمان حکم ورکړی، چې پر الله تعالی، پرښتو، کتابونو، الهي پېغمبرانو، قضا او قدر یې که شر وي او که خیر ایمان ولري او دا خبره ترې متواتره رانقل شوې ده؛ نو څوک چې داسې وي، حقیقتا مؤمن دی.
او موږ لږ مخکې هغه دلایل وویل، چې د مسلمانانو تکفیرول منع کوي او د دوی د پت ساتلو وجوب مو هم وویل، چې په دین کې ورته په هره وزله له پېغور ورکونې مخه نیسي؛ دا خو لا لرې خبره ده، چې له دینه یې بهر کړو او کفر ته یې وردننه کړو؟دا هغه جنایت دی، چې ساری نه لري او هغه سپین سترګي ده، چې ساری نه لري. دا څه سترګي، چې خپل رووڼه تکفیروي چېرته او د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم دا وینا چېرته؟، چې وایي: " المسلم اخوالمسلم لا یظلمه و لا یسلمه: مسلمان د مسلمان رور دی؛ نه پرې ظلم کوي او نه یې (دښمنانو) ته ورسپاري. "
او دا هم د سرورکائنات حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه و آله وسلم وینا ده، چې: " سباب المسلم فسوق و قتاله کفر: مسلمان ته کنځل فسق او ورسره جنګېدل کفر دی. "
همداراز بله وینا یې ده: " ان دمائکم واموالکم و اعراضکم حرام: سکه، وینې مو، مالونه مو او پت مو حرام دي. "

دا احادیث سم دي.

دا ډول سم احادیث خورا ډېر دي او همداراز په دې باب خورا قرآني آیتونه راغلي او ښیون - هدایت د الله تعالی په لاس کې دی:

" إِنَّكَ لاَ تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَن يَشَاء وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ: په حقیقت کې ستا، چې چاته خوښه وي (؛ نو) ته ورته (په زوره) سمه لار نشې ورښووای؛ خو د الله تعالی، چې چاته خوښه شي، سمه لار ورښیي او پالونکی دې سم لاري ښه پېژني. " [1]

دا ویناوې مې په لویی لاس ځکه اوږدې راوړې، چې پرهغوی لار وروتړي، چې د "لا اله الا الله" د ویوونکیو له تکفیرولو هېڅ وېره نه لري. دوی باید له خدایه وډارېږي، هم په خپل حق کې او هم د مسلمانانو په حق کې او له فتنې اچونې دې ډډه وکړي، چې د هغو وینو د تویېدو او د هغو شتمنیو د له منځه تلو لامل دی، چې د شهادتینو په کلمې یې خوندیینه لاس ته راوړې ده او نه باید د مذهبي اختلاف او په عملي چارو کې د نظر د اختلاف په پار په فتنه لاس پورې کړو ولا حول ولا قوة الا بالله.... "[2]

و آخر دعوانا ان الحمدلله رب العالمین

دوحه، ۱٤ جمادي الاول ۱٤۲٦ هجري، ۱۲ جون ۲۰۰٥ زېږدیز

د پالونکي ښښنې ته اړمن، یوسف قرضاوي

---

[1]. قصص /٥٦. (له السیل الجرار ٥٨٤/٤-٥٨٥ مخونو د نقل پای)

[2]. ددې بیانیې او فتوا په دوام کې ښاغلي قرضاوي د فتوا د فرهنگ او د فتا د شرایطو په باب له سلف صالح او سترو اسلامي علماوو نه خورا ارزښتمن ټکي او مطالب رانقل کړي دي، چې د مطلب د اوږدېدو په پار مو له راوړو یې ډډه کړې ده او گران لوستونکي، ددې فتوا د پوره متن د لوستو لپاره د "د اسلامي مذاهبو د پیوستون نړیوالې ټولنې" وېبپاڼې: "www. taghrib. ir" ته مراجعه کړای شي.

د ژباړن یادونه: پینځگوني فقه په اندیال سایت کې ولولئ: www. andyal. com چې در معلوم شي، مذاهب له فقهي پلوه په کومو ټکیو کې نژدې او په کومو کې لرې دی، او کوم مذهب په کومې مساله کې بل ته ورنژدې دی.

# کتابنمود

١. ابن ابي الحديد، عبدالحميد بن هبة الله؛ شرح نهج البلاغه، سمونه: محمد ابوالفضل ابراهيم، لومړی چاپ، بیروت: داراحیاءالتراث العربي –دارالجیل، ١٣٧٨ س.
٢. ابن ابي شيبه، ابوبكر عبدالله، المصنف، بمبۍ: بي نا، ١٤٠٣ س
٣. ابن ابي الوفاء، عبدالقادر بن محمد؛ الجواهر المضيئه فى طبقات الحنفيه، حيدر آباد دکن: دائرة المعارف العثمانيه، ١٩٩٨ز.
٤. ابن الجوزي البغدادي، عبدالرحمن بن علي، الضعفاء و المتروكين، څېړنه: ابوالفداء عبدالله القاضي، بیروت: دارالکتب العلميه، بي تا.
٥. ابن بابويه (شيخ صدوق)، محمد بن علي؛ التوحيد، قم: جماعة المدرسين فى الحوزة العلمية بقم، ١٣٦٣ ل.
٦. ابن بزازي الكردري، محمد بن محمد؛ مناقب ابي حنيفه، قم: مكتبة الداوري، ١٣٩٦ س.
٧. ابن تيميه، احمد بن عبدالحليم؛ مجموع الفتاوي، لومړی چاپ، بیروت: دارالکتب العلميه، ١٤٢١ س.
٨. ابن حجر العسقلاني؛ تهذيب التهذيب، لومړی چاپ، حيدر آباد دکن: بي نا، ١٣٢٥ ل.
٩. ________________؛ لسان الميزان، څېړنه: مكتب التحقيق باشراف محمد عبدالرحمن المرعشي، دويم چاپ، بیروت: دار احياء التراث العربي، ١٤٢٢ س.
١٠-ابن حجر حيتمي مكي، شهاب الدين؛ الخيرات الحسان فى مناقب الام الاعظم ابي حنيفة النعمان، لومړی چاپ، بيروت، دارالکتب العلميه، ١٩٨٣ ز.
١١. ابن حنبل، ابوعبدالله احمد بن محمد؛ مسند احمد بن حنبل، بیروت: المكتب الاسلامي – دارالصادر، ١٣٩٨ س.
١٢. ابن خلدون، عبدالرحمن بن محمد؛ د ابن خلدون سريزه، څېړنه: درويش جويدي، صيدا – بیروت: المكتبة العصريه، ١٤٢٣ س.
١٣. ابن سعد، محمد؛ الطبقات الكبرى، لومړی چاپ، بیروت: دار صادر، ١٤٠٥ س.
١٤. ابن شاذان، فضل؛ الايضاح، تهران: محدث ارموي، ١٣٦٣ ل.

١٥. ابن شهر آشوب، محمد بن علي؛ المناقب لآل ابي طالب، بيروت: دار الاضواء، ١٤٠٥ س.
١٦. ابن عبدالبر، يوسف بن عبدالله؛ الاستيعاب فى معرفة الاصحاب، لومړی چاپ، بيروت: دارالجليل، ١٤١٢ س.
١٧. ــــــــــــــــــ؛ الانتقاء من فضائل الثلاثة الائمة الفقهاء، بيروت: دارالكتب العلميه، بي تا.
١٨. ابن قتيبه، عبدالله بن مسلم؛ تاويل مختلف الحديث، بيروت: دارلجيل، بي تا.
١٩. ابن قيم الجوزيه، شمس الدين محمد؛ اعلام الموقعين عن رب العلمين، تقديم و تعليق: طه عبدالروف طه، بيروت: دارالجيل، ١٩٧٣ ز.
٢٠. ابن منظور، محمد بن مكرم؛ لسان العرب، بيروت: دار احياء التراث العربي، ١٤٠٨ س.
٢١. ابوالعز، علي بن علي بن محمد؛ شرح العقيدة الطحاوية، تحقيق و تعليق: الداكتر عبدالله بن عبدالمحسن التركي، دويم چاپ، بيروت: دار ابن رجب –دار ابن حزم، ١٤٢٤ س.
٢٢. ابوالفرج اصفهاني؛ الاغاني، مصر: وزارة الثقافة و الارشاد القومي – المؤسسة المصرية العامه، ١٩٦٣ ز.
٢٣. ــــــــــــــــــ؛ مقاتل الطالبيين، ژباړنه: احمن حنفي؛ بيروت: مؤسسة الاعلمي، ١٤٠٨ س.
٢٤. ابوالليث سمرقندي، نصر بن محمد؛ بستان العارفين، دهلي: د اشاعة الاسلام كتابتون، بي تا.
٢٥. ابو زهره، محمد؛ الامام الصادق (عصره و حياته _آروه و فقه)، قاهره، دارالفكر العربي، ١٩٩١٣ ز.
٢٦. ــــــــــــــــــ؛ الامام ابوحنيفه(عصره و حياته _آروه و فقه)، بي جا: دارالفكر العربي، ١٣٦٩ س.
٢٧. ابونعيم اصفهاني، احمد بن عبدالله؛ حلية الاولياء، قاهره: بي نا، ١٣٥١ س.
٢٨. ابويوسف، يعقوب بن ابراهيم؛ الآثار، د ابوالوفاء افغاني په زيار؛ قاهره: بي نا، ١٣٥٥ س.

۲۹. اسفرائيني، طاهر بن محمد؛ التبصير فی الدين د محمد زاهد کوثري په زيار؛ قاهره: بي نا، ۱۳۷٤ س.
۳۰. اسکافي، ابوجعفر؛ المعيار و الموازنه، څېړنه: الشيخ محمد باقر المحمودي، لومړی چاپ، بيروت: مؤسسة فؤاد بعينو للتجليد، ۱٤۰۲ س.
۳۱. اشعري، ابوالحسن علي بن اسماعيل؛ مقالات اسلاميين، څېړنه: محمد محی الدين عبدالحميد؛ لومړی چاپ، مصر: مکتبة النهضة المصريه، ۱۳٦۹ س.
۳۲. اشعري، سعد بن عبدالله؛ المقالات و الفرق، څېړنه: ابن معاذ محمد بن عبدالحی عوينه، لومړی چاپ، بيروت: دار ابن حزم، ۱۹۹۷ ز.
۳۳. الامام ابوحنيفه، نعمان بن ثابت؛ الوصيه، څېړنه: ابي معاذ محمد بن عبدالحی عوينه، لومړی چاپ، بيروت: دار ابن حزم، ۱۹۹۷ ز.
۳٤. ايتسکويتس، نورمن؛ امپراطوري عثماني و سنت اسلامي، ژباړه: احمد توکلي، لومړی چاپ، تهران: نشر پيکان، ۱۳۷۷ ل.
۳٥. البخاري؛ عبدالعزيز؛ کشف الاسرار عن اصول فخر الاسلام البزودي الحنفي، نوی چاپ، قاهره: دارالکتب الاسلامي، بي تا.
۳٦. بخاري، محمد بن اسماعيل؛ الجامع الصحيح، بيروت: دار احياء التراث العربي، ۱٤۰۰ س.
۳۷. بغدادي، اسماعيل و مصطفی بن عبدالله؛ هدية العارفين، لومړی چاپ، بيروت: دارالکتب العلميه، ۱٤۱۳ س.
۳۸. بلخي، صفي الدين عبدالله بن عمر؛ فضائل بلخ، ژباړه: محمد بن محمد حسيني بلخي د عبدالحی حبيبي په زيار، تهران: بي نا، ۱۳٥۰ ل.
۳۹. بي آزار شيرازي، عبدالکريم، رساله نوين –عبادت و خودسازي، دفتر نشر فرهنگ اسلامي، شپږم چاپ، ۱۳٦٤ ل.
٤۰. ________________، همبستگي مذاهب اسلامي، زاهدان: نهاد نمايندگي رهبري د امور اهلسنت سيستان و بلوچستان، ۱۳۸۲ ل.
٤۱. البياضي العاملي، الصراط المستقيم، نجف: مطبعة الحيدريه، ۱۳۸٤ س.
٤۲. بيضاوي، ابوسعيد عبدالله بن عمر؛ انوار التنزيل و اسرار التاؤيل، لومړی چاپ، بيروت: دارالکتب العلميه –دار احياء التراث العربي، ۱٤۰۸ س.

٤٣. بيهقي، ابوبكر احمد بن حسين؛ الاسماء و الصفات؛ بيروت: دارالكتب العلميه، بي تا.
٤٤. توكلي، محمد رئوف؛ چهار امام اهلسنت و جماعت، بي جا: انتشارات توكلي، ١٣٧٧ ل.
٤٥. ثعالبي، عبدالرحمن بن محمد؛ الجواهر الحسان فى تفسير القرآن، لومڕى چاپ، بيروت: دارالكتب العلميه، ١٤١٦ س.
٤٦. جرجاني، علي بن محمد؛ التعريفات، قاهر، بي نا، ١٣٠٦ س.
٤٧. جصاص، احمد بن علي؛ احكام القرآن، بيروت: بي نا، ١٤٠٥ س.
٤٨. جعفري، سيد محمد حسين؛ تشيع در مسير تاريخ، ترجمه محمد تقي آيت اللهي، نهم چاپ، دفتر نشر فرهنگ اسلامي، ١٣٧٨ ل.
٤٩. جعفريان، رسول؛ تاريخ تشيع در ايران، دويم تۆک، درێم چاپ، قم، انتشارات انصاريان، ١٣٨٠ ل.
٥٠. ـــــــــــــــ؛ مقالات تاريخي (دفتر ششم و هشتم) لومڕى چاپ، قم: انتشارات دليل، ١٣٧٩ ل.
٥١. ـــــــــــــــ؛ حيات فكري وسياسي امام شيعه، لومڕى چاپ، قم: انتشارات انصاريان، ١٣٧٦ ل.
٥٢. ـــــــــــــــ؛ صفويه در عرصه دين، فرهنگ و سياست، لومڕى تۆک، لومڕى چاپ: پژوهشگاه حوزه و دانشگاه، ١٣٧٩ ل.
٥٣. ـــــــــــــــ؛ مرجئه، تاريخ و انديشه، قم: نشر خرم، ١٣٧١ ل.
٥٤. ـــــــــــــــ صفويه از ظهور تا زوال، لومڕى چاپ، تهران: مؤسسه فرهنگي دانش و انديشه معاصر، ١٣٧٨ ل.
٥٥. الجندي، عبدالحليم؛ ابوحنيفه بطل الحرية و التسامح فى الاسلام، قاهره: دار المعارف، بي تا.
٥٦. حسن محمود، عبدالرحمن؛ مسند الامام ابي حنيفه (برواية الامام الحصكفي)، بي جا: مكتبة الآداب، بي تا.
٥٧. حسين بر، محمد امين، زندگاني امام ابوحنيفه، څلورم چاپ، تهران، نشر احسان، ١٣٧٧ ل.

٥٨. حکيم سمرقندي، اسماعيل بن محمد؛ السواد الاعظم، د عبدالحی حبيبي په زيار، تهران، بي نا، ١٣٤٨ ل.
٥٩. حميري، نشوان بن سعيد؛ الحور العين، سمونه: مصطفى کمال، قاهره، مکتبة الخانجي، ١٩٤٨ ز.
٦٠. حنفي قندوزي، سليمان، ينابيع المودة، سمونه: علاء الدين الاعلمي، لومړی چاپ، بيروت: مؤسسة الاعلمي، ١٩٩٧ ز.
٦١. الحنفي، ابن ابي العز؛ شرح العقيده الطحاوية.
٦٢. حيدر، اسد؛ الامام الصادق و مذاهب الاربعه، لومړی چاپ، بيروت: دار الکتب العربي، ١٤٠٣ س.
٦٣. خراساني، محمد واعظ زاده، زندگی آيت الله العظمی بروجردي، تهران، مجمع جهاني تقريب مذاهب اسلامي، لومړی چاپ، ١٣٧٩ ل.
٦٤. الخضري بک، الشيخ محمد، تاريخ التشريع الاسلامي، لومړی چاپ، بيروت: دارالفکر العربي، ١٩٩٢ ز.
٦٥. خطيب بغدادي، احمد بن علي؛ تاريخ بغداد او مدينة الاسلام، دريالسم ټوک، بيروت: دارالکتب العلميه، بي تا.
٦٦. الخلال، ابوبکر احمد بن محمد؛ السنة، څیړنه: الداکتر عطية الزهراني، رياض، دارالرايه، ١٤١٥ س.
٦٧. الخميس، محمد بن عبدالرحمن؛ اصول الدين عند الامام ابي حنيفه، لومړی چاپ، سعودي عربستان: دارالصميعي، ١٩٩٦ ز.
٦٨. الخويي، ابوالقاسم، معجم رجال الحديث و تفصيل طبقات الروات، دويم چاپ، بيروت: دارالزهراء للطباعة و النشر، ١٤٠٣ س.
٦٩. دينوري، ابوحنيفه احمد بن داود؛ اخبار الطوال، سمونه: حسن زين؛ بيروت: دارالفکر الحديث، ١٩٨٨ ز
٧٠. ذهبي، شمس الدين؛ تذکرة الحفاظ، بيروت: دار احياء التراث العربي، ١٣٧٤ س.
٧١. ذهبي، محمد بن احمد؛ سير اعلام النبلاء د شعيب ارنؤوط او نورو په زيار؛ بيروت: بي نا: ١٤٠٥ س.

۷۲. ـــــــــــــــــــــــــــــــ؛ ميزان الاعتدال فی نقد الرجال، څېړنه: علي محمد البجاوي، بيروت: دار المعرفه، بي تا.
۷۳. رازي، فخرالدين محمد بن عمر؛ التفسير الكبير (مفاتيح الغيب)، لومړی چاپ، بيروت: دارالكتب العربي، ۱٤۰۷ س.
۷٤. راغب اصفهاني، حسين بن محمد؛ المفردات فی غريب القرآن، څېړنه: صفوان عدنان داوودي، لومړی چاپ، دمشق: دارالقلم، ۱٤۱٦ س.
۷٥. الزمخشري الخوارزمي، محمود بن عمر؛ الكشاف عن حقايق التنزيل، دويم چاپ، بيروت: دار احياء التراث العربي، ۱٤۲۱ س.
۷٦. سرخسي، ابوبكر محمد بن احمد؛ اصول الفقه؛ د ابوالوفاء افغاني په زيار، حيدر آباد دكن: بي نا، ۱۳۷۲ س.
۷۷. ـــــــــــــــــــــــــــــــ؛ فهارس كتاب المبسوط، بيروت: دارالمعرفة، ۱٤۱٤ س.
۷۸. سلفي الافغاني، الشمس؛ عداء الماتريديه للعقيدة السفيه، دويم چاپ، بيروت: مؤسسه فؤاد بعينو للتجليد، ۱٤۱۹ س.
۷۹. سنايي غزنوي، حديقة الحقيقة و شريعة الطريقة، سمونه: مدرس رضوي، تهران: انتشارات دانشگاه تهران، ۱۳٥۹ ل.
۸۰. السيد، محمود؛ تاريخ الدولة العثمانية و حضارتها، مدينة المنورة: مؤسسه شباب الجامعه، ۲۰۰۰ ز.
۸۱. شافعي، محمد بن ادريس؛ الرسالة، د احمد محمد شاكر په زيار، قاهره، بي نا، ۱۹۳۹ ز.
۸۲. شاه ولي الله محدث دهلوي، احمد بن عبدالرحيم؛ الانصاف فی بيان سبب الاختلاف، دريم چاپ، بيروت: درالنفائس، ۱٤۰٦ س
۸۳. ـــــــــــــــــــــــــــــــ؛ حجة الله البالغة، قاهر: مكتبة التراث، بی تا.
۸٤. شريف مرتضی؛ رسائل، اعداد، السيد احمد الحسيني؛ لومړی چاپ قم: دارالقرآن الكريم، ۱٤۱۰ س.

٨٥. شريف، ميان محمد، تاريخ فلسفه در اسلام، ژباړه: گروهي از مترجمان، تهران: مركز نشر دانشگاهي، ١٣٦٢ ل.
٨٦. الشعراني، عبدالوهاب؛ الميزان الكبرى، بيروت: دارالفكر للطباعة والنشر، ١٤٢١ س.
٨٧. الشكعه، الدكتور مصطفى؛ الائمة الاربعة، څلورم چاپ، مصر: دارالكتب المصري، ١٤١٨ س.
٨٩. الشيبى، دكتر كامل مصطفى؛ الصلة بين التشيع و التصوف، دويم ټوک، دريم چاپ، بيروت: دارالاندلس، ١٩٨٢ ز.
٩٠. شيخ مفيد، محمد بن علي؛ الاختصاص، د شيخ مفيد د آثارو دولسم ټوک، لومړی چاپ، قم: المؤمتمر العالمي لالفية الشيخ المفيد، ١٤١٣ س.
٩١. ـــــــــــــــــ؛ الارشاد، (د شيخ مفيد د آثارو يوولسم ټوک)، لومړی چاپ، قم: المؤمتمر العالمي لالفية الشيخ المفيد، ١٤١٣ س.
٩٢. ـــــــــــــــــ؛ الامالي، د شيخ مفيد د آثارو ديارلسم ټوک، لومړی چاپ، قم: مؤسسة النشر الاسلامي، ١٤١٣ س.
٩٣. ـــــــــــ؛ الجمل، د شيخ مفيد د آثارو لومړی ټوک، لومړی چاپ، قم: مكتبة الاعلام الاسلامي، ١٤١٣ س.
٩٤. ـــــــــــــــــ؛ الفصول المختارة من العيون و المحاسن، د شيخ مفيد د آثارو دويم ټوک، لومړی چاپ، قم: المؤتمر العالمي الالفيه الشيخ المفيد، ١٤١٣ س.
٩٥. صبحي، احمد محمود؛ فى علم الكلام، دويم ټوک، پينځم چاپ: بيروت: دارالنهضة العربيه، ١٤٠٥ س
٩٦. صفري فروشاني، نعمت الله؛ غاليان (كاوشي در جريانها و برآيندها)، لومړی چاپ، مشهد: بنياد پژوهشهاى اسلامي آستان قدس رضوي، ١٣٧٨ ل.
٩٧. صيمري، حسين بن علي؛ اخبار ابي حنيفة و اصحابه، بيروت: بي نا، ١٤٠٥ س.
٩٨. طبرسي، احمد بن علي؛ الاحتجاج، د محمد باقر موسى خرسان په زيار؛ بيروت: بي نا، ١٤١٧ س.

٩٩. طبرسي، ابوعلي فضل بن حسن؛ مجمع البيان في تفسير القرآن، لومړی چاپ، بيروت: مؤسسة الاعلمي للمطبوعات، ١٤١٥ س.
١٠٠. طبري، محمد بن جرير؛ جامع البيان عن تاويل آی القرآن، لومړی چاپ، بيروت: دار ابن حزم، ١٤٢٣ س.
١٠١. الطحاوي، ابوجعفر احمد بن محمد؛ العقيدة الطحاوية، تصحيح او تعليق: نجم الدين محمد الدركاني، زاهدان: انتشارات صديقي، ١٤١٢ س.
١٠٢. طوسي، ابوجعفر محمد بن حسن؛ التبيان فی تفسير القرآن، لومړی چاپ، قم: جماعة المدرسين فی الحوزة العلمية: ١٤١٣ س.
١٠٣. ________________؛ رجال طوسي؛ لومړی چاپ، نجف: مطبعة الحيدرية، ١٣٨١ س.
١٠٤. عاملي، سيد جعفر مرتضی؛ اهل البيت فی آية التطهير، ژباړه: محمد سپهري: دويم چاپ، قم: انتشارات دفتر تبليغات اسلامي، ١٣٧٩ ل.
١٠٥. عصام العماد، الدکتور علی يحيی؛ المنهج الصحيح و الجديد فی الحوار مع الوهابين، لومړی چاپ، هولندا: مؤسسة الفکر الاسلامي، ٢٠٠٢ ز.
١٠٦. عطار نيشابوري، محمد بن ابراهيم، تذکرة الاولياء، تهران: مولی، بي تا.
١٠٧. عقيقي بخشايشي، عبدالرحيم؛ فقهای نامدار شيعه، دويم چاپ، قم: کتابخانه آيت الله مرعشي نجفي، ١٣٧٢ ل.
١٠٨. علامه حلي، حسن بن يوسف؛ خلاصة الاقوال فی معرفة الرجال، بي جا: نشر الفقاهه، ١٤١٧ س
١٠٩. علامه طباطبايي، سيد محمد حسين؛ الميزان فی تفسير القرآن، لومړی چاپ، بيروت: مؤسسة الاعلمي، ١٤١٧ س.
١١٠. علامه عسکري، سيد مرتضی؛ آية تطهير در کتب دو مکتب، ژباړه: محمد جواد کرمي، لومړی چاپ، قم: مجمع علمي اسلاميو١٣٧٦ ل.
١١١. غاوجي، وهبي سليمان؛ ابوحنيفة النعمان امام الائمة الفقهاء، څلورم چاپ، دمشق –بيروت: دارالقلم، ١٤٠٧ س.
١١٢. غزالي، ابوحامد محمد؛ المستصفی فی اصول الفقه، لومړی چاپ، بيروت: مؤسسة الثقافيه، ١٤١٠ س

١١٣. غيب غلامي، الشيخ حسين؛ الامام البخاري و فقه اهل العراق، لومړی چاپ، بیروت: دارالاعتصام، ١٤٢٠ س.
١١٤. غيب غلامي، الشيخ حسين؛ البخاري و صحيحه، دويم چاپ، قم: مركز الابحاث العقائديه؛ ١٤٢٣ س.
١١٥. فاضل، محمد موحدي و شهاب الدين اشراقي؛ اهل البيت يا چهره های درخشان در آيه تطهير، قم: چاپخانه مهر استوار، بي تا
١١٦. فياض، الداكتر عبدالله؛ تاريخ الامامية و اسلافهم من الشيعة، مقدمه: الشهيد محمد باقر الصدر، دريم چاپ، بيروت: مؤسسة الاعلمي للمطبوعات، ١٤٠٦ س.
١١٧. قاري هروي، ملا علي بن سلطان محمد؛ شرح الفقه الاكبر، سمونه: محمد علي دندل؛ بيروت: درالكتب العلميه، ١٤١٦ س.
١١٨. قاضي عبدالجبار؛ شرح اصول الخمسة، دويم چاپ، قاهره: مكتبة وهبة، ١٤٠٨ س.
١١٩. قاضي نعمان مغربي؛ دعائم الاسلام، د آصف فيضي په زيار؛ قاهره: بي نا، ١٣٨٣ س.
١٢٠. قرطبي، محمد بن احمد؛ الجامع لاحكام القرآن، دويم چاپ، بيروت: دارالفكر للطباعة و النشر، ١٣٨١ س.
١٢١. قزويني رازي، عبدالجليل؛ النقض، د جلال الدين محدث ارموي په زيار؛ تهران: بي نا، ١٣٥٨ ل.
١٢٢. كراجكي، محمد بن علي؛ كنز الفوائد، تبريز: بي نا، ١٣٢٢ س
١٢٣. كرمي، سيد علي رئيس، سيد جمال الدين اسدآبادي و همبستگي جهان اسلام، لومړی چاپ، زاهدان: نهاد نمايندگي رهبري د امور اهلسنت سيستان و بلوچستان، ١٣٨٢ ل.
١٢٤. كشي، محمد بن عمر؛ معرفة الرجال، د حسن مصطفوي په زيار، مشهد، بي نا، ١٣٤٨ ل.
١٢٥. كليني، محمد بن يعقوب؛ اصول كافي، د محمد باقر كمره ای ژباړه او شرح، څلورم چاپ، تهران: اسوه، ١٣٧٩ ل.

١٢٦. الكوثري، محمد زاهد بن الحسن؛ تانيب الخطيب على ما ساقه فى ترجمة ابي حنيفة من الاكاذيب، لومړی چاپ، مصر: مكتبة الازهية للتراث، ١٩٩٨ ز.
١٢٧. مجلسي، محمد باقر؛ بحارالانوار، ١٠، ٤٦، ٤٧ ټوکونو درېم چاپ، بیروت: دار احياء التراث العربي، ١٤٠٣ س.
١٢٨. محسني، الشيخ محمد آصف؛ مشرعة بحار الانوار، لومړی چاپ، قم: مكتبة عزيزي، ١٤٢٣ س.
١٢٩. محلي، حميد بن احمد؛ الحدائق الوردية في اخبار الائمة الزيدية، د مادلونگ په زيار، بيروت: بي نا، ١٩٨٧ ز.
١٣٠. محمد جواد، محمد كاظم؛ اهلبيت قيادة ربانية، لومړی چاپ، قم: مؤسسة انصاريان، ١٤١٧ س.
١٣١. مدرسي طباطبايي، سيد حسين؛ مكتب در فرايند تكامل، لومړی چاپ، تهران: انتشارات كوير، ١٣٨٦ ل.
١٣٢. مدرسي، محمد تقي؛ امامان شيعه و جنبشهاى مكتبي، دويم چاپ، مشهد: آستان قدس رضوي، ١٣٦٩ ل.
١٣٣. المرعشي، شهاب الدين؛ ملحقات احقاق الحق، سمونه: محمود مرعشي، قم: مكبة آيت الله المرعشي النجفي، ١٤١٨ س.
١٣٤. مروزي، محمد بن نصر؛ اختلاف العلماء، څېړنه: الداكتر محمد طاهر حكيم، لومړی چاپ، المملكة العربية السعودية: مكتبة اضواء السلف، ١٤٢٠ س.
١٣٥. مزي، جمال الدين ابي الحجاج يوسف؛ تهذيب الكمال، لومړی چاپ، بيروت: مؤسسة الرسالة، ١٤١٣ س
١٣٦. مسعودي، علي بن حسين؛ مروج الذهب، د يوسف السعد داغر په زيار، بيروت: بي نا، ١٣٨٥ س.
١٣٧. مطهري، مرتضى؛ آشنايي با علوم اسلامي، درېم ټوک (اصول فقه- فقه)، ٢٥ چاپ، تهران: انتشارات صدرا، ١٣٨١ ل.
١٣٨. معرفت، الشيخ محمد هادي؛ اهلبيت و القرآن الكريم، لومړی چاپ، تهران: المؤسسة الثقافيه للمجمع العالمي لاهل البيت، ١٤١٩ س.

١٣٩. المكي الخوارزمي، موفقه بن احمد؛ مقتل الحسين، لومړی چاپ، قم: انوارالهدی، ١٤١٨ س.
١٤٠. المكي الخوارزمي، موفق بن احمد، جامع مسانيد ابي حنيفه، حيدر آباد دكن: بي نا، ١٣٣٢ س.
١٤١. المكي الخوارزمي، موفق بن احمد؛ مناقب ابي حنيفه، دريم چاپ، قم: مؤسسة الاسلامي، ١٤١٧ س.
١٤٢. موسوي، امام روح الله، استفتا آت، تهيه و تنظيم دفتر انتشارات اسلامي، (وابسته به جامعه مدرسين حوزه علميه قم)، ١٣٦٦ ل.
١٤٣. مولوي، جلال الدين محمد؛ كليات ديوان شمس، سمونه: بديع الزمان فروزانفر، لومړی چاپ، تهران: انتشارات بهزاد، ١٣٧٦ ل.
١٤٤. ناشي اكبر، عبدالله بن محمد؛ مسائل الامامة و مقتطفات من الكتاب الاوسط فى المقامات، څېړنه: يوسف فان اس، بيروت: (فيسبادن): دارالنشر فرانتس شتاينر، ١٩٧١ ز.
١٤٥. نقشبندي، شيخ امين علاء الدين؛ حقيقت تصوف و بحثى از طريقه نقشبنديه، دويم چاپ، كابل: اداره دارالنشر افغانستان، ١٣٧٩ ل.
١٤٦. نوبختي، حسن بن موسى؛ فرق الشيعه؛ نجف: بي نا، ١٣٥٥ س.
١٤٧. النوري الطبرسي، الحاج الميرزا حسين؛ كشف الاستار عن وجه الغائب عن الابصار، لومړی چاپ، بيروت: مؤسسة النور للمطبوعات، ١٤٠٨ س.
١٤٨. هاشمي شافعي، سيد محمد طاهر؛ مناقب اهل بيت از ديدگاه اهلسنت، لومړی چاپ، مشهد: بنياد پژوهشهاى اسلامي آستان قدس رضوي، ١٣٧٨ ل.
١٤٩. الهامي، داوود؛ امامان اهلبيت در گفتار اهلسنت، لومړی چاپ، قم: مكتب اسلام، ١٣٧٧ ل.
١٥٠. واعظ كاشفي، ملا حسين؛ روضة الشهداء، سمونه او لمنليكونه: ابوالحسن شعراني، تهران: كتابفروشي اسلاميه، ١٣٥٨ ل.
١٥١. ياقوت حموي، ياقوت بن عبدالله؛ معجم الادباء، رياض: دارالنفائس، ١٤٠٠ س.

* دایرة المعارفونه
۱۵۲. دائرة المعارف الاسلامیه، لومړی ټوک، عربي ژباړونکي: احمد الشنتناوي، ابراهیم زکی خورشید و عبدالحمید یونس، بیروت: دارالمعرفة، بي تا.
۱۵۳. دائرة المعارف بزرگ اسلامي، پینځم ټوک، لومړی چاپ، زیر نظر کاظم موسوی بجنوردي، تهران: مرکز دائرة المعارف بزرگ اسلامي، ۱۳۷۲ ل.
۱۵٤. دائرة المعارف تشیع، زیر نظر احمد صدر حاج سیدجوادي، لومړی ټوک، درېم چاپ، تهران: نشر شهید سعیدي محبي، ۱۳۷۵ س.
۱۵۵. معارف و معاریف، سید مصطفی دشتي، لومړی ټوک، دویم چاپ، قم: حجت، ۱۳۷٦ ل.

*نشریات
۱۵٦. الحیاة الطیبة، العدد الرابع عشر، السنة الرابعة، بیروت: المؤسسة العالمیة للمعاهد الاسلامیة العالیة، شتاء ۱٤۲۵ س.
۱۵۷. نشریه اخبار تقریب، ٤۱، ٤۱ گڼې، تهران: مجمع جهاني تقریب مذاهب اسلامي، ۱۳۷۹ ل.
۱۵۸. مجله رسالة الاسلام، شپږم کال، دویمه گڼه، شعبان، ۱۳۷۳ س.
۱۵۹. فصلنامه هفت آسمان، ۱۱ گڼه، قم: مرکز مطالعات و تحقیقات ادیان و مذاهب اسلامي، منی، ۱۳۸۰ ل.
۱٦۰. فصلنامه هفت آسمان، ۵ گڼه، قم: مرکز مطالعات و تحقیقات ادیان و مذاهب اسلامي، پسرلی، ۱۳۷۹ ل
۱٦۱. فصلنامه هفت آسمان، ۹ او ۱۰ گڼې، قم: مرکز مطالعات و تحقیقات ادیان و مذاهب اسلامي، پسرلی او دوبی ۱۳۸۰ ل.